جمیع العلم فی القرآن لکن
تقاصر عنہ افہام الرجال

# اللؤلؤ والمرجان فی بیان اصول القرآن

من افادات
شیخ القرآن والحدیث حضرت العلامہ مولانا
غلام حبیب صاحب حفظہ اللہ

مرتب
غلام نبی بن دیار خان

ناشر
## مکتبۃ الحبیب
مین روڈ [illegible] مسجد زکریا [illegible]

مکتبۃ الاشاعت جنگی محلہ پشاور ۰۳۰۰۵۸۴۶۲۲۵

Scanned by CamScanner

# عظیم الشان خوشخبری

## ★ اب مکتبہ اشاعت آپ کے جیب میں ★

دنیا میں کسی بھی جگہ علماء جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف

Play Store اور Website سے بالکل فری انسٹال / ڈاؤن لوڈ کریں۔

## انسٹال / ڈاؤن لوڈ کرنے کا طریقہ

Play Store سے " مکتبۃ الاشاعت " انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں مطلوبہ کتاب ڈاون لوڈ کریں نیز اپنی کتاب کو Website / Play Store پر مفت شائع کرنے کے لیے بھی رابطہ کریں۔

Whataspp:03201914145

**نوٹ**

ویب سائٹ پر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف مثلاََ تفاسیر، فتاویٰ جات، شروح، سوانح حیات، نوٹس، درس نظامی کے کتب وغیرہ دستیاب ہیں آپ وقتاََ بوقتاََ Play Store اور website پر چیک کیا کریں مزید معلومات کے لیے دیے گئے واٹس ایپ نمبر پر رابطہ کریں۔ وہاں آپ کو آسانی کے لئے مطلوبہ کتاب کا link دیا جائے گا اور آپ کو بہترین رہنمائی دی جائے گی جس سے آپ کو مطلوبہ کتاب آسانی سے ملے گا۔ پلے سٹور پر ترجمہ وتفسیر یا سورتوں کے نوعیت والے تصانیف دستیاب ہوں ہیں کیونکہ ایک PDF میں اس کا مطالعہ مشکل ہوتا ہے تو ہم نے آسانی کے لیے ہر ایک پارے کے لیے الگ الگ بٹن بنایا ہے تاکہ قارئین کے لیے پڑھنے میں آسانی ہو باقی تمام نوعیت کے تصانیف مندرجہ ذیل ویب سائیٹ پر دستیاب ہوں گے۔ جو Goggle پر مزکورہ ویب سائیٹ میں سرچ کرنے سے یا ہمارے مندرجہ بالا app " مکتبۃ الاشاعت " کو پلے سٹور سے انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں سرچ کرنے سے ملیں گے۔ آسانی کے لیے ویب سائیٹ پر links ملاحظہ کیجئے۔ جزاکم اللہ

**اعلان برَأت :** ہماری ویب سائٹ سے شائع شدہ کسی بھی کی کتاب کی مضامین سے ہمارا متفق ہونا ضروری نہیں ہم اسی کتب کے مضامین کے ذمہ دار نہیں کیوں کہ کتاب کا مصنف / مؤلف اس کا جواب دہ ہوتا ہے ہم مکمل طور پر ان سے دست بردار ہیں۔ ہم نے پہلے سے اسکین شدہ کتب / مضامین کو صرف بطور معلومات شئیر کئے ہیں جو ان کے کتب یا انٹرنیٹ سے لیے گئے ہیں جن کے ضروری حوالے بھی دیے گئے ہیں ان کو صرف بطور معلومات ہی پڑھا جائے یا ڈاون لوڈ کیا جائے باقی اختلافات / تشریحات کے لیے آپ کتاب کے مصنف / مؤلف سے رابطہ کریں۔

**ویب سائیٹ maktabatulishaat.com ( مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام )**

روزانہ کی بنیاد پر ہم ویب سائیٹ اور پلے سٹور میں مزید تصانیف شامل کر رہے ہیں اور ان میں مزید بہتری لا رہے ہیں۔ نئے شامل شدہ تصانیف کے لئے آپ وقتاََ فوقتاََ ویب سائیٹ اور پلے سٹور کو چیک کیا کریں مزید بہتری کے لیے اپنے قیمتی تجاویز سے ہمیں ضرور آگاہ کریں۔

جميع العلم فى القرآن لكن     تقاصر عنه افهام الرجال

نشر

# اللؤلؤ والمرجان

# فى

# بيان اصول القرآن

من افادات

شيخ القرآن والحديث حضرت العلامه مولانا

غلام حبيب صاحب حفظه الله

مرتب

غلام نبی بن دیارخان

ناشر : مكتبة الحبيب مین روڈ ویسه اڈه نزد مسجد زکریا

رابطه نمبر : ٠٣٠٠ ٩٧٨٧٩٥٦

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

## دکتاب مشخصات

**دکتاب نوم : نثر اللؤلؤ والمرجان فی بیان اصول القرآن**

**افادات : شیخ القرآن والحدیث حضرت العلامه**
**مولانا غلام حبیب صاحب حفظه الله**

**مرتب : غلام نبی بن دیارخان صاحب**
۰۳۴۴ ۹۴۳۵۱۶۸

**ناشر: مکتبة الحبیب مین روډ ویسه اډه نزد مسجد زکریا**

**رابطه : ۰۳۰۰ ۷۹۵۶ ۹۷۸**
۲۹۲۸ ۹۵۶

**( جدید ایډیشن )**

**چاپ حقوق دلیکوال سره محفوظ دي**

Scanned by CamScanner

# فهرست


| | | |
|---|---|---|
| ١ | تقریظ شیخ القرآن مولانا سلطان غنی عـارف صـاحب (الشهید رحمه الله) | ١ |
| ٢ | مقدمه ( شیخ القـرآن والحـدیث علامـه غـلام حبیـب صاحب ) | ٣ |
| ٣ | سند د شیخ القرآن مولانا غلام حبیب صاحب | ١ |
| ٤ | فضیلة العلم | ٢ |
| ٥ | د حکمت معانی | ٢ |
| ٦ | فرق په مینځ د عالم او د جاهل کښ | ٤ |
| ٧ | وجوب اطاعة العلماء علی العوام | ٥ |
| ٨ | رفع درجات العلماء | ٦ |
| ٩ | د علماء درجې د قرآن کریم په رڼا کښ | ٨ |
| ١٠ | فضیلة العلم من الاحادیث | ٩ |
| ١١ | فضیلة العلم باقوال العلماء | ١٢ |
| ١٢ | نصیحت | ١٤ |
| ١٣ | اطلب اربعة من اربعة | ١٥ |
| ١٤ | تتمة الاربعة بالاربعة | ١٦ |
| ١٥ | د علم بلا عمل مثالونه | ١٧ |
| ١٦ | بقاء ددنیا په څلورو څیزونو ده | ١٧ |


Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام

# فهرست


| | | |
|---|---|---|
| ۱۷ | څلور څيزونو نه نفرت جائز نه دے | ۱۸ |
| ۱۸ | الاداب المتعلقة لفهم القران | ۱۸ |
| ۱۹ | الاجتناب عن موانع فهم القرآن | ۳۸ |
| ۲۰ | عظمة القرآن | ۴۱ |
| ۲۱ | واقعه د شاعر | ۴۲ |
| ۲۲ | واقعه د شيخ القرآن رحمه الله | ۴۷ |
| ۲۳ | الامور الثلاثة | ۴۸ |
| ۲۴ | اول : تعريف د قرآن كريم | ۴۹ |
| ۲۵ | اسماء د قرآن كريم | ۵۳ |
| ۲۶ | دويم : عرض حكمة د نزول القرآن | ۵۶ |
| ۲۷ | دريم : موضوع د قرآن كريم | ۶۱ |
| ۲۸ | مقاصد مهمه د قرآن كريم | ۶۵ |
| ۲۹ | المقصد الاول فى بيان التوحيد | ۶۶ |
| ۳۰ | بيان الشرک | ۶۹ |
| ۳۱ | معنى لغوى د شرک | ۷۰ |
| ۳۲ | د شرک اصطلاحي معنى | ۷۱ |
| ۳۳ | واقعه د روحانى بيمار | ۷۴ |
| ۳۴ | د شرک غټ اقسام | ۷۴ |


Scanned by CamScanner

# فهرست


| | | |
|---|---|---|
| ۳۵ | شرک اعتقادی | ۷۶ |
| ۳۶ | شرک فی العلم | ۷۸ |
| ۳۷ | نفی علم الغیب عن المخلوقات | ۸۴ |
| ۳۸ | الاول نفی علم الغیب من الملائکة | ۸۴ |
| ۳۹ | نفی علم الغیب عن جمیع الانبیاء | ۸۵ |
| ۴۰ | نفی علم الغیب عن النبی صلی الله علیه وسلم | ۸۶ |
| ۴۱ | نفی علم الغیب عن الجن | ۸۶ |
| ۴۲ | نفی علم الغیب من جمیع المخلوق | ۸۷ |
| ۴۳ | نفی علم الغیب عن العباد الصالحین | ۸۸ |
| ۴۴ | شرک فی التصرف | ۸۹ |
| ۴۵ | نفی د تصرف د مخلوق نه | ۹۲ |
| ۴۶ | شرک فی الدعاء | ۹۴ |
| ۴۷ | دعا په عنوان د استعانت | ۹۷ |
| ۴۸ | دعا په عنوان د سوال | ۹۷ |
| ۴۹ | نفی د دعا د مخلوق نه | ۹۸ |
| ۵۰ | شرک فی العبادة | ۱۰۰ |
| ۵۱ | نفی د عبادت د مخلوق نه | ۱۰۲ |
| ۵۲ | احکامات متفرعه | ۱۰۳ |


Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

| | فهرست | |
|---|---|---|
| ۵۳ | الاحكام المتفرعة على الشرک فی العبادة | ۱۰۶ |
| ۵۴ | فائدے د توحید | ۱۰۸ |
| ۵۵ | شرک فعلی | ۱۰۹ |
| ۵۶ | ربط ما بین الاشراک الاربعة | ۱۱۰ |
| ۵۷ | تحریم مطلق | ۱۱۰ |
| ۵۸ | اقسام د شرک فعلی | ۱۱۱ |
| ۵۹ | تحریمات العباد | ۱۱۲ |
| ۶۰ | ابطال د تحریمات العباد | ۱۱۳ |
| ۶۱ | ابطال د تحریمات المشرکین | ۱۱۷ |
| ۶۲ | تحریمات الله | ۱۱۸ |
| ۶۳ | نیازات المشرکین | ۱۱۹ |
| ۶۴ | شرک فی البرکة | ۱۲۵ |
| ۶۵ | استعمال د برکت په قرآن کریم کښ | ۱۳۰ |
| ۶۶ | تفریع علی ما سبق | ۱۳۱ |
| ۶۷ | اقسام المشرکین | ۱۳۳ |
| ۶۸ | مشرکین بالعباد الصالحین | ۱۳۳ |
| ۶۹ | بیان عجز الانبیاء علیهم السلام | ۱۳۸ |
| ۷۰ | مشرکین بالملائکة | ۱۳۹ |

Scanned by CamScanner

## فهرست


| | | |
|---|---|---|
| ۷۱ | مشركين بالجن | ۱۴۱ |
| ۷۲ | مشركين بالكواكب | ۱۴۳ |
| ۷۳ | فرق اربعه | ۱۴۵ |
| ۷۴ | مشركين | ۱۴۵ |
| ۷۵ | بيان مخاصمة المشركين مع الانبياء | ۱۵۵ |
| ۷۶ | جمله معترضه | ۱۵۸ |
| ۷۷ | والرد عليهم | ۱۶۰ |
| ۷۸ | بيان التفريعات على هذا | ۱۶۱ |
| ۷۹ | د شاه ولى الله رحمه الله نصيحت علماء قرآن ته | ۱۶۵ |
| ۸۰ | المقصد الثانى من المقاصد المهمة اثبات الرسالة | ۱۶۷ |
| ۸۱ | المقصد الثالث من المقاصد المهمة صداقة الكتاب | ۱۸۰ |
| ۸۲ | د شاعرانو صداقة په قرآن كريم باندے واقعه د انيس | ۱۸۱ |
| ۸۳ | واقعه د طفيل بن عمر الدوسى | ۱۸۲ |
| ۸۴ | واقعه د ضماد | ۱۸۳ |
| ۸۵ | المقصد الرابع من المقاصد المهمة هو الايمان بالآخرة | ۱۹۴ |
| ۸۶ | قياسات | ۱۹۶ |
| ۸۷ | د مقاصد مهمو خلاصه | ۲۰۴ |
| ۸۸ | المقصد الخامس الجهاد فى سبيل الله | ۲۰۵ |


Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مكتبة الاشاعت ڈاٹ کام

## فهرست


| | | |
|---|---|---|
| ٨٩ | معنى د جهاد | ٢٠٨ |
| ٩٠ | القسم الاول ما به الجهاد | ٢١٠ |
| ٩١ | القسم الثانى بمن يجاهد | ٢١٧ |
| ٩٢ | نية المجاهد | ٢١٩ |
| ٩٣ | صفات المجاهد | ٢٢٠ |
| ٩٤ | فضيلت د مجاهد | ٢٢٣ |
| ٩٥ | ضرورة الامير للجهاد شرائطه | ٢٢٣ |
| ٩٦ | اخلاق الامير | ٢٢٦ |
| ٩٧ | وجوب اطاعة الامير على الرعايا | ٢٢٧ |
| ٩٨ | تنقيح الجيش | ٢٢٨ |
| ٩٩ | المقصد السادس الانفاق فى سبيل الله | ٢٢٩ |
| ١٠٠ | المقصد السابع والثامن التنظيم والاداب | ٢٣٩ |
| ١٠١ | د تنظيم اصول | ٢٣٩ |
| ١٠٢ | تهذيب النفوس وتهذيب الاخلاق | ٢٤٠ |
| ١٠٣ | الثانى السياسة المدنية وتهذيب المملكة | ٢٤١ |
| ١٠٤ | بيان القواعد لتاسيس الجماعة | ٢٤٤ |
| ١٠٥ | د جماعت د ترقى دپاره اصول | ٢٤٦ |
| ١٠٦ | واقعه شيخ شابور رحمه الله | ٢٥٢ |


Scanned by CamScanner

## فهرست


| | | |
|---|---|---|
| ۱۰۷ | الاداب المتعلقة بفهم السورة | ۲۵۴ |
| ۱۰۸ | دعوى د سورة | ۲۵۴ |
| ۱۰۹ | بيان د دلائيلو | ۲۵۷ |
| ۱۱۰ | القسم الاول الدليل العقلى | ۲۵۸ |
| ۱۱۱ | دويم قسم دليل عقلى على سبيل الاعتراف من الخصم | ۲۶۳ |
| ۱۱۲ | يو ضرورى قاعده | ۲۶۵ |
| ۱۱۳ | دليل وحى | ۲۶۷ |
| ۱۱۴ | دليل نقلى | ۲۶۸ |
| ۱۱۵ | دليل نقلى من الانبياء | ۲۶۸ |
| ۱۱۶ | په قرآن كريم كښ د انبياء د واقعاتو د ذكر كولو حكمت | ۲۷۱ |
| ۱۱۷ | اول حكمت تخويفا للمنكرين | ۲۷۳ |
| ۱۱۸ | دويم ارسال الرسل لنفى علم الغيب | ۲۷۳ |
| ۱۱۹ | دريم تشجيعا للمبلغ | ۲۷۴ |
| ۱۲۰ | څلورم التسلية للمؤمنين بنجاة الصالحين واهلاک الطالحين | ۲۷۴ |
| ۱۲۱ | پنځم بيان عجز الانبياء | ۲۷۵ |
| ۱۲۲ | الثانى بيان الدليل النقلى من الملائكة | ۲۷۶ |


Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مكتبة الاشاعت ڈاٹ کام

| | فهرست | |
|---|---|---|
| ۱۲۳ | الثالث بيان الدليل النقلى من الجن | ۲۷۷ |
| ۱۲۴ | الرابع بيان الدليل النقلى من عبادالله الصالحين | ۲۷۸ |
| ۱۲۵ | الخامس بيان الدليل النقلى من العلماء السابقين | ۲۷۹ |
| ۱۲۶ | السادس بيان الدليل النقلى من الكتب السابقة | ۲۸۰ |
| ۱۲۷ | السابع بيان الدليل النقلى من الوحوش | ۲۸۱ |
| ۱۲۸ | تخويف وبشارت | ۲۸۲ |
| ۱۲۹ | بيان البشارة | ۲۸۴ |
| ۱۳۰ | بيان التخويف | ۲۸۵ |
| ۱۳۱ | بيان التزهيد فى الدنيا | ۲۸۶ |
| ۱۳۲ | الامور الثلاثة الدافعة من العذاب | ۲۸۷ |
| ۱۳۳ | طريقتنا فى التفسير | ۲۸۸ |
| ۱۳۴ | نمونه د تفسير د قرآن په قرآن سره | ۲۹۰ |
| ۱۳۵ | نمونه د تفسير د قرآن په حديث سره | ۲۹۰ |
| ۱۳۶ | دويمه نمونه | ۲۹۱ |
| ۱۳۷ | فرق په مينځ د تفسير او د تأويل كښې | ۲۹۴ |
| ۱۳۸ | التفسير | ۲۹۴ |
| ۱۳۹ | التأويل | ۲۹۵ |
| ۱۴۰ | وجوه الترجيح | ۲۹۶ |

Scanned by CamScanner

# تقريظ

بقية السلف كشميرى وقت حافظ الحديث امام الجرح والتعديل
سيف المؤحدين حضرت شيخ القرآن علامه سلطان غنى عارف
صاحب شهيد رحمه الله.

الحمد لله الذى انزل القرآن رحمة للانام ونور به القلوب وله الحمد بان جعل الحمد فاتحة اسراره وتفرد بتصاريفه واقداره واشهد ان لا اله غيره ولا نافع ولا معطى ولا مانع ولا ضار غيره واشهد ان محمدا عبده المصطفى ونبيه المرتضى الذى لا نبى بعده اللّٰهُمَّ فصل على هذا النبي الذى فسر القرآن الفرقان وبين الاحكام فعلم الحكمة وهدى الامة وجاء بالنور الساطع والضياء اللامع صلى الله عليه وعلى آله واصحابه الابرار الاخيار وبعد :

د شيخ العرب والعجم شيخنا المولى محمدطاهر رحمه الله شاگردانو د قرآن او د سنت په رنگ رنگ خدمتونه کړی دی د خطابت په ميدان کښ سبقت د هغوئ د شاګردانو د ے نو د تدريس په مضمار کښ هم د هغوئ نه خوک مخکښ نشته ، د تاليف او تصنيف ميدان هم د هغوئ دے زير نظر کتاب « اصول القرآن » د حبيب لبيب د شرک او بدعت طبيب شيخ القرآن مولانا غلام حبيب اکرمه الله واعزه هغه علمی افادات دی چه د هغه نثر هغوئ په خپلو درسونو کښ کړے دے ماغوندے هيچمدان سړے به د حبيب لبيب په عباراتو څه اوليکی خو بيا هم دا هغه اصول دی چه زمونږ د قرآن شيوخو لا سيما شيخ العرب

Scanned by CamScanner

والعجم سیدنا ومولانا محمد طاهر رحمه الله او شیخ القرآن والحدیث ضیغم اسلام حضرت سیدنا وشیخنا غلام الله خان رحمه الله به د قرآن کریم په ابتداء کښې د اصول القرآن او جواهر القران په نوم ذکر کول.

الله دے ناثر الدرر حضرت شیخ غلام حبیب او جامع ددے ملغلرو ته اجر جزیل ورکړی او الله دے د عامے فائدے سبب اوګرځوی وما ذالک علی الله بعزیز.

کتبه ابو رشید سلطان غنی عارف الطاهری احد من ادنی تلامذة شیخ العرب والعجم الشیخ محمد طاهر رحمه الله.

# مقدمه

شیخ القرآن والحدیث

حضرت العلامه مولانا غلام حبیب صاحب حفظه الله

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله وسلام علی عباده الذین اصطفی خصوصا علی سید الرسل وخاتم الانبیاء واعلی اله وصحبه الاتقیاء :

علم تفسیر ایک نہایت اہم اور ضروری علم ہے جس کے متعلق نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم نے فرمایا: تعلموا الفرائض والقرآن وعلموا الناس فانی مقبوض۔

اسی طرح حضرت جابر رضی اللہ عنہ کی روایت ہے: کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یعرض نفس فی المواسم علی الناس فی المواقف فیقول هل من رجل یحملنی الی قوم ان ابلغ کلام ربی ۔

پھر اس پر فتن دور میں جہاں ہر طرف ظلمت طغیانی سرکشی لادینیت کا سیلاب ہے اور لوگو کو قرآنی تعلیمات سے دور رکھا جارہا ہے مختلف حربوں سے کبھی اہل علم کی تحقیر ہورہی ہے کبھی اہل علم کو بدنام کیا جارہا ہے اور کسی نے علم تفسیر کے متعلق ایسی افواہیں پیلا رکھی ہے جن سے عوام کو قرآن سے دور رکھا کبھی کہتے ہیں آپ کے پاس علم کم ہے آپ نے نصاب علم حاصل نہیں کیا کبھی کہتے ہیں کہ علم قرآن تو صرف علماء کیلیے ہے عوام کیلیے نہیں وغیرہ وغیرہ۔

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

اسمیں شک نہیں کہ قرآن کریم ایسی کتاب ہے کہ جس کے تہہ تک پہنچنا عام آدمی کا کام نہیں جیسا کہ نبی علیہ السلام نے فرمایا: ولا یشبع منه العلماء ولا یخلق عن کثرة الرد ولا تنقضی عجائبه۔

اور اسی طرح شیخ الاسلام علامہ شبیر احمد عثمانی نے بھی فرمایا سورۃ القمر آیت ۱۷ پر یعنی قرآن سے نصیحت حاصل کرنا بالکل اسان ہے کیونکہ جو مضامین ترغیب وترھیب اور تبشیر سے متعلق ہے وہ بالکل صاحب سہل اور موثر ہیں آیت کا یہ مطلب نہیں ہے کہ قرآن محض ایک سطحی کتاب ہے جس کے اندر کوئی دقائق وغوامض نہیں اس علیم وخبیر ذات کے کلام کی نسبت ایسا گمان کیونکر کیا جاسکتا ہے۔

لیکن اصلاح عقائد معرفت احکام حلال وحرام کیلئے اللہ تبارک وتعالیٰ نے اپنے مخلوق پر احسان عظیم کرتے ہوئے آسانی فرمائی ہے اور ارشاد ربانی ہے: ولقد یسرنا القرآن للذکر الخ یوں تو تفسیری علوم اتنے صعب اور مشکل ہے کہ علماء کی زندگیاں ختم ہوگئی مگر اس کتاب کی تفسیری نکات کی تہہ تک نہیں پہنچ سکے۔

جمیع العلم فی القرآن لکن تقاصر عنه افهام الرجال

ولا یعلم اسرار کتابه الا الله . جتنی بھی تفسیریں اس سلسلہ میں لکھی جاچکی ہیں یا لکھی جارہی ہیں یہ سب عرفة من البحر یا عیضا من فیض کی مصداق ہیں۔

اسی طرح علامہ انور شاہ کشمیری رحمہ اللہ سے نقل ہے فرماتے ہیں: فلیس کل من فسر القرآن ولو فی مئین جزأ انه احاط جمیع ما فیه علما .

قال ابن ابی الدنیا : علوم القرآن وما یستنبط منه بحر لا ساحل له .

یتمة البیان لمشکلا ت القرآن ص ۱۳ .

Scanned by CamScanner

علماء کرام نے قرآن عزیز کے افہام و تفہیم کے سلسلہ میں کچھ قواعد وضوابط کی ہیں جس سے قرآن فہمی میں آسانی ہو اور قرآن کے مقاصد او مطالب عالیہ او مسائل سمجھنے میں آسانی ہو اس سلسلے میں کئی کتابیں لکھی جاچکی ہیں مختلف زبانوں عربی، اردو، فارسی، پشتو، وغیرہ زبانوں میں۔

میرے شیوخ حضرت شیخ القرآن مجاہد کبیر علامہ غلام اللہ خان رحمہ اللہ نے بھی اس مضمون پر کتاب تحریر فرمائی ہے جواہر القرآن کا مقدمہ جو کہ بہت تفصیلی ہے۔

اور حضرت شیخ القرآن والحدیث علامہ محمد طاہر رحمہ اللہ نے العرفان فی اصول القرآن اور سمط الدرر فی ربط الایات والسور تحریر کی جو اس سلسلے میں کافی شافی ہیں۔

حضرت شیخ القرآن مولانا غلام اللہ خان رحمہ اللہ کے ہاں اس مسئلہ الہ سے یا اصطلاحات سے پہنچا جاتا تھا اور حضرت شیخ القرآن مولانا محمد طاہر رحمہ اللہ کے درس میں اصول القرآن سے پہچانا جاتا تھا۔

آپ کے ہاتھ میں جو کتاب ہے اصول القرآن کے نام سے یہ وہ افادات ہے جو کہ میرے بھائی محترم مولوی محمد طارق صاحب ناچیز کے درس کی دوران لکھتا رہا او ٹیپ کرتا رہا

-

یہ میرے دونوں شیوخ رحمہا اللہ تعالی کے اصولوں او اصطلاحات کا معجون ہے۔

مولوی محمد طارق نے پوری محنت کی ہے اللہ ان کی محنت کو قبول فرمائے اور ان کو مزید دین متین کی خدمت کی توفیق نصیب فرمائے۔ مجھ سے بہت سے احباب نے مطالبہ کیا تھا کہ آپ اصول کو کتابی شکل دیدیں مگر وقت کی کمی اور اشتغال فی التدریس والتبلیغ نے مجھے مصروف کر رکھا ہے میں کوشش کرتا ہوں کہ یہ اصول مختصر طریقہ سے اردو زبان میں اپنے احباب کے سامنے پیش کروں، اس پر انشاء اللہ کام جاری ہے اگر میرے اللہ کو منظور ہوا تو یہ

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

بھی پورا ہو جائیگا اور اسی طرح وہ مسائل جو کہ درس قرآن کے دوران علماء وطلباء کرام کے سامنے پیش کئے جاتے ہیں جن کو میرے درس کی احباب نے جمع کیا ہے اور احباب نے نام رکھا ہے ( التحقیقات الحبیبیة فی المسائل الاختلافیة )

انشاء اللہ میری کوشش ہے کہ اس کو بھی تنقیح کر کے پیش کروں۔

بہر حال یہ جو کتاب اصول القرآن کے نام سے ہے میں بتا چکا ہوں کہ محترم مولوی محمد طارق صاحب نے کیسٹوں اور درس کی دوران تحریر کی ہے مجھے نظر ثانی کیلئے پیش کیا گیا۔ قلت وقت کی خاطر میں پوری کتاب نہ دیکھ سکا۔

ان کی خواہش تھی کہ کتاب جلدی چھپ کر منظر عام پر آجائے ناظرین کی خدمت میں گزارش ہے کہ اگر غلطی نظر آئے تو اصلاح کی نیت سے بندہ ناچیز کو مطلع کیا جائے تاکہ اصلاح کی کوشش کی جائے نہ کہ ہدف تنقید بنایا جائے جیسا کہ بعض متعصب قسم کے لوگوں نے میری ایک تقریظ کو ہدف تنقید بنانے کی آڑ لیتے ہوئے اسکو غلط رنگ دیکر مجھے بدنام کرنے کی کوشش کی اور مجھ سے تحقیق کے بغیر کتابچے لکھے گئے حالانکہ اس تقریظ میں عدۃ اسطر لکھا گیا ہے اس کو کون ذی عقل وذی فہم الصحیح پوری کتاب کے ساتھ موافقت پر دلیل بنا سکتا ہے اور لوگوں میں اس بات کا شوشہ اڑاتے ہیں کہ یہ جماعت تبلیغ کی مخالف ہے اور حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمہ اللہ کو مشرک یا یہودیوں سے تشبیہ دیتے ہیں العیاذ باللہ۔ حالانکہ میرے اللہ اس بات پر گواہ ہے کہ میں جماعت تبلیغ کو دل کی گہرائیوں سے سراہتا ہوں اور پوری امت مسلمہ کو ان کی احسانات کی مرہون منت گردانتا ہوں۔

اور رہا شیخ الحدیث زکریا رحمہ اللہ کی بات وہ تو میرے پیر ومرشد ہیں میں نے سنہ ۱۹۷۱ کو پنڈی کے مرکز جامع مسجد زکریا میں بیعت کی اور انہیں سے بخاری شریف کا ابتدائی درس بھی سنا اور شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمہ اللہ نے جو خدمت دین وخدمت حدیث کی

Scanned by CamScanner

ہے وہ کسی صاحب علم سے مخفی نہیں ہے اور ان کا عقیدہ ان کی کتابوں سے ظاہر ہے اس پر بحث کی کوئی ضرورت نہیں ہے۔

چنانچہ وہ اپنی مایہ ناز کتاب اوجز المسالک ج ۱ ص ۳۱۷ حدیث حضرت عائشہ رضی اللہ عنہا تحریر فرماتے ہیں جہاں یہ جملہ ذکر ہے:

وانها وثبت وثبة شدةً فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم مالك الحديث قال ابو عمر فيه انه لا يعلم الغيب الا ما علمه الله.

نیز اوجز المسالک ج ۱ ص ۵۶۲ پر حدیث تشہد پر لکھتے ہیں: ولعلک دريت بهذا كله ان لا يصح الاستدلال بصيغة التشهد على حضوره صلى الله عليه وسلم فى كل محل او على عموم ندئه صلى الله عليه وسلم عن كل موضع كما توهمه بعض المبتدعة فى هذا الزمان الخ.

اسی طرح ان کی مشہور کتاب تقریر بخاری ج ۱ ص ۱۹۷ میں یو لکھتے ہیں: اس لے میرے نزدیک اس بات سے غرض ایک دیو بندی مسلہ کو ثابت کرنا ہے وہ یہ کہ حضور صلی اللہ علیہ وسلم عالم الغیب نہیں تھے کیونکہ ما اتیتم کہ خطاب میں حضور صلی اللہ علیہ وسلم بھی داخل ہیں لہذا عالم الغیب تو صرف اللہ تعالی ہے اور باقی جتنے بھی لوگ ہے خواہ انبیاء اولیاء ہوں کسی کو بھی علم غیب نہیں ہے۔

اب ان جیسی عبارات کے بعد بھی اگر کوئی شیخ الحدیث رحمہ اللہ پر تنقید کرے تو اسکی کیا حیثیت ہے۔

سبحانک هذا بهتان عظيم.

بہر حال حضرت شیخ الحدیث رحمہ اللہ کے بارے میں سوئے عقیدہ رکھنا تو در کنار بندہ عاجز اس کا تصور بھی نہیں کر سکتا۔ واللہ علی مانقول وکیل۔

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

بہر حال گذارش ہے کہ اصول قرآن کے بارے میں لکھی گئی کتاب میں اگر کوئی غلطی نظر آئے تو اصلاح کی نیت سے مطلع فرمادیں، ہم آپ کے مشکور ہوں گے میری دعا ہے کہ مولائے کریم میری مخلص برادر مولوی محمد طارق کو اس عظیم محنت پر اجر عظیم عطا فرمائیں اور ان کیلئے اور میرے لئے ذریعہ و وسیلہ نجات و فلاح بنائے۔ آمین یارب العالمین ویرحم اللہ عبدا قال آمینا۔

واناالاحقر غلام حبیب غفرلہ ویسہ اٹک

بسم الله الرحمن الرحيم

## سند

### د شیخ القرآن مولانا غلام حبیب صاحب حفظه الله

شیخ القرآن مولانا غلام حبیب صاحب د دوو علماء کرامو په درسونو کښې شمولیت کړے دے :

(١) یو : شیخ القرآن مولانا محمد طاهر رحمه الله .

(٢) دویم : شیخ القرآن مولانا غلام الله خان صاحب رحمه الله.

او دوئی لوستل کړی وو د شیخ حسین علی رحمه الله نه .

### د مولانا حسین علی صاحب دوه سَندونه دی :

**اول سند** : مولانا حسین علی رحمه الله د محمد مظهر نانوتوی رحمه الله نه قرآن ویلے وو او دوئی د شاه محمد اسحاق رحمه الله نه او دوئی د شاه عبدالعزیز رحمه الله نه او دوئی د شاه ولی الله رحمه الله نه .

**دویم سند** : مولانا حسین علی رحمه الله د رشید احمد گنگوهی رحمه الله نه قرآن ویلے دے او دوئی د شاه عبدالغنی رحمه الله نه او دوئی د شاه عبدالعزیز رحمه الله نه او شاه عبدالعزیز د شاه ولی الله رحمه الله نه دینه اخوا سند معلوم دے .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# فضيلة العلم

په اصولو د قرآن کريم کښې اول بحث د علم متعلق ذکرکيږي.

## فضيلة العلم في القرآن

الله رب العزت د قرآن کريم علم ته حکمت وئيلے دے .

**سورة بقره** کښې فرمائي :«يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ( ۲۶۹)»

* الله ورکوی پوهه د قرآن هغه چاته چه خوښه شی *.

## د حکمت معنا ګانی د قرآن کريم نه

حکمت د قرآن کريم په اصطلاح کښې په څلورو معنو باندے استعماليږی : (۱) نبوت (۱) مواعظ (۳) علم (۴) تفسير .

خو ددے څلورو واړو معيار علم دے .

### (۱) حکمت په معنی د نبوت

سورة **البقره** کښې ذکر کوی : وَآتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ (۲۵۱)

الله ده ته بادشاهی او ددين پوهه (نبوت) ورکړی وو .

تمام اهل تفسير پدے ځائے باندے ليکی چه د حکمت نه مراد نبوت دے .

په **سورة ص** کښې هم حکمت په معنی د نبوت ذکر شوے دے :

« وَشَدَدْنَا مُلْكَهُ وَآتَيْنَاهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ (۲۰)»

Scanned by CamScanner

* او مضبوط کړے وو مونږ حکومت د هغه او ورکړے وو مونږ هغه ته نبوت او فیصله کونکے خبرے * .

## (۲) حکمت په معنی د مواعظ القرآن

حکمت په معنی د مواعظ ذکر کیږی او ددے نه تعبیر په سنت سره هم کیږی سورة **بقره** کښ راځی :

« وَاذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمَا أَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِنَ الْكِتَابِ وَالْحِكْمَةِ (۲۳۱) »

* او یاد کړئی نعمتونه د الله چه کړی دی په تاسو او هغه چه نازل کړی دی په تاسو د کتاب (قرآن) او سنت نه .

دلته د حکمت نه مراد سنت د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم دی لکه څنګه چه قرآن منزل من الله دی نو احادیث هم منزل من الله دی خو پدے کښ فرق دے سورة **نساء** کښ الله رب العزت فرمائی : « وَأَنْزَلَ اللَّهُ عَلَيْكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ (۱۱۳) »

دلته د حکمت نه مراد مواعظ د قرآن کریم دی او سنت د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم دی .

## (۳) حکمت په معنی د علم

(پوهه)ددے تائید په قرآن کریم کښ په سورة **مریم** کښ دے:

«يَا يَحْيَى خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا(۱۲)»

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

* اے يحي (عليه السلام) او نيسه كتاب لره په مضبوطيا سره او وركړے وو مونږه ده ته پوهه ددين په وړوكوالی كښ *.

دلته علماء ليكي چه (الحكم) نه مراد پوهه ددين او د شريعت ده ددے تائيد په سورة **لقمان** كښ دے :

«وَلَقَدْ آتَيْنَا لُقْمَانَ الْحِكْمَةَ (١٢)».

* يقينا وركړے وه مونږ لقمان حكيم ته پوهه د كتاب*.

## (۴) حكمت په معنی د تفسير د قرآن كريم

حكمت په معنی د تفسير د قرآن كريم په سورة **بقره** كښ راځي :

«يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ( ٢٦٩)»

* الله وركوی پوهه د قرآن هغه چاته چه خوښه شي *.

دلته حكمت نه مراد پوهه د قرآن كريم ده .

## فرق په مينځ د عالم او د جاهل كښ

جاهل او عالم برابر نه دی دا په سورة **هود** كښ ذكر كوی :

«مَثَلُ الْفَرِيقَيْنِ كَالْأَعْمَى وَالْأَصَمِّ وَالْبَصِيرِ وَالسَّمِيعِ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا أَفَلَا تَذَكَّرُونَ (٢٤)»

* مثال ددے دواړو ډلو لكه د ړوند او كوڼ او ليدونكی او اوريدونكی دے نو آيا دا په مثال كښ برابر دی ؟ نو تاسو ولے نصيحت نه اخلئ *.

نو آيا برابر دی دا دواړه په مثال كښ ؟

هم دارنګ سورة **زمر** کښ الله رب العزت فرمائی :

«قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ (٩)».

* اووایه دوئی ته آیا برابر دی هغه خلق چه پوهیږی او هغه خلق چه نه پوهیږی * .

هم دارنګ سورة **فاطر** کښ ذکر کوی:

«وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمَى وَالْبَصِيرُ(١٩) » ندے برابر روند او بینا.

«وَلَا الظُّلُمَاتُ وَلَا النُّورُ (٢٠)»او (نده برابر) تیاره او رڼا.

لکه څنګه چه ظلمت او نور کښ تفاوت دے نو دارنګے په علم او جهل کښ هم تفاوت دے : * العلم بمنزلة النور والجهل بمنزلة الظلمة* .

لکه څنګه چه په سوری او په ګرمئ کښ تفاوت دے نو دارنګے په علم او جهل کښ هم تفاوت دے .

لکه څنګه چه ژوندی او مړی برابر نه دی نو اهل علم او بے علمه هم برابر ندی .

## وجوب اطاعة العلماء على العوام

د علماء تابعداری په عوامو واجب ده لکه چه په سورة **النساء** کښ الله رب العزت فرمائی :

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ (٥٩)»

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

تقریباً تمام مفسرین فرمائی چه *اولی الامر* نه مراد علماء دی نو معلومه شوه چه په عوامو بانده د علماء اطاعت واجب دے د وجے د علم نه .

## رفع درجات العلماء

امام رازی (رحمه الله ) ذکر کوی چه په قرآن کریم کښ د درجاتو اطلاق په څلورو طریقو بانده ذکر شوے :

### (۱) درجه د مجاهد

درجه د مجاهدینو په سورة **النساء** کښ ذکرده الله رب العزت فرمائی : فَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِينَ دَرَجَة (۹۵) .

غوره والے (درجه) ورکړے دے الله مجاهدینو ته په وجه د لګولو مالونو او نفسونو خپلو په ناستو معذورو بانده په یوه درجه .

### (۲) درجه د مؤمنانو

دویم قسم درجه ذکر کوی د اهل بدر یعنی د مؤمنانو په سورة **انفال** کښ : أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَهُمْ دَرَجَاتٌ عِنْدَ رَبِّهِم (۴)»

هم دغه خلق مؤمنان دی په حقه سره دونی لره درجے دی په نزد د رب ددونی .

## (۳) درجه د مؤحد

دریم قسم هغه خلق چه عقیده ئے صحیح وی هغه الله په سورة **طـه** کښ ذکـر کـوی : «وَمَنْ يَأْتِهِ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصَّالِحَاتِ فَأُولَئِكَ لَهُمُ الدَّرَجَاتُ الْعُلَى (۷۵)» *

هغه سړے چه حاضر شی په دربار د الله کښ په عقیدے د ایمان چه کړی ئے وی نیک اعمال دوئی دپاره دی لوئے درجے .

## (۴) درجه د عالم

په سورة **مجادله** کښ ذکر کوی فرمائی :

«وَإِذَا قِيلَ انْشُزُوا فَانْشُزُوا يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ درجات (۱۱)» *

او کله چه اووئیلے شي چه پاسئ (د ځائے خپل نه) نو پاسئ اوچت به کړی الله هغه کسانو لره چه ایمان ئے راوړے دے ستاسو نه او هغه کسان چه ورکړے شوے دے هغوئی ته علم ، ډیری درجی .

دلته ذکر د درجاتو دے د عالم دپاره خو ددے ټولو درجو مدار علم دے او ددے ټولودرجاتو پوهه بغیر د علم نه نه کیږی علم ضروری دے دپاره د هری یوی مرتبی .

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# د علماء درجی د قرآن کریم په رڼا کښې

په قرآن کریم کښې د علماء صفات او درجې په مختلفو طریقو سره ذکر کیږی :

## (۱) حصول الخشیة بالعلم

د الله خوف په زړه کښې د وجې د علم نه راځی سورة فاطر کښې الله رب العزت فرمائی : «إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ(۲۸)» *

یقینا یریږی د الله نه د الله په بندګانو کښې علماء .

## (۲) البکاء

من الخوف ( ژړا د الله د یرې نه ) تائید د سورة بنی اسرائیل (۱۰۸) نه : «إِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهِ إِذَا يُتْلَى عَلَيْهِمْ يَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ سُجَّدًا» *

یقینا هغه کسان چه ورکړے شوے دے علم مخکښې ددے نه کله چه لوستلے شی قرآن په دوئی باندے پریوزی په زنو خپلو باندے سجده کونکی .

## (۳) الخرور علی الذقن

علماء اظهار د عجز کوی الله ته .هم په دغه بنی اسرائیل کښې ذکر دی : «وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا (۱۰۹)» *

Scanned by CamScanner

اوپریوزی په زنو خپلو باندے ژاړی اوزیاتوی دوئی لره عاجزی.

پدے آیت کښ ئے د علماء درے صفات ذکر کړل اول « یخرون » دویم « یبکون » او دریم خشیت «خشوعا» .

## (۴) مرتبه د علم

اهل علم ګواهان د الله د توحید دی ،رومبے په توحید د الله رب العزت پخپله ګواهی ورکوی بیا ملائک او دریم نمبر اصحاب د علم دی ، لکه چه سورة آلعمرآن کښ دی :

«شَهِدَ اللَّهُ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ وَالْمَلَائِكَةُ وَأُولُو الْعِلْمِ (۱۸)»

ګواهی کوی الله چه یقینا نشته مدد ګار مګر یو الله دے او ملائک او خاوندان د علم ( هم ګواهی کوی ) .

## (۵) الراسخون

سورة آلعمرآن کښ ذکر کوی : «وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ (۷)»*

او نه پوهیږی په معنی د هغی مګر یو الله او هغه خلق چه مضبوط دی په علم کښ وائی مونږ ایمان راوړے دے پدے باندے .

# فضيلة العلم من الاحاديث

پدے باب کښ احادیث ډیر زیات دی مونږ ترینه پنځه ذکر کوو .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

(١) **حديث** : نبی علیه السلام فرمائی : أشراف أمتي حملة القرآن ([1]) زما د امت عزت مند خلق د قرآن اوچتونکی دی .

(٢) **حديث** : حسن بصری رحمه الله مرفوع ذکر کوی د خپل استاذ نه : من جاءه الموت وهو يطلب العلم ليحي به الاسلام فبينه وبين النبيين درجة واحدة فی الجنة ([2]) .

چاته چه مرګ راشی په داسے حال کښ چه دے علم طلب کوی ددے دپاره چه اسلام پرے ژوندے کړی نو دده په مینځ کښ او د انبیاء په مینځ کښ به یو درجه (فرق) وی په جنت کښ .

(٣) **حديث** : دا هم د حسن بصری رحمه الله نه مرفوع ذکر دے چه نبی علیه السلام فرمائی :

اللهم ارحم خلفائی قلنا یارسول الله ومن خلفاءک قال الذين يأتون من بعدی یروون احادیثی ویعلمونها الناس ([3]).

• نبی علیه السلام فرمائي اے الله رحم اوکړي زما په خلیفه ګانو باندے نو مونږه تپوس وکړو چه اے د الله رسول ( صلی الله علیه وسلم ) ستا خلیفه ګان څوک دی نبی علیه السلام اوفرمائیل دا هغه کسان دی چه

---

[1] المعجم الكبير ج١٢ ص ١٢٥ ، مجمع الزوائد ج٧ ص ٢٢٥ ، كنز العمال ج١ ص ٧٨٨ ، مشكوٰة المصابيح رقم ١٢٣٩

[2] سنن دارمی ج١ ص ١١٢ ، كنز العمال ج١٠ ص ٢٨٦ ، مشكوٰة المصابيح حديث نمبر ٢٥ ، الترغيب والترهيب ج١ ص ٥٣ ،

[3] الأية الكبرى ج١ ص ٤١ ، مجمع الزوائد ج١ ص ٢٢٥ ، كنز العمال ج١٠ ص ٤١٥ ، ٥١٢، ٤٧٤ ، الترغيب والترهيب ج١ ص ٤٢ .

زما نه روستو به راځی زما احادیث به نقل کوی او خلقو ته به ئے تعلیم ورکوی .

پدے حدیث کښ ذکر د هغه خلقو هم دے چه د بدعاتو رد کوی او سنت خلقو ته رسوی د شرک رد کوی او د توحید مسئله بیانوی نو الله دے په دوئی هم رحم اوکړی .

(۴) **حدیث** : نبی علیه السلام چه کله حضرت علی رضی الله عنه یمن ته لیګلو نو په سترګو کښ ئے اوښکے راغلے نو نبی علیه الصلاة والسلام ورته اوفرمائیل چه مه ژاړه اے علی : فوالله لأن یهدي الله بك رجلا خیر لك من أن یکون لك حمر النعم (١) .

* قسم په الله کچرے الله یو سړے ستا په وجه هدایت ته راولی نو دا به ستا دپاره ډیر غوره وی ددینه چه ستا دپاره هغه سره اوښان شی *.

(۵) **حدیث** : عامر الجهنی رضی الله عنه روایت دے فرمائی :

یؤتی بمداد طالب العلم ودم الشهید یوم القیامة لا یفضل احدهم علی الآخر وفی روایة إذا کان یوم القیامة یوزن دم الشهداء بمداد العلماء فیرجح مداد العلماء علی دم الشهداء (٢) .

حاصل دا چه د قیامت په ورځ به وینه د شهیدانو او سیاهی د عالم دواړه برابر وی ، دویم روایت دادے چه سیاهی د علماء به غالبه شی په وینه د شهید باندے .

---

[1] حلیة الاولیاء ج١ ص ٣٢ .
[2] کنز العمال ج١ ص ١٧٣ , السلسلة الضعیفة ج٥ ص ٣٥٩

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# فضيلة العلم باقوال العلماء

امام رازی رحمه الله ددنیا تشبیه د ګلدستے سره ورکړے ده :

فرمـائی : زينة الدنيا بخمسة اشياء علم العلماء وعدل الامراء وعبادة العباد وامانة التجار ونصيحة المحترفين ([1]) .

خائیست ددنیا په پنځو څیزونو باندے دے د عالمانو په علم د بادشاهانو په انصاف د نیکانو په بندګئ ( په عبادت د الله) د تاجرانو په امانتدارئی او د کسب ګرو په خیر خواهئ .

دا دنیا ګلدسته ده او دا پنځه پکښ ګلونه دی کچرے دا پنځه ګلونه په خپل ځائے وی نو دنیا به خائسته وی ورنه ګلدسته به نیم کړی وی .

علماء که توحید او سنت پریخودلو نو دنیا کښ به فساد پیدا شی مجاهد که د مال او دولت دپاره جهاد کوی نو فساد به راشی عبادة ګزار که د ریاء دپاره عبادة کوی نو فساد به راشی تاجر که په غلطه طریقه تجارت کوی نو برکت به ترے اوچت شی . بادشاه که انصاف دار نه وی نو په ملک کښ بل څوک قابض شی .

ګلدسته کښ خو پنځه ګلونه دی نو که دا پنځه واړه خراب شی نو دا لرے کول او نور پکښ کیخودل پکار وی ، دوه څیزونه دی یو علم او بل مال او دا دواړه خلقو ته خوښ دی دے پسے لرے لرے علاقو ته سفرے کوی تکلیفونه برداشت کوی .

**علی رضی الله تعالی عنه** د علم او د مال یو څو فرقونه ذکر کوی :

---

[1] تفسیر کبیر ج١ ص ۴۶۱

# العلم أفضل من المال بسبعة أوجه

علم افضل دے د مال نه په اووه وجوهو سره :

**أولها** : العلم ميراث الأنبياء ، والمال ميراث الفراعنة .

**اول** علم د پیغمبرانو میراث دے او مال د فرعونیانو.

**الثاني** : العلم لا ينقص بالنفقة والمال ينقص .

**دويم** علم چه څومره خرچ کوے نو دومره سیوا کیږی او مال په خرچ کولو سره کمیږی .

**والثالث** : يحتاج المال إلى الحافظ والعلم يحفظ صاحبه.

**دریم** مال دپاره به د څوکیدارانو ضرورت وی او علم د عالم حفاظت کوی.

**والرابع** : إذا مات الرجل يبقى ماله والعلم يدخل مع صاحبه قبره .

**څلورم** چه مالدار مړ شی نو مال ترے بهر پاتی شی او چه عالم مړ شی نو علم ورسره قبر ته ځی .

**والخامس** : المال يحصل للمؤمن والكافر والعلم لا يحصل إلا للمؤمن .

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

**پنځم** مال کافر او مؤمن دواړو ته ملاویږی علم صرف مؤمن ته ملاویږی .

**والسادس** : جميع الناس يحتاجون إلى صاحب العلم في أمر دينهم ولا يحتاجون إلى صاحب المال .

**شپږم** ټول خلق عالم ته محتاج دی او علم چاته محتاج نه دے.

**السابع** : العلم يقوي الرجل على المرور على الصراط والمال يمنعه([1]) .

**اووم** علم دومره قوی شے دے چه په پل صراط به تا تیر کړی او مال به دے منع کړی .

## نصيحت

یو بزرګ چاته نصيحت کولو وئیل ورته چه اوله درجه داده چه ته بل ته خیر اورسوه او که په تا کښ د خیر ماده نه وی نو کم از کم چه بل ستا د شر نه بچ شی .

## یو ښو خبرے طلباء حضراتو ته

(١) یو طالب به د بل طالب خیر خواه وی (٢) طالب به د علم خیال ساتی یعنی په درس کښ به حاضر وی (٣) طالب به د ملګری د عزت خیال ساتی (۴) طالب ته پکار دی چه جنګ جګړے به نه کوی که د چا

[1] شفاء سمرقندي او نشرطي التعريف ص ١٤١ باندي د حضرت ابن عباس په الفاظو مختلفو سره ذکر کړی دی .

Scanned by CamScanner

مزاج سخت وی نو بل طالب به د هغه سره نرمی کوی لکه چه په قرآن کښ د مؤمن صفت ذکر کړی : «إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ» .

## اطلب اربعة من اربعة

(۱) من الموضع السلامة : داسے ځائے کښ به پاتے کیږے چه هغه د امن وی ، لکه چه هر ذی روح داسے ځائے کښ استوګنه غواړی چه هغه د امن وی مرغئ په داسے ځائے کښ کینی کم ځائے کښ چه ماشومان نه وی کوم ځائے کښ چه ماشومان وی نو هلته نه کینی .

(۲) ومن الصاحب الكرامة : هغه ملګری سره ناسته کوه چه هغه کښ د ملګرتیا حق وی .

(۳) ومن المال الفراغة : كه الله مال دركړے وی نو خپل ضروریات پرے پوره کول پکار دی .

(۴) ومن العلم المنفعة : چه علم کوے نو د خپل علم نه فائده حاصله کړه (یعنی عمل پرے اوکړه) .

## تفریع پدے خلورو

(۱) فإذا لم تجد من الموضع السلامة فالسجن خير منه : كه ستا دپاره ځائے وي او د امن نه وی نو بیا جیل ته لاړ شه .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

(۲) وإذا لم تجد من صاحبك الكرامة فالكلب خير منه :که په ملګری کښې حق ملګرتیانه وی نود هغه نه سپے خه دے .

(۳) وإذا لم تجد من مالك الفراغة فالمدر خير منه : که مال درسره وی او د ضرورت په وخت ئے نه لګوے نو د لوټو او خاورو نه جیب ډک کړه .

(۴) وإذا لم تجد من العلم المنفعة فالموت خير منه : که علم درسره وی او عمل پرے نه وی نو بیا مرګ غوره دے د ژوند ستا نه .

## تتمة الاربعة بالاربعة

(۱)لا يتم الدين إلا بالتقوى : ددين کمال په تقوی دے .

(۲) ولا يتم القول إلا بالفعل : په خوله څه نه جوړیګی په کار جوړیګی ( یعنی په تشو خبرو څه نه کیږی په کار کولو پته لګی ) .

(۳) ولا تتم المروءة إلا بالتواضع :ځوان مردی په نیکئ او په عاجزئ سره ملاویګی .

(۴)ولا يتم العلم إلا بالعمل : اتمام د علم په عمل سره کیږی.

## تفریع پدے خلورو

(۱)فالدين بلا تقوى على الخطر:دین بلا تقوی په نقصان دے.

(۲) والقول بلا فعل كالهدر : قول بلا فعل بیکاره دے .

(۳) والمروءة بلا تواضع كشجر بلا ثمر : جوان مردی بغیر د عاجزئ نه پشان د شنډ بوټی ده .

(٤) والعلم بلا عمل كغيث بلا مطر : علم بلا عمل پشان د هغه وریزے دے چه بغیر د باران نه وی .

## د علم بلا عمل مثالونه

(۱) هغه علم چه عمل پکښ نه وی پشان د هغه وریځے دے چه باران پکښ نه وی .

(۲) چه علم وی او عمل نه وی لکه چه د میوے بوټے دے او شنډ وی .

(۳) چه د یو عالم په خپل علم عمل نه وی د هغه مثال پشان د موم بتئ دے موم بتئ چه بلیږی نو د هغه د رڼا نه نور خلق فائده اخلی نو هغه پخپله سوزی .

نو ځان نه به موم بتی نه جوړوے د ځان نه به بدر او کوکب جوړوے چه تاکښ هم رڼا وی او ستا د رڼا نه خلق هم فائده واخلی .

## بقاء د دنیا په څلورو څیزونو ده

حضرت علی رضی الله تعالی عنه فرمائی چه بقاء ددنیا په څلور څیزونو سره ده :

(۱) بعالم يعمل بعلمه : هغه عالم چه په خپل علم عمل کوی .

(۲) وجاهل لا يستنكف من تعلمه : هغه ناپوهه سړے چه نفرت د دین د زده کړے نه نه کوی .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

(۳) وغني لا يبخل بماله : هغه مالداره چه په خپل مال بخل نه کوی .

(۴) وفقير لا يبيع آخرته بدنياه : هغه عاجز چه آخرت په دنيا خـرڅ نه کړی .

او که دا څلور خبرے نه وی نو بیا ذکـر کـوی : فالويل لهم والثبور سبعين مرة .

## څلور څیزونو نه نفرت جائز نه دے

بلکه دا څلور کارونه به خامخا کوی اگر که بادشاه وی :

(۱) قيامه من مجلسه لأبيه : په مجلس کښ خپل پلار ته پاسيدل .

(۲) وخدمته لضيفه : خدمت کول د خپل ميلمه .

(۳) وخدمته للعالم الذي يتعلم منه : خدمت د هغه استاذ چه د چانـه دين زده کوے .

(۴) والسؤال عما لا يعلم ممن هو أعلم منه : تپوس د علم به د هغه سړی نه کوے چه کم سړے په علم باندے پوهیگی .

## الاداب المتعلمة لفهم القرآن

په دیکښ هغه آداب بیانوی چه د هغے تعلق د قـرآن عظيـم د تـلاوت سره دے پدیکښ به اهمے خبرے ذکر کیږی :

Scanned by CamScanner

## (١) الوضوء لتلاوة القرآن

پدے خبره باندے د تمامو علماء اتفاق دے چه د مس د قرآن دپاره اودس کول ضروری دی، عام تلاوت چه مس پکښ نه وی نو د هغے خو جواز شته خو د ادابو برابر نه دے ، لیکن د قرآن عظیم تلاوت او لاس کښ اغستو دپاره اودس ضروری دے .

**الاتقان فی علوم القرآن** په اول جلد کښ آداب ذکر کوی نو هغه وائی « ویستحب الوضوء لتلاوته » مستحب دی اودس کول د قرآن عظیم د تلاوت دپاره .

په سورة **واقعه** کښ ذکر کوی : «لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ (٧٩)»

* لاس دے نه لګوی قرآن ته مګر پاک خلق ( چه اودس ئے کړے وی ).

دینه استشهاد دے پدے خبره چه د قرآن عظیم مس بغیر د اودس نه جائز ندے .

بعض خلق چه اودس ئے نه وی نو د قرآن کریم پانړے په لستونړی سره اړوی نو لکه څنګه چه هغه غلاف د قرآن نه متصل حسابیږی نو لستونړے هم د بدن نه حسابیږی دے دپاره بهترینه خبره داده چه د قرآن کریم دپاره اودس اوکړے شی .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

## (۲) المکان النظیف

الاتقان لیکی « وان یکون فی المکان النظیف » پکار ده چه په پاک خائے کښې اولوستلے شی ، او صفا کپړے واچولے شی .
امام مالک رحمه الله به په مدینه منوره کښې درس حدیث کولو روزانه به ئے پاکے کپړے اغوستلے چا ورته او وئیل چه دا خو ډیر اسراف کوے هغه ورته او وئیل چه تاسو د احباؤ ملاقات ته ځئ نو هغو دپاره صفائی د بدن او د کپړو نه کوئ؟ هغه تپوس کونکی او وئیل ولے نه امام مالک رحمه الله ورته وئیل زه هم د پیغمبر صلی الله علیه وسلم ملاقات ته ځمه ځکه چه احادیث د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره خبرے دی .
نو قرآن خو کلام الله دے نو کله چه یو سړے الله سره خبرے کوی نو په خیرنو جامو سره او په ناپاک بدن سره خوند نه کوی نو دے دپاره قرآن کریم په صفا او پاک خائے کښې تلاوت کول پکار دی په ناپاکه خایونو کښې د قرآن کریم وئیل د قرآن کریم بے ادبی ده لکه ډیرانونه شو د حجام (نائي) دکان داسے خایونو کښې د قرآن تلاوت مناسب ندے ځکه چه بے ادبی ده .

## (۳) یجعل علی الموضع المرفوع

بل ادب د قرآن کریم دادے چه قرآن به په بره خائے باندے کیخودے شی په زمکه باندے به قرآن نه کیدی .

الاتقان فی علوم القرآن لیکلی دی چه دا ضروری ده چه قرآن کریم په اوچت ځائے کیدی (د زمکے نه اوچت داسے ځائے چه د آدابو لحاظ پکښ وی) د ممبر اوله پوړئی دا په منزله د زمکے ده نو پدے باندے هم څه نده .

بلکه زه خو وایمه چه پدے دویمه پوړئی هم کیخودل ندی پکار که په دریمه پوړئی کیخودے شی نو څه خبره نده ، که فرضا یو سړے د بالخت دپاسه قرآن کریم کیدی نو د پاسه دے پرے خپل ښائسته رومال واچوی ځکه چه په بالخت خو اکثر د سر خیری لګیدلی وی او په خیرن ځائے باندے قرآن کریم ایخودل مناسب ندی بعض اوقات په درسونو د قرآن کریم کښ طلباء څه ضرورت انسانی دپاره پاسی نو قرآن عظیم پائی ماله کیږی لکه چه د طلباء قطار وی او ورسره مخکښ قرآن وی نو د هغه دپاسه خپے اړول انتهائی بے ادبی ده د هغه نظیر که یو سړے ستا د ښپ دپاسه خپے کیږدی او مخکښ ځی نو دا به ته برداشت کړے ؟

نو که ته د خپل ښټ دپاسه د بو تن خپے اړول نشے برداشت کولے نو الله به د خپل کتاب نه ستا قدم اړول څنګه برداشت کړی .

دے دپاره دا خبره ضروری ده چه په مینځ د طلباء کښ دے اخوة او محبت وی او طالب چه د درس د مینځ نه پاسی نو ضرورت انسانی یا څه تقاضے دپاره به پاسی نو اول خو دے دا خیال کوی چه دده څپه د قرآن سره اونه لګی او بل طالب چه په داسے ځائے کښ قرآن ایخودے وی چه

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

لار بنده ده نو د روز ولئ په خاطر دے د هغه قرآن اوچت کړی او ده ته دے لار ورکړی دا احسان دے پده اوکړی چه چری پائمالی رانشی .

## (۴) مسواک

اګر چه دا په اودس کښ راځی خو امام سیوطی دا ذکر کړی دی او بیا د **ابن ماجه** روایت ذکر کوی:

(۱) «ان افواهکم طرق القرآن فطیبوها بالسواک [1]»

یقینا خلے ستاسو لاری دی دپاره د قرآن نو خپلے خلے د قرآن عظیم دپاره پاکے اوساتئ په مسواک باندے .

(۲) د مسواک متعلق د نبی علیه السلام ارشاد دے :

«مطهرة للفم ومرضاة للرب [2]» خله پرے صفا کیږی او رب پرے رضاء کیږی .

نو ستا خله دا د قرآن عظیم لاره ده او بادشاهان چه په کومه لاره باندے ځی نو اتباع او راعیان شاهانو دپاره لارے ښائسته کوی ، په هغی کښ مصنوعی دروازے لګوی ، په هغې کښ چونه لګوی او ګلکاری پکښ اوکړی ولے ؟ چه پدے لارے به بادشاه ځی نو اے مسلمانانو! د قرآن نه

---

[1] سنن ابن ماجه رقم ۲۹۱، کنز العمال ج۲ ص ۴۳۲ ، الترغیب والترهیب ج۱ ص ۱۰۲

[2] بخاری رقم ۱۸۳۱، سنن نسائی رقم ۵ ، سنن ابن ماجة ۲۸۹، مسند احمد بن حنبل ج۱ ص ۱۰

Scanned by CamScanner

لوئے بادشاه بل څوک دے او بیا چه کله دا قرآن ستا په خلے روان وی نو ستا خله د قرآن لار شوه نو خله به صفا ساتے .

# نسوار

قرآن دپاره خوله صفا کول دا لازمی شو نو اوس چه نسوار په خله کښې پراته وی او ته قرآن ته ناست ئے نو دا انتهائی بے ادبی ده ، نسوار څه شے ندے .

دا بعض ملیان وائی مکروه دی او بعض وائی مباح دی زه پدیکښې بحث نه کومه خو آیا دا شے خوشبو دار دے که بدبو دار؟

نو جواب به په بدبو وی نو بدبو دار شے په پاکه خوله کښې ولے ږدے ؟ نو فائده څه ده عقل پدے نه سیوا کیږی بدن پدے نه غټیږی ، او پدیکښې قوة باه نه سیواه کیږی ، قوة عقل او فکر پدے نه سیوا کیږی نو څه دپاره ئے استعمالوے ؟

او زه وایمه د طلباء او علماء د خلے مثال پشان د جومات دے او په جومات کښې لعاب (لاړی) پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) ندی توکلی بلکه ئے هغه لعاب صفا کړی وو چه چا په جومات کښې توکلی وو .

بل یو صحابی په مجبوری بلغم یا خراشکے یا توکانړے توکړل او بیا تیاره وه نوکور ته لاړو او رڼا ئے راوړه او هغه او بچی ئے توله شپه کتل چه

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

هغه توکانړے کوم ځائے کښې دی چه زه ئے صفا کړم نو توکانړے خو ټول امت وائی چه پاکي دی خو جومات کښې به ئے نه غورځوے .

نو بالفرض والمحال که نسوار ډیر پاک دی خو ستا خوله خو د هغې نه ډیره زیاته پاکه ده نو ددے خپلے خولے قدر وکړه او خوله چه ده نو پدیکښې بدبودار او ګنده څیز مه پریږده .

## حرام ، نارواه او مکروه :

قرآن نه غفلت او تغافل حرام دے بل حرام دي بالبنت جوړول د قرآن نه بالبنت یو دا معنی چه بالبنت سبب د غلفت دے لکه چه په بالبنت سرے سر کیږدی نو اوده کیږی نو علماء لیکی چه د قرآن نه اوده کیدل نارواه دی چه قرآن وئیل کیږی او ځان بے پرواه کړی نو دا نارواه دی ، د قرآن نه ځان ناجانړه کول او د قرآن د مطالبو نه ځان بے خبره کول هم حرام دی ، علماء کرام ذکر کوی چه نارواه دی چه سړے قرآن ته خپلے خپے کړی چه قرآن مخے ته پروت وی او خپے ورته اوګدے کړے وی او خپے ورسره لګی نو دا نارواه دی .

## (٥) کراهة الضحک

بله خبره علماء کرام ذکر کوی : « ویکره الضحک واللعب والاشتغال بما یشغله عن تلاوة القرآن»

خنده په وخت د تلاوت ، لوبې کول په وخت د تلاوة د قرآن کښې ، ځان مشغوله کول په يو داسې شي باندې چه تا د قرآن د زده کولو نه محرومه کوی دا ټول ناروا دی .

پديکښې ددې زمانې مسکال (miss call) په وخت ددرس کښې هم داخل دې .

تفسير روح المعانی په تفسير د سورة **نجم** : «وَأَنْتُمْ سَامِدُونَ (٦١)» باندې ليکی : سامدون اي لاهون ، آيا تاسو غفلت کوئی .

بيا يو شعر ذکر کوی :

ليت عاداً قبلوا الحق ... ولم يبدوا جحودا

قيل : قم فانظر إليهم ... ثم دع عنك السمودا

ارمان چه عاديانو حق قبول کړې وې اوانکارئې نه وې کړې.

ماته اووئيلې شو چه پاسه اوګوره دوئی ته بيا خپل غفلت پريده .

بيا روسته ذکر کوی :

« واستدل بالآية كما فی احكام القرآن على استحباب البكاء عند سماع القرآن وقرآءته»

نو قرآن چه وائې نود آدابو خيال به ئې ساتې .

« وفيه سد باب الضحك عند قراءة القرآن ولو لم يكن استهزاءاً والعياذ بالله عز وجل» (روح المعانی ج ۲۰ ص ۴۴)

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مكتبة الاشاعت ڈاٹ کام

پدیکښې سد باب شوے دے د خنده په وخت د تلاوت د قرآن کریم کښې خو چه د استهزاء په طور نه وی .

په سورة **لقمان** کښې دی چه بے فائدے خبرے د قرآن بدله کښې اخلی نو هغوئی لره ذلیله کونکے عذاب دے :

«وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ (٦)»

* او بعض د خلقو نه هغه څوک دی چه اخلی بے فائدے خبرے چه واړوی خلق د لارے د الله نه بے د څه پوهے نه او نیسی هغے لره توقه دغه خلقو لره عذاب خوارونکے دے * .

تفسیر روح المعانی د «لهو الحدیث» معنی کوی :

« ولهو الحدیث علی ما روی عن الحسن کل ما شغلک عن عبادة الله تعالی وذکره من السمر والاضاحیک والخرافات والغناء »

لهو الحدیث هغه شے دے چه تا د مطالبو د قرآن نه محرومه کوی .

**سیوطی** (رحمه الله) ذکر کوی :

«یکره قطع القرآة لمکالمة احد[1]» ناروا دی پریخودل د قرآن دپاره د خبرو د خلقو .

[1] قال الحلیمي لأن کلام الله لا ینبغي ان یؤثر علیه کلام غیره ( الاتقان ج۱ ص۲۷۳)

کله چه قرآن عظیم ته وائے او چا سره خبرے کولودپاره قرآن ته بند کړے او هغه سره خبرے شروع کړے نو قرآن بس کول د چا مکالمے دپاره ناروا ه دی .

نو دے یو مسئله حل کړه ددے زمانے چه ټیلی فون (موبائیل) باندے خبرے هم پدیکښ داخل دی .

او بیا **سیوطی** ذکر کوی :

«کان ابن عمر إذا قرأ القرآن لم یتکلم حتی یفرغ منه »

که ابن عمر رضی الله عنه سره به څوک راغلو نوده چه به ترڅو خپل تلاوت پوره کړے نه وو نو چا سره به ئے خبرے نه کولے .

نو ګویا که دوران درس کښ ټیلیفون اوریدل ناروا ه دی ، د قرآن مقاصدو نه ځان بے خبره کول ناروا ه دی د قرآن کریم د آدابو خیال ساتل پکار دی .

علامه **ابن قیم** رحمه الله په مدارج السالکین کښ ذکر کوی :

« من قهر نفسه بالادب فهو یعبدالله بالاخلاص (۱)»

که چا خپل نفس په آدابو مغلوب کړو نو ده ته به په اعمالو کښ د اخلاص توفیق ملاؤ شی .

نو که چا په وخت د درس قرآن کښ د آدابو لحاظ کړے وی نو الله به ورته د فهم قرآن لارے هموارے کړی .

---

۱ مدارج السالکین ج۲ ص ۳۷۷

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

د فارسي مشهوره مقوله ده « بے ادب محروم گشت از فضل رب »
بے ادبه سړے د الله د فضل نه به بالکل محرومه وی .
که یو کمال پکښ وی نو هغه د کمال نه فائده نشی اغستلے او ادب ناک سړے د علم د برکتونو نه فائدے حاصلوی ، بے ادبه سړے که ملا هم شی نو د برکاتو د علم او فائدو نه محرومه وی .
مثال ددے چه ځوان سړے روټي نه خه خوند او لذت اخلی او که سپین ږیرے سړے روټۍ خوری نو دے روټۍ هسے دل ډُل کړی خو هغه لذت د طعام نه دے محروم وی نو دغه شان کوم سړے چه مؤدب وی نو برکات علمیونه به مالا مال وی او بے ادبه به د «وَالْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ أَوْ عَلَيْكَ [1]» أَوْ عَلَيْكَ مصداق گرځی .

**ابو علی** صاحب فرمائی :

«من ترک الادب ترد الی الباب ومن ترک الادب علی الباب ترد الی مقام الدواب»

که یو سړے صدر مجلس کښ ناست دے خو بے ادبه وی نو خلق ورته وائی چه اوزه نو هغه به لاړ شی او دروازه کښ به کینی او که په دروازه کښ بے ادبی اوکړی نو هغه به د حیواناتو سره اودرولے شی .
چه څوک د قرآن ادب اوکړی نوانشاء الله چه الله به ورته قرآن سینه کښ واچوی او که څوک د آدابو لحاظ نه کوی نو بیا به کار خراب وی ،

---

[1] صحیح مسلم رقم ۳۲۸ , سنن ترمذی رقم ۳۴۳۹ ، سنن نسائی رقم ۹۴۲۳، سنن ابن ماجه ص ۲۷۶

Scanned by CamScanner

د بعضو خلقو سندونه دومره زيات وي چه يو حرف ته تشي تحقيق هم ليکن که څوک ترينه تپوس اوکړي چه د يو سورت خلاصه راته اووايه يا يو مشکل راته حل کړه نو نشي حل کولې وجه دادة چه د آداب لحاظ نه کوی .

## (٦) الاستماع والانصات باحضار القلب

بل ادب د قرآن سيوطي ليکي : «ويستحب ان يجلس مستقبلا متخشعا بسکينة ووقار مطرقا راسه»

مستحب ده چه مستقبل الى القبله ناست وي او سر ئې قرآن ته خکته کړے وي قرآن نه به نظر نه اوچتوے که ضرورتا وي لکه استاذانو ته ضروري ده چه طلباء ته متوجه وي او د هغو تهذيب اوکړي د استاذ به اوچت خائے باندے د ناستے وجه هم دادة چه طلباء ته به ګوري که څه غلطي کوي نو ورته به خيال کوي چه داسے مه کوه !

نو د قرآن د اوريدلو په وخت کښې چپ کيدل او غلب د اوريدلو کول د زړه نه لکه چه سورة **اعراف** کښې راځي :

«وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ» (٧-٢٠٤) او څه وخت چه ونيل کيږي قرآن کريم نو طلب د اوريدو کوئ د قرآن پاک او چپ شئ چه په تاسو باندے رحم اوکړے شي .

**استماع** طلب د اوريدو ته وائي انصات چپ کيدل په وخت د اوريدلو د صوت ( آواز کښے ) او دا فرق د سورة **احقاف** نه معلوميږي .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

«وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوا أَنْصِتُوا فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَى قَوْمِهِمْ مُنْذِرِينَ (۲۹)»

* کله چه واړول مونږ ستا طرفته یو ډله د پیریانو چه هغوئی طلب کولو د اوریدلو د قرآن هر کله چه دوئی حاضر شو وے ونیل یو بل ته چه چپ شئ هر کله چه پوره شو تلاوت د قرآن روان شو خپل قوم ته یره ورکونکی *

نو « یستمعون القرآن » چه د قرآن آواز ئے تر غوږو شو نو یو بل ته ئے او ونیل چه چپ شئ .

**سورة ق** کښ راځی : «إِنَّ فِي ذَلِكَ لَذِكْرَى لِمَنْ كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ (۳۷)»*

بے شکه پدے قرآن کښ نصیحت دے دپاره د هغه چا چه وی د هغه عقل او ایخودے وی غوږ په داسے حال کښ چه حاضر القلب وی *

**شهید** حاضر زړه والا وی یعنی اوریدل صرف په غوږ باندے نه وی بلکه اوریدلو سره توجه د زړه هم وی نو گویا چه دے متوجه وی قرآن ته قلبا وقالبا .

تفسیر المراغی د فتح البیان نه نقل کوی په تفسیر د سورة **مزمل** آیت ۴ باندے :

«والمقصود من الترتیل انما هو حضور القلب عند القراءة لا مجرد اخراج الحروف من الحلقوم بتاویل الوجه والفم والحان الغنی

كما يعتاده قراء هذا الزمان من اهل مصر وغيرها في مكة المكرمة بل هو بدعة احدثها البطالون الا كالون والحمقى والجاهلون بالشرائع ..... ».

مقصود د ترتیل نه حضور القلبی مراد ده په وخت د تلاوت د قرآن کښ فقط د حلقوم نه اوښکلو ته ترتیل نه وائی چه مخ او خله دے کږه کږے وی او د سندرو په آواز ئے وائے لکه زمونږ پدے دور کښ چه مصریان ئے وائی یا نور حضرات ئے وائی دا طریقه بدعت ده چه ناکاره خلقو باطل پرستو راویستے ده ، خیته ورو جاهلانو چه هغوئی ته دشریعت څه پته نشته .

معلومه شوه چه آداب د قرآن عظیم استماع او انصات او تلاوت باحضار القلب دے .

## (۷) يستحب قراءته بالتفخيم (اي بصوت الرجال)

قرآن کریم په درون آواز وئیل چه کله د چا آواز درون وی او که آواز نرے وي نو په هغه ئے وایه خو مقصد دا چه آواز به نرے کوے نه چه د ښځو مشابه شی .

## (۸) يكره اتخاذ القرآن معيشة يكتسب بها

مکروه ده دا خبره چه قرآن ذریعه د معاش او دا سبب د جمع کولو ددنیا اوګرزولے شی بلکه قرآن پاک به خالص د الله د رضا دپاره وائے .

لکه **مشکواة** کښ حضرت بریده رضی الله عنه نه روایت دے :

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

« من قرأ القرآن يتأكل به الناس جاء يوم القيامة ووجهه عظم ليس عليه لحم [1]» .

* کوم سړے چه قرآن وائی او قرآن ذریعه د جمع کولو د مال ګرزوی نو د قیامت په ورځ به د الله دربار ته حاضر شی چه مخ به نے صرف د هډوکو ډانچه وی او په هغه باندے به غوښه نه وی *.

د انسان د مخ تزیین په غوښه باندے وی چه په مخ غوښه وی نو سړے مزین وی او کله چه دا غوښه سربوړے وی ( سرخی طرفته مائله ) نو سړے مزین وی او که هم دغه مخ وی او زیړ وی نو تزین ختم شی او هر کله چه پدے مخ باندے غوښه نه وی تش هډوکی وی نو څومره بد شکل به وی ؟ نو معلومه شوه چه قرآن کریم به ذریعه د معاش نه ګرزوے او قرآن کریم ذریعه د معاش ګرزول حرام دی .

## (۹) ویقرأ بتدبر وتفکر فی آیات الله تعالی

بل ادب د قرآن عظیم دادے چه کله قرآن عظیم وائی ډیر تدبر سره او انتهائی فکر سره چه په خلے باندے الفاظ وائے او په زړه کښ د هغه سوچ کوے استدلال د **سورة ص** نه کیږی :

«كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ (٢٩)»

---

[1] مشكواة ج١ ص ٢٠٩ باب اختلاف القراءات وجمع القرآن ، حلية الاولياء ج٤ ص ١٩٩ ، كنز العمال ج١ ص ١٠٠١ ، السلسلة الضعيفة للالبانى ج٣ ص ٥٣١.

Scanned by CamScanner

* دا یو کتاب دے چه مونږ رالیږلے دے تاته د خیر نه ډک دے دے دپاره چه خلق پکښ سوچ اوکړی په آیاتونو د قرآن کښ او چه نصیحت واخلی پدے سره خاوندان د عقلونو* .

نو مقصود د قرآن نه تدبر دے « ویقرء بتدبر وتفکر» .

**الاتقان** او نووی لیکی «هو المقصود الاعظم من کتاب الله »

دغه مقصود اعظم د الله د کتاب دے چه قرآن به ډیر سوچ او تدبر سره وائی .

تفسیر **قرطبی** په تفسیر د سورة **مزمل** کښ لیکی :

«قال ابوبکر بن طاهر تدبر فی لطائف خطابه وطالب نفسک بالقیام باحکامه وقلبک بفهم معانیه وسرک بالاقبال علیه»

کله چه قرآن وائی نو ددے په احکامو باندے سوچ کوه او مطالبه وکړه د ځان نه په عمل د حکمونو د قرآن باندے او مطالبه وکړه د زړه نه په پوهی د معانیو سره ، د خپل پټ راز نه مطالبه د مخامخ کیدو وکړه .

هم دغه تفسیر **قرطبی** په تفسیر سورة ص کښ لیکی :

«وفی هذا دلیل علی وجوب معرفة معانی القرآن»

نو د قرآن مقصد نه تدبر دے او تدبر بغیر د فهم د معانیو د قرآن نه نه حاصلیږی، معنی مخکښ ده د هغے نه پس تدبر دے نو معلومه شوه چه د قرآن معنی زده کول واجب دی .

ددے تفسیر ابن کثیر ( څلورو جلدونو والا ) ج ۴ ص۳۳ کښ لیکی :

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

« قال الحسن البصری والله ما تدبر بحفظ حروفه واضاعة حدوده حتی ان احدهم لیقول :قرأت القرآن کله لا یُری له فی خُلقه ولا عمله تدَبر »

د قرآن تش یادول نه دی چه حدود ئے ضائع کړی تردے چه یو سړے به راپاسی او وائی به چه ما قرآن وئیلے دے خو قرآن به د هغه په عمل کښ هم نه ښکاری او نه به د هغه په اخلاقو کښ ښکاره کیږی .

مقصد دا شو چه قرآن اوایه تردے چه قرآن ستا په عمل کښ ستا په اخلاقو کښ ښکاره شی .

تفاسیر ګورئی په دیکښ ډیرے ښے خبرے دی :

تفسیر **نظم الدرر** د سورة انعام : «أَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ (۱۲۲)»

باندے لیکی چه د قرآن رنړا په خلقو کښ ګرزی او د عمل مطابق په خلقو کښ رنړا پیدا کوی چه عمل کم دے نو دده مثال د زیړ بلب په شان دے او چه عمل ئے زیات دے نو رنړائے د سلو واټو یا د زرو واټو بلپونو پشان ده .

امام **نووی** په شرح د مسلم ج ۱ ص۲۷۴ کښ لیکی :

«ان قوماً لیس حظهم من القرآنِ الا مروره علی اللسان فلا یجاوز تراقیهم لیصل قلوبهم ولیس ذالک هو المطلوب بل المطلوب تعقله وتدبره بوقوعه فی القلب»

Scanned by CamScanner

ډیر قومونه داسې دی چه د هغو حصه (تلاوت کول) د قرآن نه نده مگر صرف په ژبه باندې روان وی دا قرآن ئې د مرکنډ نه نه ښکته کیږی چه زړه ته اورسی (بیا وائی) صرف په ژبه وئیل مطلوب ندی بلکه مطلوب د قرآن زده کول دی، په مطالبو سوچ دے او په زړه کښ ورته ځائے ورکول دی.

ماته د کراچۍ علماء یو استفتاء لیکلے وه په دے موجوده تلاوتونو باندې هغوئی په کښ خپله رائے لیکی نو ماته ئې او وئیل چه ته هم خپله رائے اولیکه دلائیل خو ماسره ډیر شته دی خو زه خپله رائے نه لیکم ځکه چه زما خپل شوق هم دادے چه قرآن او وایم زه خو وایمه که مرو اوریدلی نو ما به وصیت کړے وے چه زما په قبر باندې د قرآن کیستے کیدی ځو مړی نه اوری.

زمونږ مقصد د چا تحقیر کول نه دی خو د نن زمانې حافظان چه وګوری کله چه هغوئی قرآن وائی نو په سامعینو باندې ئې زیر زبر شی خو چه د حافظانو د چهرو مطالعه کوے نو اثر د قرآن پکښ نه ښکاره کیږی کم از کم دومره خو پکار ده چه دا چهره د قرآن موافق وی.

**الاتقان** فی علوم القرآن لیکی ج ۲ ص ۲۳۴ کښ:

« واقام ابن عمر علی حفظ البقرة ثمان سنین »

ابن عمر په اتو کالو کښ سورة بقره یاده کړے وه.

(اخرجه فی الموطاء)

بیا ذکر کوی: « وتدبر الکلام بدون فهم معانیه لایمکن »

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

نو مقصود اعظم د قرآن فهم د قرآن دے .

په ج١ ص١٤٠ کښې ذکر کوی :

« وتسن القراءة بالتدبير والتفهم فهو المقصود الاعظم والمطلوب الاهم وبه تنشرح الصدور وتستنير القلوب قال تعالى كتاب انزلناه اليك مبارک ليدبروا آياته »

سنت دی قرآن وئیل په تدبر سره او په زده کولو د معانیو سره ځکه چه مقصود اعظم او مطلوب اهم د قرآن دغه دے پدے سره شرح د صدر راځی او په زړه کښې نورانیت پیداکیږی .

**البرهان** فی علوم القرآن ج٢ ص١٥٥ کښې لیکی :

«ومن لم يكن له علم وفهم وتقوى وتدبر لم يدرک من لذة القرآن شيئا»

هر هغه سړے چه هغه لره علم د قرآن نه وی تقوی او تدبر د قرآن نه وی دے د قرآن د لذت نه به هیڅ شے حاصل نه کړی .

**البرهان** ج١ ص١٥٣ کښې ذکر کوی :

«كتاب الله بحر عميق وفهمه دقيق لا يصل الى فهمه الا من تبحر فى العلوم»

کتاب د الله یو ډونګے دریاب دے او دے دپاره تبحر فی العلوم بکار دے .

**البرهان** فی علوم القرآن ج١ ص٤٥٥ کښې باب تړلے دے :

فصل فی کراهة قراءة القرآن بلا تدبر:

چه بغیر د تدبر نه د قرآن وئیل مکروه دی بیا ئے هغه حدیث ذکر کړے دے.

« قوله علیه السلام فی صفة الخوارج یقرءون القرآن لا یجاوز تراقیهم ولا حناجرهم ذمهم باحکام الفاظه وترک التفهم لمعانیه (۱)»

وینا د نبی علیه السلام په صفت د خوارجو کښ فرمائی زما نه پس به یو قوم راشی قرآن به وائی لیکن نه به خکته کیږی قرآن د مرکنډ ددوئی نه او نه د مرئی ددوئی نه .

یعنی زړه ته به ئے نه خکته کیږی ، پدیکښ مزمت د هغه چا دے چه الفاظ په خه طریقه سره وائی او معانی او مطالب ئے نه زده کوی .

## نتیجه

نو نتیجه دا ښکاره شوه «فوجب فهم معانی کتاب الله »

د قرآن ترجمه زده کول واجب شو.

په ملا باندے او په طالب باندے او چه کم سړے مسلمان دے نو په هغه باندے د قرآن معانی زده کول واجب دی او چه یو ټکے دے زده شو په ټول عمر کښ نو هم بس دے خو کوشش پکار دے.

پدے باندے نور روایات هم شته سنن دارمی په ړومبی جلد کښ ذکر کړی دی .

---

[1] بخاری رقم ۱۰۲، موطاء امام مالک ۲۰۴، ابوداؤد ۴۷۶ ، نسائی ۱۰۸۷، اعتصام ج ۲ ص ۳۸۴

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# الاجتناب عن موانع فهم القرآن

کله چه مقصود الاهم د قرآن فهم المعانی دے نو اوس د هغه شی نه چه د قرآن په زده کولو کښ رکاوټ پیدا کوی ځان بچ کول پکار دی او دا ډیر ضروری دی اول پدیکښ تکبر دے .

## ☆ التکبر

د تکبر ګنړ معاني دی خو دلته تکبر ځان غافل کول د قرآن د مطالبو نه عام معنی د تکبر ده استعلاء د نفس او تحقیر د غیر چه یو سړے او وائی چه یم نو خو بس زه یمه دا نور خو هسے دی دوئی په څه نه پوهیږی ، الله جل جلاله خو ټول طلباء په یو شکل ندی پیدا کړی ټولو کښ څه نا څه تفاوت وی اوس یو طالب ذکی دے بل اذکی دے او بل غبی دے او اذکی به ذکی پورے نه خاندی او ذکی به غبی پورے نه خاندی مطلب دا چه د تکبر نه اجتناب پکار دے او متکبر ته الله د قرآن پوهه نه ورکوی .

## ☆ بل مانع د فهم نه کفر شرک او بدعت

مشرک په قرآن نه پوهیږی هم دغه شان مبتدع دغه وجه ده چه په مبتدعینو کښ د هر آیت حل په شان نزول پورے موقوف دے وائی چه دا خو د ابوجهل او د ابولهب په باره کښ راغلی دی او ته ئے په مونږه لګوے نو قرآن خو څه د ابوجهل باره کښ راغلے دے او څه د ابوبکر صدیق

رضی الله عنه په حق کښ نو ابوبکر رضی الله عنه خو تشریف یوړو او ابوجهل مردار شوے دے نو زمونږه دپاره پکښ څه فائده شته صرف د قسمونو دپاره به پروت وی ؟ .

## ☆ بل مانع د فهم نه دوام علی المعصیة

هغه چاته فهم د قرآن نه نصیب کیږی چه اصرار په معصیت باندے کوی د انسان نه ګناه کیږی خو دوام علی المعصیت دا مانع د قرآن نه دے نودا کوشش به کوے چه خپل ځان د معصیت د جال نه اوساتے ځکه چه بالکل معصوم خو ته نشے کیدے خو دا کوشش کوه چه په یو جرم باندے مصر نشے .

## ☆ اعتماد په علم د یو عالم بغیر د استدلال نه

**بل مانع** چه اعتماد په علم د یو عالم بغیر د استدلال نه په دلیل شرعی سره چه صرف دا وائی چه مولوی صاحب دا وئیلی دی نو آیا څه دلیل ئے پرے پیش کړے دے؟ یا وائی چه فلانی مولوی صاحب نه پوهیږی په څه ؟ نو دے قسم خبرو نه ځان بچ کول پکار دی .

الاتقان ج۲ ص ۲۳۲ کښ لیکی :

«والطريق في تحصيله إرتكاب الأسباب الموجبة له من العمل والزهد قال في البرهان اعلم أنه لا يحصل للناظر فهم معاني الوحي ولا يظهر له أسراره وفي قلبه بدعه أو كبر أو هوى أو حب الدنيا أو وهو مصر على ذنب أو غير متحقق بالإيمان أو ضعيف التحقيق أو

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

يعتمد على قول مفسر ليس عنده علم أو راجع إلى معقوله وهذه كلها حجب وموانع بعضها آكد من بعض» .

برهان ذکر کوی چه نه حاصلیږی یو طالب العلم ته د قرآن عظیم زده کول او نه ښکاره کیدے شی دے انسان ته رموز د قرآن چه په زړه کښ ئے شوق د بدعاتو وی یا تکبر وی یا خواهش نفس وی یا ددنیا مینه او محبت وی یا دے په یو ګناه باندے اصرار کونکے وی یا دده ایمان مضبوط نه وی یا تحقیق ته ځان نه رسوی یا د یو داسے سړی په رائے باندے اعتماد کوی چه هغه سره هیڅ دلیل نشته یا آیاتونه په خپل عقل حل کوی ( لکه پرویزیان ، منکرین حدیث شو د اقیموا الصلاة معنی کوی ورزش کوئی ، د اتوا الزکوة معنی کوی بدن پاک ساتئ کپړے پاکے ساتئ ، وارکعوا مع الراکعین د الله نیکانو بندیګانو سره شامل شئ رکوع مونځ وغیره نه کوی داسے خلق چه یو آیت په خپل عقل حل کوی دا ټول موانع د فهم د قرآن دی چه بعض مؤکد دی د بعض نه .

بیا استدلال کوی د سورة الاعراف نه : «سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ»

الله وائی زه به منع کرم د پوهے د آیاتونو نه هغه خلق چه تکبر کوی پدے زمکه کښ په ناجائزه طریقے سره .

« ای سامنع عن معانی فهم القرآن » .

تفسیر مدارک ددے آیت د لاندے لیکی :

«أبی الله أن یکرم قلوب البطالین بمکنون حکمة القرآن»

الله د خپل قرآن حکمتونه د باطل پرستو په زړونو کښې نه اچوی .

وقال **الشافعي** رحمه الله :

شکوت الی وکیع سوء حفظی فاوصانی الی ترک المعاصی

فـان الـعـلـم فـضـل مـن الـه وفـضـل الله لایعطی لعاصی

مونږه که علم د قرآن د هنر په باب کښې ساتو نو مونږ به په قـرآن نـه پوهیږو ، او که عبادت ئے ګڼو نو په طریقے د عبادت بیا پکار دے چه دده لسو آدابو خیال اوساتلے شی .

# عظمة القرآن

د انسان یو مزاج دے چه دده په مخکښ د یو شی عـزت کیـږی نـو دے هغے ته راغب کیږی او چه دده په مخکښ د یو شی بے عزتی کیږی نو دے د هغه شی نه متنفره کیږی پدے دور کښ د اهل علمـو تحقیـر زیـات دے خو چرے د علم نه بد دله نشئ د علم مقام ډیر زیـات اعلـی او ارفـع دے که چرے خلق توهین کوی نو پرواه نشته ځکـه چـه دے ډلے او دے جماعت ته چه الله کم اعزاز ورکړے دے دغه کافی دے .

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# واقعه د شاعر

یو شاعر وو فی البدیع بادشاه خواته لاړو چه څه خُلعه ( جوړه جامه ) راکړی د بادشاه نه اول ورته وزیر اووئیل چه خپل څه شعر خو راته او وایه چه ته څنګه شاعرئے ؟

شاعر ورته او وئیل : « بازار رفتم بخر یدم ګناه ..... قل اعوذ برب الناس ملك الناس اله الناس من شر الوسواس الخناس الذی یوسوس فی صدور الناس من الجنة والناس، ګناه او والثا »

وزیر ورته او وئیل چه علم شعر دا ضرورت لری چه د شعر دواړه کړئي برابر وی نو یو خوا ټکړه د شعر بل خوا پوره سورة ؟

وزیر لاړو او بادشاه ته ئے او وئیل چه یو کم عقل شاعر راغلے دے او د دیګ او د کټوئي تمیز ئې نشی کولے نو که ستا خوخه وی نو ستا دربار ته به ئے پیش کړمه بادشاه ورته او وئیل پیش کړه چه کله شاعر راغلو نو ډیر په سپک نظر ئے ورته اوکتل او ورته ئے او وئیل او وایه ته څنګه شاعرئے هغه شاعر خو فی البدیع شاعر وو وزیر سره ئے ټوقے کولے نو هغه ورته شروع شو او وئیل ئے :

نه مرا ذلت ونه ترا ادبی لوصف قل هو الله زیر از ابی لهب

زه په زمکه او دریدو سره سپک شوے نه یمه ته په تخت باندے په ناستے عزت مند شوے نه ئے که په دے عزت وی نو سورة د ابولهب ړومبے دے او قل هو الله ( سورة اخلاص ) روستو دے .

نو عوامو بے چاره گانو ته پته نشته چه د علماء او طلباء حیثیت څه دے او ددوئی څه مقام دے نو کچرے داسے د بے ادبئ الفاظ وئیلے کیږی او ته ئے اورے نو پدیکښ د مقصد نه په شاه نشے پدے لاره کښ به رکاوټونه رازی هغه به ټول ته طے کوے او ځان به مقصد ته رسوے .

## الاول من عظمة القرآن

انه **خیر کثیر** وسماه الله خیراً کثیراً.

الله علم د قرآن ته خیر کثیر وئیلے دے او ټولے دنیا ته ئے متاع قلیل وئیلے دے ایام د دنیا مقدار ددنیا ټول محدود او متناهی دی ، ځکه الله ورته وئیلی دی « قل متاع الدنیا قلیل » او قرآن عظیم ته الله خیر کثیر وئیلے دے دنیا زمونږ په نظر کښ ډیره غټه ده خو الله ورته قلیل وئیلی دی او چه کم شی ته الله خیر کثیر وئیلے دے هغه به څومره غټ وی نو معلومه شوه چه قلیل پریږده او کثیر پسے روان شه سورة بقره کښ الله پاک فرمائي :

«وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا(۲۶۹)»

او هغه چاته چه پوهه د قرآن ورکړے شوه پس ورکړے شو ده ته خیر ددنیا ډیر .

نو معلومه شوه چه علم د قرآن خیر کثیر دے .

امام رازی رحمه الله لیکی : « قد سماه الله خیرا کثیرا فاترکوا القلیل واتبعوا الکثیر » الحمد لله قرآن خیر کثیر دے .

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# الثانی انه سبیل الله

دا قرآن لاره ده الله ته د رسیدو سورة انعام ۱۲۶ کښ دی :

«وَهَذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمًا قَدْ فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ»

دا قرآن لاره د رب ستا ده بالکل برابره پدیکښ مونږ تفصیل وار بیان کړی دی بیانوو آیاتونه دپاره د هغه قوم چه نصیحت اخلی .

سورة انعام : «وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا(۱۵۳)»

او بیشکه دا قرآن لاره ده زما برابره نو دے پسے روان شئ .

که یو سړے د الله رضا حاصلول غواړی نو د هغه دپاره لاره قرآن دے که دے رضا حاصلوی د رحمان او لاره د قرآن نه حاصلوی نو چرے به هم دے منزل ته اونه رسی .

# الثالث انه سبب للرحمة الخاصة من الله تعالی

دا قرآن یو خصوصی رحمت دے د الله رحمت خو هر چا لره دے خو د قرآن سره تعلق لرونکو باندے د الله خصوصی رحمت دے که یو سړے ځان د الله د خصوصی رحمت مستحق کوی نو قرآن دے شروع کړی .

سورة **اعراف** کښ الله رب العزت فرمائی :

«وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ(۲۰۴)»

Scanned by CamScanner

او کله چه قرآن وئیلے کیږی نو تاسو چپ شئ دے دپاره چه په تاسو رحم اوشی معلومه شوه چه انه الرحمة .

## الرابع انه سبب للفرح الحقیقی

بیشکه دا قرآن سبب د حصول د حقیقی خوشحالئ دے سورة یونس ۵۸ کښ دی :« قل بفضل الله وبرحمته فبذالک فلیفرحوا»

او وایه په فضل د الله او په رحمت د الله (چه قرآن دے) خوشحاله شی .

دلته فعل مکرر دے یو مذکور دے او بل مقدر دے « فبذالک فلیفرحوا » اي فلیفرحوا بذالک فلیفرحوا بذالک ، خوشحالي وکړئ پدے باندے نو خوشحاله دے شی پدے باندے .

حقیقی خوشحالی سکون قلب دے او سکون قلب : یحصل بکتاب الله تعالی ای بتلاوته وبقراءته وبفهمه .

## الخامس انه سبب الالفة

دا قرآن سبب د الفت دے قرآن سره الفت او محبت پیدا کیږی سورة آلعمرآن (۱۰۳) کښ دی :

«وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا »

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

او منګولې ښخي کړئي د الله په قرآن تول او مه تس نس کيږئ او ياد کړئي نعمت د الله کله چه وئي تاسو د يو بل دښمنان الله يو کړل زړونه ستاسونو اوګرزيدئي په سبب د نعمت د الله ورونه ورونه.

نو قرآن سبب د جوړ دے قرآن سبب د مينے او محبت دے قرآن سبب د الفت دے ، خو اے طالب جانه ! چه مونږ قرآن وايو او الفت نه وی نو معلومه شوه چه عمل په قرآن نشته .

## السادس انه سبب لحصول البركات السماوية والارضية

دا قرآن سبب دے د حصول د برکات سماويه او د ارضيو الله رب العزت په سورة مائده کښې فرمائی :

«وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِمْ مِنْ رَبِّهِمْ لَأَكَلُوا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ (٦٦)»

او کچرے وے دا خلق چه عمل ئے کړے وے په توراة او انجيل باندے او هغه کتاب باندے چه نازل شوے دے دوئي ته نو دوئی به خوراک کړے وو د لاندے باندے نه .

برکات سماويه بالامطار او برکات ارضيه بالبرکات ، او دوئی ته به الله ورکول وار په وار .

دا نعمتونه به دوئی ته الله وافر طريقے سره ورکړي وے نو القرآن سبب لنزول البركاة السماوية والارضية والسفلية والعلوية .

په سورة الجن (۱۶) کښې راځي :

«وَأَنْ لَوِ اسْتَقَامُوا عَلَى الطَّرِيقَةِ لَأَسْقَيْنَاهُمْ مَاءً غَدَقًا »

او کچرې قائم شی دوئی په دین باندې مونږ به څکولی وې په دوئی باندې اوبه وافرې .

استقامت علی الدین دا سبب د نعمتونو کثیره وو دے ، نن چه کم مجاهدین په سنګرونو کښې دی بـه خوشحاله دی ګـډان خوری وافره نعمتونه ورته ملاویګی هغه نعمتونه مونږ ته نه ملاویګی .

هم دغه شان په سورة طلاق (۳) کښې ذکر کوی :

«وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ »

چاچه ځان بچ کړو د شرک او د کفر نه الله بـه وګـرزوی دپـاره دده اسباب د وتلو د غمونو نه او الله به رزق ورکړی دوئی ته د داسې طریقې نـه چه وهم او ګمان کښې به ئې هم نه راځي .

نو الله به ورته رزق دداسې ځائې نه ورکړی چه وهم او ګـمـان کښې بـه ئې هم نه راځي .

## واقعه د شیخ القرآن رحمه الله

وائی چه په حرم کښې د عبیدالله سـنـدهی رحـمـه الله سـره ناسـت ووم قرآن کریم مو زده کولو فاقه وه تقریبًا دوه ورځې ږوږدونـي نـه وه راکـړې شوې . مونږ ورته او ونیل چه قرآن سبب د نزول د رحمت دے او زمونږ خو دوه ورځې اوشوې چه نهر بو مونږ ته ئې او ونیل چه یې صـرو دومره

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

زر مو صبر لاړو ، وئیل چه ګوره چه الله درته وریژي پُلاؤ درکوی او که نه ؟

شیخ وئیل لږ ساعت تیر شو درس لا نه وو ختم شوے یو عربی راغلے او غټ خانک ورسره وو چه کیخودو نو د غوښو نه ډکے وریژي وے مولانا سندهی صاحب او وئیل چه بے صبرو کینئ ورته خلاصوئی ئے .

**مثال** : یو خان دے د هغه د حجرے نوکر دے هغه خان په خپل نوکر باندے هر یو شے پریمانه کوی که دے نوکر سره څوک په جنګ شی نو دا خان د هغه د طرف نه جواب ورکوی که یو خان د خپلے حجرے د نوکر دومره خیال کوی نو رحمان به د خپل قرآن د نوکر خیال نه ساتی ؟ خو ته خو خپل ځان د رحمان په نوکرئی کښې واچوه نو بیا د رحمان مهربانیانو ته ګوره .

# الامور الثلاثه

د هر کتاب شروع کیدو نه مخکښې استاذ وائی چه لابدی ده په اول د کتاب کښې د امور ثلاثه وو نه (۱) تعریف (۲) موضوع (۳) او غرض ، دلته مونږه الفاظ د ادب وایو تعریف د قرآن ، حکمت د نزول د قرآن موضوع د قرآن .

# اول: تعریف د قرآن کریم

په قرآن کریم کښ چه څومره سورتونه ذوات الراء دی او هغه سورتونه چه په حروف مقطعاتو سره شروع کیږی الم ، حم دی نو پدیکښ تعریف د قرآن کریم بیان شوے دے .

ملا جیون صاحب په خپل کتاب کښ دا مسئله ذکر کړے ده :

* اما القرآن فالکتاب المنزل علی الرسول صلی الله علیه وسلم المکتوب فی المصاحف المنقول الینا نقلا متواترا بلا شبهة *

قرآن کریم هغه کتاب دے چه رالیږل شوے دے حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته محفوظ دے په لوح محفوظ کښ په مصاحفو کښ لیکل شوے دے او منقول دے مونږ ته په نقل متواتر سره بغیر د څه شک او شبهې نه .

سورة بقره کښ ذکر شوی دی :

«الم (١) ذَلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ (٢)» .

دا کتاب هیڅ شک پدیکښ نشته هدایت دے دپاره د متقیانو .

یعنی زما سره چه دا کوم کتاب دے او دا زه چه څه وایمه او څه زده کومه دا خو کتاب کامل او مکتوب کامل دے رب العالمین رالیږلے دے چه شک نه پاک او مبراء دے لار ښائی هغه چاته چه طلب د لارے کوی ، دلته مونږ داسے معنی وکړه چه ذهن کښ به یو الجهن هم نه پاتی کیږی .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبة الاشاعت ڈاٹ کام

# تقوی

تقوی څه ته وائي؟ تقوی پرهیز ګارئی ته وائي او پرهیز څه ته وائي ؟

چه کم شے درباندے بد راځي هغه به نه کوے ، لکه ډاکټر وائي چه غټه غوښه به نه خورے غوړ به نه خورے مالګه بـه زیاتـه نـه خورے دا پرهیز دے مقصد دا چه کم شے تاته ضـرر درکـوی هغـه بـه نـه کـوی ، هغـه بـه پریږدے .

اوس تقوی څه ته وائي ؟

شرک به نه کوے ، بدعت به نه کوے ، عناد به نه کوے ، نـو اوس شـرک پریښودل تقـوی ده ، بـدعت پریښـودل تقـوی ده ، عنـاد او ضد پریښودل تقوی ده چه دا دے پریښودل نو انابت به راشي .

(١) مزید تفصیل د تعریف د قرآن سورة اعراف نه ذکر کوو :

«كِتَابٌ أُنزِلَ إِلَيْكَ فَلَا يَكُنْ فِي صَدْرِكَ حَرَجٌ مِنْهُ لِتُنذِرَ بِهِ وَذِكْرَى لِلْمُؤْمِنِينَ (٢)»

دا کتاب کامل چه تاته رالیږل شوے دے بس رادے نشي په سینه ستا کښ تنګسیا ددے کتاب د وجے نه ددے دپاره چه اویروے بدے باندے او پند ورکړے مؤمنانو ته .

**انزل** : کښ درے نسبته شو یو نسبت مُنزِل بل مُنزَل او بل مَنزَل به شو .

رالیږونکی الله دے راوړونکے جبرائیل دے چه کوم شے ئے راوړے دے هغه کتاب دے .

(۲) سورة انعام کښې الله رب العزت د قرآن کریم تعریف پدے الفاظو سره کوی :

«وَهَذَا كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ مُصَدِّقُ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَلِتُنْذِرَ أُمَّ الْقُرَى وَمَنْ حَوْلَهَا وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ يُؤْمِنُونَ بِهِ وَهُمْ عَلَى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ (۹۲)»

* او دا کتاب دے رالیږلے دے مونږ دے لره د برکت نه ډک شوے رښتیا کونکے د هغه چه مخکښې ددے نه دی او ددے دپاره چه ویروی اصل د کلو او هغه چه چاپیره دی ددے نه او هغه خلق چه ایمان ئے راوړے دے په آخرت ددوئی ایمان راوړے پدے او دوئی په مونځ خپل ساتنه کوی .

(۳) سورة مائده کښې فرمائی چه تاسو دا کتاب خپل قاضی او فیصله کونکے جوړ کړئی .

«وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ (۴۸)» .

او مونږ رالیږلے دے تاته کتاب دپاره د حق تصدیق کونکے د مخکښنو کتابونو دے او ذمه وار د هغه دے پس فیصله وکړه په مینځ ددوئی کښې په هغه کتاب چه نازل کړے دے الله .

**مهیمنا** : ذمه وار ، نګران او قاضی د مخکښنو کتابونو .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبة الاشاعت ڈاٹ کام

قاضي بيضاوی او مظهری وائی اي قاضي عليهم .

شاه ولی الله رحمه الله فرمائی : اي تحريف را از غير تحريف جدا مي سازند ـ دا كتاب به اصل د غير اصل نه جدا كوی بنائی چه دا اصل دے او دا غير اصل دے .

(۴) سورة عبس كښې ذكر شوی دی :

«فِي صُحُفٍ مُكَرَّمَةٍ (١٣) مَرْفُوعَةٍ مُطَهَّرَةٍ (١٤) بِأَيْدِي سَفَرَةٍ (١٥) كِرَامٍ بَرَرَةٍ (١٦)»

قرآن كريم ليكلے شوے دے په كتابونو عزتمندو كښې اوچت شوے دے د رسيدو نه پاک شوے دے په لاس د ملائكو كښې چه ډير نيكان عزتمند دی .

(۵) سورة شعراء كښې ذكر كوی :

«وَإِنَّهُ لَتَنْزِيلُ رَبِّ الْعَالَمِينَ (١٩٢) نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ (١٩٣) عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنْذِرِينَ (١٩٤) بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُبِينٍ (١٩٥) وَإِنَّهُ لَفِي زُبُرِ الْأَوَّلِينَ (١٩٦)».

دا كتاب نازل شوے د طرفه د رب العالمين نه راتلل كړی دی پدے باندے روح امانت دار ستا په زړه باندے دپاره د يرولو ، په ژبه عربی واضحه كښې دی او تذكرهددے په مخكنو كتابونو تورات او انجيل كښې وه .

Scanned by CamScanner

# اسماء د قرآن عظیم

علمـاء کـرام ذکـر کـوی : «ان کثرة الاسـماء تـدل علی شرافة المسمی»د یو شی کثرة د صفاتو دلالت کوی پـه فـضیلت د موصـوف او مسمی باندے .

شیخ القرآن به فرمائیل چه په قرآن کریم کښ د قرآن کـریم نومونـه تقریباً پنځه اویـا (۷۵) دی خـو تـدبر او اسـتفکار سـره ددینـه زیـات هـم ملاویګی .

دومره کثیر تعداد سره چه قرآن کریم نومونه ذکـر کـوی دا دلالـت کوی په شرافت د مسمی باندے او دغه اسـماء د قـرآن کـریم درحقیقـت تعریف د قرآن دے .

تعریف د قرآن موقوف دے په اسماء وصفیو د قرآن کـریم پـورے او چه اسماء وصفیه دے وپیژندل نـو داسـے پوهـه شـه چـه قـرآن کـریم دے وپیژندہ ، نمونے دپاره یو څو اسماء وصفیه ذکر کوو :

سورة بقره کښ ورته کتاب وائی :

«ذَلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ (۲)»

سورة بقره ۱۷۵ کښ ورته قرآن کریم وائی :

«شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ»

هغه کتاب چه بے حسابه وئیل شوے دے په جهان کښ .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

سورة البقرة کښې ورته العروة الوثقی وائي :«فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى» .

سورة بقرة ۲۶۹ کښې کښې ورته خیر کثیر وائی :

«يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا».

سورة العمران ۱۰۳ کښې ورته حبل الله وائی :

«وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا».

رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چا تپوس وکړو چه حبل الله څه ته وائی ؟ فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم کتاب الله هو حبل الله الممدود من السماء الی الارض .

رسول الله صلی الله علیه وسلم وئیل حبل الله کتاب دے چه بره نه رازوړند دے زمکے ته که ته تکړه ئے نو دے ته به لاس واچوے او په خپله به بره وخیژے او چه کمزورے ئے نو لاس ورته کلک واچوه بل څوک به دے بره خیژوی .

هم دغه شان که ایمان کامل وی نو پخپله به بره اوخیژے او که ایمان دے کمزورے وی نو خان ورپورے کلک کړه نو قرآن سره نسبت قائم کړه که قوی ئے او که ضعیف ئے نو کامیاب به ئے .

سورة التوبة ۶ کښې ورته کلام الله وائی : «وَإِنْ أَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّى يَسْمَعَ كَلَامَ اللَّهِ» .

Scanned by CamScanner

که یو تن وی د مشرکانو نه پنائی غواړی تاسره نو پنائی ورکړه ترڅو پورې چه واوری د الله کلام .

سورة **التوبة** ۳۲ کښ ورته نور وائی : «يُرِيدُونَ أَنْ يُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّا أَنْ يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ» .

اراده کوی دوئی چه مړ کړی نور د الله په خپلو خلو سره ، نه کوی الله دامګرچه تام (پوره) کړی خپله رڼرا اګر چه سوزی کافران.

نو قرآن کریم ته ئے نور او وایو ځکه چه سبب د نور دے په عالم کښ .

سورة **شوری** ۵۲ کښ ورته نور او روح وائی :

«و كَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِنْ أَمْرِنَا مَا كُنتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ وَلَكِنْ جَعَلْنَاهُ نُورًا نَهْدِي بِهِ مَنْ نَشَاءُ مِنْ عِبَادِنَا وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ»

قرآن ته ئے روح او وایو او روح هر هغه شی ته وائی چه په هغه باندې موقوف وی بقاء د شے وجود د شے حیاة د شے تازګی د بو شی لکه بقاء د بدن په روح سره ده چه کله خلق وانی میت دے مړے دے ، جنازه ده د مړي کټ دے لاش دے نو لکه ځنګه چه بقاء د بدن په روح سره ده نو دغه شان بقاء ددین په قرآن کریم سره ده القرآن فی الدین کالروح فی البدن .

سورة ق کښ ورته قرآن مجید وائی : «ق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ» .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

سورة زخرف کښ ورته کتاب مبين ، قرآنا ، ام الكتاب ، او لعلی حکیم وائی .

«حم (١) وَالْكِتَابِ الْمُبِينِ (٢) إِنَّا جَعَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ (٣) وَإِنَّهُ فِي أُمِّ الْكِتَابِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيمٌ (٤)»

کتاب ورته ولے وائی امام مظهری لیکلی دی : الظاهر لنفسه والمظهر لغيره ، پخپله هم ښکاره دے نو د بل شی نه هم تیاره لرے کونکے دے . آفتاب آمد دلیل آفتاب .

روح المعانی وائی عالی دے په اعتبار د درجے سره ، حکیم اي ذو حكمة بالغة ، د علومو د نکتو نه ډک کتاب دے درجه ئے په ټولو اوچته ده نو علم ئے هم غالب دے نو بیا بیا ئے وایه .

كما قال ابن قيم رحمه الله :

العلم قال الله وقال رسوله قال الصحابة هم اولو العرفان .

## دويم غرض

## حكمة د نزول القرآن

کله چه یو سړے حکمت د نزول د قرآن کریم اوپیژنی نو هغه مقصد د قرآن کریم هم اوپیژنی او نن چه پدے ملک کښ د قرآن کریم سره کم ظلم کیږی د هغه نه به هم حفاظت ملاؤ شی ، نن خلقو قرآن کریم صرف

د ختمونو او د قسمونو کتاب گرځولے دے او پاره پاره ئے کړے دے او باقائده په جوماتونو کښې جداجدا پارے ملاویګی .

قرآن کریم صرف د قسمونو کتاب ندے په کوروں او دوکانونو کښې صرف د برکت د کیښودلو کتاب ندے ، په دکان او کور کښې ئے کیږده خو وایه ئے هم چه برکت کامله درته ملاوشی ، چه قرآن کریم پروت وی او په هغه باندے من من دوړه پرته وی نو ته اوایه الله به خوشحالیږی او که خفه کیږی به ؟ ددے جماعت اشاعة التوحید والسنة ګناه دغه ده چه خلقو ته وائی اے مسلمانانو دا کتاب خو ددرس کتاب دے د دعوت او د وعظ او نصیحت کتاب دے دا کتاب د سره دا نه بنائی چه په کور او په دکان ئے کیږدے او من من دوړے پری پرتے وی .

د قرآن څه حکمت دے ؟ هغه ذکر کوی په سورة بقره کښې :

« شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ(١٧٥)»

میاشت د رمضان هغه ده چه نازل شوے دے پدیکښې قرآن چه هدایت دے د خلقو دپاره او واضحه احکام دی د هدایت او فرق کونکے دے د حق او د باطل .

دا کتاب د هدایت کتاب دے ، دے سره فرق راځی د حق او باطل هدایت د قرآن نه حاصلیږی او د حق او د باطل تمیز د قرآن نه کیږی ، دلائیل په یوے مسئلے د قرآن نه به قائموے دغه د قرآن حکمت دے او دے مسئلے دپاره الله قرآن رالیږلے دے .

سورة اعراف کښ ذکر کوی :

«كِتَابٌ أُنْزِلَ إِلَيْكَ فَلَا يَكُنْ فِي صَدْرِكَ حَرَجٌ مِنْهُ لِتُنْذِرَ بِهِ وَذِكْرَى لِلْمُؤْمِنِينَ (٢) اتَّبِعُوا مَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ» .

دا عزت مند کتاب چه نازل شوے دے تاته پس نه دی وی په سینه ستا کښ تنګی د رسولو ددینه چه اویروے پدے سره خلق او پند دے دپاره د مؤمنانو ، تابعداری اوکړئی د هغه چه نازل شوی تاسو ته د طرفه د رب ستاسو نه .

دے دپاره الله رالیږلے دے چه اویروے پدے باندے خلق او پند دے دپاره د مؤمنانو قرآن بیانوه خلق د الله د عذابونو نه اویروه او د الله د کتاب تابعدار شئ ځکه چه دا د اتباع دپاره دے ، هم دغه مضمون په سورة یونس کښ په بل انداز ذکر کوی فرمائی :

«يَاأَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُمْ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ (٥٧)» .

اے خلقو یقینا راغلے تاسو ته پند او نصیحت د طرفه د رب ستاسو نه علاج دے د هغه بیمارو چه په سینو کښ دی دا قرآن هدایت دے او رحمت دے دپاره د مؤمنانو .

مَوْعِظَةٌ: وعظ بالزجر ته وائی دا تهذیب ظاهر دپاره دے .

شِفَاءٌ تهذیب باطنی لره دے .

بله معنی موعظة د بدو نه منع کونکے دے .

شفاء : امراضو لره علاج کونکے دے . چه هدایت او رحمت دے .

Scanned by CamScanner

سورة **ابراهیم** کښې دی چه داکتاب د تیارو نه رڼا ته ویستونکے دے :
«الر كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ»

دا کتاب دے چه مونږ تاته رالیږلے دے حکمت پکښې دادے چه اوباسے ته خلقو لره په سبب د بیانولو د قرآن د ظلماتو د شرک او د بدعت نه رڼا د توحید او د سنت ته .

شرک او جهل ختمیګی په بیان د قرآن سره چه کوم ځائے بیانیږی په هغه ځائے کښې بے دینی ختمیګی او دین عام کیږی .

سورة **نحل** کښې ذکر کوی :«وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ (٤٤)»

او ما رالیږلے دے تاته قرآن کریم ددے دپاره چه بیان کړے خلقو ته هغه مسئله چه مونږ رالیږلے ده تاته په واسطے د قرآن او ددے دپاره چه دا خلق سوچ او فکر اوکړی .

مقصد دادے چه د مدرس کار دے بیانول او د طالب کار دے سوچ او فکر کول او چه طالب اوده وی نو خاورے به ملا شے چه یادوے شنکی خالونه .

بیا هم په دغه سورة کښې ذکر کوی :
«وَمَا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي اخْتَلَفُوا فِيهِ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ (٦٤)»

مونږ ندے رالیږلے کتاب مګر ددے دپاره چه ښه واضح کړی هغه مسئله چه کم کښې دوئی اختلاف کړے دے .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

اختلافی مسئله ورته بیان کړه او چه کله دے ورته اختلافی مسئله بیان کړه نو بیا ورته سورة نساء بیان کړه :

«فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ (٥٩)»

که اختلاف او کړلی تاسو په یو مسئله کښ نو حل ئے دادے لاړ شئ د الله کتاب ته او د پیغمبر حدیث ته .

نو حکمت د نزول د قرآن دادے : الرجوع فی الخصومات عند النزاع الی کتاب الله .

سورة شوری کښ الله فرمائی : «وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبِّي عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ (١٠)»

هر هغه مسئله چه تاسو پکښ اختلاف کوئی فیصله د هغه الله ته ده یعنی الله ته ئے واپس کړئی الله زمونږ رب دے په هغه باندے توکل کوو او هغه ته راګرزو .

ابن کثیر وائی : فالله هو الحاکم فیه بکتابه وبسنة نبیه .

سورة انعام کښ ذکر کوی :

«أَفَغَيْرَ اللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا وَهُوَ الَّذِي أَنْزَلَ إِلَيْكُمُ الْكِتَابَ مُفَصَّلًا (١١٤)» .

آیا بغیر د الله نه زه اولټومه بل فیصله کونکے الله هغه ذات دے چه رالیږلے ئے دے تاسو ته کتاب واضح شوے .

# دریم موضوع د قرآن کریم

موضوع د شی هغه عوارض ذاتیه د یو فن ته وائی چه د هغه نه بحث کیږی ، لکه د علم نحو موضوع کلمه او کلام دی نو د ادنی کتاب نه تر اعلی کتاب پوری هم دغه موضوع ده ، نو قرآن کریم ډیر عظیم المرتبه او جامع کتاب دے محل ددے توحید دے یعنی هغه مسئله چه د هغه نه قرآن کریم بحث کوی هغه د الله توحید دے.

شیخ مرحوم به فرمائیل چه په وال بچران میان والی کښ مونږ د مولانا حسین علی رحمه الله سره پاتی کیدو ، مونږ ته ئے او وئیل چه تاسو لاړ شئ انور شاه کشمیری رحمه الله سره د حدیثو دپاره مونږ ته ئے یو مختصر شان رقعه راکړه ، شیخ وئیل مونږ چه کله لاړو او انور شاه صاحب ته مونږه هغه رقعه پیش کړه انور شاه صاحب هغه رقعه ډیر په ادب سره واغستله او خپلو سترګو سره ئے اولګوله او ډیر احترام ئے اوکړو . ملګری چه ورسره کوم ناست وو هغوئي ورته وئیل حضرت تاخو ددے رقعے ډیر عزت اوکړو دا ولے ؟

انور شاه کشمیری رحمه الله ورته او فرمائیل چه نن ماته دا رقعه د یو داسے عالم د طرفنه راغلے ده چه څوک به فنا فی الدنیا وی او څوک به فنا فی المال وی هغه فنا فی التوحید دے ، خلقو ته د الله توحید په ظاهره بیانوی او دے د قرآن د حرکاتو او سکناتو نه د الله توحید باندے استدلال کوی . (اقامة البرهان دسجاد بخاری دا ذکر کړی دی) .

نو د قرآن کریم موضوع دالله توحید ده هم دغه مضمون ذکر کوی:

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

(۱) سورة **انعام** کښې ذکر کوی :

«اتَّبِعْ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ (۱۰۶)»

وریسی شه په هغه پسے چه الله تاته وحی کړے ده چه هغه څه شے دے ؟ حاجت روا کار ساز عالم الغیب حاضر ناظر صرف یو الله دے او مخ واړوه د هغه چانه چه د رب د توحید منکر دی .

(۲) سورة **هود** کښې هم دغه مسئله د توحید په بل انداز سره ذکر کوی :«فَإِنْ لَمْ يَسْتَجِيبُوا لَكُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّمَا أُنْزِلَ بِعِلْمِ اللَّهِ وَأَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ»

کچرے دوئی ستا خبره نه منی نو تاسو پدے خبره کلک شئ بیشکه الله رالیږلے دے دا قرآن په خپل علم سره په مسئله د لااله الا هو .

(۳) سورة **بنی اسرائیل** کښې ذکرشوی دی :

«إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ»

بیشکه دا قرآن بلنه کوی په طرف د هغه مسئلے چه هغه مضبوطه او کلکه ده .

تفسیر قرطبی معنی کوی : هی شهادة ان لا اله الا الله .

(۴) سورة **ابراهیم** کښې ذکر کوی :

«هَذَا بَلَاغٌ لِلنَّاسِ وَلِيُنْذَرُوا بِهِ وَلِيَعْلَمُوا أَنَّمَا هُوَ إِلَهٌ وَاحِدٌ وَلِيَذَّكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ (۵۲)»

Scanned by CamScanner

دا قرآن د رسولو کتاب دے خلقو ته چه خلق او پروړلے شی پدے او چه دوئي يقين اوکړی چه ددوئی اله فقط يو دے او پند واخلی خاوندان د عقل .

دا مقصود دے د خلقو نه او دا رسول دی خلقو ته دا زاد راه د خلقو دے .

(۵) دا د جنت تکټ دے سورة **هود** کښ ذکر کوی :

«الٓرٰ كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ (١) أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ (٢)»

دا يو کتاب دے ډک شوي دي د علم نه آياتونه ددے بيا جدا جدا ذکر شوی دی د طرفه د حکيم خبردار ذات نه عبادت به نه کوئ مگر د يو الله .

حکيم متعلق دے د احکمت سره اوخبير متعلق د فصلت سره يعنی احکم حکيم آياته ، ډک کړی دی حکيم ذات آياتونه ددے د علم نه ، ثم فصل خبير هغه خبير ذات ددے آياتونه جدا جدا کړی دی .

امام رازی په خپل تفسير ج١٧ ص١٨٠ کښ ليکلی دی چه دلته لام اجليه مقدر دے .

*اعلم أن في قوله : { أَلاَّ تَعْبُدُواْ إِلاَّ الله } وجوهاً : الأول : أن يكون مفعولاً له والتقدير : كتاب أحكمت آياته ثم فصلت لأجل ألا تعبدوا إلا الله وأقول هذا التأويل يدل على أنه لا مقصود من هذا الكتاب

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

الشريف إلا هذا الحرف الواحد ، فكل من صرف عمره إلى سائر المطالب ، فقد خاب وخسر*

خلاصه دا شوه چه د قرآن مقصد دادے چه د يو الله عبادت اوکړے شي او څوک چه علوم حاصلوی او مقصد د توحيد ته نه وی رسيدلے نو هغه خپل عمر تباه او برباد کړو .

ملا علی قاری رحمه الله په شرح فقه اکبر ص ١٠ کښ ليکی :

«فالقرآن كله في التوحيد وحقوق أهله وثوابهم، وفي شأن ذم الشرك وعقوق أهله وجزائهم. فـ { الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (٢) } (١) ؛ توحيد، { الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ (٣) } (٢) ؛ توحيد، { مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ (٤) } (٣) ؛ توحيد، { إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (٥) } (٤) ؛ توحيد، { اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ (٦) } (٥) ؛ توحيد متضمن لسؤال الهداية إلى طريق أهل التوحيد فالقرآن كله في التوحيد » .

قرآن ټول د الله په توحيد کښ دے د مؤحدينو حقوق بيانوی او ددوئی صفتونه کوی قرآن د اهل شرک مذمت بيانوی او د هغوئی بدی بيانوی ، الحمد لله رب العلمين توحيد ، مالک يوم الدين ..... دا ټول توحيد دے ، خلاصه دا شوه چه قرآن څومره چه دے نو دا د الله په توحيد کښ دے .

طيبی شرح مشکوة ج١ ص١٥١ کښ ليکی :

ان الله وتر يحب الوتر فاوتروا يا اهل القرآن .

Scanned by CamScanner

دلته اهل قرآن ونیلو وجه داده چه ذکر د اهل قرآن دے او مراد ورنه مؤمنین دی بیا په آخر کښ وائي :

ما انزل الا علی التوحید : قرآن کریم ندے نازل شوے مګر دپاره د ثابتولو د توحید بیا وائی :

قل انما الهکم اله واحد قیل ان الله واحد یحب الوحدة فوحدوه یا اهل التوحید .

مرقات هم دغه شان په ج۳ ص۳۳۹ باندے لیکی دغه مسئله د قرة عیون الموحدین شرح دکتاب التوحید د علامه ابن قیم صاحب کښ هم ده د هغه حاصل داد ے چه فالقرآن کله فی التوحید .

## مقاصد مهمه د قرآن کریم

قرآن کریم چه کوم مقاصد بیانوی هغه شپږ دی چه هغه عام علماء ذکر کوی ، شیخ القرآن رحمه الله به اته مقاصد ذکر کول :

(۱) توحید دا مقصد اول او اهم دے (۲) رسالت د پیغمبر پاک صلی الله علیه وسلم (۳) صداقت د قرآن کریم (۴) ایمان بالآخرت (۵) جهاد فی سبیل الله (۶) انفاق فی سبیل الله (۷) تنظیم (۸) آداب .

شیخ الشیوخ مولانا شبیر احمد عثمانی رحمه الله هغونی دا شپږ مقاصد د قرآن کریم ذکر کوی د شیخ القرآن مولانا محمد طاهر رحمه الله خصوصیت دا وو چه هغوئی به پدے شپږو مقاصدو باندے دوه مقاصد زیات ذکر کول .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

پدے څلورو مقاصدو کښ څلور سوابق دی او څلور لواحق دی هر مخکښ مقصد د ثانی دپاره مبدأ ده او هر دویم په مخکښ بالدے تفریع ده.

# المقصد الاول فی بیان التوحید

اول مقصد هغه مسئله د الله د وحدانیت ده او دا مسئله بنیاد دے د هر شے دپاره که هر څه وی خو چه عقیده د توحید نه وی نو هر څه خراب دی خو که هیڅ نه وی خو چه عقیده د توحید وی نو په نزد د علماء اهل سنت بیا هم امید د نجات شته.

ددے دپاره یو معتبر کتاب شرح المقاصد ج۴ ص۳۹ کښ لیکی:
حقیقة التوحید اعتقاد عدم الشریک فی الالوهیة وخواصها ولا نزاع لاهل الاسلام فی ان تدبیر العالم وخلق الاجسام واستحقاق العبادة وقدم بما یکون بنفس کلها من الخواص.

چه توحید وئیلے کیږی خپل اعتقاد د الله سره د شرک نه پاک ساتل په ذات او صفات د پروردګار عالم کښ او د اهل اسلام پدیکښ نزاع نشته چه پوره عالم نظام چلول د الله د خواصو نه دی او پیدا کول د ذی اجسامو او مستحق کیدل د عبادت، ټول اقسام د عبادت یعنی عبادت مالی عبادت قلب او عبادت د قالب یو الله لره دے او پاک دعدم نه الله ګنړل دا د الله د خواصو نه دی خاصه وائی: ما یوجد فی الشئ ولا یوجد فی غیره.

Scanned by CamScanner

بیا په صفحه۴۲ باندے ذکر کوی :

وبالجملة فنفی الشرک فی الالوهية ثابت عقلا وشرعا وفی استحقاق العبادة شرعا وما امروا الا ليعبدو الها واحدا لا اله الا هو سبحانه عما يشركون .

د اولوهيت نفی د مخلوق نه دا شرعا او عقلا ثابته ده او مستحق د عبادت صرف يو الله دے دليل ئے :

«وما امروا الا ليعبدوا الله مخلصين له الدين...سورة البينة۵».

تفسير **قرطبی** کښ پهچان د توحيد ذکر کوی :

اثبات ذات غير مُشَبهَةٍ للذوات ولا معطلة من الصفات وزاد الواسطی رحمه الله بيانا فقال ليس کذاته ذات ولا کاسمه اسم ولا کفعله فعل ولا کصفته صفة الا من جهة موافقة اللفظ .

يقين لرل دی په وجود د يو داسے ذات باندے چه هغه سره مشابه بل ذات نشته او ندے خالی د صفاتو نه امام واسطی بيان کوی چه توحيد ديته وائی چه د الله د ذات پشان د چا ذات نشته د الله د نوم پشان د چا نوم نشته د هغه د فعل پشان د چا فعل نشته او د هغه د صفاتو پشان د چا صفت نشته ، او يو توافق لفظی دے نو هغه خانله خبره ده لکه الله سميع دے نو انسان هم سميع دے الله بصير دے او په انسان باندے هم د بصير اطلاق کيږی ديته توافق لفظی وائي .

- **شاه ولی الله** رحمه الله په حجة الله البالغة ص۱۴ کښ ذکر کوی:

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبة الاشاعت ڈاٹ کام

اعلم ان للتوحید اربع مراتب : **الاول** حصر وجوب الوجود فی ذاته تعالی **الثانی** حصر خلق السموات والارض والاجسام والاجرام فی ذاته تعالی **الثالث** حصر تدبیر السموات والارض وما بینهما **الرابع** انه لایستحق العبادة غیره .

پوهه شه چه د توحید څلور مرتبې دی اول د هغه خبرے حصر دے چه په هغه باندے د نیشت دور نـدے راغلے ، دویم حصر د پیدائش د مخلوق او اسمان او زمکے ذی اجسام او بوټی ، دریم انحصار ددے خبرے چه د اسمانونو او د زمکے او څه چه ددے په مینځ کښ دی ددے مدبر فقط الله دے او څلورم مستحق د عبادت صرف یو الله دے .

علامه **ابن قیم** رحمه الله قصیدة النونیة الکافیة الشافیة ص۲۳۸ کښ لیکی :

## فصل فی بیان الانبیاء والمرسلین

وكذاك سلب الزوج والولد الذي*** نسبوا اليه عابدو الصلبان

سلب الشريك مع الظهير مع الشـ*** ـفيع بدون اذن الخالق الديان

وكذاك نفى الكفو أيضا والولي*** لنا سوى الرحمن ذي الغفران

والأول التنزيه للرحمن عن***وصف العيوب وكل ذي نقصان

كالموت والاعياء والتعب الذي*** ينفى اقتدار الخالق الديان

والنوم والسنة التي هي أصله*** وعزوب شيء عنه في الأكوان

Scanned by CamScanner

**حاصل** : هغه د شريک نه پاک دے ، د معاون نه پاک دے ، د وجود د شفيع نه پاک دے ، داسے شفيع په عالم کښې نشته چه بغير د هغه د اجازت نه شفارش اوکړی اما شفيع بعد الاذن نو هغه حق دے .

هم دارنګے هغه د بيباتو نه پاک دے او د اولاد نه هم پاک دے هغه شان اولاد چه عيسائيانو او يهوديانو ورته نسبونه کړی وو .

هم دارنګ د الله کفـ نشته د هغه نظير نشته د هغه ذات نه بغير زمونږ څوک کار ساز نشته .

الله د هغه صفاتو نه پاک دے چه د کوم په مخلوق باندے راتلل کيږی ، لکه د مرګ نه الله پاک دے . الله کاروتو کښې د ستړی کيدلو د بدن او د ستړی کيدلو د دماغو نه پاک دے ، دارنګ الله د خوب نه د پرکالي هغه نه چه د خوب اصل دے د هغه نه پاک دے او د الله نه هيڅ شے په کائناتو کښې پټيږی نه

# بيان الشرك

د توحيد بيان مخکښې اوشو څو قاعده داده چه « تعرف الاشياء باضدادها» د هر يو شي معرفت د هغه په ضد باندے کيږی چه ضد دے و پيژندلو نو خود بخود به توحيد ذهن ته رازی نو د توحيد ضد شرک دے نو د شرک وضاحت :

# معنی لغوی د شرك

د شرک لغوی معنی ده حصه دار ، برخه دار ، لکه چه عام اصطلاح کښې یو تن د بل سره په څه شی کښې حصه دار جوړیدو ته وائی لکه په زمکه کښې کتاب وغیره کښې .

## د شرك لغوی معنی قرآن کښې

شرک په معنی لغوی قرآن کریم کښې پنځه ځایه راغلے دے :

**اول** : سورة **النساء** کښې : «فَإِنْ كَانُوا أَكْثَرَ مِنْ ذَٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ ۱۲»

که وو دوئی زیات ددینه پس شریکان دی په دریمه حصه کښې .

دلته مسئله د ثلث مال ده چه ټول اخیافی رونړه به پکښې حصه دار وی دلته شریک په معنی د حصه دار .

**دویم** : په سورة **انعام** کښې چه مشرکان به په مرداره کښې نر ښځے ټول شریکان وو : «وَإِنْ يَكُنْ مَيْتَةً فَهُمْ فِيهِ شُرَكَاء ۱۳۹»

او که وو به دا بچے د څاروی مردار نو وو به دوئی نر او زنانه ددے په خوراک کښې برخے داران .

**دریم** : سورة **طه** کښې دعا د موسی علیه السلام چه وئیلی وو چه زما سره ورور زما په کار کښې شریک کړه : «وَأَشْرِكْهُ فِي أَمْرِي ۳۲» موسی

عليه السلام والي چه اے الله دا هارون چه زما ورور دے زما سره زما په کار کښ برخے دار کړه .

**څلورم** : سورة روم ۲۸ کښ ذکر د غلام دے چه آیا دے شریک کیدے شی ؟

«هَلْ لَكُمْ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ مِنْ شُرَكَاءَ فِيمَا رَزَقْنَاكُمْ» آیا شته تاسو لره د بعض غلامانو ستاسو نه برخے دار په هغه مال او دولت کښ چه ما تاسو ته درکړے دے ؟

**پنځم** : هم دغه شان په سورة زمر کښ هم بیانوی :

«ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا رَجُلًا فِيهِ شُرَكَاءُ مُتَشَاكِسُونَ ۲۹»

الله بیانوی تاسو ته مثال د یو سړی چه وی په هغے کښ دوه ملګری برخے داران .

پدے آیاتونو کښ شرکاء په معنی د حصه دار او شرک پدے معنی مذموم ندے لکه د پلار دوه خامن وی نو په میراث کښ به هغوئی شریک وی نو پدے معنی شرک مذموم ندے .

## د شرک اصطلاحی معنی

شرک اصطلاحی هغه شرک مذمومه چه د هغه مرتکب جهنمی دوزخی دے هغه شرک څه ته وائی ؟

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

امام راغب الاصفهانی لیکی : اثبات شریک لله تعالی یقال اشرک فلان بالله وذالک اعظم کفر ([1])

ثابتول د برخې دار دی الله لره او دا په کفر کښې د ټولو نه لوئې کفر دے .

شرح العقائد کښې هم تقریبا دغه شان تعریف کوی .

هم دغه شان تعریف شاه ولی الله په خپل تفسیر **الفوز الکبیر** فی اصول التفسیر ص۱۸ کښې لیکی :

والشرک ان یثبت لغیر الله سبحانه وتعالی شیأ من الصفات المختصة به ، کالتصرف فی العالم بالارادة التی یعبر عنها بکن فیکون ، او العلم الذاتی من غیر اکتساب بالحواس ، ودلیل العقل والمنام والالهام ، ونحو ذالک او الایجاد لشفاء المریض او اللعن للشخص والسخط علیه حتی یقدر علیه الرزق .

شرک دیته وائی چه هغه صفات چه د الله ذات سره مختص دی دا صفات بل ته ورکول دیته شرک وائی د الله یو صفت دادے چه تصرف په عالم کښې په ارادے سره کوی ای کن ، الله په هر څه پوهه دے د هر چا د حال نه خبر دے بغیر د محتاجی د خواصو نه صفت د الله دادے چه د مریض نه مرض لرے کوی د یو سړی رزق بندول وغیره دا ټول د الله نه علاوه بل چاته وئیل د شرک په اقسامو کښې داخل دی .

[1] المفردات ص ۵۹

هغه صفات چه د الله د ذات سره مختص وی هغه بل ته وئیل هم شرک دے ، د شرک څه لکئ او ښکر خو نه وی چه مشرک روان دے او ورسره غټه لکئ لګیدلے ده یا ورسره ښکر وی چه خلق وائی چه دا مشرک دے خو دا کار چه څوک کوی بس هغه مشرک دے .

شاه صاحب د بقرے آیت ۲۲۱ باندے لیکی :

پہلے مسلمان اور کافر میں نا۔ تہ جاری تھا اس ایت سے حرام ٹھرا، اگر مرد نے یا عورت نے شرک کیا اس کا نکاح ٹوٹ گیا شرک یہ کہ اللہ کہ صفت کسی اور میں جانیں کسی کو سمجھے کہ اس کو ھر بات معلوم ھیں یا وہ جو چا ھیں سو کر سکتا ھے یا ھمارا بھلا یا برا اس کے اختیار میں ھے یا وہ جو چاھیں سو مثلا کسی چیز کو سجدہ کریں اور اس سے حاجت طلب کریں اور اس کو مختار جان کر .

او که یو سړے وائی چه فلانکے هم مرض لرے کولے شی نو د الله سره ئے شرک وکړو ، او ادویه استعمالول او یا ډاکټر لره تلل ګناه نه ده خو ډاکټر مؤثر په رفع د امراضو کښ هم نه دے لکه کله کله یو ډاکټر مریض ته دوائی ورکړی او هغه ورسره خراب شی نو ډاکټر بیماری چانه نشی لرے کولے نو دوائی استعمالول جائز دی خو دا خبره څه نه ده چه دے دوائی سره جوړیږمه ، دا دوائی مے جوړوی نو دوائی کښ هیڅ اثر نشته لا تاثیر الا من الله .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

## واقعه د روحانی بیمار

یو روحانی بیمار وو هغه چرته حج عمرے له تلے وو هلته یو ماشوم د کتمو غمی خرخول نو دے سری دے ماشوم ته او وئیل * ای تأثیر فی هذا یا صبی * دے ماشوم ورته او وئیل اے بابا دا کیره دے چرته سپینه کرے ده ته په کښو کښی تأثیر غواړے ورته نے ووئیل * لا تأثیر فی الاحجار انما التاثیر فی خالق الاحجار * تاثیر په کانړو غمو کښی نشته تاثیر د هغه ذات په نوم کښی دے چه کوم خالق د کانړو دے.

شرح العقائد ص ۴۱ کښی په اعتقاد د عدم الشریک باندے د شرک تعریف کوی وائی :

الاشراک هو اثبات الشریک فی الالوهیة او بمعنی استحقاق العبادة .

الله سره په ذات کښی شریک گرخول او یا د الله حق بل ته ورکول.

## د شرك غټ اقسام

شرک په دوه قسمه دے اعتقادی او فعلی ، بیا شرک اعتقادی په خلور قسمه دے :

(۱) شرک فی العلم (۲) فی التصرّف (۳) فی الدعا (۴)فی العبادة .

بیا شرک فعلی په دوه قسمه دے تحریمات العباد او نیازات العباد ، دا اصطلاح زمونږ د شیوخو فقط نه ده دا اصطلاح په تقویة الایمان کښی شاه اسماعیل شهید رحمه الله هم ذکر کړے ده ددینه علاوه نورو علماء په

نورو اصطلاحاتو سره لیکلی دی لکه شیخ احمد رومی په مجالس الابرار ص ۱۱۱ ، کلیات ابی البقاء ص ۲۱۶ کښ د شرک اقسام بیان کړی دی وائی شرک خو په ګڼو قسمونو باندې دے او د هغه نه :

(۱) **شرک استقلال** : څه ته وائی : شرك الاستقلال وهو إثبات إلهين مستقلين كشرك المجوس .

ثابتول د دوو آلهوو مستقل لکه شرک د مجوسو ، مجوس وائی چه په عالم کښ دوه آلهه دی یو د خیر پیدا کولو والا دے بل د شرک پیدا کولو والا دے .

(۲) **وشرك التبعيض**:وهو تركيب الإله من آلهة كشرك النصارى.

دویم قسم الله لره جزء ثابتول پشان د شرک د نصاراوو .

(۳) **وشرك التقريب** : وهو عبادة غير الله ليقرب إلى الله زلفى كشرك متقدمي الجاهلية .

دریم د مخلوق عبادة پدے نیت کول چه هغه سبب د قرب شی الله ته لکه چه د مشرکینو عقیده وه .

(٤) **وشرك التقليد** : وهو عبادة غير الله تبعا للغير كشرك متأخري الجاهلية .

څلورم د غیرالله عبادة کول د وجے د آباؤ خپلو نه .

لکه سورة بقرة ۱۷۰ مائده ۱۰۴ زخرف ۲۳ لقمان ۲۱ کښ ذکر دی د وجی د تابعدارئی د آباؤ نه لکه چه د آخری زمانے خلق په شرک کښ اړم دی .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

(٥) **وشرك الأسباب** : وهو إسناد التأثير للأسباب العادية كشرك الفلاسفة والطبائعيين ومن تبعهم على ذلك .

پنځم شرک فی الاسباب لکه رشید احمدگنگوهی رحمه الله لیکی :

اشیاء مؤثر بالذات جاننا او ماننا شرک هیں .

(٦) **وشرك الأغراض** : (رياكارى ) وهو العمل لغير الله فحكم الأربعة الأولى الكفر بإجماع وحكم السادس المعصية من غير كفر بإجماع وحكم الخامس التفصيل فمنْ قال في الأسباب العادية إنها تؤثر بطبعها فقد حكي الإجماع على كفره والا ، لا .

شپږم شرک الاعراض چه ریا ورته وائی عمل د غیر دپاره کول ریا شرک خفی دے لکه چه په وجود د شرک اعمال بربادیګی نو په وجود د ریا هم اعمال بربادیګی .

دا اولنی څلور کفر دے په اجماع د امت سره او آخری کفر ندے خو ګناه ده په اجماع د امت سره او پنځم که په سبب کښ دا عقیده وه چه پدیکښ تاثیر ذاتی دے نو دا هم کفر دے او که وائی چه مؤثر الله دے او دا یو بهانه او یو سبب دے نو بیا پدیکښ څه ګناه نشته .

## شرك اعتقادي

شرک اعتقادی دیته وائی چه د غیرالله متعلق د سړی په زړه کښ عقیده د خوف یا د تعظیم یا د عبادت پیدا شی نو دیته شرک اعتقادی وائی ، یعنی غیر الله سره په زړه کښ داسے عقیده پیدا شی چه دا عقیده د الله

سره پیدا کول پکار دی لکه خوف ملا اسباب شو ، تعظیم ، دعا ، رکوع سجده او عبادات شو الغرض هر هغه عمل چه د هغه تعلق د تعظیم معبود سره وی او دا خوف یا تعظیم متعلق بالقلب وی نو دیته شرک اعتقادی وائی بیا دغے شرک اعتقادی څلور قسمه دی کم چه عام پدے مشرکینو کښ رائج دی :

(۱) شرک في العلم (۲) شرک في التصرف (۳) شرک فی الدعا (۴) شرک في العبادة .

دیکښ هر اول مبدا دپاره د دویم ده ، شرک في التصرف اعتقاد د تصرف په باره د مخلوق کښ دا هغه وخت راځي چه د یو سړی دا عقیده وی چه «ان فلانا یعلم احواله ظاهره وباطنه» چه د یو سړی دا عقیده پیدا شی چه دا فلانے شخص زما په حالاتو باندے زما په باطن باندے پوهیږی نو د شرک في التصرف دپاره شرک في العلم بنیاد دے .

نو کله چه د مخلوق په باره کښ دا عقیده پیدا شی چه ده ته زما د حال معلومات کیږی نو بیا ئے دا عقیده پیدا شی چه چونکه دے پوهه دے نو دے زما په خه کار خوشحالیږی او په بد کار خفه کیږی هر کله چه په خه خوشحاله شو نو فائده به راکړی او که خفه شو نو تکره به راکړی نو په شرک في التصرف کښ به عادی شی او کله چه اعتقاد د تصرف په حق د مخلوق کښ پیدا شی نو شرک في الدعا پکښ پیدا شی یعنی د هغه نه غواړی او هغه رامدد کوی او په تکلیف او خوشحالئ کښ ورته آواز کوی نو دا شرک في الدعا دے دا به شرک في التصرف باندے بنا وی او کله

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

چه یو سړی د مخلوق نه دعا شروع کړی استعانت او طلب د حاجت نو بیا د هغه د تعظیم دپاره د هغه عبادت هم کوی کله رکوع کله سجده او کله طواف لکه نن زمانه کښې ډیر مشرکین شته چه د نیکانو بندګانو قبرونو ته سجدے کوی رکوع ورته کوی او باقاعده د هغه نه طوافونه کوی او هغه طمع ورنه ساتی چه کوم د خالق او مالک نه ساتل پکار ده او دا آخری شرک فیٔ العبادة شرک فی الدعا نه پس وی او دا شرک فی الدعا هغه وخت کیږی چه اعتقاد د تصرف په حق د مخلوق کښې پیدا شی او اعتقاد د تصرف په هغه وخت کښې پیدا کیږی چه اعتقاد د علم په باره د مخلوق کښې پیدا شی .

## شرک فی العلم

شرک فی العلم دیته وائی چه یو سړے دا عقیده او ساتی په حق د مخلوق کښې چه فلانے په علم غیب باندے پوهیږی او یا فلانے په ماکان او ما یکون باندے پوهیږی یا چه د یو سړی دا عقیده جوړه شی چه دا فلانے زما اقوال اوری او یا زما د حال نه خبر دے بغیر د څه اسبابو ظاهریو نه .

**احمد علی راهوری** رحمه الله په خپل تفسیر کښې د علم غیب تعریف کوی : چه هر هغه شے چه هغه ته رسیدل په اسبابو سره کیږی هغه ته غیب نه وائی .

غیب هر هغه شی ته وائی چه هغه ته رسیدل بلا اسبابه اوشی اوس که یو سړے په ټیلیفون سره د مکے او د مدینے د خلقو خبرے اوری نو دیته غیب نه وائی یا یو سړے د ټی وی په واسطے سره هغه پاکه مقدسه زمکه ګوری نو دیته هم غیب نه وائی ولے چه دا خو آلات دی او په آلاتو باندے خبر ورکولے کیږی .

بعض مشرکین پدے وخت کښ اعتراض کوی چه تاسو وایئ چه : «إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ» وائی چه پدے وخت کښ ډاکټران وائی چه رحم خالی دے او که پکښ مذکر دے او که مؤنث نو د هغے جواب دادے چه دغه په آلاتو باندے معلومول دی او بغیر د آلاتو دے دوئی معلوم کړی مونږ ورته انعام ورکوو ، نو د غیب په تعریف کښ دا خبره ده چه هر هغه شے چه هغه ته رسیدل بلا اسباب وی ، بغیر د کسب د اسباب ظاهریو نه چه په اسبابو ورته رسیدل وی هغه ته غیب نه وائی .

**بیضاوی** شریف دا معنی کوی :

«الخفی الذی لایدرکه الحس ولا یقتضیه بداهة العقل»

غیب هغه خفی امورو ته وائی چه د هغه اطلاق په حس سره نشی کیدے او د عقل انتهاء ورته نشی رسیدے .

امام **رازی** رحمه الله وائی :

«کل ما کان غائبا عن الحاسة کل ما لم یقم علیه دلیل ولا طلع علیه مخلوق»

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

هر هغه شے چه په هغه باندے دلیل موجود نه وی او مخلوق د هغے نه خبر شوے نه وی نو دیته غیب وائی .

که یو سړے دا وائی چه پیغمبر پاک صلی الله علیه وسلم چه وئیلی دی چه پل صراط دے ، ملائک دی ، جنت دے دوزخ دے نو دا د غیب علم نه دے ؟ جواب دادے چه دا ثبت بالدلیل دے اوس هغه غیب چه صفت د باری تعالی دے او منفی د مخلوق نه دے هغه دادے کما ذکر فی التعریف .

نو حاصل دا شو چه شرک فی العلم دیته وائی چه دا فلانے شخص زما په حال بغیر د اسبابو ظاهریو نه پوهیږی ، په غیبو باندے پوهیږی ، دے په ما کان او ما یکون باندے پوهیږی لکه د الله پشان العیاذ بالله نو دغه شرک فی العلم دے .

## علم غیب صفت د الله دے

علم په ما کان او په ما یکون دا صفت د باری تعالی دے .

(۱) سورة حشر کښې الله رب العزت فرمائی :

«هوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هوَ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ هوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ(۲۲)»

صرف هغه معبود دے لائق د عبادت دے نشته لائق د عبادت مګر صرف الله دے خبر دے په پټو او په سرګندو باندے هغه مهربانی کونکے رحم کونکے دے .

پټ یعنی مخلوق نه چه کوم څیزونه پټ دی د هغه الله ته معلومات دی الله ته ښکاره دی .

(۲) سورة **حجر**(۲٤)کښ الله رب العزت فرمائی :

«وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَأْخِرِينَ»

په تحقیق سره مونږ پیژنو مخکښ کیدونکی ستاسو نه او مونږ پیژنو وروسته کیدونکی ستاسو نه .

ددے آیت اته ترجمے زادالمسیر[1]کړی دی یو ترجمه پکښ داده : مخکښ کیدونکي په اعمالو صالحو کښ ستاسو نه ، درس کښ ستاسو نه په جهاد کښ ستاسو نه ، مونږ ته ستاسو نه چه څوک صف اول ته مخکښ کیږی چه څوک په نیکئ کښ د یو بل نه مخکښ والے کوی .

بله ترجمه ده مخکښ تلونکی هغه چه ډیرے صدئ مخکښ لاړل او هغه چه پس راتلونکی دی هغه هم مونږ ته معلوم دی خو حاصل ئے دا شو

---

[1] وللمفسرين في معنى المستقدمين والمستاخرين ثمانية اقوال **احدها** التقدم في الصف الأول والتاخر عنه وهذا على القولين المذكورين في سبب نزولها فعلى الأول هو التقدم للتقوى والتاخر للخيانة بالنظر وعلى الثاني هو التقدم لطلب الفضيلة والتاخر للعذر**والثاني** أن المستقدمين من مات والمستاخرين من هو حي لم يمت رواه العوفي عن ابن عباس وخصيف عن مجاهد وبه قال عطاء والضحاك والقرظي **والثالث** أن المستقدمين من خرج من الخلق وكان والمستاخرين الذين في اصلاب الرجال رواه الضحاك عن ابن عباس وبه قال عكرمة **والرابع** أن المستقدمين من مضى من الأمم والمستاخرين أمة محمد ص - رواه ابن ابي نجيح عن مجاهد **والخامس** ان المستقدمين المتقدمون في الخير والمستاخرون المبطون عنه قاله الحسن وقتادة **والسادس** أن المستقدمين في صفوف القتال والمستاخرين عنها قاله الضحاك **والسابع** أن المستقدمين من قتل في الجهاد والمستاخرين من لم يقتل قاله القرظي **والثامن** أن المستقدمين أول الخلق والمستاخرين آخر الخلق قاله الشعبي زاد المسير ج٤ ص ٣٩٧ .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

چه علم بما کان او بما یکون علی السویة یو الله ته مغلوم دی بل چاته پدیکښ معلومات نشته .

(۳) ملا علی قاری رحمه الله وائی :

من اعتقد تسویة علم الله ورسوله فهو کافر -

چه څوک وائی د الله او د پیغمبر علم برابر دے نو دغه سړے کافر دے .

(۴) سورة النحل کښ الله رب العزت فرمائی :

« وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ (۱۹)»

الله پیژنی هغه څه چه تاسو ئے پټوئی اوهغه چه تاسو ئے ښکاره کوئی.

(۵) سورة انعام کښ ذکر کوی چه په هر څه پوهه الله دے :

«يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُونَ (۳)»

الله پوهیږی په پټو ستاسو او په ښکاره ستاسو او پوهیږی په هغه څه چه تاسو ئے کوئ .

(۶) سورة رعد کښ الله فرمائی :

«اللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنْثَى وَمَا تَغِيضُ الْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ بِمِقْدَارٍ (۸) عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْكَبِيرُ الْمُتَعَالِ (۹) سَوَاءٌ مِنْكُمْ مَنْ أَسَرَّ الْقَوْلَ وَمَنْ جَهَرَ بِهِ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍ بِاللَّيْلِ وَسَارِبٌ بِالنَّهَارِ (۱۰)»

الله پیژنی هر هغه شے چه اوچت کوی هر یو ماده او هغه چه کموی رحمونه یا ئے سیوا کوی او هر یو شے هغه سره په اندازه کښ دے پوهه دے په پټو او په ښکاره باندے هغه ذات ډیر لوئے دے او د مخلوق د

صفاتو نه مبرا دے برابر دی هغه ته هغه څوک چه ښکاره کوی خپله خبره او پټوی خپله خبره او هغه څوک چه ځان پټونکی دی په تیارو د شپو کښې او روان دی په ورځ کښې دا ټول الله ته یو شان برابر دی .

(۷) سورة **بقره** (۳۳) کښې الله رب العزت فرمائی :

«إِنِّي أَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا كُنْتُمْ تَكْتُمُونَ»

چه ما تاسو ته نه وو وئیلی چه پوهه یمه په غیبو د آسمانونو او د ځمکو او زه پوهه یم په هغه څه چه تاسو یې ښکاره کوئی یا یې پټوئی .

(۸) سورة **انعام** کښې هم الله فرمائی :

« وَهوَ اللَّهُ فِي السَّمَوَاتِ وَفِي الْأَرْضِ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُونَ (۳)»

الله هغه ذات دے چه هغه متصرف دے بره او خکته هغه پوهیږی په پټو او ښکاره ستاسو او هغه چه تاسو کسب کوئی .

انسان سره متعلق هم دغه درے خبرے دی یا خو به یې په زړه کښې وی یا به یې په ژبه وی یا به په لاس او په پښو کښې وی .

چه څه د ننه دی څه بـار چه څه کـوے وار پـه وار

که څه کم دی او که زیات هرڅه نه الله دے خبر دار

هم دغه سورة **انعام** کښې بیا الله فرمائی :

« وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ»

پس هغه الله سره دی کنجیانے د غیب .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

مفاتح کنجیانے چابیانے دعلم غیب ، خزانے د غیب ، نو علم غیب خزانه ده په لوح محفوظ کښ او الله په علم کښ محفوظ کړی دی نو چه هر کله غیب ئے مقفل کړي دی او چابیانے لے د ځان سره کیښودلے نو څوک به ئے جوندے ماتے کړی ؟

(٩) سورة **یونس** کښ الله فرمائی :

«وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُو مِنْهُ مِنْ قُرْآنٍ وَلَا تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا إِذْ تُفِيضُونَ فِيهِ وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَبِّكَ مِنْ مِثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَلَا أَصْغَرَ مِنْ ذَلِكَ وَلَا أَكْبَرَ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ (٦١)»

او نه ئے ته په یو لوئے کار کښ د کارونو نه او نه ته پدے حالت کښ وائے قرآن کریم او عمل نه کوئی تاسو هیڅ عمل مګر یو مونږ په هغے باندے عالمان حاضر کله چه تاسو پکښ ننوځئ او نه پټیږی ستا د رب نه په مقدار د یوئے ذرے نه خکته او نه بره نه وړوکے او نه لوئے مګر دا هر څه د الله په علم کښ محفوظ دی .

# نفی علم الغیب عن المخلوقات

## (١) الاول : نفی العلم غیب من الملائکة

علم غیب بغیر د الله نه هیچا سره هم نشته ، ملائک سره علم غیب نشته ملائک پخپله اعتراف کوی چه مونږه په غیبو نه پوهیږو :

«قَالُوا سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا إِنَّكَ أَنْتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ (٣٢بقره)»

Scanned by CamScanner

اوونیل ملائکو پاک ئے ته هیڅ علم نشته مونږ ته سوا د هغه نه چه تا ښودلی دی مونږ ته بیشکه ته په هر څه پوهه ئے او ته ئے د حکمتونو مالک.

## (۲) الثانی نفی علم الغیب عن جمیع الانبیاء

نفی د علم غیب د ټولو انبیاء نه دا ذکر کوی په سورة **مائده** کښ: «يَوْمَ يَجْمَعُ اللَّهُ الرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَا أُجِبْتُمْ قَالُوا لَا عِلْمَ لَنَا إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ (۱۰۹)»

یاده کړئی هغه ورځ چه الله به جمع کړی ټول پیغمبران نو اوبه وائی الله څنګه منه شوے ستاسو په دنیا کښ نو وائی به دوئی چه مونږه ته هیڅ علم نشته .

**ما ذا اجبتم** : باندے ابن کثیر فرمائی : «ماذا عملوا بعدکم» تاسو نه پس به خلقو کوم کارونه کول .

تفسیر **کبیر** وائی څه جواب درکړے وو تاسو ته قومونو جواب کښ وائی به چه لاعلم لنا .

اوس پدیکښ یو سوال ذهن کښ پیدا کیږی چه جواب خو معلوم وو نو نفی د علم ولے کوی ؟ :

«لاعلم لنا بباطن ما اجاب به اممنا» مونږ ته د امت په باطن باندے هیڅ علم او خبر نشته .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

تفسیر **ابن کثیر** وائی «ای ما ذا عملوا بعدکم وماذا احدثوا بعدکم ؟ قالوا لاعلم لنا انک انت علام الغیوب» بیشکه ته علام الغیوب ئے ته په تمامو غیبونو باندے پوهه ئے .

## (۳) الثالث نفی علم الغیب عن النبی صلی الله علیه وسلم

سورة **توبه** کښ نفی کوی د علم غیب د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه : « وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِنَ الْأَعْرَابِ مُنَافِقُونَ وَمِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ مَرَدُوا عَلَى النِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ»

او کیر چاپیره ستاسو نه په بانډو کښ منافقان دی او د مدینے والو نه چه کلک دی په منافقت نه پیژنے ته هغوئی مونږ ئے خه پیژنو .

نو آیت کښ نفی د علم غیب د پیغمبرانو نه او خاص کر د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوشوه .

## (۴) الرابع نفی علم الغیب عن الجن

نفی د علم غیب د جناتو نه به سورة **سبا** کښ ذکر کوی :

«فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ أَنْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوا فِي الْعَذَابِ الْمُهِينِ (١٤)»

Scanned by CamScanner

هر کله چه حضرت سلیمان علیه السلام پریوتو معلومه کړه دا خبره پریانو که دوئی په غیبو پوهه وی نو دوئی به وخت نه وے تیر کړے پدے سخت مشقت کښ .

تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ : نو معلومه کړه دا خبره چه دوئی په غیبو نه پوهیګی ، خکه پیریانو کښ دا خبره مشهوره وه چه زمونږ مشران په غیبو پوهیدل .

**دویمه ترجمه** : ښه ښکاره کړه پیریانو په خلقو باندے دا خبره چه اے خلقو که پیریان په غیبو پوهه وے نو پدے مشقت کښ به نۀ تـر اوسـه پورے خان ګرفتار نه وے ساتلے نو د پیریانو په باره کښ دا عقیده مه ساتئ چه دوئی په غیبو پوهه دی .

# (۵) الخامس نفی علم الغیب من جمیع المخلوق

او نفی د علم غیب د جمیع مخلوق نه په سـورة **نمل** کښ ذکـر ده :

«قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللّٰهُ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ (٦٥)»

اووایه دوئی ته چه پوهه نه دے هر هغه څوک چه بـره دی او خکته دی په پتو باندے ما سیوا د یو الله نه او نه دی خبر چه کله به دوئی پاسولے کیږی .

نوچه چاته د خپل حال پته نه وی هغه ته به د جهان څه پته وی .

په سورة جن کښ راځی :

« قُلْ إِنْ أَدْرِي أَقَرِيبٌ مَا تُوعَدُونَ أَمْ يَجْعَلُ لَهُ رَبِّي أَمَدًا (٢٥) عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَى غَيْبِهِ أَحَدًا (٢٦)»

اووایه دوئی ته چه زه نه یم خبر چه نزدے ده هغه ورځ چه تاسو سره د هغې وعده شوے ده یا رب زما ورته نیته ګرځولے ده ، په غیبو باندے پوهه دے الله نه خبروی په خپلو.غیبو باندے هیچا لره .

سورة مدثر کښ ذکر شوی دی :

« وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُو(٣١)»

ندے خبرؔ په اصل شمار د لښکر درب ستا سیوا د هغه الله نه .

## (٦) السادس نفی علم الغیب عن العباد الصالحین

نفی د علم غیب د نیکانو بندیګانو نه په سورة یونس ۲۹ کښ :

شیخ په جواهر القرآن کښ ددے آیت د لاندے لیکی : آیت متعلق بعباداللہ الصالحین (نیک پیروں) کا حق میں ۔آیت قرآن :

«فَكَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ إِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغَافِلِينَ»

مخکښ جګړه ذکر ده ! کافی دے الله ګواه زمونږ او ستاسو په مینځ کښ یقینا وو مونږ ستاسوؔ عبادت کولو نه بالکل بے خبره یو.

Scanned by CamScanner

ددے آیت نه نیکان پیران او صالحین خلق مراد دی بقول امام رازی او نورو مفسرینو هغوئی کښ انبیاء علیه السلام ملائک عظام او عام عباد الله الصالحین ټول شامل کړی دی .

مریدان به وائی چه مونږ ستاسو عبادت کړے وو ، نذرونه وو ، نیازونه وو ، منختے وے ، چهراوے وے ، بزے وے ، پسونه وو دا ټول مونږ ستاسو په نوم نذر کړی وو ، هغوئی به په جواب کښ او وائی چه مونږ نه یو خبر دوئی به ورته وائی چه نه مهربانی اوکړئی پدے وخت کښ خو انکار مه کوئی زمونږ به څه جوړ شی ؟ ورته به وائی چه نه مونږ خبر نه یو آخر به قسم اوخوری چه الله ګواه دے چه مونږ ته پته نشته :

« فَكَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ إِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغَافِلِينَ »

**لغافلین** : دا مشران به وائی چه مونږ ته پته نشته چه چا بللی وو او چا نه ، چا نذر راوړے وو او چا نه چا ګنبد جوړ کړے وو او که چا نه وو جوړ کړے چا چنده ورکړے وه او چا نه مونږ ته هیڅ پته نشته چه څوک منجور وو او څوک نه هغوئی وائی مونږ ته یو خبر او قرآن وائی چه نه دی خبر او دوئی وائی چه نه معلومات ورته کیږی نو آیا مونږ ستا خبره اومنو او که د قرآن .

# شرک فی التصرف

تصرف : واک ، اختیار ، مُلک ، مِلک ، او قدرت ته وائی ، او چه کله د یو بنده په باره کښ دا عقیده پیدا شوه چه فلانی ته زما د حال

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

معلومات کیږی نو بیا هغه لره اختیار ثابتوی بلا اسباب ، هغه لره قدرت ثابتوی بلا اسباب ، مِلک او مُلک بلا اسباب هغه ته ثابتوی او دا شرک فی التصرف دے .

که دا څیزونه د اسبابو د لاندے وی لکه یو بادشاه دے او هغه یو سړے قیدی کړے دے نو د اسبابو د لاندے ئے قیدی کړے دے او د اسبابو د لاندے ئے آزادوی چه کله ئے آزاد کړی د اسبابو د لاندے نو دا تصرف د اسبابو د لاندے دے نو دا شرک نه دے .

لکه چه نمرود وائی : «أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ» هغه ته دا معلومات نه وو چه د احیا او اماتت نه څه مراد دی ؟

(١) سورة بقره کښ د شرک فی التصرف رد پدے الفاظو سره شوے دے : «إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ (١٥٦)»

مونږ د الله یو ملکا وعبیدا او هغه طرف ته به بیرته ورځو .

(٢) سورة بقره کښ بل ځائے راځی :

« وَلِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ (١١٥)» خاص الله لره دے مشرق او مغرب .

(٣) سورة العمرآن (١٠٩)کښ بیانوی چه د زمکے او د آسمانونو واکدار یو الله دے :

« وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ»

او خاص د الله په اختیار کښ دی هغه چه بره دی او هغه چه خکته دی او خاص د الله په طرف به واپس شی کارونه د مخلوقاتو .

Scanned by CamScanner

(۴) سورة **العمرآن** (۲۶) کښې بل ځائے کښې هم دغه مضمون په بدلو الفاظو ذکر کوی :

«قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ»

اووایه اے الله ته واکدار ئے د بادشاهانو ورکوے بادشاهی چاته چه دے خوښه شی او اخلی بادشاهی چه دے خوښه شی او عزت ورکوے چاته دے خوښه شی او ذلت ورکوے چاته چه دے خوښه شی صرف ستا په لاس کښې ټول خیر دے یقینا ته په هر څه باندے قدرت والا ئے .

(۵) سورة **یس** کښې الله رب العزت فرمائی :

«فَسُبْحَانَ الَّذِي بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (۸۳)»

پس پاک دے د شریکانو نه هغه ذات چه په لاس کښې اختیارات دی د هر یو شی او هغه طرف ته واپس کیږی ټول کارونه .

(۶) سورة **یونس** کښې الله رب العزت فرمائی :

«أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ أَلَا إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (۵۵) هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (۵۶)»

خبر دار بره او خکته د یو الله د ي یقینا وعده د الله حقه ده او لیکن زیات ددوئي نه نه پوهیګی هغه ژوندی کول کوی او مره کول کوی او خاص هغه ته به ورکرزولے شئ .

(۷) سورة **اعراف** کښې الله فرمائی : «أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ (۵۴)»

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

یقینا د هغه په قبضه کښې دی پیدا کول د مخلوق او اختیار د مخلوق.

(۸) سورة **قصص** کښې الله فرمائی : «وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ(۶۸)»

ستا رب پیدا کوی چه څه ئے خوښ شی او خپله خوښه کوی نشته مخلوقاتو لره څه اختیار .

بیا فرمائی : «وَلَهُ الْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ(۷۰)» او فیصله د الله چلیږی او دے الله ته به واپس کیږئ .

دے آیاتونو نه دامعلومه شوه چه هر څه د الله په حکم او د الله په فیصله باندے کیږی ، صاحب مختار ، صاحب اختیار د ملک ، صاحب د تصرف یو الله دے نو عقیده د توحید داده چه هغه متصرف فی الکائنات تسلیم کړئ .

## نفی د تصرف د مخلوق نه

اثبات د تصرف یو الله لره ثابت شو نو اوس ذکر کوو نفی د تصرف د مخلوق نه ، یعنی مخلوق عاجز دے مخلوق په لاس کښې د هیڅ شی اختیار نشته .

(۱) سورة **مائده** کښې ذکر دی :

«وَمَنْ يُرِدِ اللَّهُ فِتْنَتَهُ فَلَنْ تَمْلِكَ لَهُ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا(۴۱)»

هغه بدبخت چه الله اراده کړی وی د هغه په ګمراهئ باندے د پاتے کولو اختیار نه لری د الله د طرف نه د یو شی دپاره ددے سړی .

Scanned by CamScanner

یعنی اے پیغمبره چه چاته الله گمراه ساتی نو ته ورته هدایت ور کولے نه شے .

(۲) سورة اعراف کښ الله فرمائی :

« قُلْ لَا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ (۱۸۸)»

اے نبی او کړه چه زه واک نه لرم شپاره د خپل ځان د نفع او نه د لرے کولو د تکلیف مګر هغه چه د الله خوښه شی .

(۳) سورة الرعد کښ هم الله فرمائی :

« قُلْ أَفَاتَّخَذْتُمْ مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ لَا يَمْلِكُونَ لِأَنْفُسِهِمْ نَفْعًا وَلَا ضَرًّا(۱۶)»

اوایه ورته چه آیا تاسو نیولی دی بغیر د الله نه مددګاران نور ، هغوئی اختیار نه لری خپل ځان ته د رسولو د نفع او نه د لرے کولو د تکلیف .

یعنی جوړولے د خیر نه نشی ورکولے او نه ځان د شر نه بچ کولے شی .

(۱) هم دغه شان سورة بنی اسرائیل کښ الله فرمائی :

«قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُمْ مِنْ دُونِهِ فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَا تَحْوِيلًا (۵۶)»

او وایه دوئی ته چه رامدد کړئی هغه څوک چه تاسو دعوے کړی دی بغیر د الله نه ، طاقت نه لری د لرے کولو د ضرر تاسو نه او نه د اړولو د سختئ ستاسو نه .

**کشف** : بعد الوقوع چه سړے بیمار وی او بیماری ورنه لرے کړی نو دا کار هم نشی کولے .

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

**تحول** : چه يو سړے روغ دے بيمارئ ورپسے روانه وه نو لارے نه اړولے نشي که يو سړے د مصيبت په جال کښې بند وی نو دغه سختی ورته نرمولے نشي کمولے ورته هم نشي .

(٥) سورة **فرقان** (٣) کښې الله فرمائي :

« وَاتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ آلِهَةً لَا يَخْلُقُونَ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ وَلَا يَمْلِكُونَ لِأَنْفُسِهِمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا وَلَا يَمْلِكُونَ مَوْتًا وَلَا حَيَاةً وَلَا نُشُورًا »

نيولی دی دوئی الله نه بغير سفارشيان نشی پيدا کولے څه شے او دوئی پخپله پيدا شوی دی او مالکان نه دی خپل ځان دپاره د دفع د ضرر او نه د نفعی طاقت نه لری د چا د مرګ او نه د چا د ژوند د اوردولو او رسولو نه د قبر د خلاصولو .

اوس خو دوئی وائی : چه دا ملنګ دے په هر چا ئے ايښے قلنګ دے ، قلنګ ورکړه کښے نو تکره به درکړی ، الله فرمائی چه : وهم يخلقون دوئی پخپله مخلوق دے نو د مخلوق څه کار دے په کارونو د خالق کښې .

# شرك فى الدعاء

د شرک فی الدعاء معنی داده چه کله د يو سړی په باره کښې د چا دا عقيده پيدا شی چه « ان فلانا يعلم احوالا» نو بيا دغه سړے ددے فلانی په باره کښې دا عقيده لری چه «فهو يتصرف فی بعض الامور» دغه شخص دے قادر دے يا اختيار لری په بعض کارونو زما د نفع او د نقصان چه کله

دا عقیده پیدا شی نو « فهو یدع فی الحوائج ویتضرع الیه» نو بیا هغه ته رامدد شه وائی او هغه ته عاجزی هم کوی ، دیته شرک فی الدعاء وائی ځکه چه سوال کول غوښتل دا د یو الله نه پکار دی او یو الله دے چه د مخلوق حاجت روائی کوی د مخلوق حاجت تر سره کوی او مخلوق نه د چا حاجت پوره کولے شی او نه پدے کښ څه کار ساتلے شی .

## دعا څه ته وائی ؟

ددعا لغوی معنی ده « خواستن » یو شے د چا نه غوښتل د قرآن کریم په اصطلاح کښ دعا په معنی لغوی ، النداء آواز کول چه چاته آواز کوے چه اے فلانکیه دا دعا ده .

تائید دپاره سورة **بقره** (۱۷۱) :

« وَمَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا كَمَثَلِ الَّذِي يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ إِلَّا دُعَاءً»

مثال د هغه کسانو چه کافران دی پشان د مثال د هغه چا دے چه آواز کوی خپلو حیواناتو ته نه اوری مگر آواز .

مگر مونږه چه دلته د کومے دعا نه بحث کوو هغه معنی ده «خواستن » غوښتل خپل حاجت د الله نه .

(۲) او دعا په معنی د عاجزئ هم راځی ، دا په صیغه د امر سره سورة **اعراف** کښ ذکر شوے ده سره د آدابو د دعا نه :

«ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ (۵۵)»

دعا غواړئ د رب خپل نه په عاجزئ سره او نه خوښوی الله هغه چا لره چه په دعا کښ د حد نه تجاوز کوی .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

روح المعانی او مدارک ذکر کوی : الرافعین أصواتهم بالدعاء .

(۳) سورة اعراف کښ الله فرمائی :

«وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً (٢٠٥)»

یاد کړه رب لره په زړه کښ په عاجزئ او په ویرے سره .

هم دے سورة اعراف ۱۸۰ کښ ذکر کوی :

«وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا»

او الله لره دی صفتونه ډیر خائسته پس راوبلئ الله لره په واسطے د اسماء حسنی سره .

شامی د امام صاحب قول نقل کړے دے : «لا ینبغی لاحد ان یدعو الا به ای باسمائه وصفاته»

دا چاته جائز نه دی چه څوک د الله نه سوال کوی مګر په واسے د نومونو او صفتونو د الله ، لکه اے الله ، اے رحمانه رحم اوکړے ، اے غفاره بخښنه اوکړے ، اے ستاره پرده راباندے راواچوے ، اے رزاق رزق حلال راکړے ، اے علیم علم کامل نافع راکړے پدے طریقې سره د الله اسماء حسنی واسطه کوه .

دا انداز په قرآن کریم کښ په مختلفو عنوانانو سره راغلے دے کله دا دعا په عنوان د استعانت سره وی .

Scanned by CamScanner

# (١) دعا په عنوان د استعانت

یعنی طلب د استعانت ( د امداد غوښتلو) د یو الله نه لکه سورة فاتحه کښ ذکر دی «إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ» خاص ستا عبادت کوو او خاص ستانه غواړو مددونه .

سورة **یوسف** کښ ذکر د یعقوب علیه السلام چه هغه وئیلی وو:

«فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ (١٨) »

زما کار دے صبر خائسته او الله هغه ذات دے چه غوښتلے کیږی د هغه نه مدد .

یو الله مستعان دے ، یو الله فریاد رس دے ، د هغه نه غوښتل کیږی مددو نه .

سورة انبیاء په آخر کښ ذکر دی :

« وَرَبُّنَا الرَّحْمَنُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ (١١٢)»

رب زمونږ دے مهربان فریاد رسی کونکے .

المستعان : المطلوب منه العون ، چه غوښتل کیږی ترے مدد .

# (٢) دعا په عنوان د سوال

د الله رب العزت نه سوال کول دا ذکر کوی په سورة **فرقان** کښ :

«فَاسْأَلْ بِهِ خَبِيرًا (٥٩)»

هغه ذات مهربانه دے سوال کوه ته د هغه نه چه ستا په حال خبر دار دے .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

سوال کوه په واسطے د وصف د رحمان سره چه خبر دار دے .

یا په معنی د عن اي فسئل عنه خبیرا ، تپوس اوکړه په باره د الله کښې د خبر دار عالم نه ، چه قرآن کریم باندے پوهیږی .

سورة رحمن کښې هم دعا په معنی د سوال ذکر کوی :

« يَسْأَلُهُ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ (۲۹)»

سوالونه کوی د الله نه هر هغه څوک چه بیره دی او خکته دی هر وقت هغه په حاجت روائی د مخلوق کښې دے .

شَأْنٍ : هر وقت په کارونو د مخلوق کښې دے ، پس هر وقت الله د مخلوق اوری او د مخلوق کارونه پوره کوی ، یا په یو کار کښې دے د کارونو نه داسے کار چه د الله د شان سره مناسب دی ، شان دلته په معنی د امر (کار) شو .

## (۳) نفی د دعا د مخلوق نه

د یو الله نه دعا غوښتل پکار دی د مخلوق نه دعا غوښتل نه دی پکار بلا اسبابه ، اما بالاسباب هغه خیر دے ، خلق دا اعتراض کوی چه تاسو وائی چه سوال د مخلوق نه منع دے نو بیا تاسو دا ولے وایئ چه قلم راکړه ، کاغذ راکړه ؟ نو دا سوال د اسبابو د لاندے دے او مونږ وایو چه مخلوق نه هغه سوال منع دے حرام دے او شرک دے چه د هغه په وس کښې نه وی ، لکه یو سړے مبت دے اوری نه گوری نه او نه ترینه سوال کوے چه زوے راکړه علم راکړه ، نو دا خو دعا ده او دعا خو عبادت دے او عبادت خو منقطع دے د مبت نه .

نفی د دعا د مخلوق نه په ګنړو ځایونو کښې ذکر ده .

(۱) سورة **یونس** کښې دی :

«وَلَا تَدْعُ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ(۱۰۶)»

مه رامدد کوه الله نه بغیر هر هغه چا لره که بنده وی که غیر بنده چه نه نفع دررسولے شی او نه ضرر .

(۲) سورة **انعام** کښې راځی :

«قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ (۵۶)»

اووایه زه خو منع شوے یم چه وغواړمه حاجتونه د هغه چانه چه تاسو ترے غواړنې د الله نه بغیر .

(۳) سورة **جن** کښې الله فرمائی :

«وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا (۱۸)»

او جوماتونه خاص د الله دی بس مه رابلئ تاسو د الله سره بل چالره .

(۴) « قُلْ إِنَّمَا أَدْعُو رَبِّي وَلَا أُشْرِكُ بِهِ أَحَدًا (۲۰)»

او وایه ! بیشکه زه خو رابلم رب خپل او نه شریکومه رب خپل سره هیچا لره .

نو معلومه شوه ددے آیاتونو نه چه یو سړے بغیر د الله نه بل چالره رامدد کوی نو دا شرک دے .

(۵) هم دغه شان مضمون په سورة **قصص** کښې هم ذکر دے :

«وَلَا تَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ لَهُ الْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (۸۸)»

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

مه رامدد کوه الله سره بل چالره نشته لائق د بلنے مگر صرف یو الله دے هر څه فاني کیدنکی دی بغیر د الله د ذات نه ، اختیار د فیصلے هغه سره دے او هغه طرف ته به بیرته ځئ .

# شرك فی العبادة

کله چه د یو سړی د عقیده د چا په باره کښ جوړه شی چه دے واکدار دے نو د هغه نه بیا سوالونه کوی د سوال نه پس بیا دے هغه ته رکوع ، سجده ، مالی عبادت او بدنی عبادت کوی منختے ئے په نوم کوی ، د زیارت نه ئے د حاجیانو پشان اووه طوافونه کوی او کله کله داسے هم وی چه د هغه د رضا دپاره حجونه هم کوی او کله کله داسے هم وی چه خپل خامن هم د هغوئی دپاره وقف کوی ، لکه چه مؤحدین وائی چه ما د خپل خوئے د الله ددین دپاره وقف کړے دے چه دین زده کړی نو هم دغه شان دوئی وائی چه ما دا خپل خوئے د کاکا صاحب د دربار دپاره وقف کړے دے ، عبادت حق د یو الله دے .

سورة بقره کښ دا مسئله په امر بعبادة الله تعالی سره ذکر کوی : « يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (۲۱)»

Scanned by CamScanner

اے خلقو خاص کړئی عبادت رب خپل لره ، هغه ذات چه تاسو ئے
پیدا کړی یئ او هغه چه مخکښ وو ستاسو نه پلار نیکه ستاسو بنائی چه
پرهیزګارشئ تاسو .

**خلقکم** : چه الله پیدا کړی یئ نو د هغه شکریه اداء کول پکار دی او
شکریه په تخصیص د عبادت سره رازی .

**لعلکم تتقون** : پدیکښ فائده ستاده چه د اور نه به اوساتل شے ، د
شرک د پلیتئ نه به اوساتل شے .

(۲) سورة **النساء** کښ الله کریم فرمائی :

« وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا (۳۴)»

اے خلقو عبادت د یو الله کوئی او الله سره حصه دار مه جوړوئی .

(۳) او سورة **الرعد** (۳٦)کښ الله کریم فرمائی :

« قُلْ إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ وَلَا أُشْرِكَ بِهِ إِلَيْهِ أَدْعُو وَإِلَيْهِ مَآبِ»

اووایه ماته امر شوے دے چه خاص کړم عبادت د یو الله او هغه
سره بل حصه دار جوړ نه کړم هم دغه الله ته ئے رابلم او هغه ته بیرته ورځم
.

(۴) سورة **زمر**(۲)کښ هم الله فرمائی :

« إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ فَاعْبُدِ اللَّهَ مُخْلِصًا لَهُ الدِّينَ»

مونږ رالیږلے دے تاته کتاب دپاره د اظهار د حق پس خاص کړه
عبادت د الله پداسے حال کښ چه ته خالص کونکے ئے د هغه دپاره بلنه .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# نفی د عبادت د مخلوق نه

(۱) سورة **هود**۱۴کښ الله رب العزت فرمائی :«أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ»
عبادت مه کوئی مګر صرف د یو الله .

(۲) سورة **حم سجده** کښ الله رب العزت د پیغمبرانو حال بیانوی فرمائی : «إِذْ جَاءَتْهُمُ الرُّسُلُ مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ (١٤)»

کله چه راغلل انبیاء کرام اول او آخر مخکښ او وروسته پدے چه عبادت صرف د یو الله اوکړئی .

(۳) سورة **اعراف** کښ الله د ګنو پیغمبرانو حال بیانوی چه هغوئی د مخلوق د عبادت نه نفی کړے ده او د یو الله عبادت ته ئے مخلوق رابللے وو آیت ۶۰، ۶۵، ۷۳، ۸۵)

« فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ» وئیلی وو پیغمبر چه اے قومه عبادت اوکړئی د یو الله او نشته بغیر د الله نه بل حاجت روا .

(۴) سورة **بینه** کښ الله د اهل کتابو حال بیانوی فرمائی :
« وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ (٥)»

دوئی ته امر نه وو شوے (د کتبو سابقو او موجودوو نه) مګر دا چه خامخا عبادت د یو الله اوکړئی پداسے حال کښ چه خالص کونکی ئې هغه لره بلنه .

Scanned by CamScanner

(۵) سورة **یوسف** کښ حکم د الله رب العزت پدے خبره دے چه عبادت د یو الله اوکړئی :«أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ (۴۰)»

حکم کړے دے الله چه عبادت به د یو الله کوئی .

(۶) سورة **بنی اسرائیل** کښ فیصله د الله پدے چه عبادت د یو الله حق دے : «وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ (۲۳)»

او ستا رب فیصله کړے ده چه مه کوئی عبادت مګرد یو الله .

نو معلومه شوه چه عبادت حق د یو الله دے ځکه چه دا مامور بها دے او دغه عبادت د غیر نه منفی دے چه کم ځائے کښ د : اعبدوا ربکم خبره ده نو وریسے لاتعبدوا الا الله هم ورسره ذکر شوے دے .

# احکامات متفرعه

که یو سړے بے د اسبابو مخلوق ته چغه وهی او رامدد شه ورته وائی نو د هغه څه حکم دے ؟ هغه څوک دے ؟ آیا مؤمن پاتے شو ؟ او که ایمان ئے ختم شو ؟ نو پدے باندے احکامات متفرع کوو.

(۱) په سورة **یونس** کښ ورته الله ظالم وائی :

« وَلَا تَدْعُ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ فَإِنْ فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِنَ الظَّالِمِينَ (۱۰۶)»

او مه رامدد کوئی ما سیوا د الله نه هغه څوک چه نفع نشی رسولے تاته او نه ضرر رسولے شی پس که اودے کړو دا کار پس یقینا ته به پدغه وخت کښ د ظلم کونکو نه شے .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

معلومه شوه چه غیر الله رامدد کول ظلم دے او چه څوک غیر الله رامدد کوی هغه لوئے ظالم دے .

(۲) او په سورة حج کښ ورته الله ضلال بعید وائی : غیر الله رابلونکے ګمراه دے : « يَدْعُو مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُ وَمَا لَا يَنْفَعُهُ ذَٰلِكَ هُوَ الضَّلَالُ الْبَعِيدُ (۱۲)»

رامدد کوی دوئی ما سیوا د الله نه هغه څوک چه ضرر نشی رسولے او نه نفع ورکولے شی دغه هم ده ګمراهی لرے .

(۳) سورة رعد (۱٤) کښ ورته الله کافر وائی چه څوک بغیر د الله نه بل څوک رامدد کوی :

«وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ لَا يَسْتَجِيبُونَ لَهُمْ بِشَيْءٍ إِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى الْمَاءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَالِغِهِ وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ »

او هغه څوک چه رابلی ما سیوا د الله نه ، نشی قبلولے دوئی لره هیڅ حاجت نه دے ددوئی مثال مګر پشان د غوړونکي ورغو لره اوبو ته چه راورسیګی خولے دده ته او نه دے هغه رسیدنکے ده ته او نه ده چغه د کافرانو مګر برباد .

مقصد دا څوک چه بغیر د الله نه مخلوق بے اسبابو رامدد کوی هغه ته دده دا چغه داسے بے فائدے او لایعنی ده چه یو سړے اوبو ته وائی چه راشئ خولے زما ته نه رازی خولے دده ته نه ده بلنه دداسے کافرانو مګر برباده .

Scanned by CamScanner

نو دلته ئے ورته په الف لام سره کافر او وئیل نو معلومه شوه چه څوک مخلوق بغیر د اسبابو رامدد کوی نو دغه سړے الکافر دے .

(۴) په سورة **فاطر** کښې ورته الله شرک وائی چه څوک بغیر د الله نه نور رامدد کوی :

«إِنْ تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا دُعَاءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُونَ بِشِرْكِكُمْ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ (١٤)»

او کچرے رامدد کوئی تاسو هغوئی لره نه اوری بلنه ستاسو او که بالفرض واوری نو نشی قبلولے وینا ستاسو او په ورځ د قیامت انکار به اوکړی په شرک ستاسو او نشی خبر درکولے تاته پشان د خبردار ذات چه الله دے .

څوک چه د الله نه بغیر مخلوق رامدد کوی په ورځ د قیامت به ستاسو په دے شرک انکار کوی کله چه مخلوق رابلل بے د اسبابو شرک دے نو بلونکے ئے مشرک دے .

(۵) سورة **انعام** کښې ئے بلونکی د غیر الله ته مرتد وئیلے دے :

«قُلْ أَنَدْعُو مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنْفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلَى أَعْقَابِنَا بَعْدَ إِذْ هَدَانَا اللَّهُ (٧١)»

اووایه ورته آیا رامدد کړو مونږه الله نه بغیر هغه چا لره چه طاقت ئے نشته مونږ ته د رسولو د خیر ، نه د لرے کولو د تکلیف آیا وګرځو مونږ (مرتد شو) پس ددے نه چه الله مونږ ته هدایت راکړے دے .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

نو غیر الله رامدد کول ضلالت دے ، کفر دے ، شرک دے ، او سړے ورسره مرتد کیږی او سزا د مرتد څه ده دا د فقهاء په کتابونو کښ مطالعه کړئی :

قال النبی صلی الله علیه وسلم من بدل دینه فاقتلوه ([1]).

(۶) بلنه د مخلوق په آخرت کښ سبب د عذاب دے سورة **شعراء** کښ الله فرمائی : « فَلَا تَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ فَتَكُونَ مِنَ الْمُعَذَّبِينَ (۲۱۳)»

مه رابله ته الله سره بل چالره ورنه شے به ته دعذاب کړے شو نه .

معلومه شوه چه غیر الله رامدد کول دا سبب د عذاب دے .

# الاحکام المتفرعة علی الشرک فی العبادة

چه څوک غیرالله رامدد کوی نو د هغه څه حکم دے ؟

(۱) عبادة د غیر الله کفر دے دے وجی نه سورة **کهف** کښ ورته کافر وائی :

«أَفَحَسِبَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنْ يَتَّخِذُوا عِبَادِي مِنْ دُونِي أَوْلِيَاءَ إِنَّا أَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ نُزُلًا (۱۰۲)»

[1] المبسوط ج۳ ص ۱۲۸ ، النافع الکبیر ا ص ۳۰۲ ، بدائع الصنائع ج۶ ص ۱۱۸ ، الهدایه ج۱ ص ۴۰۶ ، صحیح البخاری رقم ۶۵۲۴، سنن ابی داؤد ۴۵۱ ، سنن الترمذی ۱۴۵۸ ، سنن النسائی ۴۰۵۹ .

Scanned by CamScanner

آیا گمان کړے دے هغه خلقو چه کافران دی چه دولی نیولی دی زما بندیگان زما نه بغیر کارسازان یقینا مونږ تیار کړے دے جهنم دپاره د کافرانو میلمستیا .

معلومه شوه چه څوک دمخلوق عبادت کوی نوهغونی کافران دی .

(۲) عبادة د غیر الله جهل دے هم دغه شان سورة **زمر** کښ ورته الله جاهلان وائی :

«قُلْ أَفَغَيْرَ اللَّهِ تَأْمُرُونِّي أَعْبُدُ أَيُّهَا الْجَاهِلُونَ (٦٤)»

اووایه آیا بغیر د الله نه امر کوئي تاسو ماته چه عبادت اوکړم اے جاهلانو .

(۳) عبادة د غیر الله سبب د عذاب الیم دے سورة **هود** کښ دی چه عبادة د مخلوق دا سبب د عذاب الیم دے :

«أَنْ لَا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ (٢٦)»

عبادت مه کوئي د هیچا ما سوا د الله نه یقینا زه یریږم په تاسو باندے د عذاب د ورځے دردناکے .

عبادت د یو الله کوئي که چرے تاسو د الله سره په عبادت کښ شریک گرځوئی نو د عذاب الیم مستحق به شئ ، د توحید فائده به دا وی چه په دنیا کښ د یو نیک انسان دپاره تقوی ، فلاح ، اومغفرت ذنوب پکار دے او دا درے واړه په توحید باندے تفریع دی .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# فائدے د توحید

## (۱) اوله فائده د توحید تقوی ده .

دا ذکر ده په سورة **بقره** کښ :

« يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (۲۱)»

اے خلقو عبادت اوکړئي د رب ستاسو هغه ذات چه پيدا کړی یی تاسو او هغه څوک چه مخکښ وو ستاسو نه خامخا اویریګی د الله نه او د اور نه نو د توحید ثمره تقوی شوه چه کله موحد شوے نو متقی به شے .

## (۲) دویمه فائده د توحید الفلاح ده :

ددے دپاره تائید د سورة **حج** نه :

« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (۷۷)»

اے مؤمنانو ! رکوع کوئی او سجده کوئی او بندګی کوئی د رب خپل او کوئی کارونه د خیر دپاره ددے چه تاسو کامیاب شئ .

دلته توحید ثمره الفلاح ذکر شوه او فلاح وائی : الظفر بالمطلوب والنجاة من المرهوب ، چه کوم شی نه یریږے نو د هغه نه به بچ شے او چه د څه دے تمنا وی هغه به درته درکړے شی ، دوزخ د الله غضب د الله نافرمانی ، خپله بے عزتی او رسوائی نه به بچ شے ، جنت ، حورے ، غلمان ، رضا د الله ، صحت ، خوشحالي به درته درکړے شی .

Scanned by CamScanner

## (۳) دریمه ثمره د توحید مغفرت الذنوب :

دا ذکر کوی په سورة **نوح** کښ :

«أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ (۳) يَغْفِرْ لَكُمْ مِنْ ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرْكُمْ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى ۴»

د الله عبادت اوکړئ د شرک نه ځان بچ کړئ نوح علیه السلام وائی زما تابعداران شئ فائده اوبه بخښی تاسو ته ګناهونه ستاسو او وروستو به کړی تاسو نیټے مقررے ته .

**اجل مسمی** : اجل مسمی ته خو هر سړے رسیګی خو مجرم رسی اجل مسمی ته سره د عذابونو نه او ته به رسے اجل مسمی ته بلا عذابه او بلا تکلیفه نو دا لړه خبره ده نور ته څه غواړے شیخ القرآن به فرمائیل ړوند د الله نه څه غواړی خو دوه سترګے .

# شرک فعلی

د شرک فعلی دویم نوم شرک عملی دے ددے تعلق د انسان د عمل او د انسان د فعل سره وی اعتقاد سره نه وی ، که تحریمات کوی نو دا هم دده د فعل او عمل دے ، او که د ځان نه د چا په نوم باندے نذر او نیاز مقرر کوی نو دا هم دده فعل او عمل وی .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# ربط ما بین الاشراك الاربعة

کله چه یو سړے غیر الله پورے دا عقیده ولری ان فلانا یعلم احوالا ، نو بیا د هغه ډپاره د تصرف عقیده ساتی کله چه د شرک فی التصرف قائل شو نو بیا هغه شرک فی الدعا کښ مشغول شی ، ددے نه پس پدے نتیجه اورسی چه هغه ته عبادت شروع کړی کله چه عبادت شروع کړی نو تقریبا ځان نزدے کولو په خاطر بیا هغه ډپاره منخته هم کوی وائی چه دا د فلانی نظر دے دا چرګ د فلانی صاحب دے بیا کله کله د هغه خوشحالولو ډپاره په ځان باندے بعض څیزونه حرام هم کړی بیا چه کله ترے تپوس اوکړی چه نوے او صفا کپړے ولے نه اچوے ؟ وائی زما حضرت صاحب به شلیدلے کپړے اچولے ، که دا تپوس ترے اوکړے چه دا فلانی رنګ کپړے ولے نه استعمالوے ؟ وائی چه زما حضرت به دے رنګ ته ډیر سپک کتل نو د هغه روح به رانه خفه شی ، بعض خلقو نه چه تپوس اوکړے چه تاسو یئ ولے نه خرخوئی وائی چه زمونږ میښه اوچیګی یا وائی چه میښه بیا مړه کیږی دیته شرک فعلی وئیلے کیږی .

## تحریم مطلق

تحریم مطلق د شرک د اقسامو نه دے ، تحریم مقید بل قسم شرک دے ، تحریم مطلق دیته وائی چه یو سړے وائی چه زه دا ډوډئی نه خورمه ولے چه دا حرام ده نو چه د الله حلال ته ئے حرام او وئیل نو دا ګناه کبیره

ده خو چه دا خبره د چا تقرب او اعتقاد نه وی نو دیته مونږ حرمت مطلقه وایو دا حرمت شرکیه نه دے .

او که یو سړے وائی چه دا کار ځکه نه کومه دا حرام دے ځکه چه فلانی صاحب خفه کیږی نو دا تحریم مقید شو او دیته مونږ شرک وایو ، لکه مثال ددے پشان عربو د مشرکینو چه په ځان ئے بحیره ، سائبه ، وصیله ، او حام حرامول او د هغوئی دا تحریم تحریم مقید وو ځکه چه دا به ئے د غیر الله په نوم منختے کولے او هغوئی د خوشحالئ دپاره به ئے پریښودلے ، بعض اوقات به دے مشرکینو حلال ځاروی په ځان باندے حرمول لکه په سورة **انعام** کښ :

«وَقَالُوا مَا فِي بُطُونِ هَذِهِ الْأَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَى أَزْوَاجِنَا وَإِنْ يَكُنْ مَيْتَةً فَهُمْ فِيهِ شُرَكَاءُ ١٣٩»

او وئیل دوئی هغه چه په خیټو ددے ځاروو کښ دی خالص دے سړو زمونږ دپاره او حرام دي په ښځو زمونږ او که دا وه مرداره نو بیا به پکښ شریکان وو .

**میتة** : چه مرداره وی نو بیا وائی چه راځئ اوس خورده شوه دوئی هم وائی چه خورده ده مردارے ته خورده وائی هم دیته شرک وائی او په شرک کښ ورته تحریم مقید وائی او شرک فعلی هم ورته وائی .

## اقسام د شرک فعلی

د شرک فعلی دوه قسمه دی (۱) تحریمات المشرکین یا تحریمات العباد ، هغه محرمات چه خلق د ځان نه یو شے حرام کړی د چا رضا او

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

چا خوشحالولو دپاره (۲) نیازات المشرکین یا نیازات العباد د غیرالله تقرب خاصلولو په عرض یو شے منخته کول ددے په مقابله کښ د توحید دوه اقسام نیازات الله او تحریمات الله دی .

## (۱) تحریمات العباد

ددینه مراد هغه محرمات دی چه هغه محرمات مقیده موقته من حیث المکان یا من حیث الزمان وی لکه بعض خلق وائی چه په زیارة درګاه کښ ښکار کول حرام دی نو که دا ددے وجی نه وی چه قبرستان خو محل د امور ددنیا نه دے نو بیا خو خیر دے خو دوئی وائی که چا په حدود د زیارت کښ مرغۍ او ویشته نو بابا به ورته تکره ورکړی ، د شپے به راځی د پنډۍ نه به ئے نیسی د کټ نه به ئے ښکته غورځوی او لاس به ئے مات شی .

لکه څنګه چه حدود حرم دی نو داسے دے مشرکانو هم د خان نه د درګاهونو ورشوګانے جوړے کړی دی او وائی چه دلته ښکار حرام دے او که چا ښکار اوکړو نو صاحب قبر به ورته تکره اورسوی دیته تحریمات المشرکین وئیلے کیږی لکه چه د بعض زنانوو عقیده ده چه د مازیګر د مانځه نه پس په جارو وهلو سره کور جارو کیږی ، لکه په بعض ځایو کښ د بعض خلقو عقیده وی چه کله د یو کور نه کډه یو سی نو وائی جارو مه وهئ د کوره چه خوک وتلی دی هغوئی به جارو شی ، بعض خلق وائی چه د جمعے په ورځ کپړے وینځل صحیح نه دی دیته تحریمات العباد وائی دا تحریمات په مقابله د تحریمات الله کښ دی لکه چه څنګه په حدود حرم

کښې ښکاره کول حرام دي هم دغه شان مشرکين د حرم په مقابله کښې تحريمات العباد جوړ کړل دغه تحريمات من الماکل والملابس والمشارب والمطاعم،وائي چه دا شے نه خورم دا شے نه اغوندم دا شے نه څکم .

هم دغه شان پخوا به خلقو وئيل چه پدے ځائے کښې پير صاحب ناسته کړے ده نو مونږ ته ناسته روا نه ده ، پدے کټ کښې حضرت جي صاحب ناسته کړے ده يا پدے کمرے کښې ورته غسل ورکړے شوے دے دا کمره غير آباده ده او که څوک ورته دننه ورشي نو پيريان به ئے مړکړي ، دا ټول تحريمات العباد دي او ددے تحريمات العباد دوه عنوانات دي اول ابطال د تحريمات العباد دويم نيازات مشرکين .

# ابطال د تحريمات العباد

يعني چه مشرکينو د ځان نه کوم څيزونه حرام کړي دي هغه ته حلال مه وايئ حرام ورته اوايئ :

(۱) سورة **بقره** کښې رب العزت فرمائي :

« يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ (۱٦۸)»

اے خلقو اوخورئ (اعتقاد د حلال والي اوساتئ ) هغه شے چه دے په زمکه کښې حلال او پاکيزه مه وربسے کيږئ په طريقو د شيطان پورے څکه دا دے دشمن ستاسو ښکاره .

(۲) « يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ (۱۷۲)»

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

اے ایمان والو خورئی د پاکو هغو نه چه درکړی دی مونږ تاسو ته او شکر کوئی الله لره کچرے یئ تاسو هغه لره عبادت کونکی .

دے قسم آیاتونو کښ ابطال د مشرکینو ذکر کیږی چه اے بدبختو تاسو چه کم شے د خان نه حرام کړے دے هغه حرام نه دے بلکه هغه حلال دے .

(۳) نمونې د مشرکانو د عقیدی په ابطال کښ سورة **اعراف** کښ راځی : « وَإِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً قَالُوا وَجَدْنَا عَلَيْهَا آبَاءَنَا وَاللَّهُ أَمَرَنَا بِهَا قُلْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ (۲۸) »

او کله چه به دوئی بدکاری کوله نو وئیل به دوئی چه زمونږ پلارانو به داسے کول او الله حکم کړے دے مونږ ته پدے او وایه الله حکم نه کوی په بے حیائی .

**فاحشة** : علماء لیکی چه والطواف بالبیت عریانا د بیت الله طواف به ئے بربنډ کولو ، هغوئی په خان دا خبره لازمه کړے وه چه پدے اغوستو جامو کښ د بیت الله طواف حرام دے خکه چه پدے جامو کښ زمونږ نه گناهونه شوی دی او د الله کور پاک دے دوه نور هلکان به ئے مخکښ کړی وو هغوئی به وئیل : نحن عرابا عک - ترانه به ئے وئیله لکه چه ددے زمانے مشرکان چه درګاه ته روان وی او هو هو اوازونه کوی نو هغوئی به وئیل :

نحن عراباً علك علك إليك عانية – عادك اليمانية

مونږ دوه تور کارغان د عک قبیلے والا تاته روان دی د یمن نه ، طواف به ئے په بربنډه کولو ، او زنانو به د شپے طواف په بربنډه کولو یو لاس به ئے مخکښ اینښے وو او یو به ئے روستو اینبے وو او خوشحالیدل به او وئیل به ئے :

اليوم يبدء كله او بعضه فما بدا منه فلا احله

(۴) سورة المائده کښ الله کریم ذکر کوی چه الله په دوئی نه وو حرام کړی بلکه دوئی حلال په خان حرام کړی وو :

«مَا جَعَلَ اللَّهُ مِنْ بَحِيرَةٍ وَلَا سَائِبَةٍ وَلَا وَصِيلَةٍ وَلَا حَامٍ وَلَٰكِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَأَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ (۱۰۳)»

نه دی مقرر کړی الله څه غوږ پرے شوی او نه ازاده شوے او نه پیوسته شوے او نه ساندو لیکن هغه خلق چه کفرئے کړے وو جوړوی په الله باندے دروغ او زیات ددوئی نه نه پوهیګی .

**بحیرة** : هغه خاروی ته وائی چه د هغه پئ په خان باندے بند کړی وی د وجے د بو درګاه یا د وجی د بابا نه .

**سائبه** : هغه خاروی چه هغه به ئے پریخودل د چا په نوم باندے نو بیا به ئے د هغه سورلی نه کوله .

**وصیله** : هغه پیوست شوی بچی چه لګا تار مونث بچی راوړی او به آخر کښ یو مذکر بچے راوړی نو وائی وصل الاخ بالاخت ، وررور خور سره پیوست شو نو اوس دے مبارک شه نو هغه به ئے پریخودو .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

**حام** : هغه نر چه لس ماده به ترے حاملے شوے .

دا څیزونه اوس هم شته خو افسوس دے په هغه ملیانو چه هغوئی قرآن کریم صرف د پخوانو خلقو سره خاص کړے دے ، لکه اوس هم چه یو غوا په یو کور کښې ډیر لنګونه اوکړی نو بیا ئے خرخوی نه وائی که دامونږ خرڅه کړو نو دا خو دے سره بے وفائی ده کور به مو تباه شی نو بیا هغه چاته خیراتی ورکړی داسے ډیر حیرانکن شرکیات شته لکه په پنجاب کښې درګاهونو دپاره غواګانے پریخی وی چه د چا فصل ته ورشی نو شړی ئے نه وائی که اودے شړله نو فصل به دے تباه او برباد شی چینجی او منګکان به پکښې اوشی .

(۵) سورة **انعام** کښې الله ذکر کوی :

«وَقَالُوا هَٰذِهِ أَنْعَامٌ وَحَرْثٌ حِجْرٌ لَا يَطْعَمُهَا إِلَّا مَنْ نَشَاءُ بِزَعْمِهِمْ وَأَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُورُهَا وَأَنْعَامٌ لَا يَذْكُرُونَ اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا افْتِرَاءً عَلَيْهِ سَيَجْزِيهِمْ بِمَا كَانُوا يَفْتَرُونَ (١٣٨) وَقَالُوا مَا فِي بُطُونِ هَٰذِهِ الْأَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَىٰ أَزْوَاجِنَا وَإِنْ يَكُنْ مَيْتَةً فَهُمْ فِيهِ شُرَكَاءُ سَيَجْزِيهِمْ وَصْفَهُمْ إِنَّهُ حَكِيمٌ عَلِيمٌ (١٣٩)»

او وائی دا مشرکین چه دا څاروی او دا فصلونه منع دی دینه به نه خوری مګر هغه څوک چه مونږ غواړو په ګمان خپل باندے او هغه څاروی چه حرام دی د هغے شاګانے یعنی سورلئ د هغه او بعض څاروی چه په وخت د ذبح باندے به د الله نوم نه اغستو د وجے د دروغ جوړولو په الله او وائی چه هغه څه چه دی ددے څاروو په ګیډو کښې هغه به زمونږ نارینه

خوری زنانوو باندے بند دی او که وه به مرداره نـو تـول پلیتان بـه تـرے
چاپیره شو زر دے چه بدله به ورکړم دوئی ته ددوئی ددے دروغو یقینـا دا
الله حکمت والا دے او پوهه دے .

# ابطال د تحریمات المشرکین

(۱) سورة **مائده** کښ الله فرمائی :

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ
اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ (٨٧) وَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلَالًا طَيِّبًا وَاتَّقُوا اللَّهَ
الَّذِي أَنْتُمْ بِهِ مُؤْمِنُونَ (٨٨)»

اے مؤمنانو مه حراموی پاک او حلال او زیاتی مه کوئی یقینا الله مینه
نه کوی د زیاتی کونکو سره او خورئی د هغه نه چه درکړی دی الله حـلال
پاکیزه اویریګئ د هغه ذات نه چه تاسو په هغه ایمان لرونکی یئ .

(۲) سورة **مائده** اول کښ ذکر کوی :

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ إِلَّا مَا يُتْلَى
عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ (١)» اے مؤمنانو
وعدے پوره کړئی روا دی ستاسو دپاره بے زبانه ډنګر مګر هغه چه ونیلی
شی په تاسو شئ نه حلالونکی د ښکار چه کله تاسو په احرام کښ یئ یقینـا
الله فیصله کوی د هغه چه اراده او کړی .

(۳) سورة **یونس** کښ الله فرمائی :

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

«قُلْ أَرَأَيْتُم مَّا أَنزَلَ اللَّهُ لَكُم مِّن رِّزْقٍ فَجَعَلْتُم مِّنْهُ حَرَامًا وَحَلَالًا قُلْ آللَّهُ أَذِنَ لَكُمْ أَمْ عَلَى اللَّهِ تَفْتَرُونَ (۵۹)»

او وایه دوئی ته خبر راکړئی ماته د هغه رزق په باره کښ چه تاسو دپاره پیدا کړے دے نو وګرځول تاسو بعض په ځان حرام او بعض حلال او وایه ورته آیا دا تاسو ته رب وئیلی دی بلکه تاسو په الله باندے دروغ جوړوئی .

# تحریمات الله

د تحریمات العباد په مقابله کښ تحریمات الله دی ، تحریمات العباد شرک دے تحریمات الله عین توحید دے کوم شی ته چه الله حرام وئیلے دے هغه حرام دے کوم شی ته چه مخلوق حرام وئیلے دے هغه حرام نه دے د تحریمات الله حکم بقاء حرمت دے د تحریمات العباد حکم زوال د حرمت دے نو کوم شے چه مشرکینو حرام کړے دے د هغه اعلان او کړنی چه دا حلال دے .

دلته هغه تحریمات الله ذکر کیږی چه د هغه حرمت د زمان یا د مکان سره دے ، مکان بیت الله ، حدود د حرم ، زمان حالت احرام ، تائید د سورة مائدے نه : « غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنتُمْ حُرُمٌ » .

شئ تاسو نه حلال ګڼونکی دښکار چه یئ تاسو په احرام کښ.

دا حرمت د الله دے او ددے حکم باقی ساتل دی .

Scanned by CamScanner

ددے دوہ علتہ دی : یو علت اجمالی چہ ھغہ:إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ.

دویم علت تفصیلی پہ آیت ۹۵، ۹۶ کښ ذکر کوی چہ ښکار پہ احرام کښ مہ کوئی اللہ پہ تاسو امتحانا منع کړے دہ ځکہ چہ ستاسو لاسونہ او ستاسو نیزے بہ ورتہ رسی خو دا حرام دی «لِيَعْلَمَ اللَّهُ مَنْ يَخَافُهُ بِالْغَيْبِ» ددے دپارہ چہ اللہ ښکارہ کړی ھغہ خلق چہ یریګی د رب نہ بے د لیدلو .

نو دا خبرہ واضحہ شوہ چہ تحریمات د مشرکین شرک دے او تحریمات اللہ عبادت دے حکم د تحریمات اللہ بقاء حرمت دے او حکم د تحریمات المشرکین ازالہ حرمت دے د تحریمات اللہ تردید وکړئ چہ حرام دی او د تحریمات المشرکین اعلان اوکړئی چہ دا حلال دی .

# نیازات المشرکین

د شرک فعلی دویم قسم نیازات المشرکین دی .

نیازات المشرکین چہ مشرکین د خپلو معبودانو باطلو تقرب خوشنودی او رضا حاصلولو دپارہ بعض ځیزونہ منع کوی وائی کہ زہ جوړ شوم یا زما فلانکے مریض جوړ شو یا زما فلانے کار اوشو نو دا شے بہ د فلانی پہ درګاہ دربار باندے حلالومہ یا دا د فلانی پہ نوم منختہ شوہ د ھغہ د دربار عاجزان بہ ئے خوری بل چا باندے ددے خوړل حرام دی او مقصد ئے پہ ھغے کښ د ھغہ مقبور او یا ھغہ شخص چہ د چا پہ نوم ئے نذر

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

کړے وي د هغه تقرب او تعظیم مقصود وی نو دا حرام دی ، دا نیازات المشرکین په مقابله د نیازات الله کښ دی نو ځکه دا حرام دی .

مشرکینو به د غیر الله په نوم نیازات او منختے کولے لکه سورة **المائده** کښ ذکر دی :

« وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ , وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَنْ تَسْتَقْسِمُوا بِالْأَزْلَامِ ذَلِكُمْ فِسْقٌ»

او هغه چه آواز اوکړے شی بغیر د نوم د الله نه ..... او هغه شے حرام دے چه حلالولے شي په درګاهونو باندے او حرام دی معلومول د قسمت په ذریعے د غشو باندے .

دغه شان په سورة **انعام** کښ هم ذکر دی :

«وَجَعَلُوا لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْأَنْعَامِ نَصِيبًا فَقَالُوا هَذَا لِلَّهِ بِزَعْمِهِمْ وَهَذَا لِشُرَكَائِنَا فَمَا كَانَ لِشُرَكَائِهِمْ فَلَا يَصِلُ إِلَى اللَّهِ وَمَا كَانَ لِلَّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَى شُرَكَائِهِمْ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ (١٣٦) وَكَذَلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلَادِهِمْ شُرَكَاؤُهُمْ لِيُرْدُوهُمْ وَلِيَلْبِسُوا عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا فَعَلُوهُ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ (١٣٧)»

ګرځوی د الله دپاره په مال او دولت کښ او په خاروو کښ حصه پس وائی دوئی دا د الله دپاره دی په ګمان ددوئی او دا دپاره د شریکانو زمونږ دی پس هغه چه دی دپاره د شریکانو ددوئی پس نه رسیګی الله ته او هغه چه د الله حصه ده رسیږی شریکانو ددوئی ته بد دے هغه چه دوئی فیصله کوی او دغه شان خائسته کړی دی ډیرو مشرکانو ته وژل د اولاد

ددوئی شریکانو په نوم چه هلاک کړی دوئی لره او ګډوډ کړی په دوئی
باندې ددین ددوئی او که رضا شوې وې د الله نو نه وې کړې دوئی
شرک پس پریږده دوئی لره او هغه چه دوئی د ځان نه جوړوی .
پس دې آیتونو کښې ذکر د نیازاتو د مشرکینو اوشو .
اوس ابطال د نیازات د مشرکینو ذکر کوو چه د مشرکینو دا
نیازات او منختې باطلې دی او حکم ئې دادې چه دا مردار دی دا ذکر
کوی په سورة بقره ۱۷۳سورة مائده ۳، ۱۱۵ .
او په سورة **انعام** کښې نور حرام ذکر کوی فرمائی :
«قُلْ لَا أَجِدُ فِيمَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَيْتَةً
أَوْ دَمًا مَسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنْزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ فَمَنِ
اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٌ رَحِيمٌ (١٤٥)»
او وایه زه نه بیدا کوم په هغه کښې چه وحی شوې ده ماته حرام
شوی په خوړونکی چه خوری ئې مګر چه وی مرداره او یا وینه بهیدلې او یا
غوښه د خنزیر پس یقینا دغه پلیت دی او ناجائز او هغه چه آواز اوشی بغیر
د نوم د الله نه ، پس هغه څوک چه محتاجه شو نه وو خوند لټونکې او نه
زیاتی کونکې پس یقینا رب ستا بخښونکې مهربانه دې .

## فرق د رجس او نجس

**رجس** : یو رجس دې او بل **نجس** ، نجس مطلق پلیت شی ته وائی
که بد بوئی ترې خوریګی او که او رجس هغه پلیتی ته وئیلې شي چه د

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبة الاشاعت ڈاٹ کام

هغه نه بد بوئی هم ځی او پلیت هم وی لکه هغه شے چه په اول کښ ئے غین راځی او په آخر کښ ئے لام ، غین مضموم لام ساکن .

☆☆

کلمه د کفر چه د غیر الله په نوم بانډے د تقرب دپاره اوچته کړے شی دا شرک دے او دا حرام دے .

حاصل د کلام دا شو چه د تحریمات الله حکم دادے چه حرمت ئے باقی اوساتل شی ، او د نیازات الله حکم دادے چه حلت ئے باقی وساتل شی .

نو د الله په نوم منخته حلاله ده او د بابا په نوم منخته حرامه ده .

لکه سورة مائده کښ الله رب العزت فرمائی :

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحِلُّوا شَعَائِرَ اللَّهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَائِدَ وَلَا آمِّينَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ(۲)»

اے ایمان دارو بے عزتی مه کوئ د الله د یادګارونو نه د میاشتو د عزت نه د قربانو نه د امبیل والا اومه کوئ بے عزتی د هغه چاچه قصد کونکی دی د بیت الله .

د نیازات الله حکم دادے چه بے عزتی به ئے نه کوے د نیازات المشرکین حکم دادے چه خومره درنه کیږی نو دومره د هغے پلیتی بیان کړئی .

حکمت د نیازات الله څه دے ؟

هغه ذکر کوی په سورة **مائده** کښ :«جَعَلَ اللَّهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيَامًا لِلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ وَالْهَدْيَ وَالْقَلَائِدَ»

الله حدود د کعبې دا ګرځولی دی سبب د بقاء او سبب د قائموالی د خلقو او میاشتې عزتمندې او قربانی او امبیل والا .

نو حکمت پکښ دادې چه ترڅو پورې د بیت الله عزت کیږی د الله ددین د یادګارونو احترام کیږی تر هغه پورې به دنیا باقی وی چه کله بې حرمتی شروع شوه نو دنیا به تباه او برباده شی .

نیازات الله جائز ، محمود ، ایفاء بالعهد پکار ده ، په نوم د الله منخته کول جائز دی او دا عبادت دې .

الله د هغه مخلوق مدحه کړې ده چه چا وئیلی چه : انی نذرت للرحمن صوما ، انی نذرت لک ما فی بطنی محررا ، الله حکم کوی : ولیوفوا نذورهم :

«فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ أَحَدًا فَقُولِي إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنْسِيًّا (۲۶)»

پس هر کله چه او وینې د انسانانو نه چالره پس وایه یقینا ما نذر منلی دې مهربان بادشاه دپاره د روژې پس هیچرې به زه خبرې ونه کړم نن د هیڅ انسان سره .

په هغه زمانه کښ د خبرو کولو روژه وه او دلته چه تذکره د خبرو راغی نو دائې اشارة وئیلی وو .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

نذربنه كار دے ايفاء بالنذر پكار ده سورة **حج** (۲۹) كښ ذكر كوى :

«ثُمَّ لْيَقْضُوا تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ»

حاجيان دے لرے كړى د ځان نه خيرى او پوره دى كړى خپل نذرونه او طواف دے اوكړى د كور پخوانى .

**البيت** : داسے كور چه آزادونكے دے خلقو له د جهنم د اور

داسے كور چه آزاد شوے دے د خلقو د زور

سورة **دهر** كښ الله د عبادت صفت بيانوى :

«يُوفُونَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُ مُسْتَطِيرًا (۷)»

دوئى پوره والے كوى په نذر باندے او يريګى د هغه لوئے ورځے نه چه دے شر د هغے په دنيا كښ خور .

علامه **ابن قيم** رحمه الله په القصيدة النونية ص ۲۸۸ كښ ليكى چه نذر د الله په نوم جائز او نذر د غير الله په نوم باندے حرام :

الرب رب والرسول فعبده *** حقا وليس لنا الـه ثان

فلذاك لم نعبده مثل عبادة الـ **رحمن فعل المشرك النصراني

كلا ولم نغل الغلو كم نهى***عنه الرسوّل مخافة الكفران

لله حق لا يكون لـغـيره *** ولعبده حق هما حقان

لا تجعلوا الحقين حقا واحدا *** من غير تمييز ولا فرقان

فالحج للرحمن دون رسوله *** وكذا الصلاة وذبح ذا القربان

وكذا السجود ونذرنا ويميننا*** وكذا متاب العبد من عصيان

وكذا التوكل والانابة والتقى*** وكذا الرجاء وخشية الرحمن

Scanned by CamScanner

وكذا العبادة واستعانتنا به *** إياك نعبد ذان توحيدان

**حاصل ترجمه** : الله رب دے رسول ئے بنده دے ، د الله حق دے او مونږ دپاره بل څوک اله نشته .

هم دغه وجه ده چه هغه عبدالله دے او مونږ د رحمان عبادت نه کوو پشان د مشرکانو او نصاراوو .

عبادت خو نه بلکه غلو هم نه کوو لکه نصاراوو چه غلو کړے وه پشان د عیسی علیه السلام کښې او دا فعل د کافرانو دے .

دالله جدا حق دے او د بنده جدا حق دے او هر چاته خپل خپل حق پیژندل پکار دی .

دالله حق به بنده سره نه ملاووے او د بنده حق به الله ته نه ورکوے.

حج به الله لره کوے رسول له به نه کوے دارنګے مونځ حلاله د څاروو په نوم د الله ده نه په نوم د عبدالله ده .

هم دارنګے سجده به یو الله ته کوو ، نذر به د یو الله په نوم کوو ، قسم به د یو الله په نوم اخلو،او توبه د ګناه نه په نوم د الله به کوو .

توکل او انابت به د یوالله په نوم کوو امید او یره به بے د اسبابو د یو الله نه ساتو .

# شرك في البركة

بنیاد د تمامو اشراکو د شرک اعتقادی او فعلی شرک فی البرکة دے کله چه مخلوق د مخلوق نه په مال دولت عمر او اولاد کښې طمع د

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

زیادت یا د حفاظت او د بقاء کوی نو دیته شرک فی البرکة وائی چه زما مال زیات شو د فلانی په برکت سره محفوظ دے د فلانی په برکت سره ددغه اعتقاد د برکت منشا هم دا شرک فعلی دے .

## د برکت معنی

برکت په دریو معنو سره استعمالیګی اول البرکة النماء ، دویم البرکة الثبات ، او دریم البرکة البقاء ، یوشے قائم او محفوظ کول ، یو شے زیاتول ، اضافه او زیاتی پکښ راوستل لکه مال سیوا کیدل عمر سوا کیدل ، اولاد سیوا کیدل ، دیته نما یعنی زیات والے وائی .

بله معنی د برکت « الثبات او البقاء » یعنی یوشے باقی ساتل همیشه ساتل زیاتول د یو شی دا کار د الله دے ، محفوظ او باقی ساتل دا کار هم د الله دے .

نو معلومه شوه چه المبارک هو الله برکت والا یو الله دے کله چه دے دا اومنل چه برکت والا الله دے نو اعتقاد د برکت په مخلوق باندے دا شرک اصغر دے نو شرک اصغر مبدأ شوه د شرک اکبر دپاره چه هغه شرک فعلی دے .

بعض حضراتو نه امیان تپوس اوکړی چه جی ! برکت د فلانی ونیل څنګه دی هغوئی ورته وائی چه مبنی للفاعل ونیل خه نه دی او مبنی للمفعول خه دی ، اے نیک بختو ! دا امیان ددے نه څه خبر دی چه مبنی

للفاعل او مبنی للمفعول څه ته وائی خو پدے پوهه کول پکار دی چه برکت زیاتوالی ته او باقی پاتے کیدلو ته وائی همیشه ساتلو ته وائی پدے پوهه کول پکار دی چه برکت د یو الله دے او هغه برکت والا دے ، موهوم الفاظ امیانو ته بیانول صحیح نه دی لکه چه حدیث کښ راځی چه یو سړے راغلے او نبی علیه السلام ته ئے وئیل « ماشاء الله وشئت » حضور صلی الله علیه وسلم ورته غصه شو او ورته ئے او وئیل « اجعلتنی لله ندا قل ما شاء الله وحده [1]» ته ماد الله سره حصه دار ګرځوے وایه چه کیږی هغه چه یواځې الله وغواړی .

نو د موهم الفاظو نه عوام بچ کول پکار دی علماء صاحبانو ته پکار دی چه دداسے الفاظو اجازت دے نه ورکوی .

**تفسیرکبیر** په تفسیر د سورة **اعراف** آیة ۵۴ کښ ذکر کوی :

«والبركة لها تفسيران : **أحدهما** : البقاء والثبات **والثاني** : كثرة الآثار الفاضلة والنتائج الشريفة وكلا التفسيرين لا يليق إلا بالحق سبحانه ، فإن حملته على الثبات والدوام ، فالثابت والدائم هو الله تعالى لأنه الموجود الواجب لذاته العالم لذاته القائم بذاته الغني في ذاته وصفاته وأفعاله وأحكامه عن كل ما سواه ، فهو سبحانه مقطع الحاجات ومنهى الافتقارات وهو غني عن كل ما سواه في جميع الأمور وأيضاً إن فسرنا البركة بكثرة الآثار الفاضلة فالكل بهذا التفسير من الله تعالى»

---

[1] مسند احمد رقم ۳۰۷۷، ۲۴۳، ۱۷۴۲، مصنف ابن ابی شیبه ج۴ ص ۲۶۴ ، السنن الکبری للبیهقی ج۳ ص ۲۱۷ ، السنن الکبری للنسائی ج۶ ص ۲۴۵ .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

د برکة دوه معنی گانړے دی یوه معنی بقاء او ثبات یعنی یو شے همیشه ساتل دویم یو شے سیوا کول د هغه نه نتائج پیدا کول لکه اولاد مال عمر او علم کښې زیادت ، دا دواړه تفسیرونه د برکت صرف د هغه ذات سره مناسب دی چه هغه الله دے که د برکت معنی ثبات او دوام وی نو ثابت او دائم خو صرف ذات د الله دے .

بیا وروستو ذکرکوی :

«{ فتبارك الله رَبُّ العالمين } [ غافر : ٦٤ ]

لا يليق إلا بكبريائه وكمال فضله ونهاية جوده ورحمته»

که یو سړے وائی چه الله دے ستا په علم کښې برکت واچوی یعنی الله دے ستا علم زیات کړی یا داسے که یو سړے وائی چه الله دے دا علم ستا سره مبارک وساتی یعنی تر مرګه پورے دے درسره باقی وی .

ددے برکت نسبت او اطلاق بغیر د الله نه په بل چا کول روا نه دی ،

**تفسیر مدارک** لیکی ج ۳ ص ۱۵۷ تحت سورة فرقان آیت ۱ :

هی کلمة تعظیم لم تستعمل الا لله .

دا کلمه د برکت د الله دپاره استعمال شویده الله نه بغیر ددے نسبت بل چاته روا نه دے .

**روح المعانی** ج۱۸ ص ۲۳۰ کښې لیکی :

وهذا الفعل لايسند الا لله تعالى ـ

دا (تبارک) نسبت دا بغیر د الله نه په بل چا باندے نه کیږی .

کتاب **التسهیل** ، د ابن جزی الکلبی ج ۳ ص ۷۴ کښې لیکی :

Scanned by CamScanner

« هو فعل مختص بالله تعالی »

دا یو فعل مختص د الله سره دے او دے سره د بل چا نسبت او تعلق جائز نه دے .

نظم الدرر د امام بقاعی ج ۱۱ ص ۳۳۰ کښې هم دغه شان لیکی .

تفسیر **ابی السعود** ج ۹ ص۲ په تفسیر د سورة فرقان کښې هم تقریباً دغه شان لیکی .

تفسیر **سمرقندی** حنفی په جلد۱ ص ۵۴۶ کښې لیکی : « ان البرکة کلها من الله » ټول برکتونه د یو الله د طرف نه دی .

**مشکوة** جلد۲ ص۵۳۸ کښې حدیث دے :

«عن عبد الله بن مسعود قال : كنا نعد الآيات بركة وأنتم تعدونها تخويفا كنا مع رسول الله صلى الله عليه و سلم في سفر فقل الماء فقال : " اطلبوا فضلة من ماء " فجاءوا بإناء فيه ماء قليل فأدخل يده في الإناء ثم قال : " حي على الطهور المبارك والبركة من الله " فلقد رأيت الماء ينبع من بين اصابع رسول الله صلى الله عليه و سلم ولقد كنا نسمع تسبيح الطعام وهو يؤكل . رواه البخاري» .

د دے حدیث حاصل دادے چه برکت د الله دطرف نه دے .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# استعمال د برکت په قرآن کریم کښ په عنواناتو مختلفو سره

کله اصالة وی بحثیت دعوی ، کله بطور تفریع بما سبق ذکر کوی

.

(۱) **اصالة** یعنی دا مسئله اصل ده د دعوے په صورت کښ مثال

په سورة **بنی اسرائیل** کښ قوله تعالی :

«إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَه (۱)»

مسجد اقصی هغه چه مونږ برکت اچولے دےد هغه گیر چاپیره .

دلته د برکت معنی دا چه مونږ فضیلت ورکړے دے ، او مفسرین

دلته لیکی « جعلت مسکن الانبیاء وطهرت من الشرک» د انبیاء د

استوګنے ځائے وو د شرک نه پاک شوے وو ، انبیاء الله رالیږلی وو مخلوق

د الله د شرک نه پاک کړے وو نو د برکت مالک الله دے .

هم دارنګے سورة **سبا** کښ راځی :

«وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا (۱۸)»

او مونږ ګرځولے وو په مینځ د اهل سبا او په مینځ دکلو د شام هغه

چه مونږ پکښ خیر اچولے دے .

نو معلومه شوه چه المبارک فی کل شئ هو الله .

سورة **فرقان** کښ دی : «تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ

لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا (۱)»

Scanned by CamScanner

برکتونو والا الله هغه ذات دے چه په لاس د هغه کښ دے اختیار د هر یو شے .

## (۲) تفریع علی ما سبق

سورة **مؤمنون** کښ بطور تفریع علی الدلیل السابق ذکر کوی ، تفریع معنی ده لکه ددے نه مخکښ چه :

«ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنْشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ (۱٤)» .

بیا پیدا کړه مونږه نطفے لره ټوټه د وینے بس پیدا کړه مونږه ټوټے نه پوټی بس جوړ کړو مونږ د پوټی د غوښے نه هډوکے بس اغوستے ده مونږ هډوکو ته غوښے لره بیا پیدا کړو مونږ هغه په پیدائش بل سره بس برکت والا خو هغه ذات دے چه چا خائسته صورتونه جوړ کړی دی انسان لره .

نطفه جوړول بیا نطفه وینه کول بیا د هغه نه غوښه جوړول بیا د غوښے نه کړبندے جوړول بیا په هغه باندے غوښه خیژول بیا د هغه نه صورت جوړول بیا په هغه کښ روح اچول دا ټول کارونه د الله دي نو فا تفریع علی ما سبق باندے .

سورة **مؤمن** کښ راځی :

«اللَّهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ قَرَارًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ فَتَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ (٦٤)» .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

الله هغه ذات دے چه ګرځولے ده ستاسو دپاره زمکه ځکاؤ او اسمان ئے درته چت جوړ کړے دے صورتونه ئے درکړه نو خائسته ئے جوړ کړه صورتونه ستاسو رزق درکوی تاسو ته د حلالو نه الله هغه ذات دے چه برکت ئے اچولے په مخلوق کښ .

سورة **اعراف** ۵۴ کښ هم تفريع په ماسبق باندے کوی :

«إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ».

سورة **رحمن** کښ ذکر کوی :

«تَبَارَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِي الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ (۷۸)»

برکت والا نوم د رب ستا دے چه خاوند د جلال او د مهربانئ دے .

علماء فرق ذکر کوی چه په قرآن کریم کښ تبارک په لفظ د ماضی سره د باب مفاعله نه اووه ځلے ذکر شوے دے لکه حم سجده ۱۰.

د باب تفعل نه تقريباً نهه ځلے ذکر شوے دے لکه مخکښ سورة **اعراف** ۵۴ کښ دا صرف ددے دپاره چه دومره کثرت سره دا مسئله قرآن کریم کښ ذکر ده چه د الله د دربار نه چرے هم بل خوا روان نه شی .

د برکت نسبت مخلوق ته شوے دے یوولس ځلے په قرآن کریم کښ خو دا نسبت د برکت نه دے بلکه دا نسبت د مبارک دے چه الله مخلوق کښ خیر اچولے دے مثال ددے سورة ق کښ ذکر کیږی :

«وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً مُبَارَكًا»

مونږ راوررو د بره نه اوبه چه خیر پکښ اچولے شوے دے .

مخلوق کښ خیر اچونکے الله دے ، حاصل دا چه منشأ د شرک فعلی هغه اعتقاد د برکت دے په حق د مخلوق کښ چه دا مخلوق څه شے سیوا کولے شی یا څه شے ساتلے شی ددے نه پس بیا شرک فعلی شروع کیږی .

## اقسام المشرکین

د مشرکینو څلور غټ اقسام دی :

(۱) مشرکین بالعباد الصالحین (۲) مشرکین بالملائکه (۳) مشرکین بالجن (۴) مشرکین بالکواکب .

حاصل دا چه د نیکانو بندیانو پیغمبرانو ، ملائکو ، جناتو او د ستورو عبادت شوے وو او دوئی معبود ګرځولے شوی وو نو معلومه شوه چه من دون الله نه مراد یوازے بتان نه دی .

## (۱) مشرکین بالعباد الصالحین

د الله د نیکانو بندیګانو اولیاء نبیانو او صالحانو عبادت شوے وو .

(۱) سورة **کهف** (۱۰۲) کښ ذکر دي قوله تعالی :

«أَفَحَسِبَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنْ يَتَّخِذُوا عِبَادِي مِنْ دُونِي أَوْلِيَاءَ »

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

آیا گمان کوی هغه خلق چه کافران شوي دی چه دوئی نیولی دی زما بندیگان مانه بغیر کارسازان .

معلومه شوه چه مشرکینو دالله نیکان بندیگان معبودان گرځولی وو .

(۲) هم دغه شان سورة **توبة** (۳۰) کښ ذکر دی :

«وَقَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللَّهِ وَقَالَتِ النَّصَارَى الْمَسِيحُ ابْنُ اللَّهِ»

وائی یهودیان چه عزیر علیه السلام د الله ځوئے دے او نصاری وائی چه مسیح علیه السلام د الله ځوئے د الله دے .

(۳) وقوله تعالی :«اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ (۳۱)»

نیولی وو دوئی خپل علماء او خپل درویشان واکداران د شرعی د الله نه بغیر او مسیح ابن مریم .

وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ : دائے مستقل ولے ذکر کړو ؟

یا خو ترقی مقصود ده ، یا دا مخکښ اخبار او رهبان دوئی معبودان هم گرځول شوی وو او واکداران د شرعے هم گرځولے شوی وو او حضرت مسیح علیه السلام ابن الله هم گرځولے شوے وو.

(۴) سورة **صافات** کښ ذکر شوی دی :

«أَتَدْعُونَ بَعْلًا وَتَذَرُونَ أَحْسَنَ الْخَالِقِينَ (۱۲۵) اللَّهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ آبَائِكُمُ الْأَوَّلِينَ (۱۲٦)» .

آیا غواړی حاجتونه د بعل نه او پریږدئی تاسو خه شکل جوړونکے چه الله دے پالونکے ستاسو او پالونکے د پلارانو ستاسو .

Scanned by CamScanner

تفسير ابوسعود ليکی : «اي تطلبون الخير من البعل»

## بعل څوک وو ؟

روح المعانی او ابوسعود ليکی :اسم امرأة اتتهم بضلالة فتبعوها.

دا خو نوم د يوے ښځے وو چه راغلے وه دوئی ته په ګمراهئ سره دوئی د هغے اتباع کړے وه چه کله هغه مړه شوه نود هغه په شکل ئے بت د سرو زرو جوړ کړو ، د هغه بت څلور سوه منجوران وو او ديته ئے بعل ولے وايه ؟ دا ځکه چه بعل خاوند او مالک ته وائی لکه چه په حديث کښ په معنی د خاوند سره راغلے دے :

« وعن أنس قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : " المرأة إذا صلت خمسها وصامت شهرها وأحصنت فرجها وأطاعت بعلها فلتدخل من أي أبواب الجنة شاءت"رواه أبو نعيم في الحلية»

په اشعارو د عربو کښ هم د بعل اطلاق په خاوند شوے دے :

تقول ودقت صدرها بيمينها ابعلي هذا بالرحا المتقاعس

([1])

په پښتو ژبه کښ د خاوند اطلاق په مالک شوے دے :

خاونده ذوالجلاله دا زمــــا څنګه اختــــر دے

جامے مے دی شليدلی بل د کال پکول په سر دے

سورة **النجم** کښ فرمائی :

[1] مشكوة المصابيح رقم ۳۲۵۴، شعر شرح ديوان الحماسة ۱ ص ۲۱۳

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

«أَفَرَأَيْتُمُ اللَّاتَ وَالْعُزَّى (١٩) وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرَى (٢٠) أَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْأُنثَى (٢١)»

آیا خبر راکړے تاسو د لات او د عزی نه او د مناة دریم روستنی نه آیا تاسو لره نارینه بچی دی او الله لره زنانه .

**واللات** : قال روح إلمعانی واخرج ابن المنذر عن ابن جریج انه قال کان رجل من ثقیف یلت السویق بالزیت فلما تُوفی جعلوا قبره وثنا .

تفسیر روح المعانی د عزی متعلق لیکی :

**والعزی** لغطفان وهی علی المشهور سمرة بنخلة کما قال قتاده واصلها تانیث .

د فتح مکے نه پس رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه ولیږلو چه عزی ختمه کړه ، حضرت خالد رضی الله عنه چه کله لاړو نو د منجورانو ځایونه ئے وران کړه او منجوران ئے اوزغلول نو بیرته راغلے رسول الله صلی الله علیه وسلم وئیل دا عزی نه ده بیا لاړے نو یوه ببر سرے ئے اولیده خالد بن ولید ورته او وئیل :

یا عزی کفرانک لا سبحانک   انی رأیت الله قد اهانک

او دغه ببر سرے ئے اووجله .

**مناة** : دا یو نوجوان هلک وو دده په قبر به منختے کیدے .

سورة **نوح** (۲۳) کښې الله کريم فرمائي : «وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا»

او وئيل دوئي هيڅکله مه پريږدئي آله او مه پريږدئي ود او نه سواع او نه يغوث او نه يعوق او نه نسر لره .

دا نيکان خلق وو .

**امام بخاري** رحمه الله په تفسير د سورة النوح کښې وائي :

«أسماء رجال صالحين من قوم نوح فلما هلكوا أوحى الشيطان إلى قومهم أن انصبوا إلى مجالسهم التي كانوا يجلسون أنصابا وسموها بأسمائهم ففعلوا فلم تعبد حتى إذا هلك أولئك وتنسخ العلم عبدت[1]»

(۵) سورة **اعراف** کښې الله فرمائي :

«إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ فَادْعُوهُمْ فَلْيَسْتَجِيبُوا لَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ (۱۹٤) أَلَهُمْ أَرْجُلٌ يَمْشُونَ بِهَا أَمْ لَهُمْ أَيْدٍ يَبْطِشُونَ بِهَا أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ يُبْصِرُونَ بِهَا أَمْ لَهُمْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا قُلِ ادْعُوا شُرَكَاءَكُمْ ثُمَّ كِيدُونِ فَلَا تُنظِرُونِ (۱۹۵)»

يقينا هغه خلق چه تاسو ئے رامدد کوئي سوا د الله نه بندګان دي ستاسو غوندے پس رامدد کړئي قبولتيا دے او کړي ستاسو کچرے بي تاسو رشتينے ، آيا دوئي لره داسے خپے شته چه تلل کوي په هغے آيا دوئي لره داسے لاسونه دي چه نيول کوي په هغے آيا دوئي لره داسے سترګے دي

---

[1] بخاري رقم ٤٥٣٩

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

چه لیدل کوی په هغه آیا دوئی لره داسے غوګونه دی چه اوریدل کوی په هغه وروایه رامدد کړئ شریکان خپل بیا تدبیر جوړ کړئی ماته پس مهلت مه راکوئی ماته .

# بیان عجزالانبیاء علیهم السلام

ددے خبرے وضاحت کوو چه دا ټول عاجزه وو الله ته او دوئی رفع د حاجت نشی کولے او دوئی عاجزه دی .

د نوح علیه السلام باره کښ په سورة **قمر** کښ راځی :

«فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانْتَصِرْ (۱۰)»

پس دعائے اوغوښتله د رب خپل نه چه یقینا زه کمزورے شوم نو اے الله ته زما بدله واخلے .

په سورة **هود** کښ د حضرت لوط علیه السلام عاجزی الله بیانوی :

«قَالَ لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ (۸۰)»

او وئیل هغه ارمان که وے ماله په تاسو څه قوة او یا پناهی حاصلولے شوے ځائے محکم ته .

د ټولو انبیاء تذکره الله کوی په سورة **انبیاء** کښ چه ټول الله ته عاجز دی : «إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ (۹۰)» .

Scanned by CamScanner

وو دوئی چه تیزی ئے کوله په نیکیو کښ او رامدد کولوئے مونږ لره په مینه او په یره او وو دوئی مونږ ته عاجزی کونکی .

د نبی علیه السلام عاجزی الله بیانوی په سورة **انعام** کښ :

«قُلْ إِنِّي عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي وَكَذَّبْتُمْ بِهِ مَا عِنْدِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ يَقُصُّ الْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ الْفَاصِلِينَ (٥٧)».

نشته زما سره هغه چه تاسو تلوار کوئی په هغه سره نشته اختیار مگر یو الله لره بیانوی حق لره او هغه غوره فیصله کونکو نه دے .

## (٢) مشرکین بالملائکه

ددے مشرکانو دا عقیده وه چه ملائک د الله بنات دی نو الله ته زیات محبوب دی الله ددوئی خبره منی .

دے مشرکانو به چغے وهلے یا جبریل یا میکائیل ددے خبرے رد کوی الله په سورة **زخرف** کښ فرمائی :

« وَجَعَلُوا الْمَلَائِكَةَ الَّذِينَ هُمْ عِبَادُ الرَّحْمَنِ إِنَاثًا أَشَهِدُوا خَلْقَهُمْ سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ وَيُسْأَلُونَ (١٩)»

او جوړوی ملائکے هغه چه بندگان د مهربان دی زنانه آیا حاضر شوی دی دوئی پیدائش د هغے ته زر دے چه اوبه لیکلے شی بیان ددوئی او تپوس به اوشی ددوئی نه .

هم دغه شان په سورة **سبا** ٤٠ کښ الله فرمائی :

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

« وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلَائِكَةِ أَهَؤُلَاءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا يَعْبُدُونَ (٤٠)»

او كله چه راجمع كړى الله دوئى لره ټول بيا به او وائى ملائكو ته آيا دا هغه خلق دى چه تاسو لره وو عبادت كونكى .

# عجز د ملائكو

ملائک هم الله ته عاجزه دى ددے ذكر كوى چه څوک عاجزه وى هغه اله نشى كيدے .

سورة الانبياء كښ ذكر كوى چه فرشتے ټولے د الله تابعدارے دى :

«وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَنُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ بَلْ عِبَادٌ مُكْرَمُونَ (٢٦) لَا يَسْبِقُونَهُ بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِأَمْرِهِ يَعْمَلُونَ (٢٧)»

او وائى دوئى نيولى دى رحمن ذات بچى پاک دے هغه بلكه بندګان عزتمند شوى دى نه مخكښ كيږى د هغه نه په وينا سره او دوئى امر د الله باندے عمل كوى .

په سورة النساء كښ ذكر كوى چه عيسى عليه السلام د الله عاجز بنده دے :

«لَنْ يَسْتَنْكِفَ الْمَسِيحُ أَنْ يَكُونَ عَبْدًا لِلَّهِ وَلَا الْمَلَائِكَةُ الْمُقَرَّبُونَ وَمَنْ يَسْتَنْكِفْ عَنْ عِبَادَتِهِ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ إِلَيْهِ جَمِيعًا (١٧٢)»

Scanned by CamScanner

هیڅرے بد نه ګنړی مسیح ددینه چه شی بنده د الله او نه ملائک نزدے شوی الله ته او څوک چه شرم کوی د عبادت د الله نه او ځان لوئے ګنړی پس زر ده چه راجمع به ئے کړی ځان ته ټول .

## (۳) مشرکین بالجن

دے مشرکانو به د جناتو عبادت کولو لکه په **سورة السباء** کښ ددونی تذکره کوی :

«قَالُوا سُبْحَانَكَ أَنْتَ وَلِيُّنَا مِنْ دُونِهِمْ بَلْ كَانُوا يَعْبُدُونَ الْجِنَّ أَكْثَرُهُمْ بِهِمْ مُؤْمِنُونَ (٤١)»

او اوبه وائی ملائک پاکی ده تالره ته کار ساز زمونږه ئے سیوی ددوئی بلکه وو دوئی چه بندګی ئے کوله د پیریانو زیات ددوئی نه په هغوئی باندے عقیده لرونکی وو .

سورة **جن** کښ الله د جناتو حالت ذکر کوی فرمائی :

«وَأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ فَمَنْ يَسْتَمِعِ الْآنَ يَجِدْ لَهُ شِهَابًا رَصَدًا (٩) وَأَنَّا لَا نَدْرِي أَشَرٌّ أُرِيدَ بِمَنْ فِي الْأَرْضِ أَمْ أَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا (١٠)»

او یقینا مونږ وو چه کیناستلو به د هغه نه په ځایونو د کیناستو دپاره د اوریدو نو څوک چه غوږ ځارنه اوکړی اوس به مومی ځان دپاره شغله تیاره ، مونږ نه پوهیدلو چه آیا د شر اراده شوی ده په هغه چاچه په زمکه کښ دی او که اراده کړی ده په دوئی باندے رب ددوئی د خیر .

تفسیر **ابن کثیر** ص ۱۵۷ کښ ذکر کوی چه :

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

«وقال السدي: كان الرجل يخرج بأهله فيأتي الأرض فينزلها فيقول: أعوذ بسيد هذا الوادي من الجن» .

# عجز د جناتو

بیان د عجز ددوئی ذکر کوی په سورة ص کښ :

«فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيحَ تَجْرِي بِأَمْرِهِ رُخَاءً حَيْثُ أَصَابَ (٣٦) وَالشَّيَاطِينَ كُلَّ بَنَّاءٍ وَغَوَّاصٍ (٣٧) وَآخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِي الْأَصْفَادِ (٣٨)»

تابع کړه مونږه ده لره سیلئ چه چلیده به په حکم د هغه باندے نرمه کوم ځائے ته چه غوښتله هغه ، او شیطانان هره آبادی کونکی او غوپه وهونکی ، او نور وو چه په یوځائے تړلی شوی وو په زنځیرونو کښ .

هم دغه شان په سورة سبا کښ ذکر کوی چه جنات عاجزه دی:

«فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلَى مَوْتِهِ إِلَّا دَابَّةُ الْأَرْضِ تَأْكُلُ مِنْسَأَتَهُ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ أَنْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوا فِي الْعَذَابِ الْمُهِينِ (١٤)»

پس هر کله چه فیصله وکړه مونږ په هغه باندے د مرګ نو ښودنه ونه کړه دوئی ته په مرګ د هغه مګر وینه د زمکے چه خوړه ئے همسا د هغه پس هر کله چه راپرے وتلو ښکاره شو حال د پیریانو کچرے وے دوئی چه پوهیدلے په غیبو نو وخت به ئے نه وے تیر کړے په عذاب ذلیل کونکی کښ .

## (۴) مشرکین بالکواکب

دا هغه خلق وو چه د ستورو عبادت به ئے کولو الله کریم ددوئی ذکر کوی په سورة **انعام** کښ چه ستوری د عبادت لائق نه دی :

« فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ اللَّيْلُ رَأَى كَوْكَبًا قَالَ هَذَا رَبِّي فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَا أُحِبُّ الْآفِلِينَ (٧٦)»

پس هر کله چه تیاره شوه پده باندے شپه پس ولیدلو یو ستورے او وے وئیل آیا دا زما رب دے پس هر کله چه هغه پټ شو وے وئیل زه مینه نه ساتم د فنا کیدنکی سره .

هم دغه شان په سورة **نمل** کښ الله رب العزت د ملا چرګک بیان ذکر کوی او هغه هم پدے خبره تعجب کوی چه خلق نمر ته سجده کوی وائی :

«وَجَدْتُهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ لِلشَّمْسِ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُونَ (٢٤)».

وموندله ما هغے لره ( ملک سبا ) او قوم د هغه لره چه سجده کوی نمر ته سیوا د الله نه او خائسته کړی وو هغوئی ته شیطان عملونه د هغوئی پس منع کړی ئے دی هغوئی د سمے لارے نه پس هغوئی لار نه مومی .

په سورة **النجم** کښ رب العزت ذکر کوی چه مالک او رب د ستورو الله دے : « وَأَنَّهُ هُوَ رَبُّ الشِّعْرَى (٤٩)»

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

او بیشکه الله رب د شعری ستوری دے .

د ستورو عبادت به زیات تر بنو خزاعه قبیلے کولو او خاص کر د شعری ستوری عبادت به ئے کولو .

ددے رد په نورو سورتونو کښ شوے دے لکه په سورة **حم سجده** کښ الله فرمائی :

چه ستوری د آیتونو د نښو د الله نه دی نو ستوری د عبادت لائق نه دی بلکه د عبادت او د سجدے لائق صرف یو الله دے .

«وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ (٣٧)»

او بعض د دلیلونو د الله نه شپه او ورځ او نمر او سپوږمئ ده سجده مه کوئ نمر ته او مه سپوږمئ ته او سجده کوئ الله هغه ذات ته چه پیدا کړی دی دا کچرے یئ تاسو هغه لره بندګی کونکی .

سورة **یس** کښ هم الله فرمائی چه دا ټول الله په ډیوټئ لګولی دی په خپل مدار کښ چُرلی او الله ته تابعدار دی :

«وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَهَا ذَلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ (٣٨) وَالْقَمَرَ قَدَّرْنَاهُ مَنَازِلَ حَتَّى عَادَ كَالْعُرْجُونِ الْقَدِيمِ (٣٩) لَا الشَّمْسُ يَنْبَغِي لَهَا أَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا اللَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ (٤٠)»

او نمر چلیګی دپاره د وخت مقرر شوی دغه اندازه د زورور پوهه ذات ده ، او سپوږمئ مقرر کړی دی مونږ دے لره منزلونه تردے چه بیرته وګرځی پشان د څانګے د کجورے زړے ، نه نمر ته مناسب دی چه راګیره

کړی سپوږمۍ او نه شپه مخکښ کیدونکی ده د ورځې نه او ټول په ځائے د ګرځیدو کښ لامبو وهی .

# فرق اربعه

قرآن کریم کښ بیان د مخاصمی د څلورو فرقو سره کوی :
(١) مشرکین (٢) منافقین (٣) یهود (٤) نصاری..

## (١) مشرکین

هغه ډله ده چه قرآن ددوئی قباحت ذکر کوی او رد وربانده کوی اول ددے خلقو عقیده معلومول پکار دی چه الله پدوئی ولے رد کوی ؟

## عقیده د مشرکینو

د مشرکینو عقیده دا وه چه دوئی الله منی ، د الله په نوم به ئے قسم اغستلو ، الله نه به ئے امداد غوښتلو ، مساجد به ئے جوړول ، الله ئے خالق رازق منلو ، په وخت د مصیبت به ئے الله ته چغے وهلے ، او مونځ به ئے هم کولو .

نو اوس دا سوال راځی چه دا ټولے خبرے مني نو بیا جګړه په څه کښ وه ؟


MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

جواب : اول جګړه د الله په توحید کښې وه انبیاء به وئیل چه صرف یو الله معبود دے ، دوئی به وئیل چه نه الله هم دے د الله سره نور هم شته ، دویمه جګړه په شفاعة من الاموات کښې وه انبیاء وو به وئیل چه د امواتو نه شفاعت مه غواړئ او دوئی به غوښتلو .

# بیان عقائد المشرکین من القرآن الکریم

(١) اوله عقیده د مشرکانو چه خالق ئې الله منلو .

سورة **یونس** کښې الله فرمائی :

«قُلْ مَنْ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أَمْ مَنْ يَمْلِكُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَمَنْ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَنْ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ فَسَيَقُولُونَ اللَّهُ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ (٣١)»

او وایه څوک رزق درکوی تاسو ته د آسمان او د زمکے نه او وایه څوک واکدار دی د غوږونو او د سترګو او څوک راوباسی ژوندے د مړی نه او څوک راوباسی مړے د ژوندی نه او څوک تدبیر کوی د ټولو کارونو بس او به وائی دوئی چه الله بس او وایه آیا ولے ځان نه بچ کوئ ؟.

په سورة **مؤمنون** کښې الله فرمائی :

«قُلْ لِمَنِ الْأَرْضُ وَمَنْ فِيهَا إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ (٨٤) سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ (٨٥) قُلْ مَنْ رَبُّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ (٨٦) سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ (٨٧) قُلْ مَنْ بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ(٨٨)سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ فَأَنَّى تُسْحَرُونَ(٨٩)» .

Scanned by CamScanner

او وایه دوئی ته چه د چا ده زمکه او هغه چه پدے زمکه کښ دی که تاسو پوهیګئ ؟ اوبه وائی چه دا د الله دی نو ووایه ولے نصیحت نه قبلوئ ؟ بیا ووایه د اوو اسمانونو رب څوک دے د عرش عظیم رب څوک دے ؟ اوبه وائی الله نو اوایه آیا تاسو نه یریګئ ، بیا ترے تپوس اوکړه څوک دے هغه ذات چه په لاس کښ د هر څه اختیار دے ؟ او به وائی الله ، او الله هغه ذات دے چه پناه ورکوی هر چاته د هر چانه او پناه نشی ورکولے د هغه نه چالره که تاسو پوهیګئ اوبه وائی الله نو اوایه بیا په تاسو د کم طرف نه جادو اوشو .

هغوئی الله منی او ددے کارونو اقرار ئے کولو چه دا الله کوی او ددے زمانے مشرکان وائی :

وہی جو عرش پہ مستوی تھا اللہ ہو کر زمین پہ اتری مصطفیٰ ہو کر

اللہ جسے پکڑے چھڑائے محمد محمد جسے پکڑے چھڑا کوئی نہ سکے

ددے نه پس هم خلق وائی دا مشرکان نه دی .

شیخ القرآن رحمه الله به وئیل چه مونږ خو به چا فتوی نشو لګولے خو دومره وئیلے شو چه دا کافر د سورة مؤمنون دے .

سورة عنکبوت کښ الله فرمائی :

«وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّى يُؤْفَكُونَ (٦١)... وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُولُنَّ اللَّهُ»

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

که تپوس او کړے ددوئی نه چه چا پیدا کړی دی آسمانونه او زمکه
یقینا چه وائی به یو الله نو بیا کوم طرف ته واوړیدئی ، که تپوس او کړے
چه څوک ورروی د بره نه اوبه چه آباده کړی په هغه زمکه وائی به الله .
کله چه تاسو پدے صفتونو کښ د الله سره شریک نه ګنړئ نو اوایه
الحمد لله دارنګ باقی صفاتو کښ هم الله یکتا دے نو بیا ولے ورسره
شریک جوړوئی ، خو پدے هم شکر دے چه دا ئے خو الله لره اومنل او
ددے زمانے مشرک وائی :

ذی تصرف بھی ہے ماذون بھی ہے کار عالم کا مدبر بھی ہے عبدالقادر

آیا ددوئی په شرک کښ هم لا شک باقی پاتے دے دا کره مشرکان
دی په نص د قرآن سره څکه خو اقبال وائی :

حفظ قرآن عظیم آئین تواست حرف حق را فاش گفتم دین تواست

قرآن یا دوه او حقه خبره کوه دا ستا دین دے .

(۲) **بله عقیده** ئے دا وه « وکانو یدعون الله فی الحوائج » یعنی په
وخت د مصیبت کښ به ئے الله رامدد کولو .
په غتو کارونو کښ به ئے الله رامدد کولو او په وړو کارونو کښ
به ئے نیکان بندیګان رامدد کول . او دا اوسنی مشرکان په وړو کارونو
کښ خو الله رامدد کوی او چه لوئے مصیبت ورته اورسیګی نو وائی یا پیرا
بابا ، یا لویه څوانه راورسے ، دا مشرکین بالعکس دی د هغه مشرکانو نه .

یو صوفی شاعر وائی :

تو اندر رنج یا بابا بھی گوئی وذالک عندنا امر عجیب

سورة **عنکبوت** کښې ددوئی حالت ذکر کوی :

« فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ (٦٥)»

کله چه به دوئی سواره شو په کشتئ کښې دوئی به رامدد کولو یو الله پداسے حال کښې چه خالص کونکی او بلونکی وو الله لره کله چه به الله خلاص کړه نو بیا به ئے شرک کولو .

هم دغه شان په سورة **الروم** کښې هم الله فرمائی :

«وَإِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا رَبَّهُمْ مُنِيبِينَ إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَا أَذَاقَهُمْ مِنْهُ رَحْمَةً إِذَا فَرِيقٌ مِنْهُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ (٣٣)».

کله چه به اورسیده دوئی ته تکلیف نو دوئی به رامدد کولو رب خپل پداسے حال کښې چه رجوع کونکی به وو خاص یو الله ته بیا چه کله به اورسیدو دوئی ته راحت ناګهانه یوه ډله ددوئی نه خپل رب سره به ئے شریکان جوړول .

**ربهم** : خپله رب لره ، رب ورته وائي او د الله د ربوبیت قائل وو .

په سورة **بنی اسرائیل** کښې الله کریم فرمائی : هغه چه بغیر د الله نه نور رامدد کوی هغه به ترے ورک شی :

«وَإِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ضَلَّ مَنْ تَدْعُونَ إِلَّا إِيَّاهُ فَلَمَّا نَجَّاكُمْ إِلَى الْبَرِّ أَعْرَضْتُمْ وَكَانَ الْإِنْسَانُ كَفُورًا (٦٧)»

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

کله چه اورسیګی تاسو ته تکلیف په دریاب کښې ورک شی د دماغو ستاسو نه هغه چه تاسو ئے په عام حالاتو کښې رابلئ سیوا د الله نه او کله چه بیا تاسو اوباسی اوچے ته نو تاسو مخ اړوئی اودے انسان ناشکره .

سورة **یونس** کښې الله فرمائی چه کله پدےمشرکانو باندے سختئ راشی نو بیا دوئی خالص الله ته رامدد شه وائی :

«وَجَاءَهُمُ الْمَوْجُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ لَئِنْ أَنْجَيْتَنَا مِنْ هَذِهِ لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ (٢٢)» .

او راشی دوئی ته چپے د هر طرف نه او دوئی یقین اوکړی چه بیشکه دوئی راګیر شوی وو نو رامدد کولو به ئے خاص یو الله اووئیل به ئے که دده نه الله مونږ ته نجات راکړو نو مونږ به شو د شکر ګزارو نه .

## د هر مصیبت نه د بچ کیدو دپاره دعا

مشکواة ١ص ٢١٧ کښې حدیث دے چه په هغه کښې د عمران بن حصین نه رسول الله صلی الله علیه وسلم تپوس اوکړو :

«" يَا حُصَيْنُ كَمْ تَعْبُدُ الْيَوْمَ إِلَهًا , قَالَ أَبِي سَبْعَة , سِتَّة فِي الْأَرْض وَوَاحِدًا فِي السَّمَاء , قَالَ فَأَيّهمْ تَعُدّ لِرَغْبَتِك وَرَهْبَتك ؟ قَالَ : الَّذِي فِي السَّمَاء , قَالَ يَا حُصَيْنُ أَمَا إِنَّك لَوْ أَسْلَمْت عَلَّمْتُك كَلِمَتَيْنِ يَنْفَعَانِك . قَالَ فَلَمَّا أَسْلَمَ حُصَيْنٌ قَالَ يَا رَسُول اللَّه عَلِّمْنِي الْكَلِمَتَيْنِ اللَّتَيْنِ وَعَدْتَنِي , قَالَ : قُلْ اللَّهُمَّ أَلْهِمْنِي رُشْدِي , وَأَعِذْنِي مِنْ شَرّ نَفْسِي "»

ترجمه : اے حصین ته د ورځے د څو آلهو عبادت کوے زما پلار ورته او وئیل زه د اوو آلهو عبادت کوم شپږ په زمکه دی او یو په آسمان کښ دے رسول الله صلی الله علیه وسلم ترے تپوس اوکړو په وخت د مینے او ډیرے کښ څوک رامدد کوے هغه اوئیل هغه رب چه په آسمانونو کښ دے رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اوئیل یا حصین کچرے تا اسلام قبول کړو نو زه به درته دوه کلمے اوښایم چه تاته به ډیره فائده اورسوی کله چه حصین مسلمان شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئے او وئیل چه ماته هغه دوه کلمے اوښایه چه تا راسره وعده کړے وه رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته او وئیل وایه اے الله هر هغه شے راته په زړه کښ واچوه چه هغه زما د خیر باعث وی او ما زما د نفس د شر نه اوساتی .

نو معلومه شوه چه مشرکینو به الله په لویو لویو کارونو کښ رامدد کولو او وړو کارونو کښ به ئے الله رامدد کولو او ددے زمانے مشرک خو چه کشتئ ته اوخیژی نو وائی :

بگرداب بلا افتاد کشتی مدد کن یا معین الدین چشتی

او قوال (قوالي والا ) علي رضي الله عنه ته چغه وهی چه زما کشتی پورے باسی وائی :

اے مولا علی میری کشتی کو پار لگا دینا

او دا مشرکان (بقول شیخ ) چه روان وی د چرسو ډک سګریټ ئے څکلے وی او بری امام میلے ته روان وی او وائی :

بری بری امام بری میری کوئی قسمت کرو کھری

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

العیاذ بالله ددوئی دا عقیده ده او بیا هم ورته خلق مسلمانان وائی .

# بیان اعمال المشرکین

د عربو مشرکانو به حجونه کول ، جماعتونه به ئے جوړول ، د بیت الله د خادمانو خدمت به ئے هم کولو ، د بیت الله د میلمنو خدمت به ئے هم کولو لکه چه ذکر دی په سورة **توبة** کښ :

«أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَوُونَ عِنْدَ اللَّهِ»

آیا تاسو گڼئ څکول حاجیانو ته د اوبو او جوړول د مسجد حرام پشان د هغه چاچه ایمان راوړی په الله او په ورځ د آخرت او جهاد کوی په لاره د الله کښ نه دی برابر په نزد د الله .

سورة **انفال** کښ دی چه دوئی مونځونه هم کول خو الله ورله مونځونه برباد کړل :

«وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً»

او نه دے مونځ ددوئی د الله کور سره مگر شپیلی او لاس ټپول .

**مكاء وتصدية** : د هغوئی عادت لاس ټپول او شپیلی وهل وو ، لکه نن سبا په سیاسی جلسو کښ هم دغه شان کیږی .

لاس ټپول د غیرو کار دے د مسلمان کار خو دادے چه د څه شی نه خوشحال شی نو سبحان الله دے او وائی .

امام راغب او آلوسی لیکی چه ددوئی عبادت نه دے مګر پښانۀ د شپیلو او لاس ټپولو ، لکه چه شپلي وهونکی چه څنګه شپیلی وهی اوځه اثر پرے نه مرتب کیږی الټه ګنهکار دے هم دغه شان په لاس ټپولو څه اثر نه مرتب کیږی الټه ګنهکار دے .

(۳) **بله عقیده د هغوئ** دا وه چه څوک به ئے په اعتماد کښ اغستل نو د الله په نوم به ئے قسم خوړلو او ددے زمانے مشرک چه کله څه خبره شی نو وائی د پیر بابا قول راواچوه یا د فلانی پنجه راواچوه ، او هغوئی به ورو « کانو یحلفون بالله تعالی » لکه سورة نحل او سورة انعام کښ راځی : «وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ»

او قسمونه خوری د الله په نوم باندے پاخه قسمونه .

(۴) **بله عقیده د هغوئی** «وکانوا یفعلون العبادات المالیة لله تعالی »

خیر او خیرات به ئے د الله په نوم کولو یعنی په خپل مال کښ ، په څارو کښ ، په غلو کښ ، په میوو کښ د الله حق به ئے اداء کولو .

لکه سورة **انعام** کښ راځی :

«وَجَعَلُوا لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْأَنْعَامِ نَصِيبًا (۱۳٦)»

او ګرځول دوئی خاص الله دپاره د هر هغه شی نه چه الله به پیدا کول د فصلونو نه او څنګرو نه برخه په مال کښ به ئے د الله حق ګرځوو .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

(۵) **بله عقیده ددوئی** دا وه چه ذکر او استغفار به ئے هم کولو ، لکه سورة **انفال** کښ راځی :

«وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ (٣٣)» .

(۶) **بله عقیده ئے دا وه** چه د قرآن بعض حصه ئے منله لکه په سورة **یونس** کښ دی :

«وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَذَا أَوْ بَدِّلْهُ (١٥)»

کله چه به وئیلے کیدل په دوئی باندے زمونږ آیتونه واضح وئیل به هغه چاچه عقیده به ئے نه ساتله د قیامت راوړه مونږ ته قرآن بے ددے نه چه ته مونږ ته هر وقت بیانوے یا پکښ ترمیم اوکړه .

**مدارک** معنی کوی « ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَذَا » ـ

لیس فیه ما نستبعده من ذم آلهتنا ـ

اوس هم وائی چه د بابا نوم مه اخله چه دے څه نشی کولے دوئی ته اووایه ترڅو چه د بابا نوم نه وی اغستلے شوے نو مسئله نه حل کیږی ، حضرت ([1]) به وئیل چه هندو خو مسلمان شو خو رام رام ترے ونه وتلو .

اوس دا سوال پیدا کیږی چه کله دا مشرکان الله رب منی خالق الله منی ، مدبر الله منی ، باران ورونکے الله منی ، د رزق ذمه وار الله منی ،

[1] د حضرت نه مراد شیخ القرآن مولانا غلام الله خان صاحب رحمه الله د پنډی دے .

مونځ او استغفار هم کوی ، د قرآن بعض حصه هم منی ، قسم هم په الله باندے کوی ، او په وخت د مصیبت کښ یو الله رامدد کوی .

نو بیا ئے انبیاء کرامو سره جنګ په څه وو ؟

او هغوئی بیا مشرکان په څه وو ؟

لکه چه اوس هم بعض خلق وائی چه ته فلانی پسے بد وائے او اوګوره جومات ئے جوړ کړے دے .

جواب ئے دادے چه ده جومات په پاکستان کښ جوړ کړے دے او ابوجهل جومات په مکه مکرمه کښ جوړ کړے وو چه د ټولو جوماتونو امام دے بیت الله ، او بیا هم هغه مشرک وو نو دا جنګ په څه کښ وو ؟

اصل مسئله داده چه انبیاء سره دا جنګ په توحید کښ وو .

# بیان مخاصمة المشرکین مع الانبیاء

(١) وکان مخاصمتهم مع الانبیاء فی توحید الاله -

انبیاء به وئیل چه تاسو کوم ذات منئ هغه واحد فی الذات او فی الصفات اومنئ په افعالو کښ د هغه په کارونو کښ د هغه په صفت کښ څوک شریک نشته نو پدے جګړه وه.

لکه په سورة **اعراف** کښ ذکردی :

«قَالُوا أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللَّهَ وَحْدَهُ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُنَا (٧٠)»

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

وئيل به مشركانو آيا تا راتله كړى دى مونږ ته چه مونږ عبادت
اوكړو د الله يک يوازے او پريږدو مونږ عبادت د هغه چاچه زمونږ مشرانو
به د هغوئى عبادت كوو .

سورة ص كښې الله رب العزت ذكر كوى چه دوئى وائى چه دا محمد
صلى الله عليه وسلم ګنړ آله يو ګرځوى :

«وَعَجِبُوا أَنْ جَاءَهُمْ مُنْذِرٌ مِنْهُمْ وَقَالَ الْكَافِرُونَ هَذَا سَاحِرٌ كَذَّابٌ (٤)
أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَهًا وَاحِدًا إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ (٥)»

او دوئى تعجب اوكړو چه راغلے دوئى ته يو يره وركونكے د جنس
ددوئى نه او وئيل كافرانو دادے جادوګر دروغجن ګرځوى دے ډير آلهو
لره اله يو دا خو يو ناشنا خبره ده .

سورة صفت كښې الله ددوئى حالت ذكر كوى :

«إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ (٣٥)»

كله چه وئيل كيده دوئى ته نشته سيوا د الله نه بل حاجت روا نو
تكبر كوى ددے مسئلے نه .

سورة زمر كښې دى چه كله دوئى ته د توحيد مسئله بيان شى نو
ددے نه مخ ګرځوى :

«وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَحْدَهُ اشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ وَإِذَا
ذُكِرَ الَّذِينَ مِنْ دُونِهِ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ (٤٥)»

Scanned by CamScanner

او کله چه بیانیده به توحید د الله نو تنګ به شول زړونه د هغه چاچه
ایمان ئے نه لرلو په آخرت او چه کله به ذکر شو هغه کسان چه بغیر د الله
نه وو نو دغه وخت کښې دوئی خوشحالیګی .

سورة **مؤمن** کښې الله رب العزت فرمائی :

«ذَلِكُمْ بِأَنَّهُ إِذَا دُعِيَ اللَّهُ وَحْدَهُ كَفَرْتُمْ وَإِنْ يُشْرَكْ بِهِ تُؤْمِنُوا فَالْحُكْمُ لِلَّهِ
الْعَلِيِّ الْكَبِيرِ (١٢)»

کله چه به وبللے شو الله یواځے تاسو به انکار کوو ([1]) او که حصه
دار به شو ورسره نور څوک نو تاسو به منل الله وائی نن فیصله د الله ده چه
بالا او بلند تر دے .

سورة **بنی اسرائیل** (٤٦) کښې الله فرمائی :

«وَإِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِي الْقُرْآنِ وَحْدَهُ وَلَّوْا عَلَى أَدْبَارِهِمْ نُفُورًا »

او کله چه ته ذکر د رب کوے په حوالے د قرآن سره په توحید اوړی
په خپلو شاګانو باندے نفرت کونکی .

وائی چه هر څه بیانوه خو د بابا ګانو دا مسئله مه بیانوه دا توهین دے
زه وایمه دا توهین نه دے لکه یو ماشوم ته ته وائی چه یو لاک روپۍ راکړه
او هغه سره نه وی نو دا د هغه توهین دے او کنه ؟ نو چه د چا سره په
وس کښې څه نه وی او ته ورته وائے چه راکړه یو کروړ روپۍ نو دا توهین
دے ځکه چه یو سړی سره یو شے شته نه او ته ئے ترے غواړے نو دا خو

[1] لکه چه اوس هم وائی چه دا مولا خو هیڅ نه منی دا مولا خو پنجپیرے دے دا خو اشاعتی دے از
شیخ .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

هغه پورے خندا ده ، ددے خو داسے مثال دے چه يو امی سړے وی او ته ورته بخاری شريف کيدے چه د بخاری شريف خلاصه خو راته بيان کړه هغه به درته وائی چه ستا دا خندا ما پورے کيږی .

نو اے مشرکه ! ته هم لاړ شے مړی ته وائے چه دا کار اوکړه او دا کار اوکړه . اے سړيه ! هغه سره څه نشته څه ترے غواړے دا خو ته په هغه پورے خندا کوے د هغه توهين دے .

## دويمه جګړه

(۲) دويمه جګړه د انبياء سره په څه کښ وه ؟

« ودعائهم عن الموتى وطلب شفاعتهم » هغوئی به دمړو نه دعاګانے غوښتلے او د مړی نه به ئے سفارش کولو ، چه اے فلانی صاحبه ! مالره د الله نه سوال اوکړه .

## جمله معترضه

اوس انصاف نه کار اغستل پکار دی دوئی خو وائی چه په سماع الموتی کښ اختلاف دے ، خو سيوا د دريو ځايونو نه چه په هغه کښ د علماء بحث دے :

(۱) قليب بدر (۲) سماع سلام (۳) قرع النعال .

ددے نه علاوه هیڅوک متقدمینو نه په سماع قائل نه دی ([1]) ، خو دا ملایان چه کله وائی چه مړی اوری نو بیا دا ناپوهه خلق لاس اوچت کړی چه اے بابا مالره سوال اوکړه .

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی : « اذا مات الانسان انقطع عمله ([2])» نو دا دعا به یا عمل وی او یا به نه وی نو که ته ورته عمل وائے نو پیغمبر علیه السلام فرمائي چه عمل نه کوی اوکه عمل نه وی نو بیا ترے غواړے څه لره .

سورة **یونس** کښې حالت د مشرکانو ذکر کوی وائی چه مونږ به خلاصوی د الله په دربار کښې :

«وَيَقُولُونَ هَؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَ اللَّهِ (١٨)»

او وائی چه دوئی به سفارشیان وی زمونږ د الله په دربار کښې .

سورة **الزمر** کښې دی چه مونږ ددوئی عبادت کوو چه مونږ الله ته نزدے کړی : «مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ(٣)»

مونږ نه غواړو دوئی نه حاجتونه مګر چه مونږ الله ته نزدے کړی .

اوس هم وائی چه مونږ ګنهګار يو مونږ دالله نه ډير لرے يو دا زمونږ سيړئ ده ، او وائی چه آيا چت ته بغير د سيړئ نه څوک ختلے شی ؟

مونږ به انشاء الله د اولياء خدمت کوو د اولياء احترام به کوو اوکه د اولياء څوک بد وائی نو مونږ به ئے راخکو چه داسے مه کوه .

---

[1] تفصیل بیا شیخ صاحب په درس کښې کوی .
[2] سنن الترمذی ١٣٧٦، السنن الکبری للبیهقی ج٣ ص ٣٩٢، صحیح الترغیب والترهیب ج١ ص ١٨ .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

چت ته خو بغیر د سپړی نه نشے ختلے نو الله تاته چت وائے ؟ لیس کمثله شئ ـ چت خو لرے دے نو آیا الله هم لرے دے ؟ بادشاه خو درنه لرے دے نو آیا الله هم درنه لرے دے ؟ حالانکه الله رب العزت انسان ته ډیر زیات نزدے دے .

سورة ق کښ الله فرمائی : «وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ (١٦)»

او مونږ ډیرنزدے یو دته د رګ د مرئ نه .

# والرد علیهم

(١) پدے قسم مشرکینو باندے الله کریم په سورة روم (١٣)کښ رد کوی :

«وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ مِنْ شُرَكَائِهِمْ شُفَعَاءُ وَكَانُوا بِشُرَكَائِهِمْ كَافِرِينَ»

او نه به وی دوئی لره دشریکانو ددوئی نه څوک شفارسیان او شی به دوئی د شریکانو خپلو نه انکار کونکی .

(٢) دارنګ په سورة روم (٤٠)کښ الله رب العزت فرمائی :

«اللَّهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ هَلْ مِنْ شُرَكَائِكُمْ مَنْ يَفْعَلُ مِنْ ذَلِكُمْ مِنْ شَيْءٍ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ »

الله هغه ذات دے چه پیدا کړی یئ تاسو آیا شته د شریکانو ستاسو نه داسے څوک چه اوکړی ددے کارونو نه څه شے پاک دے الله او اوچت دے د هغه نه چه دوئی ئے شریکان جوړوی .

Scanned by CamScanner

(۳) سورة بقره کښې آیت الکرسی کښې الله رب العزت فرمائی:

«مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ»

څوک دے هغه کس چه شفارس اوکړی په دربار د هغه کښې مګر په اجازت د هغه باندے .

(۴) سورة مدثر کښې الله رب العزت فرمائی :

«فَمَا تَنْفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشَّافِعِينَ (٤٨)»

نفع به نه ورکوی دوئی ته شفاعت د شفاعت کونکو .

کله چه پدے دومسئلو کښې جګړه وه نو الله انبیاء راولیږل ددے مسئلو وضاحت دپاره .

# بیان التفریعات علی هذا

تفریع پدے کله چه انبیاء سره جګړه وه پدے مسئلو کښې نو لهذا ددے وجے نه ددوئی خلاف وو انبیاء سره په وحدانیت د اله کښې ، په توحید د اله کښې ، په طلب د شفارس کښې وو د امواتو نه او طلب د حاجتونو او دعا ګانو کښې وو د امواتو نه نو هم دغه وجه ده چه الله مسئله د توحید بیانوی په عناوینو مختلفوو سره کله تفریع د عمومیت ، کله تفریع د عبادت ، کله تفریع د سبحانیت ، کله مسئله بیان کړی نووانی فاعبده کله مسئله بیان کړی نووانی فسبحان.

(۱) سورة مؤمن کښې راځی :

«هُوَ الْحَيُّ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ فَادْعُوهُ (٦٥)»

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

هغه ژوندے دے په حیات ابدی سره نشته بل اله مګر هغه ذات دے
تفریع نو د هغه نه غواړه .

(۲) سورة یونس کښ الله رب العزت تفریع د عبادت په ماسبقه باندے ذکر کوی فرمائی :

«إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مَا مِنْ شَفِيعٍ إِلَّا مِنْ بَعْدِ إِذْنِهِ ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ» .

یقینا رب ستاسو الله هغه ذات دے چه پیدا کړی دی آسمانونه او زمکے په شپږو ساعتونو کښ بیا برابر شوے دے په عرش باندے تدبیر کوی د کارونو نشته هیڅ شفارس کونکے مګر پس د اجازت د هغه نه دغه صفتونو والا الله دے نو بس دده عبادت کوئ .

(۳) سورة حشر کښ الله تفریع د تسبیح ذکر کوی :

«سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ(۲۳)»

پاک دے الله د هر هغه چا د شرکت نه چه دوئی الله سره حصه داران جوړوی .

(۴) سورة صافات کښ هم الله فرمائی :

«سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ (۱۸۰) وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ (۱۸۱) وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (۱۸۲)»

Scanned by CamScanner

پاکی ده رب ستا لره چه رب د عزت دے د هغه نه چه دوئی ئے بیانوی ، او سلام دِ وی په لیږلو شوو باندے ، او حمدونه دی الله لره چه رب د مخلوقاتو دے .

(۵) تفریع : د برکت ذکر کوی په سورة **اعراف ۵۴** کښې :

«إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ».

ترجمه : یقینا رب ستاسو الله هغه ذات دے چه پیدا کړیدی آسمانونه او زمکے نو برکت والا دے الله رب د ټولو مخلوقاتو .

(۶) تفریع : حمد په هلاکت د ظالمانو باندے او په نجات د مؤمنانو باندے : لکه سورة **انعام** کښې :

«فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَمُوا وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (٤٥)»

پس پریکړے شو مونډ د قوم هغه چه ظلم ئے کړے وو او حمدونه دی الله لره چه رب د مخلوقاتو دے .

هم دارنګے سورة **مؤمنون** کښې الله فرمائی :

«فَإِذَا اسْتَوَيْتَ أَنْتَ وَمَنْ مَعَكَ عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي نَجَّانَا مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ (٢٨)»

پس کله چه برابر شوے ته او هغه څوک چه ملګری ستا دی په کشتئ کښې پس اووایه چه حمدونه دی الله لره هغه ذات چه خلاص ئے کړو مونږ د قوم ظالمانو نه .

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

(٧) سورة ابراهیم کښې دعوی د حمد په ورکولو د اولاد باندے :

«الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى الْكِبَرِ إِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ الدُّعَاءِ (٣٩)»

ټول صفتونه الله هغه ذات لره دی چه راوړے یئ ماته په بوډا والی باندے اسماعیل او اسحاق یقینا رب زما خامخا اوریدونکے د دعا دے .

دے مخکښې آیاتونو کښې مسئله د توحید ذکر شوه او دخلقو خلاف د انبیاء سره په طلب د سفارش کښې وو د امواتو نه او طلب د حاجتونو د دعا ګانو وو د امواتو نه نو په عنواناتو مختلفو سره مسئله د توحید ذکر شوه الله په سورة بنی اسرائیل کښې فرمائی :

«وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هَذَا الْقُرْآنِ لِيَذَّكَّرُوا (٤١)»

او په تحقیق سره ګردان کړه مونږ دا مسئله په قرآن کریم کښې ددے دپاره چه خلق پدے پوهه شی .

☆☆☆

ذکر د فریق اول چه هغه: مشرکین وو هغه اوشو او د فریق دوم چه منافقین دی د هغوئی معرفت په سورة توبه کښې ذکر دے د یهودو او نصاری وو د خیالتونو تذکره په سورة البقره او سورة آلعمران کښې په تفصیل سره ذکر شوے ده .

☆☆☆

Scanned by CamScanner

# د شاه ولی الله رحمه الله نصیحت علماء قرآن ته

شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چه په هر صورة مخاصمه خو د فرق اربعو سره ده لیکن کله چه ته قرآن وائے نو دا به چرے هم نه وائے چه د قرآن مخاصمه یو داسے قوم سره وه چه لاړل او اوس د قرآن مخاصم څوک نشته بلکه کله چه ته قرآن وائے نو د هغه مشرکینو ذکر چه راشی نو چه په چا کښ دغه صفات وی هغه به ئے مصداق وی .

**شاه صاحب** فرمائی :

وبالجملة فان شئت ان ترى ان موذج اليهود فانظر الى العلماء السوء من الذين يطلبون الدنيا وقد اعتادوا تقليد السلف ، واعرضوا عن نصوص الكتاب والسنة ، وتمسكوا بتعمق عالم وتشدده واستحسانه ، فاعرضوا عن كلام الشارع المعصوم ، وتمسكوا باحاديث موضوعة وتاويلات فاسدة كانت سبب هلاكهم.

( الفوز الكبير ص ٢٥ )

بالجمله ددے خبرو نه کچرے ته لیدل غواړے نمونه د یهودو نو علماء سوء ته اوګوره چه طلب د دنیا کوی او اعراض ئے کړے دے د نصوص د قرآن او سنت نه یو خاوند د علم پسے روان وی چه څه هغه وائی په هغه عمل کوی او عمل په موضوعی احادیثو باندے کوی .

بیا د نصاراوو په باره کښ وائی :

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

اما النصری ـ وان شئت ان تری انموذجا لهذا الفریق فانظر الیوم الی اولاد المشائخ والاولیاء .

که ته د نصاری نمونه لیدل غواړے نو د خپلے زمانے پیران سوء ته او د هغه اولادته اوګوره هغوئی د خپلو پلارانو په باره کښ څه ګمان کوی .

بیا په صفحه ٢٩ کښ لیکی :

وان شئت ان تری انموذجا من المنافقین فانطلق الی مجلس الامراء وانظر الی مصاحبیهم یرجحون مرضیهم علی مرضی الشارع .

که ته د منافقین حالات ګورے نو د امراء مجلسونو ته لاړ شه په هغه کښ هغوئی خپله مرضی مخکښ کوی د شارع د مرضئ نه .

وبالجملة اذا قرأت القرآن فلا تحسب ان المخاصمة کانت مع قوم انقرضوا بل الواقع انه ما من بلاء کان فیما سبق من الزمان الا وهو موجود الیوم بطریق الانموذج بحکم الحدیث لتتبعن سنن من کان قبلکم فالمقصود الاصلی بیان کلیات تلک المفاسد لا خصوص تلک الحکایات .

او خلاصه ددے خبرے کله چه ته قرآن او وائے نو دا مه وایه چه د قرآن جګړه د یو داسے قوم سره وه چه هغه تیر شوی دی بلکه واقعی خبره داده چه نه وه هیڅ یوه فتنه په تیره شوے زمانه کښ مګر هغه به موجود وی نن ورځ په طریقے د نمونے سره په حکم د حدیث سره خامخا به تاسو تابعداری کوئ د طریقو د مخکینو خلقو هغوئ چه څه کړی وی نو تاسو

په هم هغه کوئ نو مقصود اصلي د قرآن بيانول دده مقاصدو دی نه تخصيص دده قصو په چا پورے .

# المقصد الثاني من المقاصد المهمة

# اثبات الرسالة اعنى صدق الرسول

د پيغمبر پاک صلى الله عليه وسلم په صداقت باندے قرآن کريم مختلف عنوانات مرتب کړی دی چه محمد صلی الله عليه وسلم د الله رسول برحق دے .

(۱) لکه په سورة بقره (۲۵۲) کښ الله فرمائی :

« تِلْكَ آيَاتُ اللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ »

دا آيتونه د الله دی چه وايو مونږ دے لره په تا باندے او بيشکه ته ئے د پيغمبرانو نه .

نو مقصد دا شو چه الله په چا باندے خپل آيتونه وائی هغه د الله پيغمبر وی .

(۲) هم دغه په سورة دهر کښ الله ذکر کوی :

«إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ تَنزِيلًا (۲۳)»

يقيناً مونږ رالیږلے دے په تا باندے قرآن کريم په لږ لږ راليږلو سره .

(۳) سورة النساء کښ ذکر شوی دی چه چاته وحی کيږی هغه پيغمبر وی :

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

«إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَى نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِنْ بَعْدِهِ (١٦٣)»
او مونږ وحی کړے ده تاته لکه څرنګ چه به مونږ وحی کوله نوح علیه السلام او نورو انبیاء ته دده نه پس .

(۴) سورة یوسف کښې دی چه دے پیغمبر ته مونږ د پخوانو پیغمبرانو واقعات بیانوو :
«إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ (٢) نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ هَذَا الْقُرْآنَ (٣)»
مونږ رالیږلے دے تاته قرآن په عربئ ژبه کښې ددے دپاره چه تاسو زده کړئ ، مونږ بیانوو تاته د ښائسته د بیان نه چه وحی مو کړے ده تاته ددے قرآن .

(۵) سورة فرقان کښې دی چه الله دے نبی ته فرق کونکے کتاب ورکړے دے : «تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ (١)»
برکت والا دے هغه ذات چه په خپل بنده ئے قرآن کریم رالیږلے دے
دا دلیل شو چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم د الله رسول دے .

(٦) سورة قصص کښې ذکر دی چه قرآن کریم د نصیحت کتاب دے : «وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ (٥١)»
او مونږ جفت در جفت رالیږلے دے قرآن ددے دپاره چه دوی نصیحت واخلی .

Scanned by CamScanner

ددے آیتونو نه دا خبره واضحه شوه چه محمد صلی الله علیه وسلم رسول برحق دے .

# انباء الغیب

بل دلیل د نبوت هغه انباء الغیب دے چه الله رب العزت پیغمبر ته د غیبو خبرونه ورکوی نو دا د هغه په رسالت باندے دلیل دے .

(١) سورة آلعمرآن کښ الله رب العزت د زکریا علیه السلام ، عیسی علیه السلام ، او بی بی مریم او د آلعمرآن تذکره کوی پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغوئی سره نه وو نو دا خبرونه دلیل د رسالت دے :

«ذٰلِكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ (٤٩)»

دا خبرونه د غیبو دی چه وحی کوو مونږ تاته او نه وے ته ددوئی سره .

نو پیغمبر منبی عن الغیب شو انباء بالغیب کوی سره د عدم حضور نه په واقعے د حال باندے کله چه دا پیغمبر واقعات ذکر کوی او بالکل رشتیا دی نو پدے الله خبر کړی دی او دا د نبوت دلیل دے .

(٢) هم دغه شان سورة هود کښ الله رب العزت فرمائی :

«تِلْكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهَا إِلَيْكَ مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَا أَنْتَ وَلَا قَوْمُكَ (٤٩)».

دا د خبرونو د غیبو نه دی وحی کوو تاته او نه وے ته پوهه پدے او نه ستا قوم ددینه نه مخکښ .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

**ماکنت تعلمها** : یعنی په عدم علم سره ته او ستا قوم دواړه برابر وئ نو مونږ ستا امتیاز اوکړو په وحی سره .

د ازواج مطهراتو مشوره چه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه په پټه ئې کړې وه او کله چه پیغمبر یو بی بی ته اطلاع ورکړه او ورته ئې او وئیل چه بلې ته به نه وائې .

(۳) دد ے تذکره په سورة **تحریم** کښ کوی :

«وَإِذْ أَسَرَّ النَّبِيُّ إِلَى بَعْضِ أَزْوَاجِهِ حَدِيثًا فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِ وَأَظْهَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهُ وَأَعْرَضَ عَنْ بَعْضٍ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِ قَالَتْ مَنْ أَنْبَأَكَ هَذَا قَالَ نَبَّأَنِيَ الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ (۳)»

کله چه پټه خبره وکړه رسول الله صلی الله علیه وسلم بعض بیبیانو ته یوه خبره نو هر کله چه خبر ورکړو دغه بی بی بلې ته او خبر کړو الله پیغمبر په هغه وے ښودل بعض او مخ ئې واړوو د بعض نه کله چه د راز نه خبر کړے نو وے وئیل چا تاته خبر درکړے ؤ دے نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل خبر راکړو ماته پوهه ذات چه خبر دار دے .

نو معلومه شوه چه پیغمبر مُنبئ عن الغیب دے او دا دلیل دے چه دا پیغمبر برحق دے .

واقعه د یوسف علیه السلام او د وروڼرو نو حضور صلی الله علیه وسلم په تفصیل سره بیان کړه د ابتداء نه تر آخره پورے نو په آخر کښ ذکر کوی :

(۴) سورة یوسف : «ذَٰلِكَ مِنْ أَنبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ أَجْمَعُوا أَمْرَهُمْ وَهُمْ يَمْكُرُونَ (۱۰۲)»

دا خبر د غیب دے چه وحی کوو تاته او نه وے ته ددوئی سره کله چه دوئی اتفاق کړے وو په کارونوخپلو کښ او دوئی سازش کونکی وو .

درے خبرے دے آیت کښ ثابت شوے یو دا چه دا پیغمبر برحق دے دویم دا چه دے مُنبی عن الغیب دے او دریمه دا چه د ته وحی کیږی د الله د طرفنه .

**صفت د نبی آمی** : امی هغه چاته وائی چه ان پړ نالوسته وی اوس قاعده او دستور ددنیا دادے چه نالوستی په څه نه پوهیږی نالوستی عموما مؤثره خبره نشی کولے ، د نالوستی په خبرو کښ د اعتراض گنجائش زیات وی لیکن رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ددینه چه موصوف دے په صفت د امیت سره سره ددینه افصح الفصحاء ابلغ البلغاء ، اعرب العرباء ، او فصیح تر شخصیت داسے فصیح تر چه په دنیا کښ داسے فصیح څوک نشته داسے بلیغ چه داسے بلیغ په دنیا کښ څوک نشته نو دا د نبوت او د پیغمبرئ دلیل دے .

بلاغت وائی هم دیته چه د هر چا د شان او د موقع او د محل موافق خبرے کول او دا هغه چاته پته لگی چه چا فن حدیث ونیلے وی .

پیغمبر علیه السلام ونیل ندی کړی چرته مدرسه کښ ندے پاتے شوے یونیستئ کښ ندے پاتے شوے پی ایچ ډی ئے نه وه کړے او سره ددینه څه ناشنا حکمونه د معروف کوی او څه ناشنا طریقے سره منکر رد کوی او د

Scanned by CamScanner

پاکیزو څیزونو د حلت اعلانونه کوی او د پلیتو څیزونو د حرمت اعلان کوی .

(۵) دا تذکره په سورة **اعراف** کښ کوی :

«الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ (۱۵۷)»

هغه خوک چه تابعداری کوی د الله د پیغمبر چه خبرونکے دے خلقو لره په پیغامونو د الله نالوستے چه بیا مومئ صفت د هغه لیکل شوے په توراة او انجیل کښ امر به کوی دوئی ته په هره نیکئ او منع کوی به دوئی لره د هرے بدئ نه او حلالوی به د دوئی دپاره پاک څیزونه او حراموی به په دوئی پلیت څیزونه .

په سورة قصص کښ هم دغه تذکره ده چه دے خو نالوستے دے سره ددینه د عربو مشرکانو فصحاوو ، بلغاوو ته ئے چیلنج ورکړے دے لکه شیخ به وئیل : امیت کی باوجود فصحاء عرب کو تنگ پایا — عربو ته ئے پېزوان واچوو .

(۶) سورة **قصص** کښ ذکر کوی : «قُلْ فَأْتُوا بِكِتَابٍ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ هُوَ أَهْدَى مِنْهُمَا أَتَّبِعْهُ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ (۴۹)»

او وایه دوئی ته راوړئی یو کتاب د الله د طرفه چه ددینه زیات وی په هدایت کښ .

Scanned by CamScanner

# صداقته بشهادة الله

د پیغمبر علیه السلام صداقت په ګواهئ د الله سره الله د خپل نبی د نبوت ګواهی کوی لکه د یو مدعی دعوی مضبوطیګی په ګواهـانو او په شواهدو سره او د پیغمبر علیه السلام د پیغمبرئ ګواه الله بذات خود دے .

(۱) لکه په سورة آلعمران کښ ذکر دی :

«قَالَ فَاشْهَدُوا وَأَنَا مَعَكُمْ مِنَ الشَّاهِدِينَ (۸۱)»

الله وائی ګـواه شـئ پـه نبـوت ددے پیغمبـر او زه هـم تاسـو سـره د شاهدانو نه یم په نبوت د پیغمبر .

(۲) په سورة رعد کښ الله رب العزت پخپله هم شـاهدی ورکـوی او علماء ربانیین هم ګواه کوی :

«وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَسْتَ مُرْسَلًا قُلْ كَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِنْدَهُ عِلْمُ الْكِتَابِ (۴۳)»

وائی کافر چه ته پیغمبر نه ئے او وایه کافی دے الله ګواه زما اوستاسـو په مینځ کښ او ګواهان دی زما په نبوت هغه خلق چـه د چا سـره علـم د کتاب دے .

مقصود ددے آیتونو نه صداقته بشهادة الله دے وصداقته بشهادة اهـل الکتاب ومن عنده علم الکتاب .

کله چه رسالت ثابت شو پـدے آیتونـو سـره نـو اوس اطاعـت ددے پیغمبر واجب دے .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# وجوب طاعته على الخلق

د الله د طرفنه په مخلوق خپل باندے د نبی اطاعت لازم کولو تذکره په سورة آل عمران کښ پدے شان سره کړیده : « قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ (٣٢)» تابعداری اوکئ د الله او د رسول .

**ترقی** : طاعة الرسول طاعة الله دے او طاعة الله طاعة الرسول دے تائيد د سورة **نساء** نه : «مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ (٨٠)» چاچه تابعداری اوکړه د پيغمبر په تحقيق سره ده تابعداری وکړه د الله .

# بيعة الرسول بيعة الله

د نبی سره بيعت دا بيعت د الله دے سورة **فتح** ١٠ کښ دی :

«إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ »

بيشکه هغه خلق چه بيعت کوی په لاس ستا باندے بيشکه دوئی بيعت کوی د الله سره .

# حصر محبة الله ومغفرته في اتباع الرسول

الله خپله مينه او بخنه حصر کړے ده په تابعدارئ د پيغمبر سره چه څوک د پيغمبر عليه السلام تابعدار وی الله به ورته ګناهونه معاف کړی الله

به ورسره مینه کوی او که چا د نبی تابعداری اونه کړه نو مغفرة الذنوب او د محبت باری تعاری نه به محرومه وی .

سورة آلعمرآن کښ دی چه د نبی تابعداری وکړے نو بخنه به درته وکړم : «قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ (۳۱)»

اوایه کچرے تاسو مینه کوئ د الله سره نو زما تابعداری وکئ مینه به وساتی تاسو سره الله او بخنه به وکړی تاسو ته د گناهونو ستاسو .

# حصر الهداية فى اتباع الرسول

الله د هدایت انحصار د پیغمبر په تابعداریٔ کښ ایښے دے لکه چه په **سورة نور** کښ ذکر دی :

«قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ وَإِنْ تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا (۵۴)»

او وایه تابعداری د الله او د رسول وکئ کچرے تاسو اعراض وکړو نو پیغمبر باندے زمواری د هغه شی ده چه ده بار کړی دی ( هغه شے چه د هغه بیان دے ) او په تاسو باندے زمه واری د هغه څه ده چه تاسو بار کړه که تاسو تابعداری وکړه د پیغمبرانو نو هدایت به شیٔ .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# توقف الایمان علی اتباع الرسول

ایمان موقوف دے په تابعدارئ د پیغمبر د هر انسان د مسلمان کیدلو دپاره تابعداری د پیغمبر شرط ده .

دغه بیان په سورة **النساء** کښ ذکر دے :

«فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُم (٦٥)»

قسم دے ستا په رب چه دوئی مؤمنان نه دی تر څو پورے چه حاکم اونه ګرځوی تالره .

# ترغیب الی اطاعة الرسول

د پیغمبر پاک صلی الله علیه وسلم تابعداری وکئ ځکه چه د پیغمبر تابعداری الله فوز عظیم ګرځولے ده .

لکه چه په سورة **النساء** کښ دی :

«وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (١٣)»

او چاچه تابعداری وکړه د الله او د رسول د الله داخل به ئے کړی باغونو ته چه بهیګی به لاندے د هغو نه نهرونه همیشه به اوسیګی به هغو کښ او دغه کامیابی لویه ده .

«وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ(نساء ٦٩)»

Scanned by CamScanner

چاچه تابعداری د الله اود رسول وکړه دے به ملګرے وی د هغه کسانو سره چه انعام کړے دے الله په هغوئی بانــدے د پیغمبرانو نه د رشتونو شهیدانو نه د نیکانو نه .

سورة التوبة کښ الله رب العزت ذکر کوی چه تابعداری د رسول سبب د رحمت د الله تعالی دے :

«وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ (٧١)»

ایماندار تابعداری د الله او د رسول کوی دغه خلق یقینا رحم به اوکړی په دوئی باندے الله .

سورة فتح ١٧ کښ الله رب العزت بیانوی چه تابعداری د پیغمبر سبب لدخول الجنة سبب دے د داخلیدو د جنت :

«وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَار»

چه چا تابعداری دالله او د رسول اوکړه داخل به کړو جنتونو ته چه روانے به وی د لاندے د ونو د هغے نه نهرونه .

# الاداب فی اطاعة الرسول

په قرآن کریم کښ الله خائے په خائے آداب ذکر کوی چه د پیغمبر تابعداری وکړئ لکه سورة فتح کښ الله فرمائی :

«لِتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُ (٩)»

ایمان راوړئ په الله او په رسول باندے مدد او عزت اوکړئی ددے پیغمبر .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام

په سورة **الحجرات** کښ ډير آداب ذکر کوی چه د پيغمبر تابعداری

اوکړئ :

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (١) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ (٢)»

اے ايمان والو مه مخکښ کيږئ د الله او د رسول نه ، اے مؤمنانو مه اوچتوئ خپل آواز د نبی په آواز باندے .

دا آداب دی چه د نبی خبرے نه خپله خبره مه مخکښ کوئ د نبی په مرضئ خپله مرضی مه مخکښ کوئ بل ادب دا چه په مجلس د نبی کښ په زوره خبره مه کوئ د نبی په صوت باندے خپل صوت ته فوقيت مه ورکوئ د نبی د حديث په مقابله کښ خپله رائے مه مخکښ کوئ .

په سورة **النور** کښ دا آداب بيانوی چه پيغمبر عليه السلام ته به دغه شان آواز نه کوئ څنګه چه تاسو يوبل ته آواز کوئ مثلا داسے به نه وائے چه يا عبدالله يا محمد :

«لَا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا (٦٣)»

مه ګرځوئ آواز کول پيغمبر ته پشان د آواز کولو ستاسو يو بل ته .

# التحذير بترك طاعته

تحذير په پريښودلو د تابعدارئ د پيغمبر يعنی د نبی اطاعت پريښودلو باندے سزا .

Scanned by CamScanner

په سورة **النور** کښې ذکر کوی چه څوک د نبی اطاعت نه کوی نو هغه مؤمن نه دے :

« وَيَقُولُونَ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالرَّسُولِ وَأَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلَّى فَرِيقٌ مِنْهُمْ مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ وَمَا أُولَئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ (٤٧)»

او وائی چه مونږ ایمان راوړے دے په الله او په رسول او اطاعت کوو بیا اعراض کوی یوه ډله ددوئی نه او نه دی دوئی مؤمنان .

«فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (٦٣)»

خان دے اوساتی هغه خلق چه خلاف کوی د امر د نبی دا چه اوبه رسی دوئی ته سخت ترین عذاب .

سورة **النساء** کښې دی چه چا خلاف د نبی اوکړو نو جهنم به ئے ځائے وی :

«وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا (١١٥)»

چاچه خلاف اوکړو د پیغمبر پس ددینه چه واضحه شوه ده ته طریقه د پیغمبر او دے روان وی بغیر د لار د مؤمنانو نه نو بو به خو مونږ د لوره جهنم طرف ته او څه بد ځائے د ورتلو دے .

سورة **محمد** کښې الله فرمائی چه په ترک د تابعداریٔ د نبی سره حبط اعمال راځی :

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

«إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَشَاقُّوا الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى لَنْ يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا وَسَيُحْبِطُ أَعْمَالَهُمْ (۳۲)»

یقینا هغه خلق چه کفرئے کړے دے او اړول کوی د لارے د الله نه او خلاف کوی د رسول نه پس د هغه نه چه واضحه شو دوئی ته هدایت هیچرے ضرر نشی رسولے دوئی الله ته د هیڅ شی او زر دے چه برباد به کړی عملونه ددوئی .

# المقصد الثالث من المقاصد المهمة

# صداقة الكتاب اعنی صدق القرآن

## لها عنوانات

قرآن کریم د الله برحق کتاب دے ، دے تعریف دپاره به اساتذه کرامو اسانه خبره کوله چه هغه سورتونه چه ذواة الراء دی هغه پدے مقصد الله رانازل کړی دی د قرآن کریم په عظمت او د قرآن کریم په صداقت باندے .

لکه د ذواة الراء نه سورة **الحجر** دے دیکښ الله فرمائی :

«الر تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ وَقُرْآنٍ مُبِينٍ (۱)» دا آیتونه د قرآن واضح دی .

هم دغه شان په سورة **الرعد** کښ هم بیانوی :

«تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ وَالَّذِي أُنزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ الْحَقُّ»

Scanned by CamScanner

داآیتونه د کتاب چه تاته راغلی دی د طرفه درب نه بالکل حق دی .

سورة **اعراف** کښ الله فرمائی : «كِتَابٌ أُنزِلَ إِلَيْكَ فَلَا يَكُنْ فِي صَدْرِكَ حَرَجٌ»

دا کتاب رالیږل شوے دے تاته پیدا دے نشی په سینه ستا کښ تنګسیا .

## (۲) د شاعرانو صداقت په قرآن کریم باندے

تفاسیرو اکثر د شعراوو شهادتونه ذکر کړی دی د قرآن په صداقت باندے .

### شهادة د انیس

لکه شهادت د انیس مشهور دے چه تفسیر قرطبی ج ۱ ص ۷۵ ذکر کړے دے وفي صحيح المسلم حديث رقم ۸۶۸ ، ۲۴۷۳ .

«أن أنيسا أخا أبي ذر قال لأبي ذر : لقيت رجلا بمكة على دينك يزعم أن الله أرسله قلت فما يقول الناس قال : يقولون شاعر كاهن ساحر وكان أنيس أحد الشعراء قال أنيس لقد سمعت قول الكهنة فما هو بقولهم ولقد وضعت قوله على أقراء الشعر فلم يلتئم على لسان أحد بعدي أنه شعر والله إنه لصادق وإنهم لكاذبون»

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

د ابوذر رضی الله عنه وروړ ابوذر رضی الله عنه ته او وئیل چه په مکه کښ یو سړے ما اولیدو چه د هغه او ستا دین یو دے ، ابوذر وائی ما ورته اوئیل خلق د هغه په باره کښ څه وائی هغه اوئیل ځوک ورته شاعر وائی ځوک ورته کاهن وائی ځوک ورته ساحر وائی ابوذر انیس ته اوئیل چه ته څه وائے انیس وائی ما خو د ډیرو کاهنانو خبرے اوریدلی دی خو دده خبره د کاهنانو موافق نه ده او ما خو کیخودله دده خبره په انواعو د آوازونو د اشعارو باندے دا خبره نه جوړیګی په ژبه زما او پوهه به نشی په ژبه د بل چا زما نه بعد چه دده خبره شعر ده نتیجه واقعی دے رشتونے دے او دوئی دروغجن دی .

## واقعه د طفیل بن عمر الدوسی

تفسیر نظم الدرر د امام بقاعی ج ۱۵ ص ۵۳۶ کښ یو واقعه ذکر کړے ده طفیل بن عمر الدوسی ذکر کوی :

«لقد اكثروا عليّ في أمره حتى حشوت في أذنيّ الكرسف خوفاً من أن يخلص إلى شيء من كلامه فيتفني ، ثم أراد الله بيّ الخير فقلت : واثكل أمي إني والله لبيب عاقل شاعر ، ولي معرفة بتمييز غث الكلام من سمينه ، فما لي لا أسمع منه ، فإن كان حقاً تبعته ، وإن كان باطلاً كنت منه على بصيرة - أو كما قال ، قال : فقصدت النبي ( صلى الله عليه وسلم ) فقلت : اعرض عليّ ما جئت به ، فما توقفت في أن أسلمت»

ماته خلقو ابوجهل وئیل چه دلته یو سړے دے ډیر لوئے شاعر دے خواته ئے لاړ نشے چه ګمراه نشے ، بے دینه نشے دے خلقو چه زه ډیر

اوبرولم نو ما په غوګونو کښ مالوچ کیخودل چه چرے دده دا خبره زما زړه ته ځکته نشی او زه ګمراه نشمه خو الله زما په باره کښ د خیر فیصله کړے وه نو ما ځان ته وئیل چه اے مور مړیه ته خو ډیر لوئے شاعر او اوښیار سړے ئے د خه او بد تمیز کولے شے واوره دده دا خبرے که رشتیا نے وئیلے خو تابعداری به ئے کوے که غلطے ئے وئیلے نو ته خو په بصیرت باندے ئے انکار به ترے اوکړے دے وائی نو ما قصد اوکړو د رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ورته وئیل چه پیش کړه ما ته هغه چه تا په هغه باندے راتله کړی دی هر کله چه محمد ( صلی الله علیه وسلم ) په ما باندے خپلے خبرے پیش کړے ( یعنی قرآن کریم ئے او وایه ) زما مور او پلار دے ترے زار شی داسے ښائسته خبره د انصاف ما د بل چانه نه وه اوریدلے نو ما هیڅ توقف اونه کړو فورا ما کلمه د شهادت اووئیله .

## واقعه د ضماد

مشکواة ( حدیث رقم ۵۸۶ مسلم رقم ۱۴۲۶ ) ص ۵۲۵ کښ د ضماد واقعه ذکر کړیده ضماد وئیل زه په لیونو باندے دمونه اچومه چا ورته وئیل دلته یو ځوان دے لیونے شوے دے العیاذ بالله که ده باندے دم راچوے نو دا به ډیره خه وی که ستا په دم روغ شی ، دے راغلو او نبی علیه السلام ته ئے اوئیل چه زه راغلے وومه دلته مکے ته ، خلقو وئیل چه دلته یو سړے لیونے شوے دے او زه په لیونو دمونه اچومه که ستا اجازت وی

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

نو په تا به هم دم واچومه خو اخلاق پیغمبر بانـدے دے هر سړے ځان اوتلی چه کور او کلے ستا وی.او یو سړے تاته راشی او وائی چه ماته چا وئیلی دے چه ته لیونے ئے دیخواته راشه چه دم دربانده واچومه نـو تـه بـه څه وائے ؟ یقینا چه ته به ورته وائے چه ته لیونے ئے ستا پـلار لیـونے دے ستا هغه .... ..

رسول الله صلی الله علیه وسلم ضماد ته.او وئیل چه دا خلق ماتـه پـه کومو خبرو لیونے وائی هغه زه تاته اوایمه بیا ستا انصاف دے کـه زه لیونے یمه نو دم مے کړه او که لیونے نه یمه نو دم به شے ، پـه حـدیث کښې راځی حضور صلی الله علیه وسلم هغه خطبه او وئیله چـه کومـه خطبـه پـه اول د تقریر کښې وائی .

ان الحمد الله نحمده ونستعینه من یهده الله فلا مضل له ومن یـضلل فـلا هـادی لـه واشـهد ان الا الـه الا الله وحـده لاشـریک لـه واشهد ان محمدا عبده ورسوله اما بعد :

کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا په ترتیب سـره اوئیلـه هغه ورته اوئیل « اعد علی کلماتک» چه دا کلمات راتـه بیـا اوایـه رسـول الله صلی الله علیه وسلم ورته بیا وئیل بیا راته اوایـه رسـول الله صـلی الله علیه وسلم ورته بیا اووئیل ضماد ووئیل :

لقـد سـمعت قـول الکهنـة وقـول الـسحرة وقـول الـشعراء فما سـمعت مثـل کلماتـک هـؤلاء ولقـد بلغنـا قـاموس البحـر هـات یدک ابایعک علی الاسلام قال فبایعه .

ما اوریدلی دی خبرے د کاهنانو د ساحرانو او د شاعرانو لیکن ما ندی اوریدلی پشان د خبرو ستا چه دا تا اوئیل تحقیق سره مونږ رسیدلی وو غوبو د دریاب ته یا جور والی د دریاب تـه زه ستا پـه لاس بانـدے بیعت کومه او اسلام راوړمه .

☆☆

صداقت رسول او صداقت قرآن څنګ په څنګ( [1] ) او اوګه په اوګـه روان دے مقصد دا چه دا قرآن د الله د طرف نه رالیږل شوے دے نو دا د پیغمبر په حقانیت باندے دلیل دے « هوالذی انزل علیک الکتاب» الله هغه ذات دے چه رالیږلے دے په تا باندے کتاب .

قرآن کریم د الله برحق کتاب دے ولے چه الله ته ئے نسبت شـوےدے په اعتبار د نزول ، نو دا قرآن منزل من الله هم دے دغه شان دریـم آیـت کښ هم دی « نزل علیک الکتاب بالحق » .

الله رالیږلے دے په تا باندے کتاب په رشتیا .

سورة النساء(۱۱۳) کښ ذکر دی :

«وَأَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَم »

اورالیږلے دے الله په تا باندے کتاب او حکمت او خودنه ئے کړے ده د هغه علومو چه تاته پته نه وه .

---

[1] قرآن کریم کښی په ګڼرو ځایونو کښی صداقت رسول او صداقت قران په یو آیت کښی ذکر شوی دے لکه سورة بقره ۱۲۹ ، ۱۰۱ ، ۲۳ ، العمرآن ۵۳ ، ۱۴۶ ، ۱۰۱ ، ۶۸ ، نساء ۱۷۴ ، ۱۳۶ ، مائده ۶۷ ، ۱۵ .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

سورة **انعام** (۱۱۴) کښ د قرآن کریم نسبت نزولی الله ته شوے دے چه دا قرآن د الله د طرف نه رالیږل شوے دے .

«أَفَغَيْرَ اللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا وَهُوَ الَّذِي أَنْزَلَ إِلَيْكُمُ الْكِتَابَ مُفَصَّلًا»

آیا بغیر د الله نه زه ولټومه فیصله کونکی اوالله هغه ذات دے چه رالیږلے تاسو ته کتاب واضح شوے .

## (۳) القرآن وحی من الله

قرآن د الله د طرف نه وحی شوے ده .

په سورة **النساء** کښ الله فرمائی :

«إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَى نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِنْ بَعْدِهِ (۱۶۳)»

یقینا وحی کړیده مونږ تاته پشان د هغه چه وحی کړیده مونږ نوح علیه اسلام ته او نورو انبیاء ته پس د هغه نه .

سورة **الرعد** کښ دی چه هغه کتاب چه تاته وحی شویده هغه په خلقو باندے اولوله « لتتلو علیهم الذی اوحینا الیک (۳۰)» چه اووائے ته پدے خلقو باندے هغه کتاب چه مونږ تاته وحی کړیده .

سورة **بنی اسرائیل** کښ ذکر دی چه دا کتاب وحی محکمه ده:

«ذَلِكَ مِمَّا أَوْحَى إِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ الْحِكْمَةِ (۳۹)»

دا مذکوره حکمونه دا هغه دی چه رالیږلی دی تاته ستا رب د محکم حکمونو نه .

Scanned by CamScanner

# (۴) موافقت کتب سماویه

د قرآن کریم صداقت باندے دلیل دادے چه ددے موافقت کتب سابقه سماویو سره دے تائید دپاره سورة النساء(۴۷) :

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ آمِنُوا بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِمَا مَعَكُمْ»

اے هغه خلقو چه درکړے شوے دے تاسو ته کتاب ایمان راوړی په هغه چه نازل کړی دی مونږ چه تصدیق کونکے د هغه دی چه ستاسو سره دی .

مصدق وائی ددے کتاب د کتب سماویو سره دا دلیل د صداقت د کتاب دے سورة بقره کښ هم دغه شان ذکر شوی دی :

«وَآمِنُوا بِمَا أَنْزَلْتُ مُصَدِّقًا لِمَا مَعَكُمْ (۴۱)»

او راوړئی ایمان په هغه کتاب چه مونږ رالیږلے دے تصدیق کونکے دے ستاسو د کتابونو .

سورة مائده (۴۸) کښ ذکر کوی چه دا قرآن د مخکنو کتابونو چه څومره ذکر شوی دی د هغه مصدق دے :

«وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ»

او مونږ رالیږلے دے تاته کتاب دپاره د اظهار د حق چه تائید او تصدیق کونکے دے د هغه کتابونو چه ددینه نه مخکښ تیرشوی دی .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبة الاشاعت ڈاٹ کام

## (۵) نفی الافتراء عنه

مشرکینو به اعتراضات کول چه دا قرآن کریم مفتراء یعنی خود ساخته دے ځان نه جوړ شوے دے الله ددے رد کوی چه دا الله رالیږلے دے چا بنده د ځان نه ندے جوړ کړے ځکه چه بندیگان داسے کتاب نشی جوړولے.

سورة **یونس** کښ الله فرمائی :

«وَمَا كَانَ هَذَا الْقُرْآنُ أَنْ يُفْتَرَى مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلَكِنْ تَصْدِيقَ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ الْكِتَابِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ (۳۷)»

او ندے دا قرآن چه جوړ شی بغیر د الله نه لیکن دا قرآن تصدیق کونکے د هغه کتابونو دے چه ددینه مخکښ دی او تفصیل د حکمونو لیکل شوو دے نشته شک پدیکښ د طرفه د رب د مخلوقاتو نه .

سورة **یوسف** کښ هم ذکر کوی چه دا کتاب بل چا ندے جوړ کړے : «مَا كَانَ حَدِيثًا يُفْتَرَى وَلَكِنْ تَصْدِيقَ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَيْءٍ (۱۱۱)»

ندے دا قرآن جوړ شوے د مخلوق نه لیکن دے خو تصدیق کونکے د مخکښ کتابونو دے او پدیکښ وضاحت د هرے مسئلے دے .

سورة **السجده** (ال تنزیل) کښ ذکر کوی چه دا قرآن حق دے د الله د طرفه :

«أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ بَلْ هُوَ الْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ»

Scanned by CamScanner

وائی دوئی چه د ځان نه جوړ شوے دے دا قرآن بلکه دا حق دے ستا د رب د طرفنه .

نفی د افتراء نه صداقت د قرآن باندے دلیل دے چه دا الله جوړ کړے دے او مخلوق ندے جوړ کړے هر کله چه دا خبره ثابته شوه نو بل عنوان دادے :

## (۶) الامر باتباع القرآن :

امر په متلو د قرآن سره په وئیلو او په تابعداری سره ځکه چه دا د الله کتاب دے .

سورة **قیامة** کښ الله رب العزت امر کوی د وئیلو د قرآن :

«فاذا قرانه فاتبع قرآنه (۱۸)»

کله چه مونږ اوایو په تا باندے قرآن نو ته تابعداری وکړه د لوستنے د قرآن .

سورة **زمر** کښ هم دی چه تابعداری د الله د کتاب اوکړئی :

«وَاتَّبِعُوا أَحْسَنَ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَكُمُ الْعَذَابُ بَغْتَةً وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُونَ (۵۵)»

او تابعداری اوکړئی د خائسته هغه چه نازل شوی دی تاسو ته د رب ستاسو نه مخکښ ددینه چه راشی تاسو ته عذاب ناڅاپه او تاسو به خبر نه یئ .

سورة **انعام** کښ الله فرمائی چه دا کتاب سیده لاره ده ددے تابعدار شئ : « وان هذا صراطی مستقیما فاتبعوه (۱۵۳)»

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

او یقینا دا قرآن لاره زما ده نیغه پس تابعداری ئے او کړئی .

«وَهَذَا كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ فَاتَّبِعُوهُ وَاتَّقُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ (١٥٥)»

او دا کتاب چه رالیږلے مونږ د برکت نه ډک شوے پس تابع شئ

دده او اویریګئ دپاره دده چه په تاسو رحم اوشی .

هر کله چه دا قرآن کتاب الله دے ، منزل من الله دے ، غیر مفتری

من جهة العباد دے نو اتباع د قرآن کریم اوکړئ او د اتباع معنی الامر

بالتحکیم یعنی فیصله په قرآن کریم کول .

## (۷) الامر بالتحكيم

ایجاب التحکیم به — یعنی امر په حاکم د کتاب ګرځولو په مینځ

خپل کښ — واجب ده داخبره چه قرآن په خپل مینځ کښ فیصله کن

اوګرځولے شی .

سورة مائده کښ الله حکم کړے دے چه فیصله به پدے کتاب کوئ

: «فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ (۴۸)»

فیصله کوه په مینځ د خلقو کښ په قرآن .

سورة النساء کښ الله فرمائی چه فیصله زما په کتاب او کړئی :

«فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ» پس که جګړه اوکړه تاسو په

څه شی کښ پس وګرځوئ فیصله د هغے الله ته ( یعنی کتاب د الله ته ) .

Scanned by CamScanner

# (۸) شهادت د علماء په صداقت د قرآن باندے

پخوانو علماء منله چه قرآن د الله برحق کتاب دے .

لکه سورة **انعام** کښ دی :

«وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْلَمُونَ أَنَّهُ مُنَزَّلٌ مِنْ رَبِّكَ بِالْحَقِّ»

هغه خلق چه ورکړے مو دے ورته کتاب هغوئی یقین کوی چه دا کتاب راليږلے شوے دے ستا د رب د طرفه .

سورة **مائده** کښ الله د نجاشی بادشاه تذکره کوی فرمائی :

«وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَمَا جَاءَنَا مِنَ الْحَقِّ»

او څه شوی دی مونږ لره چه ایمان نه راوړو په الله او په هغه څه چه راغلی دی مونږ ته د حق نه .

سورة **رعد** کښ الله فرمائی :

«وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَفْرَحُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ (۳۶)»

هغه خوانان چه مونږ ورته ورکړے دے کتاب خوشحالی کوی په هغه کتاب چه تاته راليږلے شوے دے .

سورة **النساء** کښ الله خپل او د ملائک شهادت په قرآن کریم باندے ذکر کوی :

«لَكِنِ اللَّهُ يَشْهَدُ بِمَا أَنْزَلَ إِلَيْكَ أَنْزَلَهُ بِعِلْمِهِ وَالْمَلَائِكَةُ يَشْهَدُونَ وَكَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا (۱۶۶)»

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

لیکن الله گواهي کوي د هغه کتاب چه تاته رالیږلے دے په خپل علم سره او ملائک هم گواهي کوي او کافي دے الله په گواهۍ کښې.

## (۹) عجز الخلائق عن الاتیان بمثله

قرآن د الله برحق کتاب دے ولے چه مخلوق ددے په مثل راتله نشي کولے . لکه سورة بقره کښې الله ذکر کوي :

«وَإِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ (۲۳)»

که یۍ تاسو په شک کښې د هغه مسئلے نه چه مونږ رالیږلے ده په خپل بنده باندے راوړئ یو سورة پشان ددے او رامدد کړئ خپل مددگاران سیوا د الله نه که یئ تاسو رشتنے .

هم دغه شان په سورة یونس کښې ذکر کوي :

«قُلْ فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِثْلِهِ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ (۳۸)»

اوایه دوئی ته راوړئی یو سورة په مثل ددے او راوبلئ هغه څوک چه طاقت ئے لرئ تاسو سیوا د الله نه کچرے یئ تاسو رشتنے .

په سورة بنی اسرائیل کښې هم دغه شان تذکره کوي فرمائي :

«قُلْ لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِ هَذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا (۸۸)»

Scanned by CamScanner

اوایه دوئی ته که راتول شی انسانان او پیریان چه راتلل اوکری دوئی پشان ددے قرآن راتلل نشی کولے دوئی پشان ددے قرآن اگر که شی بعض د بعض مددگاران .

## (۱۰) الانعام علی تلاوته

د انسان په مزاج کښ لالچ پروت دے او انسان حریص دے نو ددے په تلاوت باندے انعامات هم ذکر کوی لکه ماشوم چه سرے چرته بوزی نو هغه ورته وائی چه څه به راباندے خورے ؟ نو هم دغه شان انسان هم لالچی دے نو الله د قرآن کریم په تلاوت باندے انعامات .

سورة **فاطر** کښ ذکر کوی :

«إِنَّ الَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنْفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَارَةً لَنْ تَبُورَ (۲۹) لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ إِنَّهُ غَفُورٌ شَكُورٌ (۳۰)»

هغه څوک چه وائی کتاب د الله او پابندی کوی د مونځونو او دوئی خرج کوی په پټه او په ښکاره امید سالی دوئی دداسے تجارت چه نه کوته کیدو والا دے الله به پوره ورکری دوئی ته اجر د اعمالو الله به زیاتوالے اوکری دوئی ته په احساناتو خپلو کښ بیشکه الله بخونکے قدردان دے .

په سورة **اعراف** کښ وائی چه الله به ئے اجر نه بربادوی :

«وَالَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِالْكِتَابِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُصْلِحِينَ (۱۷۰)»

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

هغه څوک چه منګولے لګوی د الله په کتاب او پابندئ سره اداء کوی مونږ مونږ نه بربادوو اجر د مصلحينو .

تتمه د آيت کښې ئے لفظ د مصلحين راوړو اشاره ده دے خبرے ته چه عمل کول په قرآن اصلاح ده بيانول د قرآن اصلاح ده درس وتدريس اصلاح ده ځکه ئے مصلحين ذکر کړو .

# المقصد الرابع من المقاصد المهمة

# هوالايمان بالاخرة

قرآن کريم ايمان بالاخرة ثابتوی د اصولو نه لکه الله منل ځنګه چه الله وائی ، رسول د الله منل ، کتاب د الله منل ، نو دے سره آخرة هم منل والبعث بعد الموت مرګ نه بعد دوباره زندګی قيامت حشر نشر ، حساب وکتاب جزا وسزا جنت او جهنم منلو ته ايمان بالاخرة وائی .

شيخ رحمه الله به وئيل چه بعض مکمل سورتونه ددے مسئلے د وضاحت دپاره دی لکه ذاريات طور انزلت لتفصيل هذا المقصد بيا به ئے دا هم وئيل چه د سورة قيامة نه تر سورة اعلى پورے دا ټول سورتونه په ايمان بالاخرة باندے ذکر دی ددے ټولو سورتونو موضوع ايمان بالاخرة ده او دا سورتونه ددے مقصد دپاره الله رالیږلی دی چه قيامت برحق دے آخرت يقيني دے مرګ نه بعد ژوند يقيني دے او پديکښې هيڅ قسم شک نشته .

Scanned by CamScanner

لکه سورة ق کښې راځي :

«وَأَحْيَيْنَا بِهِ بَلْدَةً مَيْتًا كَذَلِكَ الْخُرُوجُ (۱۱)»

او تازه کوو مونږ په سبب د باران کلی بنجر هم دغه شان دی وتل ستاسو د قبرونو نه .

لکه څنګه چه د بره نه باران اوورېږي او د زمکې نه تیغونه راخیجي دغه شان وتل دی د قبرونو نه ستاسو ، حکم د باری تعالی به اوشي او انسانان به د قبرونو نه راروان شي میدان حشر ته :

سورة ذاریات کښې الله ذکر کوي :

«إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٌ (٥) وَإِنَّ الدِّينَ لَوَاقِعٌ (٦)»

بیشکه هغه څه چه تاسو سره ئې وعده کیدې شي خامخا دے رشتونې او قیامت یقیني دی .

سورة طور کښې الله فرمائي : «إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ (٧) مَا لَهُ مِنْ دَافِعٍ (٨)»

عذاب د رب ستا خامخا واقع کیدنکې دے نشته د هغې څوک په شا کونکې .

دے آیتونو کښې دا خبره ثابته شوه چه د آخرت وجود یقیني دے .

شیخ القرآن لیکلی دی چه قرآن کریم اثبات د قیامت بحثیت دعوی نه ذکر کوی بلکه بحثیت ثمره ذکر کوی ( العرفان فی اصول القرآن ) .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# قیاسات

امام رازی رحمه الله وائی چه قرآن کریم اثبات د قیامت په ادلو نه کوی ځکه چه دا امر غیر مشاهد دے په سترګو نه ښکاره کیږی نو اثبات د قیامت په ادلو قیاسیو سره ئے کړے دے ، مختلف قیاسونو سره الله دا ثابتوی چه بعث بعد الموت شته قیامت شته ، جنت او جهنم شته ، تعذیب د مجرم او تنعیم د مؤمن شته انعامات اخرویه شته دد ے اثبات په قیاسونو کړے دے .

## (۱) قیاس الاعادة علی الابتداء

قیاس د دوباره پیدا کیدو په اول پیدا کیدو باندے چه اے انسانه ته نه وے ما پیدا کړے نو بیا به دے پیدا کړم ،

- لکه سورة **بقره** کښ الله فرمائی چه ته نه وے ما شته کړے کله چه بیا نش شے نو بیا به دے شته کړمه :

«كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللّٰهِ وَكُنْتُمْ أَمْوَاتًا فَأَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (۲۸)»

څرنګ انکار کوئی د الله په توحید حالانکه تاسو نش وئ نو مونږ ژوندی کړئ تاسو به بیا مړه شئ نو بیا به مو ژوندی کړی تاسو بیا به الله ته بیرته ورځئ ،

سورة **اعراف** کښ هم قیاس الاعاده علی البدء ذکر کوی فرمائی:

Scanned by CamScanner

« كما بدأكم تعودون (۲۹) »

څنګه چه اول پیدا کړی وئ دوباره به هم الله تاسو پیدا کړی .

سورة بنی اسرائيل کښې الله فرمائی چه چا اول پیدائش کړے دے هغه به مو بیا پیدا کړی :

«وَقَالُوا أَئِذَا كُنَّا عِظَامًا وَرُفَاتًا أَئِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا (٤٩) قُلْ كُونُوا حِجَارَةً أَوْ حَدِيدًا (٥٠) أَوْ خَلْقًا مِمَّا يَكْبُرُ فِي صُدُورِكُمْ فَسَيَقُولُونَ مَنْ يُعِيدُنَا قُلِ الَّذِي فَطَرَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ (٥١)»

او وائی چه کله مونږ شو هډوکی او زره زره شو آیا مونږ به پاڅولے شو په پیدائش نوی ، اوایه ورته شئ تاسو کټے یا اوسپنے یا داسے شے چه ګران وی په سینو ستاسو کښې (لکه ستیل) بس اوبه وائی دوئی څوک به واپس کړی مونږ لره اوایه هغه ذات چه تاسو ئے پیدا کړی یئ اول ځل .

سورة حج کښې ذکر کوی که تاسو شک کوئی د بیا پیدائش نه نو خپل تخلیق ته اوګوره چه ته په اول ځل د څه نه پیدا شوے ئے :

«يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِنَ الْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ تُرَابٍ»

اے خلقو ! که یئ تاسو په شک کښې د دوباره ژوند نه یقینا مونږ پیدا کړی یئ تاسو د خاورے نه .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# (۲) قیاس الاعادة علی خلق السماوات والارض

بعث بعد الموت یقیني دے لکه وجود د زمکے او آسمان چه یقیني دے که ته دا وائے چه زه که ریزه شومه نو څوک به مے پاسوی؟ نو دا دومره لوئے آسمان چا ټینګ کړے دے او دا دومره لویه زمکه چه نه وه نودا چا جوړه کړے ده.

سورة نازعات ۲۷ کښ دی:«انتم اشد خلقنا ام السماء بناها»

آیا تاسو ګران یئ په اعتبار د پیدائش که آسمان چه جوړ کړے دے الله.

کله چه جوړیدل د آسمان منی نو دوباره پیدائش به هم تسلیم کوی.

سورة روم ۸ کښ الله فرمائی:

«أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا فِي أَنْفُسِهِمْ مَا خَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا إِلَّا بِالْحَقِّ وَأَجَلٍ مُسَمًّى وَإِنَّ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ بِلِقَاءِ رَبِّهِمْ لَكَافِرُونَ»

آیا دوئی فکر نه کوی په ځانونو خپلو کښ چه نـدی پیدا کړی الله آسمانونه او زمکے او هغه چه په مینځ ددے کښ دی مګر په حقه سره او په نیټے مقرر شوے سره او یقینا ډیر د خلقو نه په ملاقات د رب خپل خامخا انکار کوی.

سورة یس کښ د انسان د پیدائش حالت نه پس الله فرمائی:

«قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنْشَأَهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ (۷۹)»

Scanned by CamScanner

اوایه ژوندی به ئے کړی هغه ذات چه پیدا کړی ئے دی اول ځل او
هغه په ټول مخلوق باندے پوهه دے .

## (۳) قیاس الاعادة علی احیاء الارض بعد الموت

قیاس د اعادے د آبادولو د زمکے پس د بنجر توب نه ، زمکه اوچه
شی او باران سره بیا تازه شی چه مړه زمکه الله په باران تازه کولے شی نو تا
هم د قبر نه دوباره پاڅولے شی .

سورة **زخرف۱۱** کښ ذکر دی :

«وَالَّذِي نَزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً بِقَدَرٍ فَأَنْشَرْنَا بِهِ بَلْدَةً مَيْتًا كَذَلِكَ تُخْرَجُونَ»

الله هغه ذات دے چه ورری د بره نه باران نو ژوندی کوی پدے سره
کلی بنجر دارنګے به تاسو پاسیګئ .

هم دغه شان په سورة **روم** کښ هم راغلی دی :

«وَيُحْيِي الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَكَذَلِكَ تُخْرَجُونَ (۱۹)»

ژوندی کوی دا زمکه پس د بنجر توب نه هم دارنګے را ویستل کیږئ
تاسو .

سورة **اعراف** کښ دا تذکره کوی لکه څنګه چه باران سره میوه
راوباسو نو دارنګے مړی به هم راوباسو .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

«فَأَنزَلْنَا بِهِ الْمَاءَ فَأَخْرَجْنَا بِهِ مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ كَذَٰلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتَىٰ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ (۵۷)»

: بیا راوروو مونږ په دے کلی باندے اوبه پس وباسو مونږ په سبب د دے اوبو هر قسم میوے دغه شان راوباسو مونږ مړی .

## (۴) قیاس الاعادة علی الاحیاء فی الدنیا

په دنیا کښې الله ډیر مړی ژوندی کړی دی او خلقو مشاهده کړیده نو دغه دلیل دے چه الله پس د مرګ نه انسان پاسولے شی .

لکه سورة **بقره** کښې ذکر د یو مقتول د بنی اسرائیلو کوی چه هغه الله ژوندے کړو او خپل قاتل ئے اوښودلو :

«وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا وَاللَّهُ مُخْرِجٌ مَا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ (۷۲) فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا كَذَٰلِكَ يُحْيِي اللَّهُ الْمَوْتَىٰ وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ (۷۳)»

او کله چه قتل کړو تاسو یو نفس لره پس مختلف شوئ په هغے کښې او الله ښکاره کونکے دے د هغه چه تاسو پټوئ ، پس او وئیل مونږ ووهئ دا مړے په بعض حصه ددے مړی باندے دغه رنګے راژوندی کوی الله مړو لره او ښائی تاسو ته آیتونه خپل دپاره ددے چه د عقل نه کار واخلئ .

سورة **کهف** کښې هم الله اثبات د قیامت او قیاس د اعادے ذکر کوی لکه اصحاب کهف درے سوه او نهه کاله پس الله ژوندی کړل ، نو چه دا دومره طویله مده الله اوده کولے شی او بیا ئے ویښه ولے شی نو دا مړی د قبرونو نه دوباره پاسولے هم شی .

«وَكَذَٰلِكَ أَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوا أَنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَأَنَّ السَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيهَا»

هم دغه شان دا زمونږ کمال دے خبر کړل مونږ دا خلق په دوئی باندے چه دوئی یقین اوکړی په وعده د الله په اثبات د قیامت چه رشتونے دے او په راتلو د قیامت کښ شک نشته .

## (۵) قسم د الله په اثبات د قیامت

کله اثبات د قیامت په قسم د باري تعالي سره قرآن ذکر کوی.

تائید د سورة **یونس** ۵۳ نه :

«وَيَسْتَنْبِئُونَكَ أَحَقٌّ هُوَ قُلْ إِي وَرَبِّي إِنَّهُ لَحَقٌّ وَمَا أَنْتُمْ بِمُعْجِزِينَ»

او تپوس کوی ستانه چه آیا حق دے دا قیامت اوایه ورته چه آو قسم دے وی زما د رب چه دا ورځ د قیامت بالکل حق ده .

سورة **مریم** کښ هم دغه شان ذکر کوی :

« فوربک لنحشرهم (۶۸)»

پس قسم دے د رب سعا چه مونږ به دوئي پاڅوو .

سورة **سبا** کښ دا خبره کوی چه منکر د قیامت کافر دے :

«وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَأْتِينَا السَّاعَةُ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُم (۳)»

او وائی هغه خلق چه کافران دی رابه نشی قیامت ورابه ولے نه قسم دے د رب چه خامخا رابه شی تاسو ته .

سورة **تغابن** کښ هم ورته دغه شان وائی :

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

«زَعَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنْ لَنْ يُبْعَثُوا قُلْ بَلَى وَرَبِّي لَتُبْعَثُنَّ»

وائی کافران چه پابه نخولے شی ډوئی د قبرونو نه ووایه ورته ولے نه قسم مے دے وی په رب چه خامخا به پاڅیګی .

سورة قیامت کښ ذکر کوی چه الله به ستاسو بندونه یو ځائے کړی :

«أَيَحْسَبُ الْإِنْسَانُ أَلَّنْ نَجْمَعَ عِظَامَهُ (۳) بَلَى قَادِرِينَ عَلَى أَنْ نُسَوِّيَ بَنَانَهُ (٤)»

آیا ګمان کوی انسان چه چرے راجمع به نکړو مونږ هډوکی دده ؟ ولے نه قدرت لرونکی یو مونږ پدے چه برابر کړو بندونه د ګوتو ددوئی .

## (۶) اثبات د قیامت بالتمثیل

کله د قیامت اثبات په مثالونو سره ذکر کوی .

لکه سورة دهر کښ دی : «هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ حِينٌ مِنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْئًا مَذْكُورًا (۱)»

یقینا راغلے وو په انسانه باندے یو وخت د زمانے نه وو څه شے یاد شوے .

## (۷) اثبات القیامة بالشواهد

سورة مرسلات کښ ذکر کوی : «إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَوَاقِعٌ (۷)»

یقینا هغه چه تاسو سره نے وعده کړلے شی خامخا واقع کیدونکے دے

# منکر د قیامت څوک دے؟

هر کله چه اثبات د قیامت الله رب العزت په قرآن کریم کښې په مختلفو طریقو سره بیان کړو نو د قیامت د منکر به څه حکم وی ؟ انکار د قیامت نه ضلالت او ګمراهی او کفر دے لکه په سورة اعراف کښې الله فرمائی :

«فَأَذَّنَ مُؤَذِّنٌ بَيْنَهُمْ أَنْ لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ (٤٤) الَّذِينَ يَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا وَهُمْ بِالْآخِرَةِ كَافِرُونَ (٤٥)»

آواز به اوکړی یو آواز کونکے چه لعنت دے وی د الله په ظالمانو باندے ظالمان هغه څوک دی چه منع کوی دلارے د الله نه او لټوی پدیکښې شکونه او دوئی منکر د آخرت دی .

سورة یوسف ۳۷ کښې ددے خبرے وضاحت شوے دے چه انکار د قیامت کفر دے :

«إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَهُمْ بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ »

یقینا ما پریښے دے دین دداسے قوم چه ایمان نه راوړی په الله باندے او دوئی په آخرت هم کفر کونکی دی .

سورة بنی اسرائیل کښې الله فرمائی چه منکر د قیامت دا مستحق د عذاب الیم دے :

«وَأَنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا (١٠)»

او هغه خلق چه ایمان نه راوړی په آخرة باندے تیار کړے دے مونږ دوئی لره عذاب دردناک .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

سورة **مطففین** کښې وائی چه غټ مجرم منکر د قیامت دے :

«وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِلْمُكَذِّبِينَ (۱۰) الَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوْمِ الدِّينِ (۱۱) وَمَا يُكَذِّبُ بِهِ إِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ (۱۲)»

هلاکت دے په دغه ورځ دپاره د تکذیب کونکو هغه کسانو چه تکذیب کوی په ورځ د بدلے او تکذیب نه کوی پدغه باندے مگر هر زیاتی کونکے گنهگار .

سورة **مرسلات** کښې الله لس ځلے وائی چه هلاکت دے هغه چا لره چه قیامت نه منی : «وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِلْمُكَذِّبِينَ»

هلاکت دے پدغه ورځ دپاره د تکذیب کونکو .

# د مقاصد مجموو خلاصه

په سورة **النساء** کښې په یو آیت کښې دا تیر ځلور واړه مقاصد مهمه ذکر کوی چه دا څوک نه منی نو دے گمراه دے :

«وَمَنْ يَكْفُرْ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا (۱۳٦)»

چه چا کفر اوکړو د الله د توحید نه د ملائکو نه ، د کتابونو نه ، صداقت د رسولانو نه او د راتلو د آخرت نه نو دے گمراه شو په گمراهی لرے سره .

Scanned by CamScanner

# اصول لواحق

پدے اصولو کښې جهاد انفاق تنظیم او آداب ذکر کوی .

# المقصد الخامس

# الجهاد فی سبیل الله

قرآن کریم چه کم اهم مقاصد ذکر کوی په هغه کښې جهاد یو اهم مقصد دے چونکه دلته موږ احکام د جهاد نه ذکر کوو بلکه جهاد چه په قرآن کریم کښې په کومه طریقه ذکر دے هغه بیانوو څکه چه زموږ مقصد د قرآن نه دا مضمون بیانول دی ، چه پدے مسئله کښې د قرآن څه ترتیب دے او قرآن دا مسئله څنګه بیانوی هغه مسائل د قرآن په ترتیب د قرآن کریم نه ذکر کوو .

**اول** ذکر کوو ثبوت د جهاد د قرآن کریم نه په الفاظو د جهاد سره **دویم** معنی د جهاد بیا **دریم** اقسام د جهاد ، **څلورم** ضرورت د جهاد دپاره د وجود د امیر ، **پنځم** صفات دامیر ، **شپږم** اخلاق د امیر ، **ووم** په عوام باندے اطاعت امیر ، پدے سلسله کښې به انشاء الله دا مقصد تر سره کیږی .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# (١) ذكر د جهاد په قرآن كريم كښ په الفاظو د جهاد سره

سورة صف كښ الله فرمائى :

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ (١٠) تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ (١١)»

آيا خبر دركړم تاسو ته په يو تجارت باندے چه نجات دركړى تاسو ته د عذاب دردناك نه چه ايمان راوړنى په الله او په رسول د الله باندے او جهاد كوى په لاره د الله كښ په خرچ كولو د مالونو خپلو او په زخمى كولو د ځانونو دا غوره ده ستاسو دپاره كچرے تاسو پوهيګئ .

سورة حج كښ الله فرمائي : «جاهدوا فى الله حق جهاده (٧٨)»

او جهاد اوكړئ په لاره د الله كښ مناسب جهاد .

سورة تحريم كښ الله فرمائى:

«يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ (٩)»

اے د الله پيغمبره مقابله اوكړه د كفارو او منافقينو سره او سختى اوكړه په دوئ باندے او ځائے ددوئ جهنم دے او ډيره بد ځائے دے د ورتلو .

دا احكام د جهاد په الفاظو د جهاد سره وو .

# قتال فی سبیل لله

بیا پدے جهاد کښ اهمه نوعه چه هغه ته قتال فی سبیل الله وائی په قرآن کریم کښ جهاد په لفظ د قتال هم راغلے دے .

لکه سورة **انفال** کښ دی : «يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ (۶۵)»

اے د الله پیغمبره تیزی ورکره مؤمنانو ته په جنگ کولو .

سورة **بقره** کښ الله فرمائی :

«وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ (۱۹۰)»

قتال اوکړئ د الله په لاره کښ هغه چا سره چه تاسو سره قتال کوی او زیاتے به نه کوئ یقینا الله نه خوخوی زیاتی کونکی .

**جهاد څه ته وائي** ؟ او د قرآن په اصطلاح کښ جهاد په څه معنی سره استعمالیږی ؟ قتال دا د جهاد نه غیر نه دے بلکه دا د جهاد یوه نوعه ده په جهاد کښ عموم دے لکه جهاد بالمال ، بالرباط ، بالتحریض ، بالترغیب او بالقرآن او قتال کښ خصوص دے خو په قتال باندے اطلاق د جهاد کیږی .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# معنی د جهاد

جهاد د جُهد نه دے جهد محنت او مشقت ته وائی علماء لیکی :« استفراغ ما فی وسع الانسان » جهاد د انسان مکمل طاقت خرچ کولو ته وائی ، باللسان ، بالمال بالابدان .

پدے سلسله کښ یو کتاب لیکل شوے دے چه هغه ډیر عجیب دے « مشارق الاشواق الی مصارع العشاق » لیکونکے ددے کتاب « احمد بن ابراهیم الدمشقی » مشهور په ابن نحاس دے ، مقصد ددے کتاب فضائل د جهاد او متعلقات د جهاد دی . په صفحه ٢٠ مقدمه کښ **تعریف** د جهاد لیکی وائی :

«الجهاد محاربة الاعداء وهو المبالغة واستفراغ ما فی الوسع والطاقة من قول او فعل .... الجهاد المجاهدة وغلب علی القتال فی سبیل الحق .... وکل معاجم اللغة تنحو هذا النحو فی تعریف الجهاد ولا معنی لکثرة النقول هنا .... مدلول الجهاد فی الکتاب والسنة هو استفراغ الوسع والطاقة وتحمل المشقة والصر علیها فی الدعوة الی الله تعالی حسب ما یقتضیه حال المدعو من الحجة والبیان وبذل الاموال او المحاربة بالسیف والسنان وبکل ما یکون ان یجاهد به فی کل مکان وزمان وکل ذالک مبین فی الکتاب والسنة احسن البیان »

Scanned by CamScanner

جهاد ددشمن مقابلے ته وائی مبالغه او خرچ کول د هغه شی دی چه د انسان په طاقت کښ وی په قول او فعل کښ ، جهاد مجاهدے ته وائی ددے استعمال غالب دے دالله په لار کښ یعنی جنګ کښ .

مصنف وائی چه د لغت ټولو کتابونو دا معنی لیکلے ده خو د یرے د اوږد والی د کتاب نه هغه نه لیکم .

**جهاد** خپل طاقت خرچ کول دی تکلیف او مشقت برداشت کول دی دعوت وی محاربه وی یا بکل ما یمکن وی .

قرآن کریم کښ جهاد استفراغ ما فی وسع الانسان ، خپل پوره طاقت خرچ کولو ته وائی : لکه سورة نحل ۳۸ سورة انعام ۱۰۹ او سورة مائده کښ الله ذکر کوی «واقسموا بالله جهد ایمانهم (۵۳)»

او قسمونه خوری په الله باندے دوئی پاخه قسمونه .

سورة **مائده** کښ د مسلمانانو متعلق فرمائی :

«يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ (۵۴)»

مؤمنان پوره طاقت به خرچ کوی د الله په دین کښ او نه یریګی د ملامتیا د ملامتګر نه .

سورة **لقمان** کښ د مور او پلار متعلق تذکره ده :

«وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَى أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ (۱۵)»

کچرے په تا زور کوی تا مجبوره کوی پدے خبره چه حصه دار کړے زما سره هغه چه د هغه د شرکت تاسره هیڅ دلیل نشته .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

نو ددے آیتونو نه دا معلومه شوه چه استفراغ ما به الوسع ته جهاد وائی .

# د قرآن انداز

قرآن کریم کښ جهاد په دوه قسمه استعمالیږی :

**اول قسم** ما به الجهاد ، بیانول د هغه شی چه په هغه باندے جهاد کولے کیږی .

**دویم قسم** وبمن یجاهد ، او جهاد به کوی د چا سره ؟ د جهاد مقابل خلور قسمه ذکر کوی مشرکین ، منافقین ، یهود او نصاری .

## القسم الاول ما به الجهاد

## الاول الجهاد باللسان

هغه جهاد چه هغه هر سړے کولے شی هغه جهاد باللسان دے او دیته دعوت هم وئیلے کیږی او طریقه د جهاد هم دغه شان ده کومه چه احادیثو کښ راغی چه نبی علیه السلام به کله قافلے لیږلے نو هغه ته به ئے درے وصیتونه کول اول الدعوة الی کتاب الله ، یعنی دعوت داسلام به ورکوی ، که دعوت د اسلام ئے قبول کړو نو ډیره ښه ده که قبول ئے نه کړو نو « فادعوهم الی الجزیة » جزیه به ورکوی او سر کوزی به وی ، که نه اسلام قبلوی او نه جزیه ورکوی نو بیا به ورسره قتال کوی ، العرض اول به جهاد باللسان کوی .

Scanned by CamScanner

په سورة **الشعراء** کښ د شاعر بدله ذکر ده :

«إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا وَانْتَصَرُوا مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنْقَلَبٍ يَنْقَلِبُونَ (۲۲۷)»

مګر هغه کسان چه ایمان ئے راوړے او عملونه کوی نیک او یادوی الله لره ډیر او بدله اخلی په ژبه سره پس د هغه نه ظلم اوشی پدوئی باندے او زردے چه پوهه به شی هغه خلق چه ظلم ئے کړے دے چه کوم ځائے د واپسئ ته دوئی اوړی .

سورة **انفال** کښ تعریض او ترغیب مؤمنانو ته ذکر کوی چه په تورے سره جهاد اوکړئی :

«يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ (۶۵)»

اے د الله پیغمبره تیزی ورکړه مؤمنانو لره په جنګ کښ .

(۳) سورة **النساء** ۸۴ کښ الله فرمائی :

«فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ »

پس ته قتال کوه د الله په لار کښ ته نشے مجبوره کولے په جهاد مګر ځان خپل او ترغیب ورکړه مؤمنانو ته په جهاد ، دیته جهاد باللسان وائی تحریض او پارول ورته وائی .

# الثانی القتال

جهاد بالقتال ذکر کوی په سورة **بقره** کښ : «وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُم (۱۹۰)»

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

او قتال کوئ په لاره د الله کښ هغه خلقو سره چه تاسو سره قتال کوی .

# الثالث الدفاع

د دشمن په مقابله کښ خپله دفاع پکار ده دا ذکر کوی په سورة **العمرآن** کښ :

«وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوِ ادْفَعُوا (۱۶۷)»

اوونیل شوی وو دوئی ته قتال اوکړئ د الله په لاره کښ یا دفع کړئ دشمن .

**اودفعوا** : دیته قتال بالدفاع وائی یوه معنی خو ده چه دشمن حمله پسپا کړئ ، بله معنی زیات کړئ فوج د مسلمان ، یعنی عام معرکو ته لاړ شئ چه د دشمن په نظر کښ فوج د مسلمان ډیر ښکاره شی .

# الرابع الجهاد بالرباط

د دشمن په مقابله کښ تیار اوسیدل اوحفاظت د سرحداتو کول یعنی د اسلامی ممالکو د سرحداتو حفاظت کول چه دشمن ورته دننه شی لکه سورة **العمرآن** کښ فرمائی :

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (۲۰۰)»

اے ایمان والو صبر کوئی او وینا د صبر کوئ او تیاری کوئ د جهاد اویریگئ د الله نه دپاره ددے چه تاسو کامیاب شئ .

Scanned by CamScanner

رباط د دشمن په مقابله کښ خه تیار اوسیدلو ته وائی تردے پورے چه تفسیر مهائمی لیکلی دی چه د مشرکینو او مبتدعینو په مقابله کښ خپل علم کامل کول او په خپلو مسائلو باندے استدلالات زده کول او دلائلو باندے نظر کول .

خو دلته مراد د اسلامی سرحداتو حفاظت کول دی لکه په حدیث کښ چه راځی « رباط یوم فی سبیل الله خیر من الدنیا وما فیها (١) »

او کله په حدیث کښ راځی چه اس پالل یعنی د اس بچے واخله او هغه پاله دے دپاره چه دے به لوئیګی او جهاد به پرے کومه .

# الخامس الجهاد بالقوة

ددشمن په مقابله کښ خپل قوة قوی کول دا په سورة انفال کښ ذکر کوی :

«وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُم (٦٠)»

او تیاری اوکړئ دپاره د دشمن چه څومره مو طاقت وی د طاقت نه او اوساتئ آسونه چه یروئ تاسو په هغے باندے دشمن د الله او دشمن ستاسو .

قوة : د قوة نه مراد تمام هغه قوة حسی او معنوی دے چه په هغه سره مقابله د دشمن کیدے شی .

(١) سنن ترمذی حدیث رقم ١٦٦٤ مسند احمد بن حنبل ج ٥ ص ٣٣٩ مشکاة حدیث رقم ٣٧٩١

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

مشارع الاشواق پدے باندے یو باب لیکلے دے ـ الباب الحادی والعشرون فی فضل سیوف المجاهدین ورماحهم وعدهم ـ د مجاهد توره نیزه او سامان حرب او بیائے د قرآن آیتونه ذکر کړی دی :

« ولیاخذوا اسلحتهم (١٠٢ النساء)»

## جمله معترضه [1]

په مکتبه کښ ناست ووم تمانچه راسره پرته وه ، یو صاحب ماسره راغلے او ماته ئے اووئیل چه تاسو هم تمانچه ایښے ده ؟ مونږ خو چه آیة الکرسی او بسم الله الذی لا یضر مع اسمه شئ ... ووایو نو بیا خیر خیریت وی او داسے نورے خائسته خبرے ئے راته وکړے ، ما په ذهن کښ سوچ اوکړو چه دته ښنګه جواب ورکړم بیا مے ورته او وئیل ماشاء الله ته خو عظیم متوکل ئے دومره متوکل ئے چه دومره خو رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وو ؟ هغه وئیل چه دا ښنګه ؟ ما ورته او وئیل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم سره نه تورے وے نه زغرے وے او چه جهاد ته به تلو نو ډبل زغرے به ئے اغوستے او تر اوسه پورے په مسجد نبوی ریاض الجنة کښ په یو ستنه لیکلی دی « استوانة الحرس » د ځوکیدارانو د ودریدلو ځائے .

ما ورته وئیل چه نبی پاک خو به ځان ته ځوکیدران ودرول آیا نبی علیه السلام ته آیة الکرسی نه وه معلومه او چه ډبل زغرے به ئے اغوستے نو

---

[1] شیخ غلام حبیب صاحب خپله تذکره کوی .

Scanned by CamScanner

آیة الکرسی ورته نه وه معلومه چه دغه شان یو خو خبرے مے ورته اوکړے نو ونیل ئے چه خه اوشول چه ما تپوس اوکړو علم کښ مے اضافه اوشوه ، بیا مے ورته ونیل چه علماء حضرات لیکی چه اسباب ترک کول زندیقت دے لکه چه اعتماد بالاسباب زندیقت دے که یو سړے او وائی چه زما سره دښمن څه کولے شی ؟ مشین راسره پروت دے او دا مشین به مے بچ کوی نو دا زندیقت دے ، او که ته دښمن لرے او اسلحه نه ساتے نو دا هم زندیقت دے .

سورة مائده کے نه دا خبره ثابته ده چه ځان سره به اسلحه ساتے :

«یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا لَیَبْلُوَنَّکُمُ اللَّهُ بِشَيْءٍ مِنَ الصَّیْدِ تَنَالُهُ أَیْدِیکُمْ وَرِمَاحُکُمْ لِیَعْلَمَ اللَّهُ مَنْ یَخَافُهُ بِالْغَیْبِ فَمَنِ اعْتَدَى بَعْدَ ذَلِكَ فَلَهُ عَذَابٌ أَلِیمٌ (۹٤)»

اے ایمان دارو خامخا یقینا امتحان کوی به تاسو بانده الله په څه شی سره د ښکار نه چه رسیګی هغه ته لاسونه او نیزے ستاسو ددے دپاره چه ښکاره کښ الله هغه چا لره چه یریګی د هغه نه په غیبو بانده پس چا چه زیاتے اوکړو پس ددینه پس د لره عذاب دردناک دے .

مشارع الاشواق په صفحه ۴۹۴ بانده لیکی :

«واعلم ان تعلم الفروسية وتعليمها واستعمال الاسلحة فرض كفاية» زده کول د خه سوارۍ او ښودنه د خه سوارۍ او ساتنه د اسلحے دا فرض کفایه دی خو کله کله دا فرض عین شی « وذالک عند شدة احتیاج المسلمین الی ذالک »

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

الفروسیة ، ص ١٨ کښ د علامه ابن قیم صاحب حالت نقل کوی :

« ونصح امام احمد بن حنبل علی ان العمل برمح افضل من صلوة نافلة بالامکنة التی یحتاج الی الجهاد »

هغه زمانه چه په کومه زمانه کښ دجهاد ضرورت پیدا شی نو پدغه وخت کښ د نیزو جوړول د نفلی عبادت نه زیات ثواب لری .

## السادس الجهاد بالمال

قرآن کریم جهاد بالمال او بالنفس دواړه اکثر یو ځائے ذکر کوی لکه سورة النساء کښ الله فرمائي :

«وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِم»

او جهاد کونکی په لاره د الله کښ په لګولو د مالونو خپلو او نفسونو خپلو .

هم دغه شان مضمون په سورة توبة کښ په بدلو الفاظو سره بیانوی :«الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ»

مؤمنان هجرت کوی اوجهاد کوی په لاره د الله کښ په خرج کولو د مالونو او په قربانولو د خپلو نفسونو .

## السابع الجهاد ببیان القرآن

سورة فرقان کښ دا خبره بیانوی چه بیان کول د حق مسئلے دا هم د جهاد د اقسامو نه دے :

«فَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَجَاهِدْهُمْ بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا (٥٢)»

Scanned by CamScanner

مه منه د کافرانو او جهاد کوه دے خلقو سره په بیان د قـرآن جهـاد مضبوط .

کبیرا : په معنی د مضبوط ( محاسن التاویل ) ذکر کړی دی .

تردے ځایه پورے اته قسمه د جهاد ذکر شـول او دیتـه مابـه الجهـاد وائی دا ټول ګران دی خو پدے ټولو کښ ګران جهاد بـالنفس دے ، خـو پدے زمانه کښ رباط او بالقوة هم مـشکل دے لکـه امریکـه د مـسلمانانو هغه ممالک چه په کومو ملکونو کښ ایټمی قوتونه شته هغـه تـه ئے خـیلے سترګے خرابے کړی دی چه دوئی نه دا قـوة سـلب شـی ، خـو ددے تیـرو الفاظو خلاصه دا شوه چه مسلمان ته پکار دی چه ایټمی قـوة د ځـان سـره اوساتی او پدیکښ خپله بهترینه تجربه استعمال کړی .

# القسم الثانی

# بمن یجاهد

# وبیان من یجاهد معهم

جهاد به د چا سره کوے ستا مقابله به د چا سره وی ؟ دا نه چه خپلو کښ به جنګ کوی بلکه هغه قوة چه د دین خـلاف دے هغـه ختمـول دی هغه مشرکین دی ، منافقین ، یهود ، نصاری دی .

لکه سورة **توبه** کښ دی :

«وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً»

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

ووژنئ مشركانو لره پوره پوره لكه چه دوئى وژنى تاسو ټولو لره.

# قتال مع الكفار

يعنى كافرانو سره جنګيدل دا ذكر كوى په سورة توبه كښ :

«فقاتلوا ائمة الكفر (۱۲)» ووژنئ ليډران د كفر .

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قَاتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُمْ مِنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً (۱۲۳)»

اے ايمان والو جنګ كوئ د هغه چا سره چه نزدے وى تاسو ته د كفارو نه او پكار دے چه اومومى په تاسو كښ سختى .

# جهاد مع المنافقين

يعنى د منافقانو سره جهاد كول د او دا په سورة التوبة كښ ذكر كوى :

«يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ (۷۳)»

اے رسول الله صلى الله عليه وسلم جهاد اوكړه د كافرانو سره اومنافقانوسره او سختى اوكړه په دوئى باندے .

يهود اونصارى سره جهاد هم پدغه سورة التوبة كښ ذكر دے:

«قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ (۲۹)»

Scanned by CamScanner

اوجنګیګۍ هغه خلقو سره چه ایمان نه راوړی په الله او په ورځے روښتنۍ او حرام نه ګنړی هغه چه حرام کړی دی الله او رسول د هغه او تابعداری نه کوی ددین حق د هغه کسانو نه چه ورکول شوے دے ورته کتاب تردے چه ورکړی جزیه په لاس خپل سره او دوئی وی ذلیله .

# الجهاد مع البُغات

# د باغیانو سره جهاد

سورة **حجرات** کښ جهاد د باغیانو سره ذکر کوی فرمائی :

«وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا فَإِنْ بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ اللَّهِ (۹)»

او که وی دوه ډلے د مؤمنانو نه چه یو بل سره جنګیګی نو اصلاح اوکړئ په مینځ ددوئی کښ او که سختی کوی یوه په بله باندے نو سختی اوکړئ په هغه باندے چه زیاتے کوی تردے چه د الله حکم ته مائل شی .

دلته مراد سختی کول دی مره کول نه دی ځکه که مړ شو نو بیا به الی امر الله ته څنګه راځی نو مقصد دا شو چه باغی اونیسه او هغه مجبوره کړه چه د الله حکم ته غاړه کیږدی .

# نية المجاهد

چه کله جهاد کوے نو نیت به دے څه وی ؟ ځکه چه انما الاعمال

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

بالنیات ، نو اخلاص لله ، الجهاد لله لابمسمعة ولا بریاء ولا لجمع الاموال ، جهاد به د الله د رضا دپاره وی سُمعت او د ریاء دپاره به نه وی او مقصد به مال جمع کول نه وی دا ذکر کوی په سورة **بقره** کښې «وقاتلوا فی سبیل الله (۱۹۰) »

او جهاد اوکړئ دپاره داوچتولو د دین د الله سبیل الله ای باعلاء کلمة الله باعزاز دین الله از روح المعانی .

# صفات المجاهد

هغه صفات چه مجاهد به پرے ځان موصوف کوی .

## اول صفت د الله نه یره

سورة **انفال** کښې ذکر کوی :

«إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ (۲) الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ (۳)»

یقینا مؤمنان هغه څوک دی چه کله یاد شی الله نو بریګی زړونه ددوئی او کله چه ولوستلے شی په دوئی باندے آیتونه د الله نو زیاتوی دوئی لره اثر د ایمان او خاص په خپل رب باندے توکل کوئ دوئی دا هغه خلق دی چه قائموی مونځ او بعض د هغه نه چه ورکړی دی مونږ دوئی ته خرچ کوی په لاره د الله کښې .

د مجاهد پنځه صفات ذکر شول : (۱) د الله نـه بـه یریګی (۲) د قرآن کریم تلاوت به کـوی (۳) متوکـل علی الله بـه وی (۴) د صـوم او صلوة پابندی به کوی (۵) او مال به هم خرچ کوی .

وروستو هم پدے سورة کښ راځی چه مجاهد به هغه سړے وی چه د الله نه به یریګی یعنی متقی به وی اوکله چه د الله نه یره پـه زړه کښ وی نو الله به بیا فتح ورکوی .

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَتَّقُوا اللَّهَ يَجْعَلْ لَكُمْ فُرْقَانًا (انفال ۲۹)»

اے ایماندارو کچرے اویریګئ د الله نه اوبه ګرځوی تاسو لره بری .

## الصفة الثانية عدم الغدر

بل صفت د مجاهد غدربه نه کوی پدغه سورة **انفال** کښ ذکرکوی :

«وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاءٍ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْخَائِنِينَ (۵۸)»

او که خامخا یریدئ تاسو د یو قوم نه د خیانت د غدر د لوظ نه پس وغورزوه دوئی ته لوظ چه شئ تاسو برابر یقینا الله مینه نـه کـوی د خیانـت کونکو سره .

## الصفة الثالثة : ایفاء بالعهد

مجاهد به وعده خلافی نه خان ساتی ددے تذکره په **سورة توبة** کښ شوے فرمائی چه چا تاسو سره وعده نـه وی ماتـه کـړے نـو خپلـه وعـده ورسره پوره کړئ :


Scanned by CamScanner

«إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدْتُمْ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ثُمَّ لَمْ يَنْقُصُوكُمْ شَيْئًا وَلَمْ يُظَاهِرُوا عَلَيْكُمْ أَحَدًا فَأَتِمُّوا إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ إِلَى مُدَّتِهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ (٤)»

هغه خلق چه لوظ ئے کړے دے تاسو سره د مشرکانو نه بیا ئے نه دے کم کړے تاسو سره څه شے او امداد ئے نه دے کړے ستاسو په مقابله کښ د هیچا پس پوره کړئ د هغوئ سره لوظ د هغوئ تر مودے د هغوئ پورے یقینا الله مینه ساتی د متقیانو سره .

## الصفة الرابعة عدم الجبن

بُزدلئ نه به خان ساتئ ځکه چه بزدله سړے جهاد نشی کولے دا ذکر کوی په سورة محمد کښ :

«فلا تهنوا وتدعوا الى السلم وانتم الاعلون (۳۵)»

بزدلی مه کوئ او مطالبه د صلح مه کوئ او تاسوبه یئ اوچت .

## الصفة الخامسة اهتمام الصلاة

د مونځ پابندی به کوئ او دا ذکر کوی په سورة النساء کښ :

«وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ (۱۰۱)»

او کله چه سفر کوئی تاسو په زمکه کښ پس نشته په تاسو باندے څه ګناه چه کوئ مونځونه .

# فضیلت د مجاهد

هر کله چه جهاد لله وی او د اعلاء کلمة الله دپاره وی او صفات ئے هم دغه شان وی نو اوس درجه د مجاهد ذکر کوی سورة **التوبة** کښ :

«الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ أَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللَّهِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ (۲۰) يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِنْهُ وَرِضْوَانٍ وَجَنَّاتٍ لَهُمْ فِيهَا نَعِيمٌ مُقِيمٌ (۲۱) خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ (۲۲)»

هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او هجرت ئے کړے دے او جهاد ئے کړے وی په لاره د الله کښ په لګولو د مالونو سره او په کړولو د نفسونو سره ډیر لوئے دی په اعتبار د درجے په نزد د الله باندے او دغه خلق هم دونی دی کامیاب ، زیرے دے د الله د طرفه دونی ته د رحمتونو او د خوشحالئ او جنتونه چه وی به دپاره ددونی پدیکښ نعمتونه همیشه یقینا الله سره اجر لوئے دے .

هر کله چه حکم د جهاد بیان شو صفات د مجاهد بیان شو او فضیلت د مجاهد بیان شو نو اوس دے په منډه دے نو ورته اوایه چه صبر صبر ..... د امیر انتخاب پکار دے .

# ضرورة الامير للجهاد وشرائطه

د جهاد دپاره د امیر ضرورت دے او د هغه وجه هم داده چه مجاهدین خو ډیر وی چه لس مجاهدین وی نو د هغوئ لس رائے وی نو چه

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

کله امیر وتاکل شی نو ددے لسو سرو رائے به یوه شی او چه کلـه خبـره د ډیرو یوه شی نو خبره به انشاء الله حل شی ، او چه د هر چا خپله خبره وی نو بیا جهاد نه کیږی او بیا چه خصوصاً د مولیانو طلباء کرامو وی نو ..........؟

## اوس امیر به څوک وی ؟

الله په سورة بقره کښ د بنی اسرائیلو تذکره کوی چه هغوئی خپل نبی ته وئیلی وو چه مونږ ته یو امیر مقرر کړه په هغه کښ د امیر شرائط ذکر دی :

«وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا ...... قَالَ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ وَاللَّهُ يُؤْتِي مُلْكَهُ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ (٢٤٧)»

او وئیل دوئی ته نبی ددوئی چه الله مقرر کړے دے تاسو ته طالوت بادشاه ..... وے وئیل غوره کړے دے ده لره الله او زیات کړے دے ده لره په علم او په جسم کښ او الله ورکوی بادشاهی چاته چه ئے خوښه شی او الله پراخه علم والا دے .

پدے آیت کښ د امیر دپاره شرائط بیان شو اول دا چه علمی قوة به ئے کامل وی اوجسیم به وی رعب داره به وی او شکل او صورت به ئے رهیب وی عالم به وی د جهاد او د غنیمتونو ، د صوم او صلوة د حملے مسائل به ورته معلوم وی ، ځکه چه رعایاوو ته د مسائلو ضرورت

پیخیگی نو چه کله امیر صاحب عالم وی اوعبور په دین باندے ساتی نود تولو رعایاوو د مسائلو حل به کیږی .

امام بخاری رحمه الله د نورو شرائطو دپاره باب قائم کړے دے « باب متی یستوجب الرجل القضاء» بیا په ج ۲ ص ۱۰۴ کښ ذکر کوی :

« وقال مزاحم بن زفر قال لنا عمر بن عبد العزیز خمس إذا أخطأ القاضي منهن خطة كانت فيه وصمة أن يكون فهما حليما عفيفا صليبا عالما سؤولا عن العلم»

## پنځه شرائط د قاضی

عمر بن عبدالعزیز رحمه الله وائی چه د قاضی پنځه شرائط دی که دا پکښ نه وی نو هغه حاکم عیبجن دے :

(۱) چه دے به پوهه وی د رعایاو په خبرو باندے پوهیدونکے به وی لکه په فوج کښ به پښتانه وی پنجابیان به وی، فارسی او عربی والا به پکښ وی نو کم از کم چه د رعیت په خبرو چه پوهیدونکے وی .

(۲) بردبار به وی د بلډ پریشر مریض به نه وی فیصلو کښ به حوصله کوی .

(۳) پاک باز به وی نیک به وی حرام خور به نه وی بدکار به نه وی ظالم به نه وی .

(۴) په خپله خبره به کلک وی چه یوه فیصله حق وی هغه دے اوکړی او بیا پرے کلک وی کمزوری پکښ نه وی دا نه چه یو وائی داسے کول غواړی نو دے وائی چه ښه ده بل وائی چه داسے کول غواړی دے

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

وائی چه ښه ده او هغه شان اوکړی .... کله چه خبره راشی نو بیا وائی چه ده وئیل نو .

(۵) عالم به وی داسې عالم چه خلق ترې د مسئلې تپوس کوی او دته د مسئلې جواب هم ورزی .

بیا ددې نه پس بخاری باب قائم کړې دې : «باب رزق الحكام والعاملين عليها، وكان شريح القاضي يأخذ على القضاء أجرا . وقالت عائشة يأكل الوصي بقدر عمالته . وأكل ابو بكر وعمر»

نو عاملين كه د بيت المال نه اجرت اخلی نو بخاری رحمه الله پرې پوره باب قائم کړې دې .

## اخلاق الامیر

د امیر اخلاق به څنګه وی د هغه وضاحت په سورة العمران کښې ذکر دې :

«فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ (۱۵۹)»

او په رحمت د الله نرم شوې ته دوئی ته او که وې ته سخت ژبې او سخت زړې نو خامخا خواره شوی به وې دوئی ستا د ګیر چاپیره نه پس عفوه اوکړه دوئی ته او بخنه اوغواړه ددوئی دپاره او مشوره ورسره کوه په

Scanned by CamScanner

کار کښې پس کله چه قصد اوکړو تا پس ځان اوسپاره په الله باندے یقینا الله مینه ساتی د توکل کونکو سره .

شرائطو د امیر کښې دا هم ده چه نرم مزاجه به وی ، پستے ژبے والا به وی ، نرم زړے به وی یعنی د رعایاوو سره به په خائسته اخلاقو خبرے کوی .

بل صفت دا چه د امیر په مزاج کښې به درگزری وی کچرے رعایاوو کښې څه غلطی شوی وی نو معافی به ورته کوی ، کله چه غلطی په حق د امیر کښې وی امیر به د رعایاوو دپاره بخنه هم غواړی ، مشاورت به کوی د رعایاوو سره په معاملو د جهاد کښې به د خپلو کشرانو نه مشورے هم اخلی چه په رعایاوو کښې احساس پیدا شی چه کم از کم امیر زمونږ خیال ساتی ، امیر به متوکل علی الله وی مادیاتو او په اسبابو به یقین نه کوی .

چه کله پدے شرائطو سره امیر وتاکل شو نو :

## وجوب اطاعة الامیر علی الرعایا

په رعایاوو باندے د امیر تابعداری لازمی ده دا ذکر کوی په سورة النساء ۵۹ کښې :

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ»

اے ایمان والو منل اوکړئ د الله او منل اوکړئ د رسول او د اولی الامر ستاسو نه .

**واولی الامر** : ددینه دا خبره واضحه شوه چه رعایاوو باندے د امیر اطاعت واجب دے .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# تنقیح الجیش

امتحان الامیر الجیش امیر به د خپل لښکر امتحان اخلی ، او صفائی او سترائی به کوی ، او معلوموی به چه رعایا د امیر منی او اطاعت ئے کوی او کنه کوی ، نو کله کله به امیر د رعایاوو امتحان اخلی او که امیر ته په رعایاوو کښ څه ګډون ښکاره شو نو دے به تنقیح الجیش کوی چه فلانے او فلانے دے پکښ نه وی .

لکه سورة **البقره** کښ فرمائی :

«فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِالْجُنُودِ قَالَ إِنَّ اللَّهَ مُبْتَلِيكُمْ بِنَهَرٍ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّي (۲۴۹)»

هر کله چه جدا شو طالوت سره د خپل لښکر نه وویل چه الله امتحان اخلی ستاسو په اوبو ددے نهر چاچه اوڅکلے ددینه نو هغه به زما ملګرے نه وی .

تنقیح لازم ده په امیر خو نن دور کښ طلباء کرام د خپل امیر اطاعت نه کوی او اطاعت پدیکښ کوی چه کوم کښ د امیر کړاوو وی او چه کوم کښ د امیر فائده وی نو په هغے کښ د امیر اطاعت نه کوی .

لکه څنګه چه اوبه حلالے وی خو امیر حکم اوکړی چه تاسو به اوبه نه څکئ او که څوک ډیر زیات ناچاره وی نو په یو چونګ سره دے واخلی خیر دے خو خیته ډکول نشته نو چه چا د امیر اطاعت اوکړو نو جهاد ته مخکښ شو اوچه چا د امیر اطاعت اونه کړو نو هغه د جهاد نه

پاتے شو خپتے وربانلدے درنے شوے ترک اطاعت سره طاقت سلب کیږی نو اطاعت امیر پکار دے .

شیخ به وئیل چه اوس مجاهد روان دے چه جهاد ته زو ، ورته وایه چه لږ صبر اوکره ټکټ او زاد راه درسره شته او کنه ؟ کمبل او بستره درسره شته ؟ د جهاد دپاره بوټان وغیره شته او که نشته نو انفاق فی سبیل الله اوکړی .

# المقصد السادس

# الانفاق فی سبیل الله

ترقی په جهاد کښ بغیر د انفاق نه نشی کیدے نو مال خرج کړئ ، لکه څنګه چه مقصد جهاد کښ مسائل کثیره وو هم دغه شان په انفاق فی سبیل الله کښ هم مسائل کثیره دی اول ذکر کوی :

## (۱) امر بالانفاق

امر بالانفاق ذکر کوی په سورة بقره کښ :

«وَأَنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ (۱۹۵)»

او خرج اوکړئ د الله په لاره کښ او مه غورزوئ خپل ځانونه هلاکت ته .

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

په سورة **حدید** کښ په پنځو طريقو سره امر بالانفاق کوی اول وائی چه مال خرچ کړئ ځکه چه دا مال د الله دے او تاسو ئے وربانده ځوکیداران کرځولی یئ :

«آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَأَنْفِقُوا مِمَّا جَعَلَكُمْ مُسْتَخْلَفِينَ فِيهِ (۷)»

ایمان راوړئ په الله او د هغه په رسول او خرچ کړئ د هغه مال نه چه مونږ کرځولی یئ په هغے کښ په یو بل پسے راتلونکی .

بیا ذکر کوی چه خرچ کړئ مال ځکه چه الله ته پاتے کیدونکے دے :

«وَمَا لَكُمْ أَلَّا تُنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ (۱۰)»

او څه دی تاسو ته چه نه خرچ کوئ په لاره د الله کښ او خاص الله لره میراث د اسمانونو او د زمکو دے .

بیا ذکر کوی (۱۱) چه الله لره ئے قرض ورکړه :

«مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ وَلَهُ أَجْرٌ كَرِيمٌ »

څوک دے هغه ځوان چه قرض ورکړی الله لره قرض خائسته نو زیات به ئے کړی ده لره او خاص ده لره اجر عزتمند دے .

که ته مال نه خرچ کوے نو د مال اهمیت اوګوره د باغ والو پشان به درنه پاتی شی :

«اعْلَمُوا أَنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ كَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُونُ حُطَامًا (۲۰)»

Scanned by CamScanner

پوهه شئ یقینا ژوند ددنیا لوبې دی او مشغله ده او خائست دے او لونی ده په مینځ ستاسو کښې په مالونو کښې او په اولاد کښې پښان د فائده مند باران چه تعجب کوی زمیندار په شینکی د هغه بیا اوچ شی نو وینې به نه هغه لره زیړ بیا شی ذره ذره .

که ته مال نه خرج کړے او وائے چه ما سختئ ته اینبے دے نو الله فرمائی : «مَا أَصَابَ مِنْ مُصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنْفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ نَبْرَأَهَا إِنَّ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ (٢٢)»

نه رسیګی تاسو ته څه مصیبت په زمکه اونه ستاسو په نفسونو کښې مګر دغه لیک دے په لوح محفوظ کښې مخکښې ددینه چه ښکاره ئے کړو په تاسو بالدے یقینا دغه په الله باندے ډیره آسانه ده .

مقصد دا چه لکه څنګه د مصیبت راتلل مقرر دی نو دفع د مصیبت هم مقرر ده نومال خرج کړئ او پاک مال خرج کړئ .

## (٢) الامر باخراج المال الطيب

خرج کړئ مال خو کوه مال خرج کړئ داسے نه چه پاتے وی او ستا خپله ورته زړه نه کیږی نو وائے چه د الله په نامه ئے ورکړئ نه بلکه محبوب مال خرج کړئ دا ذکر کوی په سورة بقره کښې :

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ (٢٦٧)»

اے ایمان والو خرج کړئ هغه پاک د مالونو نه چه تاسو ګټلی وی .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

**طیبات** : پاک کره ، عمده او چه تاته پسند وی دا نه چه هغه مال خرج کوے چه ستا زړه ترے موړ شوے وی .

سورة **العمرآن** کښې دی چه نیکی ته تر هغے نشی رسیدے ترڅو پورے مو چه محبوب مال نه وی خرج کړے :

«لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ (۹۲)»

نه شی حاصلولے تاسو بدله د نیکی تر دے چه خرج کړی هغه مال چه تاسو ئے خوخوی .

سورة **بقره** کښې الله فرمائی :«واتی المال علی حبه۱۷۷»

او ورکوی دوئی مال سره د مینے د مال خپل .

یعنی مال ورته محبوب دے او سره ددینه د الله په لاره کښې خرج کوی .

## (۲) الامر بالانفاق لوجه الله

مال چه خرج کوے نو د الله د رضا دپاره به ئے خرج کوے دا ذکر کوی په سورة **بقره** (۲۷۲) کښې :

«وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنفُسِكُمْ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ»

او تاسو نه خرج کوئ مال مگر دپاره د لټولو د رضا د الله .

Scanned by CamScanner

## (۴) الزائد عن قدر الحاجة

هغه مال به خرچ کوے چه ستاسو د حاجاتو او ضروریاتو نه فارغه وی دا نه چه ته ورته ناچاره ئے او ته ئے خرچ کړے نو بیا به بل نه غواړے بلکه د ضرورت نه زیات مال خرچ کول .

دا هم په سورة بقره کښ فرمائی :

«وَيَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلِ الْعَفْوَ (۲۱۹)»

او تپوس کوی ستانه چه څومره مال خرچ کړی اوایه ورته هغه چه ستاسو د ضرورت نه زیات وی .

**العفو**: ما فضل عن حوائجکم - هغه چه ستا د ضرورت نه سیوا وی.

## (۵) وقت الانفاق

خرچ به کله کوے ؟

قبل الموت فی الحیاة وعند الضرورة : د مرګ نه مخکښ په ژوند کښ او چه ستا ورته ضرورت وی ددے تذکره کوی په سورة **منافقون** کښ :

«وَأَنْفِقُوا مِنْ مَا رَزَقْنَاكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ (۱۰)»

خرچ کړئ هغه مال چه درکړے مو دے تاسو ته مخکښ د راتلو دمرګ نه .

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

د حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه حدیث دے چه یو سړی قبل الموت په ژوند کښې یو روپۍ خرچ کړه دا خه ده د اووه سوو روپو نه چه په وخت د زنکدن کښې خرچ کړی ځکه چه عند الموت خو بیا دا پته وی چه هسے هم رانه پاتے کیږی نو بیا وصیتونه شروع کړی چه پدے پیسو جومات جوړ کړی.

# په صحت مندئ کښې مال خرچ کول

مال خرچ کړه په خپل ژوند کښې چه خه صحت مند ئے او ستا مال ته ضرورت وی او وایه چه پدے به جومات جوړومه نو بیا به خوند کوی او طریقه د مال خرچ کولو به څه وی نو هغه ذکر کوی :

# (۶) الانفاق سراً

طریقه د مال داده چه پټ پټه به ئے خرچ کوی ریا به نه کوی ښکاره کول به هم نه کوی دا ذکر کوی په سورة بقره کښې :

«الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً (۲۷۴)»

هغه خلق چه خرچ کوی مال خپل په شپه او په ورځ کښې په پټه او په سرګنده.

پدے آیت کښې لیل په نهار مقدم کوی نو عمومیت ته اشاره ده او سر ئے په علانیه مقدم کړو اشاره ده غوروالی د اخفاء ته چه مال خرچ کول په پټه خه دی لکه حدیث مبارک کښې هم راځی چه داسے خرچ اوکړئ چه په

بنی لاس ورکړے او چپ لاس ته پته اونه لګی چه دے بنی لاس څه شے ورکړل .

اوس خو خلق خرچ نه کوی او که خرچ کوی نو هغه د ریاء او د خودنے دپاره کوی او چه چاته ئے ورکوی نو د هغه زاره شنه کړی وائی رزنه ودریګه طالبه تاته روپۍ درکومه ، نو هغه به جیب کښ ګوری او کله کله داسے وی چه لاندے جاکټ نے اچولے وی نو قمیص په خله کښ اونیسی او دا انتهائی قبیح کیفیت دے او یو لس شل منټه به نے ځان ته اودرولے وی دا ددے دپاره چه ټولو خلقو ته پته اولګی چه کاکا طالب ته روپۍ ورکوی لس منټه پس به کاکا یو زړه غوندے روپۍ راوباسی او طالب ته به وائی چه داواخله د الله په نامه .

## (۷) الانفاق اقتصادا

په خرچ کولو کښ میانه روی کول ځان ته هم پریښودل دا ذکر کوی په سورة **بنی اسرائیل** کښ :

«وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَى عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا (۲۹)»

مه کرځوه لاس تړلے شوے څټ ته چه بالکل ئے نه خرچ کوے او مه اوږدوه په پوره اوږدولو سره چه بیا کینے ملامت شوے تاوانی .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

اقتصاد په خرچ کولو کښ دا نه چه لاس دے څټ ته اچولے وی او څه خرچ نه کوے او نه داسے چه څه درسره وی هغه ټول خرچ کړے او ځان سره د ماچسو د ډبی پیسے هم نه پریږدے نه بلکه درمیانه روی کول .

## (۸) بیان المصارف

مال به چاته ورکوے او چرته به ئے لګوے بے مصرفه به ئے نه خرج کوے دا ذکر کوی په سورة توبه کښ :

«إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ (٦٠)»

یقینا خرچ کول د مال فقراء ته مسکینانو ته په دے کار کونکی تـه او هغه زړه مائل کونکو ته ازادولو د غاړو قرضداران په لاره د الله کښ .

سورة بقره کښ ذکر کوی چه مال هغه خلقو تـه ورکـړه چـه څـوک ضرورت مند وی :

«لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ (۲۷۳)»

ورکړه مال فقیرانو ته او هغه خلق چه راحصار شوی دی په لاره د الله کښ نه لری طاقت د ګرځیدلو په زمکه .

چه طاقت د ګرځیدو په زمکه نه لـری خکـه چـه مقـصد تـرے فـوت کیږی لکه چه مجاهد او طالب علم محنـت او مـزدوری کـولے شـی خـو

مقصد د علم ترے فوت کیږی نو دوئی محصور فی سبیل الله دی نو په دوئی مال ولګوه ددینه مخکښ هم پدغه سورة کښ ذکر کوی :

«وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ (١٧٧)»

او ورکوی مال سره د مینے خپلوانو ته یتیمانانو ته مسکینانوته د لارے مسافرو ته سوال کونکو ته او په آزادولو د ستونو کښ .

سورة بقره ٢١٥ کښ بیا ذکر کوی چه مال به په چا لګوے :

«يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلْ مَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ»

تپوس کوی ستانه چه څه خرچ کړو ؟ ووایه ورته هغه چه تاسو خرچ کوئ د مال نه خرچ کړئ په مور او پلار رشته دارانو یتیمانانو مسکینانو او په مسافرو .

مقصد دا شو چه خرچ کوے نوپه مصرف باندے خرچ اوکړه بغیر د مصرف نه به خرچ نه کوے.

## (٩) الاجتناب عن موانع القبول

ځان بچ کول د موانعو د قبولیت نه یعنی هغه کار مه کوه چه مال دے په هغه قبول نه شی ، ریا ، سُمعت او شهرت به نه کوے چه په چا باندے مال خرچ کړے هغوئ نه به کار نه اخلے او اذی به هم نه ورکوے ددے تذکره کیږی په سورة بقره کښ :


MAKTABA TUL ISHAAT - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذَى كَالَّذِي يُنْفِقُ مَالَهُ رِئَاءَ النَّاس (۲۶۴)»

اے ایمان والو مه بربادوئ خپل مالونه په زباتلو او په تکلیف رسولو په شان د باطلولو د اجر او ثواب د هغه چاچه خرچ کوی مال ښودنے د خلقو لره .

زباتنه او تکلیف به نه رسوے لکه بعض حضرات وی غریب ته پیسے ورکړی چه بیا د هغه څه کار راشی او دے ورله نه کوی نو ورته وائی چه پرون دے پیسو ته څنګه لاس نیولو او اوس ماته د بازار نه سوال جواب نشے کولے ؟ نو که دا مال تا ددے دپاره ورکړے وی نو بیا خو صحیح ده ستا نوکر شو خو که لله فی الله دے ورکړے وی نو بیا د کار مطالبه ترے څنګه کوے ؟

سورة بقره (۲۶۲) کښ ذکر کوی چه څوک مال خرچ کړی او وروسے بدے ردے او زباتل اونه کړی نو د لره به د الله په نزد ډیر لوئے اجر وی :

«الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَا أَنْفَقُوا مَنًّا وَلَا أَذًى لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ »

هغه خلق چه لګوی مالونه خپل په لارے د الله کښ بیا نه وروسے کوی په هغه پسے چه څه نے لګولی وی زباتنه او نه تکلیف دونی لره به اجر ددونی وی په نزد د رب ددونی او نه به وی یره په دونی باندے او نه به دونی غمجن شی .

Scanned by CamScanner

تردے خائے پورے چه کم شپږ مقاصد بیان شو دا تقریبا هر مفسر لیکلی دی علامه شبیر احمد عثمانی رحمه الله هم لیکلی دی نور علماء دیوبند چه چا د قرآن مقاصد لیکلی دی هغوئی وائی چه په قرآن کریم کښ دا شپږ مقاصد ذکر کیږی خو د شیخ القرآن رحمه الله امتیاز دادے چه هغه اته مقاصد دقرآن کریم بیانوی او ووم مقصد دے تنظیم او اتم مقصد دے الاداب .

# المقصد السابع والثامن

# التنظیم والآداب

مال به هم لګوے او جهاد به هم کوے خو اول دیته ضرورت دے چه خپل جماعت او تنظیم جوړ کړے نو ددے دپاره قرآن اصول ذکر کوی :

## د تنظیم اصول

د تنظیم دپاره هغه اصول چه په هغے سره اصلاح د مملکت کیږی شاه ولی الله رحمه الله دیته سیاست مدنیه او تدبیر المنزل وائی ګویا که دا مسئله شاه ولی الله رحمه الله په الفوز الکبیر کښ اشارة راغستے ده پدیکښ د نفس اصلاح د کور اصلاح او د ملک اصلاح کیږی .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

## د تنظيم مدار په دريو خبرو دے

د تنظيم مدار په درے خبرو بانـدے دے : (۱) تهـذيب النفـوس چـه نفس به په څه پاکيږی (۲) السياسة المدنيه د ملک ترقی به پـه څـه کيـږی (۳) اصلاح البيت ديته تدبير المنزل وائی يعنی معاشـره د کـور بـه پـه څـه برابريګی .

د ملک ترقی د قرآن کريم نه زده کيږی زمونږ د حکمتونـو د ملـک ترقی په بربنډيدو او فحش کيدو پورے خاص کړے ده وائی چـه حـلال او حرام مه پيژنئ نو ملک به ترقی اوکړی او دا وائی چه مونږ هغه ترقی يافتـه ملکونو پسے ځان رسوو امريکه ، برطانيه هغوئی چه د ګډواو بيزو پـه شـان څه کار کوی چه مونږه هم هغه شان کوو .

## (۱) تهذيب النفوس وتهذيب الاخلاق

تهذيب النفوس ته تهذيب الاخـلاق هـم وائـی او د تهـذيب الاخـلاق درے شـقه دی اول ايمانيـات دويـم اتيـان بالاعمـال الماليـة دريـم اتيـان بالاعمال البدنية دا درے اصول په سورة بقره کښ ذکر کوی :

«لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا (۱۷۷)»

Scanned by CamScanner

نه ده نیکی دا چه اوګرځوئ مخونه تاسو په طرف د مشرق او د مغرب لیکن نیکی د هغه چاده چاچه ایمان راوړو په الله او په ورځ د آخرت او په ملائکو او په کتابونو او نبیانو او ورکوی مال په مینې د هغه، خپلوانو ته یتیمانانو ته مسکینانو ته مسافرو ته سوالګرو ته اوپه آزادولو د ختونو کښې او اودروی مونځ لره او ورکوی زکواة او پوره والې کوی په لوظونو خپلو کله چه لوظ اوکړی .

پدې آیت کښې ئې هغه امور ذکر کړل چه په هغې سره تهذیب د باطن او اصلاح د باطن راځی د باطن اصلاح په ایمانیاتو په اعمالو بدنیو او مالیو راځی د باطن اصلاح تهذیب الاخلاق اصلاح القلب والقالب ده .

# الثانی السیاسة المدنیة

# وتهذیب المملکة

د ملک اصلاح به په څه سره کیږی ددې دپاره لنډه خبره باجراء حدود الله تعالی د الله حکمونو نافذ کولو سره او ددې دپاره قرآن یو څو اصول ذکر کوی په سورة بقره کښې :

## (۱) اجراء د قانون قصاص

اول حکم دظالم نه قصاص واخلئ سورة بقره کښې ذکر کوی :

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ (۱۷۸)»

اې مؤمنانو فرض شوې دې په تاسو باندې جاری کول د قصاص .

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

اجراء د قانون د قصاص مظلوم دپاره د ظالم نه بدله اغستل د ظالم
لاس نيول چه په چا زياتے اونه کړی .

## (٢) تقسيم الاموال بالقانون الشرعي

په ملک کښ به دا قانون جاری وی چه هر سړے به مال په قانون شرعی ویشی اود بل چا حق به نه خوری .

«كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ (١٨٠)»

مقرر شوے دے په تاسو کله چه راشی یو تن ستاسو ته علامات د مرګ که پریږدی مال وصیت کول دی مور او پلار ته او خپلوانو ته په شرعی طریقے سره .

چه مال به په قانون شرعی سره تقسیمیګی نو اسلامی نظام به نافذ شی .

## (٣) الامر بمقاسات الشدائد

افراد به محنت کښ وی تکلیف برداشت کونکی به وی د الله د رضا دپاره به لوګه او تنده برداشت کوی :

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ (١٨٣)»

اے ایماندارو فرض شوی دی په تاسو باندے روژے نیول .

### د روژے ساتلو مقصد څه دے ؟

Scanned by CamScanner

مقصد دادے چه ځان به عادی کوی د تکلیفونو سره تکلیف به راځی او هغه به برداشت کول غواړی بغیر د تکلیف نه مقصد ته سرے نشی رسیدے او تکلیف نه بعد الله لارے کهلاوهی او فتوحات ورکوی .

## (۴) الاجتناب من الحرام

د حرام خوری نه ځان بچ کول نه به حرام خوری او نه به حرام خوروی نه به راشی وی او نه به مرتشی وی ددے استشهاد د قول د رب العزت نه :

«وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ (۱۸۸)»

او مه خورئ مالونه په خپل مینځ کښ په باطله طریقه او مه مخکښ کوئ دامالونه حاکمانو ته چه اوخورئ یوه حصه د مالونو د خلقو نه په ګناه سره .

نو مال به هم په ناجائزه نه خوری او مال به په ناجائزه حکامو ته نه وړی .

## (۵) الخامس اصلاح البیت

اصلاح د کور په منلو د احکامو الهیو باندے راځی چه چه هغه اتلس حکمونه زمونږ شیوخ ذکر کوی خو غرائب القرآن تقریبا یویشت ذکر کړی دی چه هغه دادی :

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

(۱) د کور مشر به سرے وی (۲) په کور والو به مال لګوی (۳) بهادر به وی (۴) د الله د عزتمندو میاشتو خیال به ساتی (۵) د یتیمانانو حق به ادا کوی (۶) د حائضے نه به اعتزال کوی (۷) مقصد الجماع (۸) مسئله د قسم (۹) طلاق (۱۰) عدة (۱۱) الاجتناب عن الخمر (۱۲) اجتناب د نکاح د مشرکاتو نه ..... وغیره وغیره .

دا ذکر دے په سورة بقره کښ د آیت ۲۱۲ نه تر آیت ۲۴۲ پورے په دے کښ اصلاح د کور ذکر کوی .

نو کله چه ته پاک شوے کور او ملک دے هم پاک شو اوس جهاد کوه انشاء الله به درته فتوحات درکوی کچرے دا احکامات په یو ملک په یو کور کښ نافذ شو نو د هغه محفوظیت به غالب شی او اصلاح به اوشی .

## بیان القواعد لتاسیس الجماعة

ددے دپاره قرآن کریم پنځه اصول ذکر کوی چه هغه په **سورة العمرآن** کښ دی :

(۱) **اول** : عقیده به د ټولو یوه وی په عقیده کښ به انتشار نه وی د عقیدے اختلاف سبب د اختلاف د تنظیم جوړیګی :

«یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ (۱۰۲)»

اے ایمان والو اویریګئ د الله نه په حقه یرے سره .

(۲) **دویم** : قانون د ټولو به یو وی چه هغه قرآن دے :

«وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا (١٠٣)»

او منګولې اولګوئ په رسئ د الله ټول .

(۳) دریم : ملګری به فعال وی چست به وی سست به نه وی او سست سړے همیشه دپاره ترقی نشی کولے :

«وَلْتَكُنْ مِنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ (١٠٤)»

وی دے تاسو نه یو ډله چه بلنه کوے خلقو ته د خیر او منع کوی به خلق د منکر نه او هم دغه خلق دوئی کامیاب دی .

(۴) څلورم : ملګرے به په جماعت باندے مال هم لګوی بخلاء به نه وی :

«وَمَا يَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ يُكْفَرُوهُ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالْمُتَّقِينَ (١١٥)»

او هغه کار چه کوی ئے دوئ د نیکئ نه هر ګز به ئے بے قدری اونه شی او الله پوهه دے په متقیانو باندے .

(۵) پنځم : ملګری به راز دار او امانت دار وی د خپل جماعت د رازونو افشاء به نه کوی په غیر باندے :

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِنْ دُونِكُمْ (١١٧)»

اے ایمان والو مه نیسئ راز دار غیر د خپل نه .

مقصد دا چه منافقین به په جماعت کښ نه وی او چه په کوم جماعت کښ منافقین راشی هغه جماعت نه کامیابیګی ، زمونږ پدے ملک کښ چه څومره جماعتونه دی په هغه کښ دننه داسے خلق شته چه هغه د حکومت

ایجنسو والا دی کله چه جماعت یو فیصله اوکړی نو دغه ایجنسو والا حکومت خبر کړی چه فیصله شوے ده چه لس بجے به دا کار کیږی نو حکومت راشی او لس بجے هغه خپل کار اوکړی .

که په جماعت کښې ټول ایماندار شی نو انشاء الله هغه جماعت به ترقی اوکړی او د جماعت په ترقئ کښې څه شے رکاوټ نشی اچولے خو چه کله ترقی نه کوی ددے وجه افشاء وی .

# د جماعت د ترقئ دپاره اصول

په سورة **حجرات** کښې اووه قاعدے ذکر شوی دی او ددے اووه قاعدو مقصد ترقی د جماعت ده او الله دے مونږ ته پدے د عمل کولو توفیق راکړی ځکه چه مونږ خو دا وایو خو چه کله پدے د عمل کولو وخت راشی نو بیا مونږ نه دا هیر شی .

(١) **اوله قاعده** : د الله او د رسول خلاف به نه کوی :

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ (١)»

اے ایمان والو مه مخکښې کوئ خپله رائے مخکښې د الله او د رسول نه .

کله چه یو جماعت په قرآن او سنت روان وی نو هغه به انشاء الله ترقی کوی .

(٢) **دویمه قاعده** : دا ذکر کوی چه د پیغمبر علیه السلام عزت او احترام اوکړئ :

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ (۲)»

اے ایمان دارو مه اوچتوئ آوازونه خپل اوچت د آواز د نبی علیه السلام نه .

(۳) دریمه قاعده : زمونږ په جماعت کښ به هغه افراد وی چه د هغه په زړه کښ د پیغمبر علیه السلام احترام وی بیا بله قاعده ذکر کوی تحقیق کوئ د خبرو چه نزاع رانشی کله چه خبر راوړی نو د هغه تحقیق وکړه بدون تحقیق به کاروائی نه کوے :

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ (٦)»

اے ایماندارو ! که چرے راشي تاسو ته یو فاسق په څه خبرو نو بنه لټون وکئ هغه نه چه ورسوئ تکلیف یو قوم ته په ناپوهئ سره نو شئ به تاسو په خپلو کښ پښیمانه .

زه شیخ القرآن سره ناست ووم یو تن راغلو ورته ئے ووئیل چه زه فلانی سره تلے وومه هغه تاته دا وئیل شیخ ورته وئیل راځه چه زو چه د هغه نه تپوس اوکړو هغه ورته اوونیل بیا به شی شیخ ورته اوئیل بے ایمانه دروغجنه .

کچرے خبره رشتیا وه نو شیخ سره به روان شوے وو دا بعض خلق نمبرے جوړوی او خصوصا زمونږ په طلباء کښ بعض خلق نمبرے جوړوی

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

**شیخ غلام الله خان** مرحوم سره مونږ وو په هغه کال بانـدے یـو عـالم راغلے , د بغداد خطیب وو هغه خپـل عربـی لبـاس کښ وو د شـیخ مـزاج انتهائی سخت وو شیخ اوږد درس اوکړو دا په هغه وخـت کښ چـه شیخ بوډا شوے وو سترے شوے هم وو دے عربی وئیل «انی جئت مـن بغـداد » خو دے سړی لقراءة القرآن ونه وئیلـو پـه پنجـاب کښ خـو عـام طـور مبتدعین د بغداد تذکره کوی نو شیخ ورته وئیل فاذهب الی مسجد سـبزی مندی کل هناک یـدعون شیخ عبـدالقادر جیلانـی ، او شـیخ روان شـو دا سړے ډیر زیات پریشانه شو ځکه چه د بغداد نه راغلے وو او بیـا درس تـه راغلے وو ویزه ئے د بل ملک لګولے وه مونږ هغه سړی تـه اوئیـل چـه تـه دا خپله خبره په اردو کښ وئیلے شے هغه وئیل آو په اردو کښ هم وئیلے شـم په انګلش کښ هم وئیلے شم خو عربی زمونږ خپله ژبه ده ، بیا مـونږ تـرے تپوس اوکړو چه ته څه دپاره راغلے ئے هغه اوئیل ما په یو مکتـبه کښ جواهر القرآن مقدمه د اصولو اولیده هغه اصطلاحات ما اولیدل زه حیران شوم چه داسے مفسر هم پدے وخت کښ شته او ما ندے لیدلے نو ما عزم اوکړو چه زه ددے مفسر نه قرآن زده کوم ، مونږ ورته اوئیل چه د شیخ مزاج سخت دے خو ته دا خپل پروګرام اولیکه په یو خط کښ هغه خط اولیکلو او هغه خط کښ ئے دا اولیکل چه زه دلتـه ځنګـه راغلـم ټـول تفـصیل ئے پـکښ اولیکلو چه زما تاسو سره مینه پیدا شوه او زه دلته راغلمه .

ماسخوتن ټائم به مونږ د شیخ پـه مجلـس کښ حاضـربدو د خـدمت دپاره کله چه مونږ تلو نو دا سړے هم راسره لاړے شیخ چه ولیدو نـو بیـا

په قهر شو چه دے خو راپسے دلته هم راغلے مونږ ورته اوئیل چه دے درس له راغلے دے ، شیخ حیران شو چه دے درس ته ؟ هغه خط ئے شیخ ته ورکړو شیخ په خط کښ ټول صورتحال اوایو نو سترګو نه ئے اوښکے روانے شوے او په چغو ئے اوجړل او هغه ئے سینے سره اونخلو او هغه ته ئےاوئیل « قرات القرآن حتی صرت شیبا وقال الله تعالی ان جاءکم فاسق بنبأ فتبینوا » هغه ته ئے اغزازی داخله ورکړه او د شیخ مزاج وو چه د هغه سره په برابر کښ تولایانے غوړیدلے وے په هغه به علماء ناست وو هغه سره د علم ډیر زیات قدر وو هغه ئے هغه ځائے کښ کینولو .

قدر زر زر گر شناسد　　　قدر جوهر جوهری

(۴) **څلورمه قاعده** : ذکر کوی چه د خپلو ارکانو تر مینځه اصلاح کوئ : «وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا (٩)»

او کچرے دوه ډلے د مؤمنانو نه جګړه اوکړی نو اصلاح اوکړئ په مینځ د دواړو کښ .

قرآن کریم کښ دادی چه د اصلاح کوشش اوکړئ خو مونږ د اخراج کوشش کوو بلکه وګوره د ملګری تقصیر که رفع کیدے شی نو رفع ئے کړه او د ځان سره ئے جخت کړه .

(۵) **پنځمه قاعده** : ذکر کوی ــ توقیر الارکان والاحتراز عن اهانتهم ، عزت د ملګرو اوکړئ او بے عزتی به نه کوئ :

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ (١١)»

توقے دے نه کوی یو قوم په بل قوم پسے .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

**ولاتنسوا الفضل بينكم** : دلته بعض مفسرين ليکی چه په کوم ملګری کښې الله کومه خوبی اچولې ده هغه مه هیروه یعنی د هغه تذکره کوه .

(۶) **شپږمه قاعده** : الاجتناب عن التجسس وسوء الظن ـ د بد ظنۍ نه ځان بچ کول غیبت نه کول طلب د عوراتو د غیبونو نه کول :

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ (۱۲)»

اے ایماندارو ځان اوساتئ د ډیرو ګمانونو نه یقینا بعض ګمانونه ګناه ده .

په آیت کښې دا خبره واضحه شوه چه د ملګری غیبت نه‌دي کول پکار .

ملا علی القاری رحمه الله لیکی چه غیبت هر هغه شی ته وائی چه ته ئے یو تن ته مخامخ اووائے او هغه په هغې باندے خفه کیږی او دغه خبره شاه په شاه اوکړی دیته غیبت وائی .

ترده پورے چه ملا علی القاری رحمه الله وائی چه د یو سړی لستونړے غټ وو او هغه باندے خفه کیدو او تا د هغه شاه په شاه او وئیل چه دده لستونړے خو دومره غټ دے نو دا هم غیبت دے او غیبت مردار خوری ده نو اوس حساب اوکړئ چه څومره عوام او خواص پدیکښې اخته دي .

(۷) **اوومه قاعده** : الكرامة للاركان لاشاعت التوحيد والسنة لا بالانساب والالوان :

Scanned by CamScanner

«يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ (۱۳)»

اے خلقو یقینا مونږ پیدا کړی يئ تاسو د يو نارينه او يو زنانه نه او ګرځولی دی مونږ تاسو لره خاندانونه او قبيلے ددے دپاره چه يو بل اوپيژنئ يقينا ډير عزتمند ستاسو نه په نزد د الله ډير تقوی دار دی يقينا الله پوهه دے په هر څه او خبر دار دے.

عزت د ملګرو په بيان د قرآن او سنت دے لکه چه الكرامة بتقوی دے، سپين والے څه کمال ندے هاشمي، قريشي څه کمال ندے، کمال خو د اکرمکم دے، علمي کمال او اخلاق اصل کمال دے.

ابوهريره رضی الله عنه ته رسول الله صلی الله عليه وسلم وئيلی وو:

«يا بنی انک مسؤل يوم القيامة بما اكتسبت ولا تسئل من انتسبت».

(۸) **اتمه قاعده** : المناجات بالبر والتقوى - دړے قاعدے په سورة **مجادله** کښې ذکر کوی:

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَةِ الرَّسُولِ وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ (۹)»

اے ايماندارو! کله چه جرګے کوئ تاسو نو جرګے مه کوئ د يو بل سره په ګناه او په ظلم او په نافرمانئ د رسول باندے او جرګے کوئ د يو بل سره په نيکئ کولو او پرهيزګارئ کولو او ويريګئ د الله هغه ذات نه چه خاص هغه ته به راجمع کولے شئ تاسو.

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

ملګری به هغه وخت ترقی پیدا کوی چه د تنظیم افراد د اثم او د عدوان نه او د معصیت رسول نه ځان ساتی او مشوره کونکی وی په بسر او په تقوی باندے.

(۹) **نهمه قاعده** : ملګرو کښ به خیر خواهی وی بل ملګری دپاره په ځان باندے تکلیف تیرول او د بل ملګری خیال ساتل : «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قِيلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوا فِي الْمَجَالِسِ فَافْسَحُوا (۱۱)»

اے ایماندارو ! کله چه اووئیل شی تاسو ته فراخی اوکړی په ځایونو کیناستو کښ نو فراخی وکړئ.

(۱۰) **لسمه قاعده** : چه امیر سره ځي نو تحفه یوسه :

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُولَ فَقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَاكُمْ صَدَقَةً (۱۲)»

اے ایماندارو ! کله چه جرګه کوئ تاسو د رسول سره نو اولګئ مخکښ د جرګے ستاسو نه صدقه تحفه.

تحفه د خپل مناسب چه هر څنګه تحفه وی.

## واقعه شيخ شاپور رحمه الله

زه یو ځل د شیخ القرآن شاه پور رحمه الله (۱) سره ناست ووم هغه په مجلس کښ وئیل چه دے زما ورور دے ما وئیل شکر الحمد لله، بل تن ورسره ناست وو هغه ماته وئیل چه ته خو ډیر خوشحاله شوے ما ورته

---

[1] شیخ شاه پور محمد افضل خان صاحب مصنف د افضل التراجم.

او وئیل خوشحالیږم به نه زه غریب سړے یمه او دے خان دے سبا به د میراث مطالبه کومه هغه شیخ شاه پور وئیل د غر زمکه درته درکوم خو ته شاه پور ته راشه .

یو پیره هغه ته چا ټانګوان راوړل په تحفه کښ خو هغه ډیر زیات کلک وو مولانا صاحب واغستل خوا کښ بل سړی ورته اوئیل چه څوک هر څه راوړی نو هغه قبلوے دا خو ګټے دی ، مولانا ورته وئیل دیته زه خیال نه کوم چه دا ټانګو دے او کلک دے زه دیته ګورم چه ده به اراده کړی وی چه زه اوستاد له څه شے وړم بیا به ئے سوچ کوو چه څه شے یوسمه ، په جیب کښ به ورسره پیسے نه وے نو وئیل به ئے چه په دے بوټو کښ به وګرځمه که څه راته پیدا شو نو دته به دا ټانګو پیدا شوے وی بیا به دے بوټی ته ختلے وی نو د ختلو تکلیف ، بیا به ئے شکولی وی نو د شکولو تکلیف بیا به ئے چرته خوږ کتلے وی چه هغه کښ ئے او وینځم بیا به ئے شاپنګ بیګ طلب کړے وی په هغے کښ به ئے اچولی وی بیا به ئے دا وزن اوچت کړے وی او ماته ئے راوړے دے نو زه خو دے تکلیف ته ګورم ټانګوانو ته نه ګورم .

**تهادوا تحابوا** (1) : تحفے ولیګئ یو بل ته تحفے ورکړئ که یو طالب سره دوه قلمونه دی او بل طالب سره نشته ورته اوایه دا قلم واخله دا ډیر خه لیکل کوی او که کاپی درسره نه وی نو ماسره دوه دی دا یوه ته واخله ، که چرے داسے تحفے وی نو مینه او محبت به زیات وی .

1 السنن الکبری للبیهقي ج ۶ ص ۱۶۹ ، المعجم الاوسط للطبراني ج ۱۶ ص ۲۴ ، شعب الایمان للبیهقي ج ۱۸ ص ۴۸۵ .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

مقصد دا چه د پیغمبر علیه السلام مجلس ته زړے نو تحفه یوسه د امیر مجلس ته زړے نو تحفه یوسه ، او تحفے حیثیت ته مه ګوره راوړونکی حیثیت ته ګوره .

# الآداب المتعلقة بفهم السورة

هغه آداب چه د هغه تعلق د سورة د زده کولو سره دے د یو سورة مقاصد او مطالبو دزده کولو دپاره څه طریقه پکار ده ؟

پدے سلسله کښ زمونږ د اکابرینو طریقه داده چه د هر یو سورة یو مقصد او غرض وی چه د سورة تمام آیتونه د هغه مقصد نه محیط وی او د سورة تمام آیتونه د هغه پورے متعلق وی دیته دعوی د سورة وائی .

# دعوی د سورة

د دعوی د سورة حیثیت داسے دے لکه په یو فن کښ د یو علم موضوع نو هغه موضوع په پوره کتاب کښ چکر لګوی او د کتاب تمام مسائل د هغه موضوع پورے متعلق وی لکه د علم نحو موضوع کلمه او کلام دی ، اسم فعل او حرف بیا اقسام د اسم او فعل او حرف دا ټول یتعلق بموضوعه دا ټول د خپلے موضوع سره تعلق ساتی په اسم کښ هم د کلمے او کلام بحث وی په فعل کښ هم وی په حرف کښ هم وی ، اعراب مسئله هم متعلق بالکلمه او کلام ده ، نو څرنګه چه د یو فن موضوع وی او تمام مسائل د یو فن د هغه موضوع پورے متعلق وی نو

Scanned by CamScanner

دارنګې سورة کښې یو عظیم مقصد وی د سورة ټول آیتونه د هغه پورې متعلق وی هغه مقصد ته دعوی د سورة وائی .

ددې حیثیت شیخ په جواهر کښې ذکر کوی د دعوی حیثیت کالکرة للمرکز دې چه کره چکر لګوی او دارمدار ئې په خپل مرکز وی ، کالحب والبزر للنبات ، لکه دانه او تخم دپاره د ونې بوټی ، لکه چه د غنمو دانه ده د هغه نه ونې راوځی او هغه اجزاء وی په هغه کښې دانې وی نه او پاڼړه هم پکښې وی نو د غنمو دانې نه زرغونه شوی بوټی په هغه کښې د غنمو ددانې مزاج او ذائقه ملاویګی . د یو بوټی تخم لکه کهجوره ده نو هډوکی د هغه بزر او تخم دې بیا د هغه شاخونه پاڼړې او تنه او د هغې په سر کښې میوه دا ټول متعلق دی د هغه هډوکی پورې نو لکه چه یو بوټی کښې ددانې او تخم اثرات موجود وی دارنګې په آیتونو د سورة کښې آثرات د موضوع او دعوی د سورة موجود وی او څرنګه چه د بوټی شاخونه متعلق وی د تخم پورې د قرآن عظیم د سورتونو تمام آیتونه متعلق د دعوی پورې .

**حضرت شیخ** ([1]) به فرمائیل لکه څرنګه چه د بوټي دانې څانګې او تنې په مابین کښې ارتباط وی یعنی تعلق د مزاج وی د لون د ذائقې وی نو دارنګې د هر سورة د آیتونو په مینځ کښې یو خاص قسم ارتباط وی نو د

---

[1] د مطلق شیخ نه حضرت شیخ القرآن مولانا غلام الله خان رحمه الله د بندی مراددې او د شیخ القرآن نه مراد شیخ القرآن مولانا محمد طاهر رحمه الله دې .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

قرآن کریم هر آیت یوبل سره مربوط وی او خپلے دعوے پورے متعلق وی .

لکه یوه ونه او یو بوټے د خپل تخم په اعتبار سره ممتاز وی د باقی انواعو د اشجارو نه نو دارنګ هر سورة د باقی سورتونونه ممتاز او جدا وی ، دیته دعوی د سورة ، مقصد د سورة موضوع د سورة ، او محور د سورة وائی او دے سره یو سورة د بل سورة نه ممتاز کیږی .

او بیا دعوی د سورة کله کله په یو سورة کښ یوه وی لکه سورة الکافرون ، سورة اخلاص سورة الملک ، العادیات ، زلزال ، عصر،تکاثر، سورة السجده، وغیره په دے سورتونو کښ یودعوه ده.

مثال د سورة کافرون دعوی ده : التبری من الالٰهة الباطلة یا البراءة من الشرک ، او پدے باندے سورة الکافرون چکر لګوی ، په سورة اخلاص کښ یو دعوی ده ، تجرید التوحید ، د توحید مسئله بیانول ، سورة الملک کښ نفی د شرک فی البرکة ، سورة السجده کښ نفی د شفاعت قهری ، او پدے ادله دی ، سورة العصر کښ ترغیب الی الاعمال الصالحة ، سورة الزلزال کښ اثبات القیامة ، پدے سورتونو کښ یو په یو دعوی ده .

او کله پو یو سورة کښ دعوی متعدد وی کیدے وی د وجے د طوالت د سورة نه افهام او تفهیم دپاره چه انحصار د مسائلو په یوے مسئلے اوشی

Scanned by CamScanner

لکه سورة البقره کښې ګڼې دعوې دی توحید رسالت جهاد او انفاق فی سبیل الله ، پداسې سورتونو کښې زیاتې دعوې د وجې د کثرت مسائلو نه وی ، لکه سورة البقره ۸۹ آیات پورې اوله حصه ده او پدیکښې دعوه د توحید ده بیا تر ۱۷۴ پورې دویمه دعوی مسئله اثبات الرسالت ..... .

دا صرف تسهیل دپاره چه طلباء او علماء ته د یو سورة فهم آسان شی او د یو سورة ټول مسائل یک مشت زده کول مشکل وی نو دے وجې نه سورة تقسیم شی .

هر ذی عقل خپله دعوی ښکاره کول په دلیل سره کوی او د دعوې تقویت په دلیل سره کیږی او دا مُسلمه مسئله عند الفصحاء والبلغاء والعُقلاء ده ، نفس دعوې سره مسئله نۀ حل کیږی که یو سړے او وائی چه دا شے زما دے نو پدے هیڅ یو قاضی فیصله نشی کولے چه دا واقعی دده ده ، قاضی به وائی چه ته پدے شی دعوی کوے نو پدے ستا دلیل څه دے .

## بیان د دلائیلو

دلائیل په څلور قسمه دی :

(۱) دلیل عقلی محض (۲) دلیل عقلی علی سبیل الاعتراف من الخصم (۳) دلیل وحی (۴) دلیل نقلی ، پس د دعوې نه دلائیل پیش کیږی .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# القسم الاول الدلیل العقلی

## دلیل عقلی په اووه قسمه دے :

(۱) دلیل عقلی محض (۲) دلیل عقلی الزامی (۳) دلیل عقلی مسکت (۴) دلیل عقلی علوی (۵) دلیل عقلی جوی (۶) دلیل عقلی سفلی (۷) دلیل عقلی آفاقی (۸) دلیل عقلی انفسی .

## (۱) دلیل عقلی محض

پدے دلیل کښ بۀ هغه مسئله ذکر وی چه مخاطب د هغه په منلو مجبوره وی لکه سورة بقره آیت ۲۱ اعبدوا ربکم دعوی الذی خلقکم نه تر من الثمرات رزقا لکم پورے پدے دعوی باندے دلائیل عقلی محض ، یعنی ستا مخاطب خپل وجود هیم منی د پلار وجود هم منی ، د زمکے او د آسمان وجود هم منی ، نو هر کله چه ته ځان پیژنے او خپل وجود هم پیژنے چه د نیشت نه شته شوے یے د زمکے وجود هم یقین سره منے او آسمان هم منے نو دغه رب تاته وائی چه اعبدواربکم دیته وائی دلیل عقلی محض .

دارنګ سورة نحل کښ هم ذکر کوی :

«خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ تَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ (٣) خَلَقَ الْإِنسَانَ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ (٤) وَالْأَنْعَامَ خَلَقَهَا لَكُمْ»

الله پیدا کړی دی آسمانونه او زمکے دپاره د اظهار د حق بـالا اوبلنـد دے پاک او منزه دے ، د نسبت د هغۀ چانه چه دوئی د الله سره حصه دار

کرځوی الله پیدا کړے دے انسان د یو قطرے نه ناګهانه وی دے جګړالو بنکاره ، او ډنګر الله پیدا کړی دی ستاسو دپاره .

دیته دلائیل عقلیه وائی چه ځاروو ته اوګوره دا چا پیدا کړی دی ځان ته اوګوره ته چا پیدا کړے ئے ځمکے او آسمان ته اوګوره دا چا پیدا کړی دی .

دارنګ سورة رعد کښ هم الله فرمائی :

«اللَّهُ الَّذِي رَفَعَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا (۲)»

الله هغه مهربانه دے چه اوچت کړی ئے دی آسمانونه بے د ستنو نه چه تاسو ئے وینئ .

وجود د آسمان دا دلیل دے په وجود د رحمان .

## (۲) دلیل عقلی الزامی

- دلیل عقلی الزامی مقصد دا چه دلیل په ضمن کښ داسے ایت ذکر شی چه خصم مسکت شی لکه چه په سورة انعام کښ راځی :

«قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ اللَّهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَارَكُمْ وَخَتَمَ عَلَى قُلُوبِكُمْ مَنْ إِلَهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُمْ بِهِ (۴۶)»

او وایه خبر راکړی کچرے واخلی الله غوګونه ستاسو او سترګے ستاسو او مهر اولګوی په زړونو ستاسو څوک دے ذمه دار غیر د الله نه چه راوړی تاسو ته دغه .

هم پدے سورة **انعام** کښ روستو ذکر کوی :

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

«قُلْ أَرَأَيْتَكُمْ إِنْ أَتَاكُمْ عَذَابُ اللَّهِ أَوْ أَتَتْكُمُ السَّاعَةُ أَغَيْرَ اللَّهِ تَدْعُونَ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ (٤٠) بَلْ إِيَّاهُ تَدْعُونَ»

اوایه دوئی ته خبر راکړئ ماته که راشی په تاسو د رب عذاب یا راشی په تاسو باندے قیامت ایا بے د الله نه به رابلئ کوئ مخلوق ته کچرے یئ تاسو رشتنے بلکه هم دغه الله به رامدد کوئ .

**بل ایاه** : نه جواب الزامی دے چه ته خو مخلوق رامدد کوے خو که قیامت راغلے نو بیا به هم مخلوق رامدد کوے ، نه بلکه بیا خو به یو الله رامدد کوے ، نو اوس ولے یو الله نه رامدد کوے ؟

## (۳) دلیل عقلی سکوتی

دلیل سکوتی دیته وائی چه دلیل ذکر شی او جواب د خصم پکښ نه وی .

## (۴) دلیل عقلی علوی

هغه دلیل چه د هغه نه دا معلومیګی چه الله آسمان اوچت کړے دے تائید د سورة رعد نه :

«اللَّهُ الَّذِي رَفَعَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا (۲)»

الله هغه ذات دے چه اوچت کړی ئے دی آسمانونه بے د ستنو نه چه ته ئے ګورے .

Scanned by CamScanner

دا آسمانونه ئے چه بغیر د ستنو نه اوچت کړی دی هغه رب دے او
ناته دعوت درکوی چه له دعوة الحق .

## (۵) دلیل عقلی جوی

لکه سورة بقره کښ فرمائی :

«وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ (۱۶۴)»

او د الله د قدرت نښے دی په اړولو د هوا ګانو او په پیدا کولو د
وریځو زورندي شوے په مینځ د زمکے او د آسمان .

وریځ په مینځ د زمکے اود آسمان کښ تینګول دا د چا قدرت دے ؟

هم دا رنګ سورة رعد (۱۲) کښ فرمائی :

«هُوَ الَّذِي يُرِيكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ»

الله هغه ذات دے چه ښائی تاسو ته پرق پروق د یرے د تندرونو نه او
امید د بارانونو او پیدا کوی دروندے وریځے .

وریځے ئے د زمکے او د آسمان تر مینځ تینګے کړی دی .

دارنګ په سورة نحل کښ ذکر کوی :

«أَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرَاتٍ فِي جَوِّ السَّمَاءِ (۷۹)»

آیا نه ګوری دوئي مارغانو ته تابع شوی په خالی ګاه دآسمان کښ .

هم دارنګے په سورة الملک کښ راځی :

«أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَافَّاتٍ وَيَقْبِضْنَ (۱۹)»

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

آیا نه ګوری دوئي مارغانو ته چه بره دی دوی نه ټینګونکی د خپلو وزرو او غوړونکی دی خپلو وزرو لره .

## (۶) دلیل عقلی سفلی

د زمکے حالت الله بیانوی فرمائي سورة الرعد کښ :

«وَهُوَ الَّذِي مَدَّ الْأَرْضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنْهَارًا (۳)»

الله هغه ذات دے چه غوړولے ده زمکه او پیدا کړی ئے دی په دے زمکه غرونه بره بره او بیولے ئی دي ولے .

«وَفِي الْأَرْضِ قِطَعٌ مُتَجَاوِرَاتٌ وَجَنَّاتٌ مِنْ أَعْنَابٍ وَزَرْعٌ وَنَخِيلٌ صِنْوَانٌ وَغَيْرُ صِنْوَانٍ (الرعد ۴)»

او په دے زمکه ټوکړے دي جوختے د انګورو او فصلونه د کهجورو یو یو تنے والا او غونچکو والا .

دده خالق رب دے او دغه خالق معبود برحق دے .

## (۷) دلیل عقلی آفاقی

په دیکښ ذکر د اطرافو د عالم دے د هلاکتونو او حفاظتونو دده تذکره په **حم سجده ۵۳** کښ کوی :

«سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ»

Scanned by CamScanner

ښایو مونږ ته دے خلقو ته نخے د قدرت خپل په اطرافو د عالم کښ او ددوئی په بدنونو کښ ترڅو چه ښکاره شي دوئی ته چه دا قرآن حق دے

اطراف عالم نه لکه چه په فلاني ځائے کښ تباهي اوشوه او په فلاني ځائے کښ خلقو ته نجات ورکړے شو په فلاني ځائے کښ په خلقو تندر راغلے ، زلزله راغله وغيره .

## (٨) دليل عقلي انفسي

بره او ښکته پريږده ستا په بدن کښ د الله د وحدانيت نخے دی سورة الذاريات ٢١ :

«وَفِي الْأَرْضِ آيَاتٌ لِلْمُوقِنِينَ (٢٠) وَفِي أَنْفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ»

او په دے زمکه د الله د قدرت نخے دی دپاره د يقين کونکو او په نفسونو ستاسو کښ ايا تاسو نه ګورئ .

اے انسانه ستا وجود دا خو يو کهلاؤ دفتر د الله د معرفت دے ستا مخ پوزه شونډے سترګے وريځے غوږونه او نور ټول اندامونه .

## دويم قسم دليل عقلي

## على سبيل الاعتراف من الخصم

دے دليل پيش کيدو نه پس به مخالف منی چه دا خبره دغه شان ده لکه چه څنګه بيان شوه او دا په دلائيلو کښ اهم دليل دے لکه چه يو شاعر وئيلی دی :

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

شهد الانام بفضله حتی العدی....والفضل ما شهدت به الاعداء (١)

دده دلیل مقصد دا شو چه داسے امور ذکر کول چه خصم ته اوس د انکار چل نه ورځی نو خود بخود اعتراف اوکړی او دا دلائیل ډیر زیات دی لکه سورة مؤمنون کښ راځی :

«قُلْ لِمَنِ الْأَرْضُ وَمَنْ فِيهَا إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ (٨٤) سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ (٨٥) قُلْ مَنْ رَبُّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ (٨٦) سَيَقُولُونَ لِلَّهِ»

تپوس اوکړه ددوئی نه د چا په ملکیت کښ ده زمکه او هغه چه پدے زمکه کښ دی نو وائی به چه یو الله بیا اوایه ورته چه څوک دے مالک د اوو اسمانونو او څوک دے مالک د عرش لوئے نو زر دے چه اوبه وائی الله

(٢) هم دارنګ په سورة عنکبوت کښ الله فرمائی :

«وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ (٦١)»

او کچرے تپوس اوکړے ددوئی نه چه زمکه او آسمانونه چا پیدا کړی دی نمر او سپوږمی په ډیوټئ چا لګولی دی نو خامخا وائی به دوئی چه الله .

«وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُولُنَّ اللَّهُ قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ(٦٣)»

---

١ اعلام النبوة ج ١ ص ٢٦٨.

Scanned by CamScanner

او که تپوس وکړے ددوئی نه چه څوک راوړوی د بره نه باران بیا آباده کړی زمکه پس د بنجر توب نه اوبه وائی الله نو اوایه صفتونه د الوهیت خاص الله لره دی .

سورة لقمان کښ فرمائی :

«وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (٢٥)»

کچرے تپوس اوکړے ددوئی نه چه چا پیدا کړی ده زمکه او آسمان نووائی به چه الله نو اوایه الحمد لله بلکه اکثرددوئی نه نه پوهیګی .

ددے امثله په قرآن کریم کښ ډیر دی .

# یو ضروری قاعده

قرآن کریم کله کله دعوی بطور اصالت ذکر کوی او هغه نه بعد دلائیل بطور وضاحت ذکر کوی دعوی مخکښ ذکر کوی او دلائیل وروستو ذکر کوی دا سلسله په قرآن کریم کښ زیاته ده.

ددے نظیر لکه سورة بقره ۲۱ کښ :

«يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُم....»

سره دلائیل ذکر کیږی او دلائیل ئے وروسے بطور وضاحت ذکر شو دا سلسله په قرآن کریم کښ ډیره ذکر کیږی .

خو کله کله به داسے هم وی چه دلائیل مقدم او دعوی تفریعا ذکر شي لکه سورة رعد کښ دعوی ذکر شوے ده « له دعوة الحق » خو دا

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

تفریع ده په ماسبق دلائیلو باندے چه د آیت ۸ نه ۱۳ پورے ذکر دی دارنګ په سورة مؤمن کښ راغی دی

«اللَّهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا إِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ (٦١) ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ فَأَنَّى تُؤْفَكُونَ (٦٢)......... اللَّهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ قَرَارًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ فَتَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ (٦٤)»

الله پیدا کړے ده ستاسو دپاره شپه دے دپاره چه آرام پکښ اوکړئ او ورځ رڼا والا بیشکه الله مالک د فضل دے په خلقو باندے لیکن اکثر د خلقو نه شکر نه اداء کوی .

**دعوی** - دے کارنامو والا دے خالق ستاسو نشته بل حاجت روا مګر هم دغه الله دے نو کوم خوا واړولے شوئ .

الله هغه ذات دے چه ګرځولے ده زمکه تاسو ته تیکاؤ په ځائے ولاړه او آسمان چت او صورتونه ئے درکړی دی تاسو ته او ډیر خائسته کړی ئے دی شکلونه ستاسو او رزق ئے درکړے دے تاسو ته پاک نو دے کارنامو والا دے رب ستاسو بس ډیر برکت والا دے چه رب د مخلوقاتو دے .

تفریع د برکت ئے بیرے اوکړه په لفظ دتبارک سره باوروستو وائی :

«هُوَ الْحَيُّ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ فَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (٦٥)»

Scanned by CamScanner

هغه ژوندے دے نشته بل د بندګئ قابل ما سیوا د هغه نه نـو غـوارئ خاص دغه الله نه په خالص غوښتلو سره نو ټول تعریفونه الله دپاره دی چـه رب د ټول جهان دے.

دلته ئے په الحمد لله باندے تفریع اوکړه دے ټولو آیتونو کښ دلائیـل مخکښ دی دعوی وروسے.

# دلیل وحی

ربط بین الدلائیل دادے دا زه چه کومه خبره کومه دا د عقـل مطـابق ده دا ته هم تسلیموے، بیا دلیل وحی زه چه څه وایمه نو مأمور من الله یـم زما دعوی او زما بیان دا ذاتی نـدے ذا ماتـه وحـی شـوے ده او زه پـدے مأمور یمه لکه چه سورة زمر کښ راځی:

«قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ مُخْلِصًا لَهُ الدِّينَ (١١)»

ووایه ماته امر شوے دے پدے خبره چه زه بندګی اوکړمه دیو الله.

«وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكَ (٦٥)»

او بیشکه وحی شوے ده تاته او هغه کسانوته چه مخکښ ستانه وو.

سورة انعام کښ دا مسئله په مختلفو ځایونو کښ راغلے ده:

«وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَذَا الْقُرْآنُ لِأُنْذِرَكُمْ بِهِ وَمَنْ بَلَغَ أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ اللَّهِ آلِهَةً أُخْرَى قُلْ لَا أَشْهَدُ (١٩)»

او وحی شوے ده ماته ددے قرآن چه تاسو پرے یروـمه او چـه چاتـه اورسیګی دا قرآن ایا تاسو ګواهی کوئ چه یقینا د الله سره مددګاران نـور شته ووایه زه داسے غلطه ګواهی نه کومه.

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

بیا ذکر کوی :«قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ(١٦٢)لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ(١٦٣)»

ووایه بیشکه عبادت بدنی زما او عبادت مالي زما ژوند زما او مرګ زما خاص هغه الله لره دے چه پالونکے د مخلوقاتو دے نشته شریک هغه لره او پدے ماته حکم شوے دے او زه اول د مسلمانانو نه یمة .

# دلیل نقلی

مقصد دا چه زه څه وایمه نو پدیکښ زه یواځے نه یمه زما ملګری پدیکښ ډیر تیر شوی دی مخکښ انبیاء هم دا خبره کړے ده یعنی زما دا پیغام هم دغه پیغام د نوح علیه السلام او هود علیه السلام صالح علیه السلام او د کل انبیاء دے .

دلیل نقلی اووه قسمونه دی :

(١) دلیل نقلی من الانبیاء (٢) دلیل نقلی من الملائکة (٣) دلیل نقلی من الجن (۴) دلیل نقلی من عباد الله الصالحین (۵) دلیل نقلی من العلماء السابقین (۶) دلیل نقلی من الکتب السابقة (٧) دلیل نقلی من الوحوش .

# الاول بیان الدلیل النقلی من الانبیاء

ددے دلیل بیا خانله درے قسمونه دی :

(١) دلیل نقلی اجماعی من الانبیاء قولی (٢) دلیل نقلی اجماعی فعلی د کل انبیاء نه (٣) دلیل نقلی انفرادی د انبیاء نه .

Scanned by CamScanner

## (١) دلیل نقلی اجماعی من الانبیاء قولی

ددے مثال په سورة **انبیاء** کښ ذکر کوی :

«وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ (٢٥)»

او ندے رالیږلے مونږ مخکښ ستانه هیڅ رسول مګر وحی کوله مونږ هغه ته چه شان دادے چه نشته حقدار د عبادت مګر زه یم پس خاص بندګی اوکرئ زما .

سورة **نحل** ٣٦ کښ هم ذکر دی :

«وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ»

او مونږ لیږلي وو په هر امت کښ پیغمبران ددے بیان دپاره چه د الله عبادت اوکرئ او ځان اوساتئ د سرکشو نه د عبادت د غیر الله نه .

سورة **حم سجده** کښ دی چه کله هم انبیاء راغلی وو هغوئ دا مسئله بیان کړے وه : «إِذْ جَاءَتْهُمُ الرُّسُلُ مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ (١٤)»

کله چه راغلی وو دوئی ته انبیاء مخکښ ددوئی او وروستو ددوئی نه پدے خبره چه بندګی مه کوئ سیوا د الله نه د بل چا .

پدے ایتونو کښ دلائیل ذکر شو دلائـل نقلیه اجماعیه قولیه د کـل انبیاء نه اوس دلیل نقلی اجماعی فعلی د کل انبیاء نه ذکر کوو .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

## (۲) دلیل نقلی اجماعی فعلی د کل انبیاء نه

لکه چه بره ذکر شو چه ټولو انبیاء هم دغه شان وئیلی وو نو اوس وائی چه ټولو انبیاء هم دغه شان وئیلی وو په دے باندے تائید د سورة **انبیاء** نه : «إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ (۹۰)»

بیشکه وو دوئی چه د یوبل نه سبقت به ئے کوو په کار د نیکئ کښ او دوئی مونږ رابللو په خوشحالو او په وخت د یرو کښ او وو دوئی مونږ ته عاجزی کونکی .

## (۳) دلیل نقلی انفرادی د انبیاء نه

د یو یو نبی نه ځان ځانله هم دا مسئله ثابته ده لکه سورة اعراف کښ د ګڼرو **انبیاء** نه : «لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ (۵۹)»

مونږ لیږلے وو نوح علیه السلام قوم دده ته او وئیلی وو اے قومه زما خاص کړئ بندګی د یو رب نشته دے ستاسو دپاره بل حاجت روا .

«وَإِلَى عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ أَفَلَا تَتَّقُونَ (۶۵)»

«وَإِلَى ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ (۷۳)»

Scanned by CamScanner

«وَإِلَى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ (۸۵)»

سورة دخان کښې د موسی علیه السلام تذکره کوی فرمائی :

«وَجَاءَهُمْ رَسُولٌ كَرِيمٌ (۱۷) أَنْ أَدُّوا إِلَيَّ عِبَادَ اللَّهِ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ (۱۸)»

راغلے وو دے خلقو ته رسول عزتمند وئیل ئے چه وسپارئ ماته بندیگان د الله یقینا زه ستاسو دپاره استاذے امانتدار یمه .

سورة مریم کښې اعلان دحضرت عیسی علیه السلام ذکر کوی:

«وَإِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ (۳۶)»

بیشکه الله زما رب دے او رب ستاسو خاص کړئ د هغه بندگی او داده سیده لار .

ولقد بُعثت بهذا الدعوی جمیع الانبیاء : پدے دعوی ټول انبیاء لیږلی شوی وو .

## په قرآن کریم کښې د انبیاء د واقعاتو ذکر کولو حکمت

په قرآن کریم کښې د انبیاوو واقعات ځائے په ځائے په مختلف طرقو سره ذکر کوی دا ولے ؟ او د څه حکمت دپاره ؟

د اسلافو په طریقے سره د دے سوالونو جوابونه ذکر کوو ، ورنه جوابونه خو ډیر علماء کړی دی کتاب التسهیل کښې محمد بن احمد بن

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

جزی الکلبی هم ذکر کړی دی په خپل تفسیر کښې خو دده طریقه جدا ده او زمونږ طریقه جدا ده .

د موسی علیه السلام واقعه په قرآن کریم کښې څوارلس ځلے ذکرده داسے د نورو پیغمبرانو واقعات هم مکررذکر دی څه وجه ده؟

(۱) اول د کتاب **التسهیل** نه ذکر کوو وائی قرآن کریم چه واقعات د انبیاء په کثرت او په تکرار سره ذکر کوی پدے سره مقصود اعجاز د قرآن کریم دے لکه یو واقعه په یو ځائے کښې وی په تفصیل سره ذکر کړی بل ځائے کښې د هغه خلاصه ذکر کړی .

(۲) بل حکمت ئے دادے چه یو ځائے کښې یو واقعه د پیغمبر ذکر شی نو هم دغه واقعه په مختلفو مسائلو باندے مشتمله وی نو یو ځائے کښې دپاره د یو مسئلے او بل ځائے کښې دپار د بلے مسئلے ، لکه چه امام بخاری رحمه الله دکمالاتو نه دا خبره بیانیګی چه یو حدیث به مختلفو طرقو او مختلفو ترجمو ذکر کوی لکه « انما الاعمال » حدیث ئے پنځه ځایه ذکر کړے دے په یو ځائے کښې ئے یو ترجمة اللباب سره لګولے دے بل ځائے کښې بل سره ، ځکه خو د امام بخاری هر ترجمة اللباب مشکل دے نو دغه شان د قرآن کریم قصص هم مشکل دی نو به قرآن کریم کښې یو ځائے د قرآن کریم قصه د یو مسئلے دپاره ذکر کیږی بل ځائے د بلے مسئلے دپاره نو دا تکرار ندے بلکه مسئله جدا ده نو ځکه ئے مکرر ذکر کوی .

(۳) زمونږ شیوخ ذکر کوی چه حکمت د انبیاء د واقعاتو ذکر کول دپاره د مسائلو متفرعو وی .

Scanned by CamScanner

## (۱) حکمت تخویفا للمنکرین

تخویف دپاره د منکرینو لکه سورة **یونس** کښ راځي :

«فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَمَنْ مَعَهُ فِي الْفُلْكِ وَجَعَلْنَاهُمْ خَلَائِفَ وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِينَ (۷۳)»

پس دوئي دروغجن کړو نوح علیه السلام پس خلاص کړو مونږ هغه او هغه څوک چه ملګری وو د هغه سره په کشتئ کښ او اوګرزولو مونږ هغوئ لره اوسیدنکی د زمکے او غرق مو کړو هغه څوک چه دروغجنتیا ئے کوله په آیتونو زمونږ پس وګوره څنګه وو انجام د یرولو شوو .

مقصود د ذکر کولو د واقعے د نوح علیه السلام تخویفا للمکذبین دے .

## (۲) حکمت : ارسال الرسل لنفی علم الغیب

کله ذکر کیږی واقعات د انبیاوو دپاره د نفی د علم غیب د انبیاوو نه سورة **هود** کښ فرمائی :

«وَلَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَى قَالُوا سَلَامًا قَالَ سَلَامٌ فَمَا لَبِثَ أَنْ جَاءَ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ (۶۹) فَلَمَّا رَأَى أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً قَالُوا لَا تَخَفْ إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَى قَوْمِ لُوطٍ (۷۰)»

او په تحقیق سره راغلی وو ابراهیم علیه السلام ته استاذی زمونږ په زیری سره هغوئ اووئیل سلامتیا دے وی په تا باندے اے ابراهیمه او وئیل

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

ابراهیم علیه السلام په تاسو دے هم سلام وی نو درنګ ئے تیر نه کړو چه راوړو ابراهیم علیه السلام ورته سخے ریت شوے ، هر کله چه ولیدو چه نه نزدے کولو ورته لاسونه نو ناشنائے اوګنل او پیدا شوه ددوئی نه په زړه کښ د ابراهیم علیه السلام یره او اثار د یرے هغوئ ولیدو هغوئ ورته او وئیل مه یریګه مونږ رالیږلے شوی یو دپاره د قوم د لوط علیه السلام .

نو حکمت په ذکر کولو د واقعے د ابراهیم علیه السلام کښ نفی د علم غیب د ابراهیم علیه السلام نه .

## (۳) حکمت : تشجیعا للمبلغ

بهادری ورکول مبلغ ته په بیان د مسئلے مثال دپاره واقعه د موسی علیه السلام په سورة طه کښ ذکر کوی :

« وهل اتاک حدیث موسی (۹)»

او آیا راغلے دے تاته خبرد موسی علیه السلام اوبیا د هغه تکلیفونه ؟

اشاره ده هغه واقعے دموسی علیه السلام ته چه هغه څنګه تکلیفونه برداشت کړی وو نو مقصود د قصے نه تشجیع للمبلغ .

## (۴) حکمت : التسلیة للمؤمنین بنجاة الصالحین واهلاک الطالحین

تسلی مؤمنانو ته په نجات د نیکانو او په هلاکت د دښمنانو لکه سورة الشعراء کښ الله فرمائی :

Scanned by CamScanner

«وَأَنْجَيْنَا مُوسَى وَمَنْ مَعَهُ أَجْمَعِينَ (٦٥) ثُمَّ أَغْرَقْنَا الْآخَرِينَ (٦٦) إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً»

او نجات ورکړو مونږ موسی علیه السلام ته او ملګرو دده ته بیا مے تباه کړو وروستنی (دشمن) پدے قصو ذکر کولو کښ عبرتونه دی .

عبرت نه مراد یعنی دشمن به تباه شی او مؤمن ته به نجات ورکړے شی نو دلته مقصود ددے قصے نه تسلی ده مؤمنانو ته او هلاکت دے دشمنانو ته .

## (٥) حکمت : بیان عجز الانبیاء

کله پدے واقعاتو کښ دا خبره ذکر کیږی چه دا انبیاء ټول عاجزه وو الله ته لکه سورة **انبیاء** کښ الله فرمائی :

«وَنُوحًا إِذْ نَادَى مِنْ قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ (٧٦) وَنَصَرْنَاهُ مِنَ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا(٧٧)»

او یاد کړه نوح علیه السلام کله چه آواز اوکړو مخکښ ددینه پس قبولتیا وکړه مونږ دده پس خلاص کړے وو مونږ هغه او اهل د هغه لره د مصیبت لوئے نه ، او امداد مو کړے وو په مقابله د هغه قوم کښ چه هغوئی دروغ ونیلی وو زمونږ په آیتونو باندے .

دلته مقصود عجز الانبیاء دے چه ټول عاجز دی لکه نوح عاجزی اوکړه الله ته نو الله ورته نجات ورکړو دے پسے واقعه د داؤد علیه السلام ذکر کوی :

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

«فَفَهَّمْنَاهَا سُلَيْمَانَ وَكُلًّا آتَيْنَا حُكْمًا وَعِلْمًا وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوُودَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ وَكُنَّا فَاعِلِينَ (٧٩)»

پس زياته پوهه وركړه مونږ سليمان عليه السلام ته او هر يو ته وركړے وه مونږ پيغمبرى او علم او تابع كړى وو مونږ د داؤد سره غرونه تسبيح به ئے وئيله اومارغان هم او وو مونږ كونكى ددے كار .

دے پسے واقعه د ايوب عليه السلام ذكر كوى :

«وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَى رَبَّهُ أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ (٨٣)»

او ياد كړه ايوب عليه السلام كله چه آواز اوكړو رب خپل ته چه يقينا رسيدلے ماته ضرر او ته ئے خه رحم كونكے درحم كونكو نه .

د انبياء د واقعاتو نه مقصد دا چه دوئى ټول الله ته عاجز دى .

## الثانى بيان الدليل النقلى من الملائكة

مقصد دا چه پيغمبر وائى چه زما نه مخكښ پيغمبرانو دا مسئله وئيلے وه او ملائك هم دغه شان وائى سورة مريم كښ فرمائى :

«رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ (٦٥)»

ملائك وائى الله مالك د آسمانونو او د زمكو دے او هغه چه په مينخ ددے كښ دى نو خاص د يو رب بندگى اوكړئ ملاتړ شه د الله بندگئ ته

هم دارنگ سورة **صافات** كښ هم فرمائى :

«وَالصَّافَّاتِ صَفًّا (١) فَالزَّاجِرَاتِ زَجْرًا (٢) فَالتَّالِيَاتِ ذِكْرًا (٣) إِنَّ إِلَهَكُمْ لَوَاحِدٌ (٤)»

شاهد دی صف ترونکی ملائک په صف ترلو سره ، شاهد دی هغه رټونکی ملائک په رټلو سره ، شاهد دی هغه لوستونکی وحی لره ، چه یقینا حاجت روا ستاسو یو ذات دے .

«وَإِنَّا لَنَحْنُ الصَّافُّونَ (١٦٥) وَإِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُونَ (١٦٦)»

او مونږ ټول الله ته صف ترونکی یو دپاره د عبادت د هغه او مونږ ټول پاکوالے بیانونکی یو د شریکانو نه .

اعلان د ملائکو په وحدانیت د رب سره پدے آیتونو کښ ذکر شو .

# الثالث بیان الدلیل النقلی من الجن

د جناتو نه دلیل نقلی ذکر کوی په سورة **احقاف** کښ :

«قَالُوا يَا قَوْمَنَا إِنَّا سَمِعْنَا كِتَابًا أُنْزِلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَى مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ وَإِلَى طَرِيقٍ مُسْتَقِيمٍ (٣٠) يَا قَوْمَنَا أَجِيبُوا دَاعِيَ اللَّهِ»

وائی چه اے قومه زمونږه یقینا مونږ واوریدو کتاب چه رالیږل شوے پس د موسی علیه السلام نه تصدیق کونکے دے د هغه څه چه مخکښ وو ددینه او بلنه کوی حق او برابرے لارے ته ، اے قومه زمونږ قبول کړئ دعوت د دعوت ورکونکی د الله .

دلیل نقلی دلته ذکر شو د پیریانو نه .

دارنګے سورة **جن** کښ هم ذکر کیږی :

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

«قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا (١) يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا (٢)»

د پیریانو ډلے یوے کیخودو غوګ یقینا چه ماته ده شوے وحی ووایه نه نو او ونیل دوئی چه یقینا مونږ واوریدو قرآن کریم ناشنا ، بلنه کوی په طرف د هدایت نو مونږ وربانـدے ایمـان راوړو او هیڅکله حصه دار نه ګرځوو مونږ د رب خپل سره هیڅوا لره .

پیریانو نه په مسئله د توحید دلیل ذکر شو اوس بل دلیل ذکرکیږی .

# الرابع بیان الدلیل النقلی من عبادالله الصالحین

د نیکانو بندیانو تذکره په سورة کهف کښ کوی :

«وَرَبَطْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَنْ نَدْعُوَ مِنْ دُونِهِ إِلَهًا لَقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا (١٤)»

او مونږ کلک والے راوستو په زړونو ددوئی کله چه ودریدل دوئی او ونیل دوئی رب زمونږ رب د آسمانونو او د زمکو دے هیڅکله نه رامدد کوو د الله نه سیوا څوک سفارشی فرضا که مونږ دا وکړو نو مونږ به ونیلی وی پدغه وخت یوه خبره ګډه وډه .

هم دغه شان په سورة یس کښ هم فرمائی :

«وَمَا لِيَ لَا أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (٢٢)»

Scanned by CamScanner

او څه شوی مالره چه نه کومه بندګی د هغه ذات چه زه ئے پیدا کړے یم او هغه ته به ورګرزولے شئ .

په سورة **مؤمن** کښې هم راغلی دی :

«وَقَالَ رَجُلٌ مُؤْمِنٌ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَانَهُ أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَنْ يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ (۲۸)»

اووئیل یو سړی ایماندار د ال د فرعون نه چه پټ ئے ساتلے وو خپل ایمان آیا تاسو اراده د وژلو د یو داسے څوان کوئ چه هغه وائی چه رب زما الله دے .

# الخامس بیان الدلیل النقلی من العلماء السابقین

په سورة **رعد** کښې فرمائي : «وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَسْتَ مُرْسَلًا قُلْ كَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِنْدَهُ عِلْمُ الْكِتَابِ (٤٣)»

او وائی کافران چه نه ئے ته رالیږلے شوے او وایه ورته چه پوره دے په ګواهئ د نبوت زما باندے الله او هغه څوک چه د چا سره دے علم د کتاب .

سورة **النساء** کښې د علماء تذکره کوی :

«لَكِنِ الرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ مِنْهُمْ وَالْمُؤْمِنُونَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَالْمُقِيمِينَ الصَّلَاةَ وَالْمُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَالْمُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ (۱۶۲)»

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

لیکن هغه کلک په علم کښې ددوئی نه او مؤمنا یقین کوی په هغه چه رانازل شوے دے تاته او هغه چه رانازل شوے دے مخکښې ستانه او پابندی کونکی د مونځ ورکونکی د زکواة او منونکی د الله او د آخرت .

## السادس بیان الدلیل النقلی من الکتب السابقة

یعنی قرآن کریم نه مخکښې چه کوم کتابونه تیر شوی دی هغوئ هم متفق دی پدے مسئله کښې لکه سورة بنی اسرائیل کښې راځی :

· «وَآتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَجَعَلْنَاهُ هُدًى لِبَنِي إِسْرَائِيلَ أَلَّا تَتَّخِذُوا مِنْ دُونِي وَكِيلًا (۲)»

او ورکړے وو مونږ موسی علیه السلام ته کتاب او په هغه کښې هدایت وو دپاره د بنی اسرائیلو او دا خبره پکښې وه چه مه نیسئ زما نه بغیر څوک کار جوړونکے .

سورة احقاف کښې هم راځی : «وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى مِثْلِهِ فَآمَنَ (۱۰)»

او شاهدی اداء کړیده یو شاهدی کونکی د بنی اسرائیلو نه په مثل د ده نو ایمان راوړی .

بیا وایئ : ومن قبله کتاب موسی اماما ورحمة .

او ددے کتاب نه مخکښې کتاب وو د موسی چه هغه پیشوا وو او رحمت وو .

# السابع

## بیان الدلیل النقلی من الوحوش

یعنی د حیواناتو او مارغانو نه دا ذکر کوی په سورة **نمل** کښې :

«قَالَتْ نَمْلَةٌ يَا أَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوا مَسَاكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَانُ وَجُنُودُهُ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ (۱۸)»

اوونیل میږی اے میږو دننه شئ خپلو کوټو ته دل ( مات ) مو نه کړی سلیمان او د هغه لښکر او دوئی به نه پوهیګی .

د میږی دا عقیده ده چه سلیمان علیه السلام غیب دان ندے دے پسے د هد هد صاحب بیان دے :

«فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيدٍ فَقَالَ أَحَطتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِ (۲۲)»

لږ ساعت تیر نه وو چه هد هد راغلے وئیل ئے چه زه پوهه شوم په هغه شی چه ته ورباندے نه ئے پوهه شوے .

بیا وائی : «وَجَدْتُهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ لِلشَّمْسِ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُونَ (۲٤)»

ما اومندل دے لره او قوم ددے لره چه سجده کوی نمر ته سیوا د الله نه او ښائسته کړے دے هغوئی ته شیطان عملونه د هغوئی پس منع کړی ئے دی د سمے لارے نه پس هغوئی لار نه مومی .

جرنیل د مارغانو هد هد خومره قیمتی خبره کوی ته هم دارنګ قیمتی خبره کوه .

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

حاصل دا شو چه زه څه وایم دا د عقل موافق دی ، پدے هم ته اعتراف کوه ، انبیاوو هم دغه شان وئیلی کړے وه زه د هغوئی ملګرے یم ملائک پدے قائل ، پیریان پدے قائل ، نیکان بندیګان پدے قائل ، علماء سابقین پدے قائل ، کتابونه پخوانی پدے قائل دی وحوش هم دا خبره کوی نو زه څکه دا خبره کومه چه ماته هم ددے خبرے وحی شوے ده ، قل اوحی الی ..... ماته وحی شوے ده او زه د وحی پابند یم او دا سوال هم نشی پیدا کیدے چه زه ددے مسئلے نه واوړم .

کله چه مسئله په وضاحت سره بیان شی نو خلق به درے ډلے شی -

یکون الناس بعد البیان علی ثلاثة فرق — یوه ډله به وائی چه د مسئلے نه ئے بند کړئ چپ ئے کئ ، بله ډله به وائی ولے به ئے بندوئ وایه جی .

نو یوه ډله به خالص مؤمنین شی ، او دویمه به خالص منکرین شی ، او دریمه ډله به منافقین شی ، هغوئی به وائی حضرت جی تاسو هم څه وایئ او هغوئ هم څه وائی ، او دا جی حضرت انتهائی خطرناکه فرقه ده .

## تخویف وبشارت

وروسته د بیان نه به خلق منقسم شی یو به د مؤمنانو ډله شی دویمه به د کافرانو ډله شی ، د قرآن کریم طریقه داده چه د مؤمن دپاره په منلو د مسئلے زیری ددنیا بشارت دنیوی ، او زیری د آخرت ، بشارت اخروی ، منکر دپاره دنیاوی عذابونه ، او په آخرت کښ به ورته هم عذاب وی نو

تخویف اخروی بیانوی دے سرہ به زجر په انکار د منکر سره هم ذکر کیږی .

یکون الناس بعد البیان علی ثلاثة فرق : پس د بیان نه به خلق په مختلفو ډلو کښ تقسیم شی لکه په سورة **حج** کښ فرمائی :

«هَٰذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ (١٩)»

دا دوه ډلے جګړے کونکی په توحید د رب خپل کښ .

په سورة **اعراف** کښ لږ په تفصیل سره فرمائی :

«قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِنْ قَوْمِهِ لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِمَنْ آمَنَ مِنْهُمْ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَالِحًا مُرْسَلٌ مِنْ رَبِّهِ قَالُوا إِنَّا بِمَا أُرْسِلَ بِهِ مُؤْمِنُونَ (٧٥) قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا بِالَّذِي آمَنْتُمْ بِهِ كَافِرُونَ (٧٦)»

او وئیل غټانو هغه چاچه انکار ئے کړے وو د حق نه د قوم د صالح علیه السلام نه هغه چاته چه کمزوری شوی وو چه مؤمنان دی آیا تاسو منئ چه صالح پیغمبر دے او وئیل مؤمنانو په هغه څه چه دے رالیږل شوے دے مونږ ایمان راوړے او وئیل هغه کسانو چه ځان ئے غټ ګڼرلے وو مونږ په هغه باند ے چه تاسو په ایمان راوړے دے کفر کوو ، نو دے ځائے نه هم دا ثابته شوه چه دوه ډلے دی .

دغه شان په سورة **نمل** کښ هم راځی :

«وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ فَإِذَا هُمْ فَرِيقَانِ يَخْتَصِمُونَ (٤٥)»

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

او په تحقیق سره مونږ لیږلي وو ثمودیانو ته یو ددوئي نه صالح علیه السلام وونیل هغه چه د یو الله بندګي وکړئ نو ناڅاپه وو دوئی دوه ډلې جنګ کونکي .

**نوامے مبلغه** : ته چه هم مسئله بیانوے نو خلق به اختلاف شروع کړی ته به په زړه کښ وائے چه ما خو قرآن کریم بیان کړے دے دا خلق ولے خلاف کوي ؟ نو دے آیتونو کښ تسلي ده تالره ، او چه کله مسئله واضحه شي نو خلق به درے ډلے شي په هغوئ کښ به خپل او پردی معلوم شي او چه تر څو پورے مسئله نه وی واضحه شوے نو لکه چه خلق وائی چه زمونږ استاذ ډیر خه دے نه د چا په خو کښ دے او نه د چا په بدو کښ دے ..... نو څه دے ؟

# بیان البشارة

**البشارة للمؤمنین** : بشارت په دوه قسمه دے :

(۱) بشارت دنیوی (۲) بشارت اخروی .

**بشارت دنیوی** : د بشارت دنیوی نمونے دپاره د سورة مائدے (۶۶) نه یو آیت ذکر کوو :

«وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِمْ مِنْ رَبِّهِمْ لَأَكَلُوا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ»

که دوئی ایمان راوړی په ما انزل باندے نو خوراک به کړے وو د بره نه او د محکته نه هر څه به پرے فراخه وو .

**بشارت اخروی** : د آخرت زیرے الله مؤمنانو ته ورکوی په سورة **حج** (۲۳) کښ فرمائی :

«إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ»

یقینا الله به داخل کړی هغه څوک چه ایمان ئے راوړے دے او عمل کوی د نیکو ، باغونو ته چه بهیګی به د لاندے د درختونو د هغه نه ولے ، ښائسته کولے به شی دوئی په دغه کښ په بنګړو د سرو زرو او په ملغلرو او جامے ددوئی به پکښ ریښم وی .

او دغه شان ددے بله نمونه په سورة **بقره** کښ ذکر ده :

«وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّات (٢٥)»

او زیری ورکړه مؤمنانو ته چه عمل کوی په طریقے د پیغمبر وی به دوی لره جنتونه .

# بیان التخویف

## تخویف للمنکرین

تخویف هم په دوه قسمه دے :

(۱) تخویف دنیاوی (۲) تخویف اخروی .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

**تخویف دنیاوی** : د تخویف دنیاوی نمونه په سورة **مریم** کښې ذکر ده : «وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِنْ قَرْنٍ هَلْ تُحِسُّ مِنْهُمْ مِنْ أَحَدٍ أَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا (۹۸)»

خومره تباه کړی وو مونږ دوئی نه مخکښې د پیرونه آیا وینے ته د هغوئ نه یو تن یا اورے د هغوئی څه کش کُش یعنی آثار د ژوند .

**تخویف اخروی** : د تخویف اخروی نمونه هم په دغه سورة **مریم** کښې ذکر کوی :«وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِينَ إِلَى جَهَنَّمَ وِرْدًا ۸۶»

او روان به کړو مجرمان جهنم ته تګی .

# بیان التزهید فی الدنیا

# محبت ددنیا نه اجتناب

مخکښې ددینه یو اهمه خبره زده کول پکار دی اصل شے چه رکاوټ پیدا کوی په فهم ددین کښې او په بیان د مسئلے کښې هغه مینه او محبت ددنیا دے ، قرآن کریم ددنیا مذمت بے ثباتی او فنائی ذکر کوی چه اے خلقو دا دنیا پاتے ده ځکه چه محبت ددنیا دا سبب د نقصان دے ، په ژوند ددنیا کښې او محبت ددنیا دا عذاب دے په آخرت کښې ، دا دنیا وفاداره نده بے وفا ده نو لهذا ددنیا سره مینه مه کوه دیته وائی اصلاح د منکر دپاره درے طریقے ، فنا ددنیا ، حقارت ددنیا،او عدم وفاداری ددنیا .

Scanned by CamScanner

علماء حضرات واقعه ذکر کوی چه ذو القرنین صاحب چه کله وفات شو نو ده وصیت کړے وو چه زما لاسونه به بهر د کفن نه راوباسی پس د مرګ نه چا ورته او وئیل چه دا ولے ؟ هغه ورته وئیل چه زما مرګ هم خلقو ته دا وعظ اوکړی چه هغه سړے چه په پوره دنیا بادشاه وو خالی لاسونه روان دے ، د خان سره ئے هیڅ وے نه وړل ، والله اعلم .

نو آخر دا دنیا پاتے ده او دا دنیا سبب د وبال ده ددے خبرے وضاحت شوے دے په سورة **کهف** آیت ۳۲ کښ چه دا دنیا به درنه واغستل شی لکه چه د باغ والو نه واغستلے شوه ، بیا په آیت۴۵ کښ ذکر کوی چه دا دنیا حقیره ده فانی کیدنکے ده بیا آیت ۴۷ کښ ذکر کوی چه دا دنیا به وی سبب د وبال په آخرت کښ نو څه دپاره دنیا سره مینه کوے .

# الامور الثلاثة الدافعة من العذاب

یعنی هغه امور چه سبب د حفاظت د عذاب نه دے هغه دا درے دی : (۱) شرک نه کول (۲) ظلم نه کول (۳) احسان کول .

ددے تائید په سورة **بنی اسرائیل** ۲۳ کښ ذکر دی ، چه شرک به د الله سره نه کوے ، او احسان به کوے ، د مخلوقاتو سره بیا ۳۱ نه ۳۳ پورے ذکر کیږی چه ظلم به نه وی ، کله چه یو قوم د شرک نه پاک شو ظلم نه ئے خان وساتلو په احسان عامل شو نو الله به ئے د عذاب نه اوساتی نومعلومه شوه چه اسباب د عذاب دا درے دی په ډیرو سورتونو کښ دا

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

مسائیل ذکر دی خو په سورة الروم کښې دوه مسئلې ذکر دی چه شرک به نه کوی او احسان به کوی .

# طریقتنا فی التفسیر

تفسیر څه ته وائی او تاویل څه ته وائی ؟ بیا د تاویل ګنجائش شته او که ؟ وجوه الترجیح څه دی په فن د ترجیح کښې ؟

# اوله طریقه د تفسیر

تفسیر القرآن بالقرآن کله چه د قرآن کریم د ترجمې په درمیان کښې څه مشکل راشی او په هغه مونږ نه پوهیګو نو اول به مونږ کوشش کوو چه آیا ددې آیت تفسیر په قرآن کریم په بل ځائې کښې شته او که نه ؟ که وو نو مونږ به هغه تفسیر خوښوو ځکه چه قرآن کریم تفسیر په قرآن سره ددینه اعلی تفسیر بل نشته .

# دویمه طریقه د تفسیر

تفسیر القرآن بالاحادیث الصحیحة من رسول الله صلی الله علیه وسلم ـ د قرآن کریم د یو آیت حل به په حدیث صحیح سره کوو .

Scanned by CamScanner

# دريمه طريقه

که د يو آيت حل مونږ ته په حديث کښ ښکاره نشي نو بيا به مونږ د صحابه کرامو رائے د هغوئی اقوال چه په حق ددے آيت کښ څه دی ؟ هغه به ذکر کوو .

# څلورمه طريقه

ددينه پس به مونږ حل تلاش کوو په اقوالو د تابعينو کښ .

# پنځمه طريقه تاويل

که په يو آيت کښ ددے څلورو طريقو کښ زمونږ فهم نه وی نو بيا به مونږ تاويل ته رجوع کوو او تاويل وئيلے کيږی د يو آيت تشريح د سياق وسباق سره موافقت ته ، د اشتقاق او د صرفی نحوی صيغو سره موافقت او موافقت د عربيت سره او موافقت د لغت سره او ديته وجوه الترجيح فی التفسير وائی .

ددے طرقو تشريح شوے ده په تفسير ابن کثير ج ۱ ( نهو جلدونو والا ) کښ سوال کوی :

فان قال قائل فما احسن طرق التفسير ؟

فالجواب ان اصح الطرق فی ذالک ان يفسر القرآن بالقرآن -

نو د قرآن تفسير به کوو په قرآن کريم سره .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# نمونه د تفسیر د قرآن په قرآن سره

لکه سورة بقره کښ ذکر دی :

«وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَكِن لَّا تَشْعُرُونَ (١٥٤)»

اومه وایئ په حق د هغه چا کښ چه او وژلے شی په لاره د الله کښ چه دوئی مړه دی بلکه دوئ ژوندی دی تاسو ددوئی په ژوند نه پوهیګئ .

پدے آیت کښ وائی چه دوئی ژوندی دی نو دا ژوند څنګه دے ؟ دا مونږ ته معلوم ندے نو دد ے تفصیل د قرآن کریم په بل سورة کښ ګورو سورة العمرآن کښ دی :

«وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ (١٦٩)»

ګمان مه کوئ په حق د هغه چاچه ووژل شی په لاره د الله کښ د مړو بلکه دوئی ژوندی دی الله سره د الله سره دوئی ته رزق ورکولے شی .

# نمونه د تفسیر د قرآن په حدیث سره

که یو سړے او وائی چه ژوندی دی پشان د دنیا نو زمونږ جواب داد ے چه تفسیر د قرآن په قرآن سره وشو که دا نه منے نو دا تفسیر د قرآن په حدیث سره ګورو حدیث کښ دی :

«وعن ابن عباس أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال لأصحابه : " إنه لما أصيب إخوانكم يوم أحد جعل الله أرواحهم في جوف طير خضر ترد أنهار الجنة تأكل من ثمارها وتأوي إلى قناديل من ذهب معلقة في ظل العرش فلما وجدوا طيب مأكلهم ومشربهم ومقيلهم قالوا : من يبلغ إخواننا عنا أننا أحياء في الجنة لئلا يزهدوا في الجنة ولا ينكلوا عند الحرب فقال الله تعالى : أنا أبلغكم عنكم فأنزل الله تعالى : ( ولا تحسبن الذين قتلوا في سبيل الله أمواتا بل أحياء ) إلى أخر الآيات . ( مشكواة ص ۳۳۴ كتاب الجهاد»

نو د حدیث نه دا ثابته شوه چه جنتی حیات دے او دیته حیات برزخی وائی .

**ابن کثیر** وائی : « فإن أعياك ذلك فعليك بالسنة فإنها شارحة للقرآن وموضحة له، بل قد قال الإمام أبو عبد الله محمد بن إدريس الشافعي، رحمه الله: كل ما حكم به رسول الله صلى الله عليه وسلم فهو مما فهمه من القرآن»

کچرے تا دا خبره سترے کری گرانه شی نو بیا به د قرآن تفسیر په حدیث مبارک باندے کوے .

امام شافعی رحمه الله فرمائی رسول الله صلى الله عليه وسلم چه څه وئیلی دی دا په حقیقت کښ فهم د قرآن دے .

# دویمه نمونه

د تفسیرد قرآن په حدیث سره دا ذکر ده په سورة بقره کښ:

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

«وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ (۱۸۷)»

او خورئ او څکئ تر هغې چه ښکاره شي تاسو ته تار سپین د تار تور نه چه سحر دے.

یو صحابي لغت عربي باندے عالم وو د بالخت لاندےئے سپین تار او تور تار ایښے وو او توله شپه بهئے ورته کتل خو فرق ورته معلوم نشو، سحر راغلے نبي علیه السلام ته او وئیل یارسول الله ما خو توله شپه تارونه کتل خو تمیز مے اونه کړے شو نو رسول الله ورته او وئیل چه دا خو عبارة دے د صبح صادق نه چه صبح صادق او صبح کاذب دے.

نو معلومه شوه چه تفسیر القرآن بالحدیث پکار دے، دا نه چه صرف په لغت یو سړے پوهه شو نو کافي ده، نه بلکه لغت کله کله وی خو کافي کیږی نه، نو تفسیر القرآن کله په احادیثو د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم کیږی که پدے کښ هم نه وو لکه چه **ابن کثیر** بیا وائی:

«وحِينَئذٍ إذا لم نَجِدِ التفسِيرَ فِي القُرآنِ ولا في السُّنةِ رَجَعْنا في ذلك إلى أَقْوالِ الصَّحابةِ؛ فإنهم أدرى بذلك لما شَاهَدُوا من القَرائِنِ والأَحْوالِ التي اختُصُّوا بها، ولِما لهم مِنَ الفَهْمِ التَّامِ والعِلْمِ الصَّحِيحِ والعَمَلِ الصَّالِحِ، لاسيَّما عُلَماءَهُم وكُبَراءَهُمْ كالأئمَّةِ الأربعةِ الخُلَفاءِ الرَّاشِدين، والأئمة المهتَدِينَ المهدِيِّين»

Scanned by CamScanner

پس ددینه د تابعینو اقوالو ته به رجوع کیږی لکه چه ابن کثیر ذکر کوی : «إذا لم تجد التفسير في القرآن ولا في السنة ولا وجدته عن الصحابة، فقد رجع كثير من الأئمة في ذلك إلى أقوال التابعين، كمجاهد بن جَبْر»

بیا وروستو د سفیان ثوری قول نقل کوی :

«ولهذا کان سفیان الثوری یقول اذا جاءک التفسیر عن مجاهد فحسبک»

نو د ځان نه به څه نه وائې ځکه چه ابوبکر صدیق وائی چه کوم یو آسمان به راباندې سورے اوکړی او کومه زمکه به مے برداشت کوی کله چه مے په قرآن کریم کښې د ځان نه څه او وئیل ، نو مونږ هم به انشاء الله د ځان نه څه نه وایو .

که یو سړے تفسیر د قرآن په قرآن سره معلومول غواړی نو هغه ته پکار دي چه اضواء البیان ځان سره اوساتی .

که یو سړے تفسیر د قرآن بالاحادیث کول غواړی نو هغه دے ابن کثیر ځان سره اوساتی .

که یو سړے په اقوالو د صحابو او تابعینو تفسیر کول غواړی نو هغه دے ابن جریر ، در منثور ، او ثعالبی واخلی .

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

# فرق په مینځ د تفسیر او تأویل کښې

فرق په مینځ د تفسیر او تاویل کښې دادے :

التفسیر بالروایة والتاویل بالدرایة .

او څوک وائی : التفسیر با النقل والتاویل بالفهم الصحیح .

تفسیر بالروایة مخکښې تیر شو چه د احادیثو او د اقوالو د صحابو نه او دویم قسم چه بالدرایة یا التاویل بالفهم الصحیح دے هغه دادے .

# التفسیر

تفسیر متعلق مفسرین وائی لکه تفسیر ثعالبی ص ۴۵ کښې وائی :

«ان علم التفسیر علم یبحث فیه عن احوال کلام الله المجید من حیث انه یدل علی المراد بحث الطاقة البشریة .... التفسیر وهو ما لا یدرک الا بالنقل او السماع»

تفسیر هغه دے چه د هغه ادراک په سماع یا په نقل سره وی ، لکه صحابوو د نبی علیه السلام نه اوریدلی دی او مونږ ته نقل شوی دی .

**تفیر خازن** ص ۱۲ باندے بحث کوی وائی :

«والفرق بین التفسیر والتأویل أن التفسیر یتوقف علی النقل المسموع والتأویل یتوقف علی الفهم الصحیح»

Scanned by CamScanner

# التاویل

تاویل څه ته وائی :

**تفسیر ثعالبی** ص ۴۵ کښې وائی :

وتاویل وهو ما یمکن ادراکه بالقواعد العربیة فهو ما یتعلق بالدرایة

تاویل دیته وائی چه د یو لفظ داسې ترجمه اوشی چه هغه د قواعد عربیو موافق وی.

بیا په صفحه ۴۶ کښې لیکی :

واما استنباط المعانی علی قانون اللغة فمما یعد فضلا وکمالا

د یو لفظ معنی کول په طریقې د استنباط سره په قانون د لغت سره نو دا فضیلت او کمال علمی دے .

**تفسیر بغوی** وائی ج۱ ص۹ کښې :

« فاما التاویل وهو صرف الایة الی معنی محتمل موافق لما قبلها وما بعدها غیر مخالف للکتاب والسنة من طریق الاستنباط ، فقد رخص فیه لاهل العلم التاویل»

وائی د یو ایت اړول په یو معنی باندے داسې معنی چه هغه محتمله وی ددے لفظ او د ماقبل او د مابعد سره بالکل موافقه وی چه د قرآن او

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

سنت مخالفه نه وی او دا په طریقې د استنباط وی نو پدیکښې اجازت ورکولی شوی دی اهل علم ته .

**البرهان** فی علوم القرآن للعلامه زرکشی په ج۲ ص ۱۵۰ ، الاتقان ج ۲ ص ۲۶ او ۱۳۲ ، بصائر لذوی التمیز ص ۷۹ ، تاویلات اهل السنة ص ۱۳ ، کښې هم دغه شان ترجمه کوی .

**کتاب التسهیل** کښې ابن جزی الکلبی ص ۱۶ کښې لیکی :

## وأما وجوه الترجیح فهي اثني عشر :

**الأول** : تفسیر بعض القرآن ببعض فإذا دل موضع من القرآن على المراد بموضع آخر حملناه علیه ورجحنا القول بذلك على غیره من الأقوال.

**اول** : د قرآن کریم نه .

**الثاني** : حدیث النبي صلى الله علیه وسلم فإذا ورد عنه علیه السلام تفسیر شيء من القرآن عولنا علیه لا سیما إن ورد في الحدیث الصحیح . **دویم** : د احادیثو نه .

**الثالث** : أن یكون القول قول الجمهور وأكثر المفسرین فإن كثرة القائلین بالقول یقتضي ترجیحه .

**دریم** : جمهور او اکثر مفسرین چه په یو وینا باندې د ډیرو رائے مضبوطه شی نو دا د ترجیح یو دلیل دی .

**الرابع** : أن يكون القول قول من يقتدى به من الصحابة كالخلفاء الأربعة وعبد الله بن عباس لقول رسول الله صلى الله عليه وسلم اللهم فقهه في الدين وعلمه التأويل .

**څلورم** : د صحابوو نه .

**الخامس** : أن يدل على صحة القول كلام العرب من اللغة والإعراب أو التصريف أو الاشتقاق .

**پنځم** : چه داسې ترجمه اوشی چه د هغه په صحت باندے لغت ، اعراب ، تصریف او اشتقاق دا ټول په هغه دلالت کوی .

**السادس** : أن يشهد بصحة القول سياق الكلام ويدل عليه ما قبله أو ما بعده .

**شپږم** : چه یو داسې ترجمه اوشی چه د هغه په صحت باندے سیاق دلالت کوی .

**السابع** : أن يكون ذلك المعنى المتبادر إلى الذهن فإن ذلك دليل على ظهوره ورجحانه الثامن تقديم الحقيقة على المجاز فإن الحقيقة أولى أن يحمل عليها اللفظ عند الأصوليين ....... .

**ووم** : چه د یو آیت ترجمه اوشی چه متبادر الی الذهن وی .

**الثامن** : تقديم الحقيقة على المجاز. فإن الحقيقة أولى أن يحمل عليها اللفظ عند الأصوليين .

**اتم** : مخکښې والے د حقیقت په مجاز باندے .

Scanned by CamScanner
MAKTABA TUL ISHAAT- مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

**التاسع** : تقديم العمومي على الخصوصي فإن العمومي اولى لأنه الأصل إلا أن يدل دليل على التخصيص .

**نهم** : مخکښ والے د عام په خاص باندے .

**العاشر** : تقديم الإطلاق على التقييد إلاأن يدل دليل على التقييد .

**لسم** : مطلق به مقدم وی په مقید باندے هاں که دلیل به تقید وی نو بیا صحیح ده که دلیل نه وی نو بیا به مطلق پنسے رواں وی .

**الحادي عشر** : تقديم الاستقلال على الإضمار إلا أن يدل دليل على الإضمار .

**یولسم** : تقديم د استقلال په ضمیر باندے .

**الثاني عشر** : حمل الكلام على ترتيبه إلا أن يدل دليل على التقديم والتأخير»

**دولسم** : قرآن به حمل کوی په خپل ترتیب سره که په نقل صحیح سره د تقديم او د تاخیر دلیل موجود وی نو صحیح ده .

**خذ ما صفا ودع ما كدر    مه کرزه ته در په در**

❀ ❀ ❀

یلوح الخط فی القرطاس دهرا    وكاتبه رميم فی التراب .

تمت بحمد الله ٤٠ : ٣ صباحاً يوم الاربعه من رمضان المبارک .

کتبه الاحقر غلام نبی بن دیارخان متعلم بمدرسه دارالقرآن کوتها .

Scanned by CamScanner